دقرآن اواحادیثوپه رڼاکې

مکمل اومدلل

داوداسه مسئلې

مؤلف

مولنامحمدرفعت (قاسمي)

پښتوژباړه

ملافضل الرحمن

خپروونکی

مکتبهٔ رشیدیه

د قرآن او احادیثو په رڼاکې

مکمل او مدلل

داوداسه مسئلې

مؤلف

مولنا محمد رفعت (قاسمي)

پښتو ژباړه

ملا فضل الرحمن

خپرونکی

مکتبه رشیدیه سرکی روډ

کوئټه

دکتاب پیژندنه :-

دکتاب نوم	**داوداسه مسئلې**
مؤلف	مولانامحمدرفعت (قاسمی)
پښتوژباړه	ملافضل الرحمن
همکار:	مفتی محمدابراهیم (خلیل)
دکمپوزاودترجمې چارې	دنورالقرآن اداري دژباړې او کمپوزځانګه
کمپوزر	حسن الله (ذهان)
تصحیح	دنورالقرآن اداری خادم ابوخالدمولوی عبدالاحد(مجروح)
ډیزائن اوسمون	ابوخالد
خپروونکی	رشیدیه کتابخانه سرکی روډکوټه
چاپوونکی	محمدساجد
چاپ شمیر	۱۱۰۰ټوکه
چاپ کال	۲۰۰۸ میلادی دجولايي میاشت
چاپ ځای	لاهور



اللهم اختم لنابالخير والسعادة والبشارة والايمان

دعاغوښتوونکي ابوخالد

بسم الله الرحمن الرحيم

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِذَا قُمْتُمْ إِلَى الصَّلَاةِ فَاغْسِلُوا وُجُوهَكُمْ

اې هغو كسانوچې ايمان مو راوړی دی څه وخت چې تاسو ولمانځه ته ولاړشئ نوپرمنځئ مخونه خپل

وَأَيْدِيَكُمْ إِلَى الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُؤُسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ

اولاسونه خپل تر ږيريو پوری اومسح وكړی پرسرو خپلو باندی اوپښوخپلو باندی تربجلكو پوری

وَإِنْ كُنْتُمْ جُنُبًا فَاطَّهَّرُوا وَإِنْ كُنْتُمْ مَرْضَى أَوْ عَلَى سَفَرٍ

اوكه چيری تاسودجنابت په حال كی ياست نوبنه خان پاك كړی اوكه چيری تاسوناروغ ياست يا په سفركی

أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِنْكُمْ مِنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً

ياست اوياراشی يوله تاسونه له ځای دضرورت څخه ياموئزديكت وكړئ له ښځو ميرمنوسره پس بيا اوبه

فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُمْ مِنْهُ

پيدانشی نوقصد وكړی دپاكی زمكی اومسح وكړی پرمخوخپلو اولاسونوخپلو له دغی پاكی زمكی

مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُمْ مِنْ حَرَجٍ وَلَكِنْ يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ

اراده نه لري الله ج چي تنگي راولی پرتاسو لكن اراده لري چي تاسو ښه پاك كړي اوچي خپل نعمت

عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَ ط

پرتاسو پوره كړي ښايي چي تاسوئي شكروباسئ

دتفسيرخلاصه:

ای هغوكسانو! چی ايمان موراوړی دی څه وخت چی تاسو ولمانځه ته ولاړشي (دلمانځه كولواراده وكړی په داسی حال كی چی تاسواودس نلری) نواودس وكړی مخونه خپل پريمنځی اولاسونه خپل پريمنځی ترږيريوپوری اوپرخپلوسروباندی لاس تيركړی اوخپلی پښي تر بجلكو پوری پريمنځی اوكه چيری پرتاسوغسل فرض شوی وی (له لمانځه څخه مخكی) نوټول بدن پاك كړی اوكه تاسوناروغه ياست (داوبواستعمالول درته تاوان كوی) يادسفرپه حالت كی ياست (اوبه

نه پيداكيږي دغه حالت دعذربلل كيږي)ياكه چيرى دناروغى اوسفرعذرهم نه وى بلكه اودس ياغسل له بلى وجى څخه مات شى هغه دارنگه چى بولى ياگندگى وكړى ياتاسودخپلو ميرمنوسره نژدي شى اوبياپه دغه ټولوصورتوكى اوبه تاسونه كړى پيدايااتاسو داوبو د استعمالولووخت نكړى پيداياداوبوله استعمال څخه دناروغى له كبله عاجزياست نوپه دغه صورتوكئ تاسوله پاكى زمكى څخه تيمم ووهى يعنى پرپاكه خاوره لاسونه ووهى اوبيائي پرخپلومخونو او لاسونوباندى تيركړى .دالله تعالى له دغواحكامومقرر كولوڅخه په تاسوتنگى راوستل نه ده (الله تعالى دانه غواړى چى پرتاسوتنگى راولى ځكه چى خاص له ذكرشوواحكاموڅخه همدارنگه له ټولواحكاموشرعيه ووڅخه اسانى رعايت اومصلحت ښكاره ده لیكن الله جل جلاله داغواړى چى تاسوپاكي وكړى نوله دى كبله يي دپاكى قاعدى اولارى مشروع كړى اوپريوخاص طريقه يي بس نكړى چى پرته له هغه پاكى ممكنه نه وى دبيلگى په توگه كه چيرى يي خاص اوبه پاكونكى گرزولى واى نوچى اوبه نه واى پاكى به نه حاصليږى .

دبدن پاكى خاص په احكاموطهارت كى ده اودزړونوپاكى په عباداتوكى ده نودغه پاكى دواړوته شامليږى اوكه چيرى دغه نه واى نوهيڅ پاكى به نه حاصليداى اوبل الله تعالى داغواړى چى پرتاسو خپل نعمتونه پوره كړى.

داوداسه فضيلتونه

نبي كريم ﷺ وپاكي ته چي يوه حصه يي اودس دى نيم ايمان ويلى دى (ترمذى شريف)دايمان دوى حصى ذى اعتقاد اوعمل دعمل لويه حصه چي لمونځ دى پرپاكي موقوفه دى نوځكه نيم ايمان يي ورته ووايو

(۱)نبي ﷺ ويلي دى چي داودس په كولوسره الله جل جلاله صغيره (كوچنى)گناهونه معافوى اوپه آخرت كي لويي مرتبي وركوى اوپه اوداسه كولوسره بدن له ټولوگناهونوڅخه خلاصون پيداكوى. «بخارى شريف»

(۲)په ځيني احاديثوكي راغلي دى چي دمخ په مينځلوسره هغه گنا هونه معافيږى چي په سترگوشوى وى اودلاس په مينځلوسره هغه گناهونه معافيږى كوم چي په لاس سره شوى وى اودپښوپه پريمنځلو سره هغه گناهونه معافيږى چي په پښوسره شوى وى يعنى داندامو په مينځلوسره لكه څنگه چي خيرى توئيږى همدارنگه گناهونه هم رژيږى تردى اندازى پورى چي سړى له اوداسه كولوڅخه وروسته پاك له گناهونوگرزى په حديث شريف كي له خاص ذكرڅخه دلاس سترگى اوپښى داگمان نه كيږى چي دنوروانداموگناهونه نه رژيږى ځكه چي وروسته يي داوويل چي د اودس كولووروسته سړى له گناهونوڅخه پاك گرزى :اوپه بل حديث كي كي خاص دبدن لفظ ذكرشوى دى چي پرټولواندامونې اطلاق كيږى.

(۳)نبي كريم ﷺ وويل: چي كوم څوك په مسنونه طريقه سره اودس وكړى او وروسته له اوداسه كلمه دشهادت ووايي نوددغه سړى لپاره

دجنت اته دروازې خلاصيږي په کومه دروازه چې وغواړي ننوتلای شي.(مسلم)

(۴)په ځينواحاديثوکې راغلي دي چې نبي کريم ﷺ وويل چې دقيامت په ورځ به زه خپل امت پيژنم يوکس پوښتنه وکړه چې حضرت په دې لويه ټولې او مجمع کې به ته څنګه خپل امت وپيژنې ؟نبي کريم ﷺ وويل چې ددوې لپاره به يوه نښانه اوعلامه وي هغه داچې د اوداسه له کبله به ددوی مخونه لاسونه اوپښې ځلانده وي.

(۵)هغه څوک به دشيطان له شرڅخه په امان وي کوم چې هميشه په اوداسه سره ګرزي په احاديثوکې راغلي دي چې هروخت په اوداسه سره ګرزيدل پرته له کامل ايمان والا څخه بل نه دي (يعني دهغه ايمان کامل دی چې تل په اوداسه ګرزي.

(۶)په اودس سره ومسجدته پرتللوباندې پرهرقدم يوه نيکي وزکول کيږي اويوه خطايي معافيږي.

(۷)کوم څوک چې په اوداسه سره په مسجدکښې ناست وي اودلمانځه انتظارکوي کوم وخت چې دلمانځه په انتظارکې تيريږي دغه هم په لمانځه کې شميرل کيږي.(علم الفقه مخ ۲ ۵لومړی ټوک بخاري شريف مخ ۲۵لومړی ټوک)

نبي کريم ﷺ وويل چې که تاسوددې وس لرې چې تل په اوداسه وګرزې نويي وکړې (هميښه په اوداسه ګرزيدل مستحب دي اوچاته چې مرګ داوداسه په حال کې راشي نودهغه مقام دشهيد دی (بهشتي زيورمخ ۹۲لومړی ټوک)نبي کريم ﷺ وويل چې په کوموختوکې نفس دانه خوښوي چې اودس وکړي نو په دغه وخت کې دنفس

پرخلاف باندی په اوداسه کولوسره گناهونه توئیږی (ناخوښی کله دسستی له کبله اوکله دناجوړی له کبله څخه وی اوکله دیخ له وجی څخه وی دناخوښی په حالت کی په اوداسه کولوسره کوچنی گونهونه معافیږی نبی کریم ﷺ هغه کسانوته وکتل چی اودسونه یي کړی ووخوپوندی ئی وچی پاتی وی نونبی کریم ﷺ وویل چی په جهنم کی ددی ډیرغټ عذاب دی (دهغه پوندی چی وچی پاتی شوی وی)دوچوالی له کبله په پوست کی سختی راځی خاص بیادغه وچوالی دیخ په وخت کی زیاتیږی نوبایدسړی داندامویه مینځلوکی کوشش وکړی تردی اندازی چی دیوه ویښته په اندازه وچوالی هم پاتی نشی (رفعت قاسمی)

داوداسه گټی اوحکمتونه

(۱)اودس انسان له ښکاره اوپټو(باطنی)گناهونواودغفلت (نبی پروائی)په پرینښودلوخبروی که لمونځ پرته له اوداسه رواوای نو انسان به همداسی په غفلت کی مست پاتی وای اولمونځ به ئی همدا سی په بی فروائی کولای اوپه لمانځه کی به په همداسی بی فروائی داخلیدای په دنیوی بوختیاوو اوفکرونوکی به دیونشیږ انسان په ځیرداخلیدی نوځکه دبی پروائی له دغی نشی څخه دبیداری کولو لپاره اودس مشروع شوترڅو انسان په ښه پاملرنه اوخبرتیادخدای جل جلاله په وړاندی ودریږی (۲)طبی مشاهده یاتجربه ده چی دانسان له دننی بدن څخه زهرجن مواددبدن نوروغړوته راځی اوهغه لاسونه مخ اوسراونوروانداموته راشی هم هلته تم شی اودبیلابیلوزهرجنو دانو اوگرمه کوپه ښه ځرگندیږی اودبدن دغړوپه منځلودهغه

ناولواوخرابو موادو مخه نیول کیږي یاخوپه بدن کی دننه دننه دهغوجوش په اوبو سرېږي یاخوراوزي (۳)په تجربه اومشاهده ثابته ده چي دلاسونو اوپښوپه مینځلوسره اوپرسراومخ داوبواچول پرنفس باندي ډیراغیز کوي اوپه مهموغړوکی قوت اوبیداري پیداکوي بي پروائي خوب اوډیره بي هوښي په همدي کارسره لیري کیږي ددي تجربي تصدیق په ماهروډاکټرانوکیداي شي ځکه چي څوک بي هوښه وي یايي نس ناستي (اسهال)وي یادیوچارگ پري شوي وي هغه ته پريادوشوو غړوداوبواچولوواندیز کیږي همداوجه ده چي انسان ته امرشویدي چي دځپل نفس سستي بیکاري اوناولتوب داوداسه په وسیله لیري کړي ترڅودخداي جل جلاله په حضورکي دردیدووړشي ځکه خداي جل جلاله تل هوښیاراوبیداردي لاتاخذه سنة ولانوم (الله جل جلاله غفلت اوخوب نه نیسي)نوسست اوبي پروادهغه په حضورکي نه شي دریداي همداوجه ده چي دمستي اونشي په حالت کي لمونځ نه دي روا وکوم نشيي ته چي دیوظاهري باچاودربارته دتللواجازه نه ورکول کیږي نوچي یونشيي اوشرابي دنشي اوغفلت په حالت کي دکوم دنیاوي حاکم ودربارته په ورتلونه شي بریالئ کیداي نوکوم څوک چي دنشي اوغفلت په څیرحالاتوکي ډوب وي هغه ته څنگه دیوستړواکمن (یعني الله جل جلاله)دربارته دتللوشرف ترلاسه کیداي شي ؟

(۴)کله چي دپاکي کیفیت په نفس کي ټینگ شي نودتل لپاره په هغه کي دنیکی نوریوه څانگه په هغه کي پاتي کیږي اودوحشت دتیاري برخه ضعیفه کیږي (۵)دگناهونو اوسستي له کبله چي کوم روحاني

نورخوشې دبدن له ټولوغړوڅخه تللې ووداودس کولوله کبله دوهم ځل هغوته رارسيږی همداروحانی نورپه قيامت کی داوداسه په غړوکی ځرګنديږی رسول الله ﷺ ويلی دی دقيامت په ورځ چی کله زمامت راشی نودهغوی پرلاسونومخونواوپښوبه داوداسه په اثارونور اورڼا ځرګنده شی ځکه نوکوم څوک چی په تاسوکی خپله روڼاډيره ولای شی ډيره يې کړی. (المصالح العقيلة مخ ١٢ اسرارشريعت حجة الله البالغه)

داوداسه په وسيله کوم ګناهونه معافيږی ؟

عن عثمان ﷺ [قال: قال رسول الله ﷺ من توضأ فاحسن الوضؤخرجت خطاياه من جسده حتی تخرج من تحت اظفاره] (مسلم)

عثمان رضی الله عنه ويلی دی: چی رسول الله ﷺ وويل چاچی اوډس وکړی اوښه اودس يي وکړی نودهغه له بدن څخه ټول ګناهونه وزی آن چی ترنوکانولاندی ګناهونه ئی هم نه پاتی کيږی (تشريح يا وضاحت) بدن اوروح ډيری نيژدی اړکی سره لری چی دهغوحتمی پايله داده چی پرکوم يوه يوحالت راځی دوهم په طبعی ډول ورڅخه اغيزمن کيږی لکه چی دنيکی اوبدی تړاوبی شکه له روح سره دی په نيکواعمالوپرروح دنورانيت اورڼااوپه بدواعمالوپرهغه دتاريکی ا ثرات لويږی خوپه حتمی ډول بدن هم ددغوشيانوله ښواوبدواغيزواغيزمن کيږی همداوجه ده چی اودس کومه يوه نيکی ده اودهغه تعلق ياتړاو اصلاله روح سره دی ددغه اوداسه په وسيله دبدوعمليو هغه تياره اثارختميوی کوم چی دروح په وسيله پربدن هم راځی په حديث شريف کی دبڼوترپيخواونوکانولاندی الفاظ (په

اوداسه گناهونه ختمیږی)دی خبری دلیل دی چی گناهونه یوازی روح نه ناپاکه کوی بلکه په بدن کی هم دروح داخیری دبدنی خیریو په څیرجمعه کیږی چی هغه اودس اوداډول نوری نیکی پریمنځی داالله جل جلاله قول دی[ان الحسنات یذهبن السیئات](بیشکه نیکی بدله منځه وړی (سورةهود)خولکه څرنگه چی موږ گوروچی معمولی گرز په لړ جاروکولواومنځلوسره پاکیږی خوکوم خیرنی چی ډیروی دهغو لپاره گرول مینځل صابون اونوروکول ضروری دی همداډول دگناهو نوییلې بیلې درجې دی دسپکی درجې کوچنی گناهونه وی خودشپی اوورځی دعبادتونو اوداسه لمانځه اونوروپه وسیله معافیږی خودلومړی درجی دگناهونو دپاکی لپاره داشیان بسنه نه کوی دهغودمنځلولپاره دتوبی استغفار پښیمانی اودشرمندگی دڅو څاڅکواوښکوبهولوارتیاده لکه چی اسلامی عالمانودقرآن اوسنت په رڼاکی همدا پریکړه کړی ده چی دمختلفونیکواعمالوپه کولوچی دکومو گنا هو نودمعافی زیری ورکول کیږی له هغه څخه کوچنی یاصغیره گونهونه مراددی اودلویوگناهونولپاره خدي جل جلاله ته توبه هم ضروری ده ځکه نوله نیکواعمالوسره توبه هم په کارده.

(الترغیب والترهیب مخ ۲۴۰ لومړی ټوک مظاهرحق مخ ۳۸ لومړی ټوک)

پاکی دمکروبووژونکی ده

اسلام دژوندپه هره څانگه کی وپاکی ته لوی اهمیت ورکړی دی ځکه چی پاکی دانسان دژوندیوخاص جزدی نوځکه اسلام وانسان ته دهغوشیانودپاکوالی حکم کړی دی کوم چی دده له هغوسره زیات تعلق دی لکه مسجد،مکتب،لباس،خواسلام چی دبدن اوجامی پاکولی

ته څومره قدرورکړی دی دنړی پوه مذهب کی هم نه دی ثابت شوی هم دغه وجه ده چی په شریعت کی ځای پرځای پرپاکی کولوباندی تأکیدشوی دی همدارنګه په قرآن اوحدیث کی هم دپاکی تائیدشوی دی ددی وجه داده چی دانسان دژونداصل مقصددخدای جل جلاله بندګی اودهغه خبره منل دی دغه دواړه دانسان سره هغه وخت یوځای کیدای شی چی انسان روغ اوغښتلی وی که چیری دانسان بدن کمزوری وی اودی معذوروی بیاشریعت پرهغه باندی اسانه اصول اینبی دی پاکی دجوتیارلپاره ډیره ازینه ده که چیری انسان خپلی جامی بدن خوراک دوسیدلوځای اودعبادت ځای پاک ونه ساتی نودی به دډول ډول ناروغیوسره مخامخ شی بی وسه اوډنګربه شی اودعبادت کولوتوان به نلری نوځکه اسلام داوداسه غسل دحاجت لری کولواداب اوله ناپاکیوڅخه دخپل ځان پاکولو حکمونه بیان کړی دی ددی لپاره چی دانسان خپل بدن اوروغتیاپرخپل ځای پاته وی اوله بیکاره ناروغیوڅخه په امان وی دانسان بدن دیومشین په ډول باندی دی که چیری مشین له خرابوموادوڅخه نه شی پاک نومشین کارنه کوی همدارنګه دمسلسل کارکولواوخواری کښلوڅخه دانسان بدن خرابیږی یادبلی وجی څخه پربدن خرابی لګیږی که چیری دغه ناپاکی له بدن څخه پاک نشی نوله بدن څخه خراب بوی ولاړیږی اوبیلابیل مکروبونه په بدن کی پیداکیږی چی دهغه له کبله انسان دناروغیوسره مخ کیږی که چیری دخولی دپاکی خیال ونه ساتل شی نوله دی څخه دمعدی ځګراوغاړی همدارنګه نوری ناروغی پیداکیږی اوکه چیری انسان دغاښونودمینځلوخیال ونه ساتی نوبه

دغابنونودخراب رنگ اودنوروضررمنوناروغیوسره مخ شی که
چیری پوزه دخرابومواد او ریزش څخه پاکه نه شی نوددهن
دکمزوری اودعقل دلوټیدوسبب گرزی که چیری لاسونه اومخ نه
ومینځل شی نودوړی پرپاته کیږی اودلاسونواومخ رنګ ته تاوان
رسوی اوپه وینه کی خرابی راولی اوانسان دکوچنی دانوسره هروخت
مخامخ کیږی غرض دادی چی دانسان لپاره دهغواندامومنځل
ضروری دی پرکومو چی گرزونه اودوړی پریوزی اوډیراستعمالیږی.
(احکام طهارت مخ ۳۲)

داوداسه پیژندنه

په لغت کي داوداسه معنی هم پاکی ده خوپریوخاصه طریقه دشریعت
په اصطلاح کی له اوداسه څخه مرادپرخاصواندامو باندی لکه لاس
مخ اونورپه خاصه طریقه اوبه اچول دی. (کتاب الفقه مخ ۷۴لومړی توک)

په څرنگه اوبوسره اودس اوغسل کیږی

مسئله: له اسمان څخه اوریدلی اوبه (باران)واله نالی چینی څاه
تالابونه اودریابونوپه اوبوسره اودس اوغسل کول روادی اوبه که
خوږی وی اوکه تروې. (بهشتی زیورمخ ۵۸لومړی توک حواله شرح تنویر مخ ۱۹۲)
مسئله ددرختی یادپاڼوپه نښتیزل شوی اوبواودس یاغسل کول نه
دی رواهمدارنگه په هغه اوبوچی دهندوانی یاگنی څخه وتلی وی
اودس کول یاغسل کول روانه دی.
مسئله: په کومواوبوکی چی یوشی گډشی یاپه اوبوکی یوشی پوخ
شی اولکه اوبه داډول شی چی اصطلاح کی وهغه ته اوبه نه ویل کیږی

بلکه هغه په بل نامه سره نامدارشي نوپه دی سره اودس او غسل نه دی روا هغه لکه شربت بنوروا سرکه دګلاب خوله او همدا رنګه نورشيان
مسئله: په کوموا وبوکی چی پاک شی ولويږی اوبوپه خونديارنګ يابوی کی يوڅه فرق راشی خوهغه شی په اوبوکی پوخ شوی نه وی اوداوبوپه نرم والی کی ئی هم فرق نه وی راوستلی لکه چی په روانواوبوکی رنګ ګډشی يازعفران ورسره ګډشی اودهغه لږ رنګ په اوبوکی ښکاره شی ياصابن کی ولويږی يادد غوپه څيربل شی وی په دغه تولوصورتوکی غسل او اودس کول روادی.
(بهشتی زيورمخ ۵۸ لومړی توک حواله درمختارمخ ۱۸۲ لومړی توک کتاب الفقه مخ ۸۷توک لومړی)
مسئله: که چيرې يوشی په اوبوکی واچول شی اوبيادا چولوسره په اوبوکی پوخ هم شی اوددی له کبله داوبورنګ خونداوبوی بدل شی نو په دغه اوبوسره اودس نه دی رواخوکه داسی شی په اوبوکی واچول شی اوپوخ شی چی پرهغه باندی څه خيره اوخرابی نه وی اودهغه په پخوالی سره اوبه خنډی هم نشی نوپه دغه اوبوسره اودس کول روادی ددی اوبومثال دمړی دغسل داوبوده چی ديروپاڼی يې په کی پخ کړی وی خوکه چيری دغه پاڼی دومره زياتی ورواچول شی چی ددی له کبله په اوبوکی خنډوالی راشی بيا په دغه اوبوسره اودس ياغسل کول نه دی روا.(بهشتی زيورمخ ۵۹لومړی توک حواله فتاوی هنديه مخ ۱۳لومړی توک)
مسئله: که چيری دجامی رنګولولپاره له اوبوسره زعفران ګډکړی په دغه اوبواودس نه دی روا. (منيه مخ ۳۳)

مسئله: که چیرې داوبوسره شیدې ګډې شي اوپه اوبوکې دشیدورنګ زیات شي نوپه دغه اوبوسره اودس کول نه دي روا او که چیرې شیدې لږ وي اوزیات رنګ ئې په اوبوکې نه وي راوړی بیاپه دغه اوبواودس روادی.

مسئله: که چیرې په ځنګله کې لږڅه اوبه وموندې شي ترهغوبه اودس په کوي ترڅوچې ئې دمرداروېقین نه وي پرراغلی صرف په دغه شک چې دااوبه به نه وي حلالې اوبه نه مرداریږي که چیرې ددغه شک له کبله تیمم ووهي نوتیمم ئې نه دی صحیح. (بهشتی زیورمخ۵۹لومړی توک)

مسئله: که چیرې په اوبوکې مرداري ولویده نوپه دغه اوبواودس اوغسل کول نه دي روا خومرداري لږوي که ډیره وي خوکه چیرې مرداري په داسې اوبوکې ولویده چې هغه رواني وي اورنګ خوند اوبوی نکړي وربدل اودس یاغسل په کولای شي خوکه چیرې درووانواوبورنګ خونداوبوی بدل کړي بیانه ده په روا بلکه اوبه مرداري دي کومې اوبه چې دوبنودبلګواوپانوله کبله ودریدوته نژدې شي دغه اوبه دروانواوبوپه حکم کې بلل کیږي که څه هم ډیرې کراري رواني وي. (بهشتی زیورمخ۵۹لومړی توک بحواله البدایه مخ ۱۱)

مسئله: هغه حوض چې په اندازه دلسولاسواوږدوي اودلسولاسوپه اندازه پراخ وي اودومره اوبه په کښې وي چې په لپه کې له اوبوراپورته کولوسره زمکه نه معلومیږي دغه اوبه هم ده روانواوبوپه حکم کې بلل کیږي ودغه حوض ته لس په لس کې ویل کیږي که چیرې په دغه حوض کې مرداري ولویږي په دې سره اودس روادی خوکه

چیرې ئې رنګ خوندیابوې بدل شي نوپه دغه صورت کې مرداري بلل کیږي.
﴿بهشتی زیورمخ ۶۰ لومړی توک بحواله شرح تنویرمخ ۹۹ لومړی توک فتاوی دارالعلوم مخ ۱۷۲لومړی توک بحواله هدایه مخ ۴۱لومړی توک﴾
مسئله:دهغه حوض په‌اوبواودس کول کوم چې چت لرې رواده که چیرې اوبه دحوض له بام بیلې وی بیاپه اتفاق دعالمانواودس په رواده اوکه چیرې اوبه له بام څخه بیلې نه وی بلکه اوبه دچت سره نښتې اواوبه نه ښور یدی نوپه دی کي اختلاف دی حضرت تهانوی رحمة الله علیه درواوالی فتوی ورکړې ده .﴿وګور ی امدادالفتاوی مخ ۹ولومړی توک﴾
اوځنې علماؤددی مخالف دی ځکه دارنګه تالاب جوړول نه دی پکار.
مسئله:په ریل ګاډی کی چې کوم دحاجت ځای دهغه دتالاواوبه پاکی دی اوپه‌هغه‌سره‌اودس کول اوڅښل روادي. ﴿فتاوی محمودیه مخ ۲۵توک دوهم﴾
مسئله:هغه حوض چې لس په لس کی وی پرکوم ځای چې داندام دمینځلواوبه ولویږی اوبیاله هغه ځای څخه دبل اندام دمینځلو لپاره اوبه راپوته شی هیڅ پروانلری.
مسئله: که اوبه سوکه سوکه روانی وی نودیرپه بیره اودس مه کوئ ترڅولویدلی اوبه‌بیرته‌په‌لاس‌رانشي. ﴿منیه مخ ۳۴﴾
مسئله:که چیری یوکافریاکوچنی په اوبوکی لاس ووهی دغه اوبه پاکی دی خوکه چیری دامعلومه شی چی پرلاس یي مرداری نښتی وه بیااوبه مرداری ګرزی لیکن په کوچنی هلکانوهیڅ باورنشته نوځکه

ښه داده چې په هغواوبوسره اودس ونه شي په کوموکې چې کوچنی لاس وهلی دی ترڅوچې نوری اوبه نوی پیداشوی.

مسئله:هغه ژوندی شیان چې بهونکې وینه نه لری که چیری په اوبوکې یوله دغوشیانوڅخه مړشي یامړپه اوبوکې ولویږی اوبه نه خرابه وی یعنی اوبه مرداری نه گرزی هغه شیان لکه /غماشی، لړم، مچمچی، غالبوزه اوداسی نور...

مسئله:هغه اوبه چې په ټانکۍ کې دلمرله کبله گرمې شوی وی دغه اوبه په هغواوبوکې نه شمیرل کیږی کوم چې په لمرگرمی شوی وی نوپه دغه اوبوسره اودس پروانلری.

مسئله:دلمرپه گرموشوواوبواودس اوغسل کول نه دی په کارځکه چې دفیس ناروغی سبب گرزی یعنی دطب په لحاظ په هغواوبوسره اودس کول چې په لمرگرمی شوی وی نه دی پکارپه دی اوبوکی دثواب اوگناه خبره نشته بلکه په طبی لحاظ ئی استعمال ښه نه دی.
(بهشتی زیورمخ ۱۶ لومړی توک بحواله شامی مخ ۱۸۲ لومړی توک)

مسئله:ددریاب اوبه پاکې دی دحیوانانوپه څښلواوهمدارنگه په نوروشیانونه مرداریږی. (آپ کی مسائل مخ ۴۵ توک دوهم)

مسئله:پرناپاکه ځای اودس کول ښه نه دی. (علم الفقه مخ ۸۳ لومړی توک)

مسئله:دنلانوپه ذریعه چې کومه بدبویه اوپه راځې اوبیاوروسته وریسی پاکی اوبه راځی نوترڅوپری چې دبدبویه اوبوحقیقت نه وی معلوم شوی یاله رنگ اوبوي څخه ئی ناپاکی نه وی ښکاره شوی نرهغوپوری دمرداروابوحکم نه پرکول کیږی ځکه چې بدبویه اوبه یل شي دی اوناپاکه اوبه بیل شي دی که چیری پلټنه وشي چې دااوبه

دګټېپه اوبوګډوډې شوي دي نودنل له خلاصولووروسته دروانو
اوبو حکم پرکيږي اوپاکي ګرزي.
مسئله: که چيرې په تالاؤکی مرغی (چوغکه)ولويږي مړه شي
اوبياپه اوبو کی وپړسيږي نوپه دی کی دوه قوله دی لومړی قول دادی
چی که دغه مرغی پړسيدلی وه نودغه ددرو ورځوبلل کيږي اوددرو
ورځولمنځونه به راګرزوی دوهم قول دادی واوبوته هغه وخت
دمرداروالی حکم ورکول کيږي څه وخت چی ددی په لويدلوخبرشي
په لومړی صورت کی احتياط اوپه دوهم صورت کی اسانی ده.
(آپ کی مسائل مخ ۴۷توک دوهم)
مسئله: په څاه کی هغه دوااچول چی په هغه سره چنجان مړه کيږي څاه
ناپاکه نه ګرزي اواوبه پاکی دي. (فتاوی دارالعلوم مخ ۲۲۷لومړی توک بحواله
عالمګيری مخ ۲۰وفتاوی محموديه مخ ۴۸توک نهم)
مسئله: دسائنس په ذريعه سره چی کومی خرابی دناليانواوبه پاکی
اوربی ګرزی دغه اوبه پاکی نه بلل کيږي دصفااوپاک په منځ کی
ډيرفرق شته. (آپ کی مسائل مخ ۶ ۲۴توک دوهم)
مسئله: دبدچلاوه ميرمنی جوړکړي څاه څخه اودس کول اوغسل روا
دي. (فتاوی دارالعلوم مخ ۲۱۹لومړی توک دغينه مخ ۸۶په حواله)
مسئله: کوم څهان چی په حرام مال سره جوړشوی ددغه څهانوپه
اوبواودس کول روادي. (فتاوی دارالعلوم مخ ۱۹۷لومړی توک)
مسئله: که په څاه کی ګين ولويږي ترڅوچی ئی دايقين نه وی شوی
چی ګين مرداردی اومرداری پرنښتی وه څاه نه مرداريږي اوکه يي

داشک وی چی پرګین به مرداری نبنتی وی په دغه شک سره پراوباندی دمرداروالی حکم نه کیږی. (فتاوی دارالعلوم مخ ۲۰۴ ۲لومړی ټوک)

مسئله: هغه اوبه چی دهغه خوندرنګ اوبوی بدل شوی وی ددغه اوبو استعمال په یوه طریقه سره هم نه دی رواهمدارنګه دغه اوبه حیوانانو ته ورکول یاخاوری په خشتول هم نه دی روا اوکه یی دری اوصاف نه ووبدل شوی بیایی وحیوانانوته ورکولای شی همدارنګه اوګیره په خشتولای شی دواړه روادی چی ختی په وکړی همدارنګه په دغواوبو سره ځای هم پاشی کولای شی خوددارنګه اوبوپه تیاروشوو ختو مسجد باید نه شی ګل. (بهشتی زیور مخ ۶لومړی ټوک حواله عالمګیری مخ ۲۴ لومړی ټوک)

مسئله: هغه دریاب واله اوتالاب چی دچاپه زمکه کی نه وی اووقف شوی وی نوددی ټولو اوبوڅخه فائده اخستل روادی وهیچاته داحق نشته چی ددی داستعمالولوڅخه څوک بندکړی یاددی په استعمال کی دارنګه طریقه اختیارکړی چی عاموخلګوته تاوان رسیږی.

مسئله :که دسړی په خپله مملوکه ځمکه کی داوبوڅاه یاچینه یاحوض یاواله وی نودغه سړی چی دمځکی مالک دی نورخلګ ددغه اوبوڅخه منع کولای شی. (تنویرالابصارمخ ۲۵۷)

مسئله: هغه اوبه چی دګرمی په موسم کی دخلګودڅښلولپاره ایښوول شوی وی اودس نه دی په رواخوکه اوبه زیاتی وی بیایی ستعمال هیڅ پروانلری اوهغه اوبه چی داوداسه لپاره ایښودل شوی ږی دهغه اوبوڅښل روادی. (بهشتی زیورمخ ۷لومړی ټوک بحواله درمختارمخ ۳۰لومړی ټوک)

مسئله:دپاکواوبوداستعمالولوزيات حقدارهغه څوک دی چې غسل پرفرض وی شوی وی اودغه کس ته پرحائضه ښځه بی اودسه سړی اودمړی پرغسل ترجح ورکول کيږی ددی وجی دادی چې جنابت (ناپاکی) ډيره لويه ناپاکی ده اومهم دی نوددی لری کول هم ډيراړن اومهم دی که پاکی اوبه له دغه دروڅخه ديوه په ملکيت کی وی بياداوبوپه استعمالولوخاونداوبوحقداردی خودهرشی ضرورت چې ئی وی دبيلګی په توګه جنوب حائضه ښځه اوبی اودسه دری کسان دی اواوبه په دوی کی خاص ديوه دی نوداوبومالک زيات حقداره دی په استعمالولودغه اوبوسره اوکه اوبه ددغودرو کسانو په منځ کی شريکی وی بيابه داده چې دغه مشترکی اوبه دمړی د غسل لپاره وصرف شی. (کشف الاسرارمخ ۲۵توک دوهم)

مسئله: دښځی له اوداسه ياغسل څخه چې کومی اوبه پاته شی و نارينه ته نه دی پکارچې په هغه پاته اوبواودس ياغسل وکړی (داهغه وخت چې دشهوت اوبدخيالوويره وی) نوګواکي زموږ په مذهب په دغه ډول اوبواودس ياغسل کول دنارينه لپاره روا دي.
(بهشتی زيورمخ ۱۰توک يوولسم بحواله درمختارمخ ۲۴)

مسئله:له اوداسه څخه په پاته شوو اوبو استنجاوهل اوله استنجاڅخه په پاته اوبو اودس کول روادی. (فتاوی دارالعلوم مخ ۱۷۵ ج۱ اغلاط العوام مخ ۳۹)

مسئله:پرکوموځايوچې دخدای جل جلاله عذاب پريوقوم نازيل شوی وی لکه قوم ثموداوقوم عاددغه ځايوپه اوبوسره اودس

اوغسل نه دی پکاردمجبوری په وخت کی ددغه اوبوحکم دزمزم داوبوپه شان دی. (بهشتی زیورمخ ۱۰ توک یوولسم بحواله درمختارمخ ۴۵)
مسئله دشیعه گانومیزائیانو اودنوروکفاروله کوروڅخه داوداسه لپاره اوبه راوړل اوهغه سره اودس کول روادی لیکن دهغودکورو غوښی خوړل حرام دی له غوښوڅخه پرته نورشیان یي خوړل پروانلری. (احسن الفتاوی مخ ۴۴ دوهم توک)
مسئله: که بی لمانځه یابدعت کونکی سړی بل ته داوداسه لپاره اوبه ورکړی په دغه اوبواودس کول صحیح دی اوداودس کونکي په لمانځه کی هیڅ خرابی نه راځی. (فتاوی دارالعلوم مخ ۱۷۶ لومړی توک بحواله درمختارمخ ۱۶۶ لومړی توک)
مسئله: دحکومتی والی څخه داوداسه یاغسل لپاره اوبه راوړل پروا نلری. (فتاوی دارالعلوم مخ ۱۷۷ لومړی توک)
مسئله: دمشرکینواودکفارودڅښلوڅخه چی کومی اوبه پاتی شی (په شرط چی شراب به ئی نه وی څښلی) په دغه اوبواودس اوغسل روادی. (فتاوی دارالعلوم مخ ۳۵۱ لومړی توک بحواله ردالمحتارباب فی السور مخ ۲۰۵ لومړی توک)
مسئله: بیلریاډبه په سپین رنگ وهلوسره څه موده ددوی په اوبو کی بوی اوپه خوندکی یي هم فرق راځی ددغه اوبواستعمال دغسل اواودس لپاره روادی ددغه اوبواستعمال هغه وخت روادی چی دغه رنگ په داسی برش سره نوی شوی چی هغه دخنزیرپه ویښتانوجوړ شوی وی نوپه دغه اوبوسره اودس کول روادی که څه هم په اوبو کی درنگ بوی اوخوندپاتی وی (احسن الفتاوی مخ ۴۴ توک دوهم) که

لاس ناپاکه وي او اودس پرته له ذي چې لاس په اوبو کی نه ووهی یعنی په اوبو کی نه واچوی اودس ممکن نه دی دارنګه سړی نه وی چی دهغه لاس پاک وی او اوبه راوکاږی اونه دارنګه ټوټه رسی وی . چی دهغه په ذریعه اوبه راواخلی اولاس په ومینځی نوپه دغه وخت کی اودس کول پکارنه دی. (علم اصول الفقه مخ ۸۳ لومړی ټوک)

دلمرپه ګرموشواوبواودس کول

مسئله: دلمرپه ذریعه دګرموشوو اوبوپه کراهت کی داحنافو اختلاف دی صحیح خبره داده چی دغه اوبه مکروه تنزهی دی اودغه مکروه والی په اوبو کی هغه وخت پیدا کیږی چی علاقه ګرمه وی اوموسم هم ګرم وی اوبل داچی دسرواوسپینوزروڅخه پرته په بل لوښی کي وی اوپه داسی وخت کی استعمال شی چی دهغوګرموالی نه وی ختم شوی (احسن الفتاوی مخ ۴۴ ټوک دوهم بحواله ردالمحتارمخ ۱۶۷ لومړی ټوک)

مسئله: داوداسه کولوپه وخت کی یاداوداسه کولوروسته که د او داسه اوبه (چی استعمال شوی وی) پربدن یاپرجامی اونورو ونښتی نودمفتی به قول سره سم په دغو اوبوسره نه بدن ناپاکه کیږی اونه جامی ناپاکه کیږی. (فتاوی محمودیه مخ ۴۵ ټوک نهم بحواله بحرمخ ۹۸ لومړی ټوک)

دزمزم په اوبواودس اوغسل کول ؟

کوم څوک چی پاک وی او اودس لری که یي خاص دبرکت دحاصلیدو لپاره دزمزم په اوبو اودس یاغسل وکړی روادی خوبی اودسه انسان یاهغه انسان چی غسل پرفرض شوی وی دهغه لپاره دزمزم په اوبو سره ودس یاغسل کول مکروه دی همدارنګه هغه جامی چی مرداری پری

لګيدلى وى دزمزم په اوبوسره يې مينځل مکروه دى اوهمدغه حکم دى دزمزم په اوبوسره داستنجاوهلوغرض دادى چې دزمزم اوبه ډيرى دبرکت اوبه دى ادب اواحترام يې کول ضرورى دى ددغه اوبو ځنبل سبب دبرکت ګرزى خودمردارى دلرى کولولپاره ددوى استعمال روانه دى. (آپ کى مسائل مخ ۳۰ توک دوهم)

مسئله: هو :که مجبورى وه چې تريوه ميل وراندى اوبه نه پيداکيدى اوضرورى پاکى په ډول کوم بل هم نه شواى حاصليداى نوبيادا ټول کارونه دزمزم په اوبوروادى. (بهشتى زيورمخ ۱۰ توک ۱بحواله کبيرى مخ ۶۱۸)

مسئله: دجنابت غسل دسخت ضرورت له کبله دزمزم په اوبوروادى. (فتاوى رحيميه مخ ۲۲۳ توک ۴بحواله درمختارمخ ۲۵۲ توک لومړى)

دباران اوروانواوبوسره اودس اوغسل کول؟

مسئله: که يوسړى په روانواوبوکښې ياپه لوى حوض کې يادباران اوبوته دومره وخت ودريږى څومره چې دغسل په کولوکې تيريږى نودغه سړى دغسل سنتونه پوره کړل يعنى دغسل سنتونه خپله پوره کيږى (داهغه وخت چې دغسل اواودس نيت يې کړى وى)روانى اوبه يادباران اوبه په وارواړيدن لګيدلواوتللوسره ددرو۳ واروبهيدلو پرځاى دريږى همدغه وجه ده چې علماؤويلى دى چې دلوى حوض څخه جارى يعنى روانى اوبه مراددى دريدلى اوبه اوهغه اوبه چې يوچادرولى وى په دغه حکم کښې نه دى که څه هم زياتى وى اوځينوويلى دى چې په درول شوو(پاکو)اوبوکى له يوځاى څخه وبل ځاى ته دنقل کيدوپه وجه سنت پوره کيږى بلکه دلمبيدونکى ښوريدل هم کافى ده علامه ابن حجرليکلى دى چې په درول شوو

پاکو او بوکې ټوله بدن درواره ښوورول کافي دي که څه هم پښې له یوه ځای څخه بل ځای ته نقل نشي ځکه چې هر ځل په ښوریدو سره نوی او به له بدن سره مښلي. (کشف الاسرار مخ ۲۷ لومړی ټوک)

مسئله: په غسل کې دبدن دیوې حصې او به دبدن بلې حصې ته وړل په دې شرط روادي چې دغه او به وروالوزي لیکن دغه دیوه اندام او به دبل اندام په ذریعه وړل په اوداسه کې روانه دي ددي وجه داده چې په غسل کې ټول بدن دیوه اندام په حکم کښې دي خواودس داسې نه دي ځکه په اوداسه کې هر اندام بیل بیل شمارل کیږي (کشف الاسرار مخ ۳۰ لومړی ټوک)مطلب دادې چې په اوداسه کې یواندام چې په کوموا و بو سره ومینځل شي په هغه اوبو سره بل اندام نه مینځل کیږي بلکه ددغه بل اندام لپاره دنورواوبورااخستل پکاردي لیکن په غسل کې ټوله بدن دیوه اندام په حکم کښې دي نو ځکه دیوه اندام او به وبل ته وړل هیڅ پروانلري خوداشرط ضروري دي چې او به دومره وي چې هغه له دغه اندام څخه ولاړې شي دهغه بل سره ونښلي ددي لپاره چې پردغه حکمادمینځلوحکم یااطلاق وشي. محمدرفعت قاسمي

غفرله

مسئله: داوداسه اودغسل داوبواندازه یوه کاسه راغلي ده دائي خاص اندازه نه ده ځکه چې له دغه څخه زیاتوالي اوکموالي روادي اواسراف کول روانه دي بلکه مکروه دي.

(فتاوی دارالعلوم مخ ۱۲۹ لومړی ټوک مخ ۱۳۳ لومړی ټوک مشکوة مخ ۴۸ لومړی ټوک) په حدیث شریف کې چې داوداسه اوغسل لپاره داوبوکومه اندازه ښودل شوې ده واجبه نه ده بلکه سنت ده چې ددغه اندازې څخه به او به کمې

نه وی (داوداسه لپاره اندازه یو کیلواوبه اودغسل لپاره څلور یا پنځه کیلواوبه)که دیوسړی اودس یاغسل دذکرشوی اندازی څخه په کمواوبوسره کیدی یااندازی څخه په زیاتوکیدی نوپه حدیث کی دذکرشوی اندازی څخه په زیاتواوبوغسل اواودس رواکیږی.

(مظاهرحق مخ ۴۱۴لومړی توک اومخ ۴۰۶لومړی توک فتاوی رشیدیه مخ ۲۸۴لومړی توک)

له کوم حوض څخه چی اودس روادی دهغه اندازه

مسئله: دمتأخرینوفقهاؤدفتوی مطابق دحوض اوږدوالی اوپراخوالی لس گزه ضروری ده اوډوروالی زیاتوبه هیڅ فائده نلری ژوروالی چی هرڅومره زیات یاکم وی اعتبارنلری خواوږدوالی اوپراخوالی لس گزه ضروری دی دشرعی گزاندازه دمروجوبزازانوڅخه لیدل شوی ده تقریبا لس لس نیم چی ددوو فتهوواندازی ته نژدی ده یالږڅه کم تردوو فتهو.(فتاوی دارالعلوم مخ۱۹۲لومړی توک بحواله درمختارمخ ۱۷۷ لومړی توک باب المیاه فتاوی دارالعلوم مخ ۱۸۸ لومړی توک)

شرعی گز۴۶اشاری۲ساتتی متره یعنی اتلس نیم انچه کیږی.

مسئله: دحوض اوږدوالی اوپراخوالی برابریدل ضروری نه دی د زیاتوب اوکمبود پراخی کنبی شته لکه څنگه چی لس لاسه اوږد او لس لاسه پراخ شرعی حوض دی همدارنگه پنځه لاس پراخ اوشل لاسه اوږدیاڅلورلاس پراخ ۲۵لاسه اوږداودوه لاسه پراخ ۵۰لاسه اوږدهم شرعی حوض بلل کیږی که حوض گردی وی نودهغه گردی والی به ۳۶گزه وی(اوپه قول دصاحب محیط احتیاط دادی چی ۴۸گزه به وی) که حوض مثلث یعنی دری کونجه وی نوهرلوریه یی ۱۵نیم گزه وی

اوژوروالي به ئې دومره وي چې اوبه په لپه ځنې راواخستل شي زمکه نه ښکاره کيږي.
(فتاوی رحيميه مخ ۲۵۵ ټوک څلورم بحواله طحطاوي على المراقي الفلاح مخ ۷ اوشامي مخ ۷۸ ۱ لومړی ټوک)

مسئله: که په حوض کې يو حيوان ولويدی مړشواوشوړيدی که دهغه دشوړيدوله کبله داوبورنګ يابوی ياخوندبدل شونودحوض اوبه ناپاکه دی اوکه له دغه دراواوصافوڅخه يوهم نه وو بدل شوی نوکه دحوض اوبه ډيری دی بياا وبه ناپاکه نه دی اوکه داوبورنګ يانورڅه بدل شي نواوبه ناپاکه دی اوپه دغه اوبواودس غسل اواستنجاروانه ده اوکه وکول شي نوپاکي پرې نه راځي اوکه يې په دغه ناپاکواوبو دا ستنجاوهلووروسته (خوا په دغه استنجاووهي اوبه ورته معلومې وي يانه وي) اودس وکړي اولمونځ وکوي نولمونځ يې نه صحيح کيږي دد غه راګرزول فرض دي. (رحيميه مخ ۲۷ ټوک څلورم دحوض تفصيل وګوري شامي مخ ۱۲۰ اشرح تنوير الابصار)

دناپاکۍ په وخت کې داوداسه کولوڅه ګټه ده ؟

پوښتنه: دجنابت له غسل څخه مخکې لومړی داوداسه څه ګټه ده ؟ ايا له ناپاکۍ لږې کولوپرته اودس کيداى شي ؟ دصحابه کرامو دا عادت جوړشوي ووچې له خپلو ښځو ـــ ـ : ترنيژديکت وروسته به ئې اودس وکړاوبيده به شوپه دغه ناپاکۍ کښې اودس څنګه دی؟په ذهن کې مې نه راځي.

ځواب : دجنابت په حالت کې په اوداسه کولوسره پاکي نه حاصليږي مګرپه ناپاکۍ کښې لږسپکوالى راځي که ديوشرعي حکم حکمت په ذهن کښې نشي رانوڅه تاوان دی

مسئله: که په شپه کې له کومې وجې دغسل اړتیاشوه اوپه دغه وخت کې په غسل کولوکښې تکلیف وي نوښه داده چې غسل وکړي لیکن که غسل نه وکړي نو استنجااواودس دې وکړي بیده دې شي دغه مسنونه اوغوره شوې طریقه ده (الجواب متین مخ ۱۰)

مسئله: په شپه کښې دبیدېدوپه وخت کې اودس کول(یعنی سره داوداسه بیدیدل)ښه کاردې. (آپ کی مسائل مخ ۳۴ټوک دوهم)

مسئله: دناروغه دپښتنې لپاره په اوداسه تلل سنت دي مظاهرحق مخ ۳۵۳لومړی ټوک)ددې وجه داهم کیدای شي چې دناروغ پوښتنه عبادت دی اودانبکاره خبره ده چې عبادت په اوداسه سره ښه اوکامل کرزي. محمد رفعت قاسمي غفرله

ایاکامل اودس ضروري دی کله چې درکعت دتیریدوویره وي ؟

مسئله: که جماعت ولاړ وي هم بایدی کامل اودس وکړل شي داوداسه سنتونه پوره کول اړین دي که څه هم جماعت ختم شي.
(فتاوی دارالعلوم مخ ۱۳۱لومړی ټوک بحواله مرقات مخ ۱۲۱لومړی ټوک)

مسئله: په یوه لاس اودس کول صحیح دي خودسنتوخلاف دي پرته له ضرورته داسې کول نه دي پکار .(فتاوی دارالعلوم مخ ۱۳۲لومړی ټوک)

دمجبوري له امله خوله نه مینځل ؟

پوښتنه :که یوسړی خوله مینځی نووینه کوی څه وخت وروسته وینه بندوي څرنګه چې دخولې په مینځلوکښې داودس دماتیدوویره وي له دغه وجې کهخوله نه ومینځي اولمونځ وکړي صحیح ده کنه؟
ځواب : په داسې وخت کې خوله نه مینځل صحیح ده بې له خولې مینځلو لمونځ صحیح ده.

(فتاوی دارالعلوم مخ ۱۲۹ لومړی ټوک بحواله ردالمحتار مخ ۱۴۵ لومړی ټوک کتاب الطهارت سنن الغسل)

پریوه اوداسه سربیره بل اودس کول ؟

مسئله: که یو سړی دمانبپین دلمانځه لپاره اودس وکړاو اودس یې نه وی مات شوی نودراتلونکی وخت دلمانځه لپاره نوی اودس کول واجب نه دی (هم په دغه اودس سره لمونځ کولای شی ترڅو چې اودس نه وی مات شوی. (کتاب الفقه مخ ۸۱ لومړی ټوک)

مسئله: که پر اوداسه بل اودس وکړی ډیر ثواب ورکول کیږي.

(بهشتی زیور مخ ۴۸ لومړی ټوک کبیری مخ ۳۶ آپ کی مسائل مخ ۳۱ ټوک دوهم)

مسئله: داوداسه په منځ کی داوداسه ضدشی واقع شو یعنی داوداسه دکولو په وخت داوداسه ماتونکی شی راغلی دمثال په توګه لاسونه او مخ ئی مینځلی دی اودس ئی مات شونودوهم ځل اودس شروع کول لازمی دی لیکن دعذر حالت له دغه څخه بیل دی.

(کتاب الفقه مخ ۸۱ لومړی ټوک فتاوی دارالعلوم مخ ۱۴۱ لومړی ټوک بحواله ردالمحتار مخ ۷۹ لومړی ټوک)

دمسجدپرفرش باندی اودس کول

مسئله: په مسجد کی چی پرکوم ځای لمونځ کیږی (یعنی کوم ځای چی دلمانځه کولولپاره معلوم شوی وی) هلته اودس کول صحیح نه دی خو که داسی اودس وکړی چی اوبه ومسجدته نه شی داخلی بیا روا ده (علم الفقه مخ ۸۳ لومړی ټوک)

مسئله دمسجدپرفرش باندی چی دلمانځه لپاره متعین شوی وی اودس کول روانه ده که ځای داوداسه لپاره جوړشوی وی نوهلته دی اودس وکړل شی که نه وی دمسجدله فرش څخه دی لری شی اودس دی وکړی مقصدداچی داوداسه مستعمل شوی اوبه دمسجدپرفرش

اچول منع دي. (فتاوى محموديه مخ ۱۳۷ توک لسم بحواله شامی مخ ۱۳۲ توک دوهم باب الاعتکاف)

مسئله: دمسجد داوداسه ځای اوبه د اوداسه لپاره خاص شوی دی ددغه اوبوړل روانه دی خوکه دکلی (یاتالاب یابل داسی شی)دعامو خلګولپاره وو اودوړلواجازه وی نوبیاروادی. (آپ کی مسائل مخ ۱۴۵توک دریم)

داودس دځای نالی دمسجدغولی ته رااستل ؟

پوښتنه: دمسجددبرندی پرڅنګ وراسته طرفته داوداسه کولونالی ده اودغه نالی دباندی دمسجدغولی لاندی تیر شوی وی اودبندی والاداوداسه نالی باندی راځي له هغه سره ګډیږی ایاداوداسه اوبه د مسجدغولی لاندی تیرولاشی؟اوایاپه لمانځه کی څه فرق رانه ځی ؟

ځواب :که دمسجددجوړیدوپه وخت کی یی دغه ډول وی بیاشرعا صحیح ده ددی له کبله په لمانځه کښی هیڅ فرق نه راځی لیکن که دنالی روپه اسانی سره وبلی خواته بدلیدلای شی نودغه ډیرښه اومناسبه ده. (فتاوى محموديه مخ ۱۹۸ توک لسم)

مسئله:داوداسه کولوروسته ومسجدته دداخلیدوپه وخت کښی چی کوم څاځکی داوبودمسجدپرفرش باندی ولویږی ددغه څاځکود لو یدلو له کبله فرش نه خرابیږی همدارنګه له حوض څخه داوداسه کولو په وخت کښی احتیاط په کاردی چی په حوض کی څاځکی ونه لویږی لیکن ددغه څاځکوپه لویدلوسره حوض ناپاکه نه ګرزی. (آپ کی مسائل مخ ۸۵ توک دریم)

مسئله: اودس وکړل شي وروسته پښې پر هغه ځای چې چوتې پر کښل کيږي کښيږدي او بيا د مسجد پر صف باندې تيرشي نو په دغه وخت کې پښې ناپاکه نه ګرزي نو صفونه هم تول پاک دي اودس او د تپولولمونځ صحيح ده. (فتاوی دارالعلوم مخ ۳۷۳ لومړی توک بحواله ردالمحتار مخ ۳۲۴ لومړی توک
)

پرقبربرسيره اودس کول

مسئله: دروايا تو څخه معلوميږي چې کوم چال چلند له چاسره چې په ژوندکې ثابت تکليفجن شوی دی له مرګه وروسته ئې هم هغه حکم دی او دا ښکاره ده چې په ژوندکښې که ديوسړي سره نيژدې کښيني دارنګه اودس کوي چې داوداسه ځاڅکي اوبه پرهغه بل سړي نښلي نو هغه ته تکليف رسيږي. (امدادالفتاوی مخ ۳۹ لومړی توک)

مسئله: پرداسې ځای اودس کول چې داوداسه اوبه پرقبرلويږي روانه ده. (امدادالفتاوی مخ ۷۳۰ لومړی توک)

له کورڅخه په اوداسه راتلل ښه کاردی

مسئله: له کورڅخه ومسجدته په اوداسه راتلل ښه دی له کورڅخه دمسجدوطرفته په اوداسه راتللوفضيلت په حديثوکښې راغلی دی اوعقلاهم ددې غوره والی ښکاره دی ځکه چې په دغه کښې د مسجد ادب اواحترام دی که يوسړی په دربارکښې داخليدل غواړي نودهغه دعزت کولوغوښتنه داده چې ځان پاک کړي اوله کورڅخه ولاړشي دارنګه نه چې ودربارته ورسيږي اوبيااوبه طلب کړي دغه ددربار دتعظيم خلاف کاردی ځکه چې وحرم ته دداخليدونکې لپاره

دمواقيت څخه داحترام دتړلوڅخه دبيت الله دتعظيم ښکاروالی مقصوددی.

(احسن الفتاوی مخ ۱۱ توک دوهم)

مسئله: نن سبأهم که په کورکښې اودس وکول شي اوبياولاړشي وهغه ته ډيرثواب حاصليږي لکين دمسجدلپاره داوداس اوغسل ځای جوړول ذريعه دثواب مسنون اومستحب دی. (الجواب المتين مخ ۱۰)

په حديث شريف کښې داغلې دی چې نبی کريم ﷺ وويل چې کوم څوک چې دفرض داداکولولپاره اودس وکړی له خپل کورڅخه ووزی ومسجدته نودغه کس ته هغه ثواب ورکول کيږی لکه څنګه چې دحج کوونکي اواحرام والاته ورکول کيږی

تشريح :لکه څنګه ثواب چې دحج داداکولواواحرام تړلووالاته ورکول کيږی ګواکی اودس دحج اواحرام مشابه ده يعنی (دحج پشان دی) اومشابهت يي دارنګه بيان شوی دی چې لمونځ کونکی دلمانځه لپاره له کوره ووزی مسجدته ولاړشي اوبياله لمانځه څخه فارغ شي څه وخت چې بيرته کورته نه وی راغلی ترهغه وخته پوری برابرثواب ورکول کيږی لکه څنګه چې حاجی دحج لپاره له کوره څخه وتلی وی اودحج داداکولوروسته کورته نه وی راغلی نوهغومره ثواب ورکول کيږی ددی خبری په ذهن کی ساتل پکاردی چې داوداسه اوحج په منځ چې کوم مشابهت بيان شو دايوجزی مشابهت دی مشابهت ئی په دی اعتبارنه دی چې په ټولووجوهاتوکښې ئی ثواب برابردی ځکه که دحج ثواب هم دومره شي څومره چې لمونځ کونکی ته ورکول کيږی بيابه حج کول دخلګوترنظرعبث اوبی ګټې

وګڼل شي دفرض لمانځه دکونکې مشابهت دحج کونکي سره ورکړل شوي دي دڅاښت اونورولمنځو کونکوته دعمرې له کونکوسره مشابهت ورکړل شوي دي.

(مظاهرحق مخ ۶۱۸ لومړی ټوک)

له غسله وروسته اودس کول

مسئله: اودس ددرو۳اندامو(مخ لاسونه اوپښو)مینځلواودسردمسح کولونوم دی اوکوم څوک چی غسل وکړي نودهغه سره اودس هم وشوله غسله مخکي اودس کول سنت دی که یوسړی له غسله مخکي اودس نه وکړی غسل يي صحيح دی اودغسل په کولوسره ئی اودس هم وشودمسح معنی ده لوندلاس پرسرتیرول څه وخت چی پرسرباندی اوبه واچوی اوتوی شی نودمسح څخه زيات غسل وشودعواموداعمل چی له غسل څخه وروسته اودس کوی غلط کاردی اودس بايدله غسل څخه مخکي وشی ددی لپاره چی دغسل سنت پوره اداشی له غسله وروسته اودس کول روانه دی (آپ کی مسائل مخ ۲۸ ټوک دوهم) مسئله:له غسله وروسته چی اودس مات شوی نه وی اودس کول ضروری نه دی.(آپ کی مسائل مخ۲۸ټوک دوهم احسن الفتاوی مخ ۹ ټوک دوهم بحواله ردالمحتارمخ ۹۹لومړی ټوک)

دغسل په دوران کی که اودس مات شی نو؟

پوښتنه :له غسل کولوڅخه مخته ئی اودس وکړليکن دغسل په وخت کي ئی اودس مات شونودغسل کولووروسته اودس کول څنګه دی ؟

ځواب :که داوداسه ترماتیدووروسته غسل وکړی اوپه دغه کښی داوداسه اندامونه دوهم ځل ومینځل شی اوله دی څخه وروسته داسی

شي نه شي رامنځته چې اودس پرې ماتيږي نودده اودس وشوا ولمونځ په کولای شي.

مسئله: دامشهوره ده چې په برېنډ کيدلوسره اودس ماتيږي ياداچې دبرېنډوالي په حالت کې اودس نه پاتې کيږي داصرف غلط دي.
(آپ کی مسائل مخ ۳۱ توک دوهم)

مسئله: دجنازې دلمانځه په اوداسه سره نورلمنځونه هم کيږي خوکه د جنازې دلمانځه لپاره تيمم ووهل شي نوبيانورلمنځونه نه دي پرې روا
(آپ کی مسائل مخ ۳۱)

مسئله: دجنازې دلمانځه لپاره يادسجدې دتلاوت لپاره چې اودس وشي په هغه سره نورلمنځونه کول روادي بلکه داوبودنه موندلوله امله اودمرض له امله دجنازې دلمانځه لپاره چې کوم تيمم وهل شوي وي په هغه سره هم نورلمنځونه نه دي روا.
(احسن الفتاوی مخ ۸۱ توک دوهم بحواله ردالمحتارمخ ۲۲۴ لومړی توک فتاوی دارالعلوم مخ ۱۵۰ لومړی توک)

مسئله: بايددجنازې له پورته کولوڅخه مخکې اودس وشي ددې لپاره چې دجنازې لمونځ نشي تيرداحکم هم مستحب دی(مظاهرحق مخ ۳۸۲ لومړی توک)

په ګرمواوبواودس کول

مسئله: په ګرمواوبواودس کول هيڅ پروانه لري.

مسئله: که داوداسه کولوپه وخت کښې داندام يوه حصه وچه پاتې شي نودوهم ځل اودس کولوته هيڅ ضرورت نشته بلکه دهغه وچې پاتې شوې مينځل کافي ده ليکن پردغه وچه حصه اوبه بهول ضروري دي صرف لاسونه پرتيرول نه کافي کيږي.
(آپ کی مسائل مخ ۳۲ توک دوهم احسن الفتاوی مخ ۲۹ توک دوهم آپ کی مسائل مخ ۳۴ توک دوهم اواحسن الفتاوی مخ ۲۵ توک دوهم بحواله ردالمحتارمخ ۱۲۱ لومړی توک)

دعذر له کبله په ولاړې اودس کول ؟

مسئله:په ولاړې سره اودس کولوسره دڅاڅکودغورځيدوويره وی ځومره چې مووس کیږی په ناستی اودس وکړی لیکن که مجبوری وی په ولاړی دریدلواودس کول هیڅ تاوان نلری.
مسئله: نن سباچې په کورونوکی دلوښودمینځلولپاره کومی نلکی پورته لګولی شوی دی خلګ له هغوڅخه په ولاړی اودس کوی نو دا رنګه اودس کول هم روادی خوښه داده چی مخ پرقبله کښینی اودس وکړی.
مسئله:که په ناستی اودس نشی کولای نوپه ولاړی دی اودس وکړی هیڅ تاوان نلری خودڅاڅکوڅخه ځان ساتل پکاردی.
(آپ کی مسائل مخ ۳۳توک دوهم)
مسئله: :په ناستی دی اودس وکړل شی که په ناستی دپښومینځلو کښی تکلیف وی یاپه ولاړواودس کولوسره داستعمال شوو اوبوڅخه ځان خوندي کیږی نوپه ولاړه دریدلوسره پښی مینځل پروانه لری بلکه داستعمال شوواوبوڅخه دځان ساتلولپاره په ولاړومینځل ښه دی.(اداب وضوء درمختارمخ۸۶لومړی توک فتاوی محمودیه مخ۱۶ توک اووم)

په اوداسه کښی دمصنوعی ویښتانوحکم

که سړی دمجبوری له امله پرسردمصنوعی ویښتانواستعمال کاوی نوهغه سړی داوداسه په وخت کی پرهمدغوویښتانومسح کولای ئي شی کنه؟

ځواب :دمصنوعی ویښتانو استعمال روانه دی اونه ددوی داستعمال ارتیاشته دسردمسح په وخت کښې دوی لری کول پکاردی که مسح پرو کړل شی اودس نه کیږی. (آپ کی مسائل مخ ۳۶ ټوک دوهم)

داودس کولوپروخت دقبلې لورته توکل ؟

پوښتنه :دقبلې وطرفته کښېنې. اواودس وکړی نوپه دغه صورت کښې توکل هم وکړی لیکن دقبلې لورته توکل منع دی ددی څه حیثیت دی ؟

ځواب :دقبلې ولورته توکل مکروه دی که دقبلې ولورته مخ کړی خولاندی دځمکی ولورته توکړی بیاهیڅ پروانلری لکه څنګه چی په حدیث شریف کښې راغلی دی چی که دلمانځه په منځ کښې دتوکلو ضرورت شی تربښولاندی دي توکړی حالانکه په دغه وخت کښې دلمونځ کونکی مخ دقبلې ولورته دی سره له دی چی لاندی دزمکی ولورته دتوکلواجازه شته. (احسن الفتاوی مخ ۱۷ ټوک دوهم)

پرخپل ځای چی لمونځ پرکوی اودارنګه پرخپلونوروشیانوتوکلای شی لیکن په مسجد کښې دلمانځه پرځای توکل روانه دی.

په اوداسه کښې دعذرله امله دانداموو چول

مسئله: په اوداسه اوغسل کښې پرله پسی والی سنت دی یعنی دومره ځنډبه نه پکښې کوی چی تربل اندام پریمنځلوپوری لومړنی اندام وچ شی همدارنګه دمسح وروسته اوپه تیمم کښې هم همدومره ځنډنه دی پکارچی په دی وخت که کوم غړی مینځلای وای نوهغه وچیدی داهم دسنت خلاف کاردی. (احسن الفتاوی مخ ۱۴ ټوک دوهم بحواله ردالمحتارمخ ۱۱۴ ټوک دوهم)

مسئله: داوداسه په اندامو کښې پرله پسې والی سنت دی فرض نه دی نوله دی کبله دوهم اندام دلومړي اندام داوبوله وچیدو څخه وروسته مینځل مکروه دی سنت طریقه داده دمثال په توګه لومړی به مخ مینځي دستی به لاسونه تررېږيوپورې مینځي چې څنګلی ئې نه وی وچې شوی بیابه دی پرسرمسح کوی اوپاته اودس دی وکړی نوکه مخ ومنځي دومره وځنډیدی چې داودس اوبه پرمخ وچې شي نواودس صحیح کیږی خومکروه والی پکښې پاته کیږي.

(کتاب الفقه مخ ۱۰۱ لومړی ټوک)

مسئله: داوداسه اندامو کښې دترتیب لحاظ ساتل سنت دی نه فرض
(کتاب الفقه مخ ۹۹ لومړی ټوک)

مسئله: دعذرله کبله که داوداسه په منځ کښې یواندام وچ پاته شي اودس مکروه نه دی اودهغه اودس کامل (پوره) دی اوپه دغه اودس سره لمونځ کولای شي اوبې له عذره داسی عمل کول یعني په اوداسه کښې اندامونه وچول دسنت خلاف دي لمونځ بیاهم په دغه اوداسه روا دی. (فتاوی دارالعلوم مخ ۱۴۷ لومړی ټوک بحواله ردالمحتارمخ ۱۴۸ لومړی ټوک)

مسئله: په اوداسه کښې که داندام یوحصې ته اوبه ونه رسیږی اووچه پاته شي نوپردغه حصه دی اوبه وبهول شي بیااودس صحیح کیږی خوکه داندام یوه حصه دمینځلواولندولووروسته وچه شي بیاپه اوداسه کښې هیڅ زیان نه راځي اودس صحیح دی.

(فتاوی دارالعلوم مخ ۱۴۷ لومړی ټوک بحواله ردالمحتارمخ ۱۱۴ لومړی ټوک)

مسئله: داوداسه کولوپه وخت کښې که پندی ته یاویوبل ځای ته اوبه نه ورسیږی اوداوداسه کولووروسته ورته معلومه شوه نوصرف په

لوندلاس تیرولوسره صحیح نه دی بلکه پرهغه ځای به اوبه بهوی.
(مراقی الفلاح مخ ۳۶لومړی توک)

په اوداسه کښې اندامونه له درووارو څخه زیات مینځل

مسئله:په اوداسه کې خلګ لاسونه تربریوپوری ومینځی اوبیا دری واره اوبه پروبهوی نوشپږ ځله شوو که دری ځله په دی نیت سره ومینځل شی چی ثواب لری یاسنت دی نودغه عمل مکروه تحریمی دی اوکه دغه نیت یې نه وی بیله یوباعثه داعمل کوی نودغه عمل مکروه تنزهی دی اوکه دشک دلری کولواواطمنان دحاصلولولپاره ددروځلوڅخه زیات ومینځی نوهیڅ کراهت نلری خودمدرسی یادمسجدپه وقف شوواوبوسره اندامونه تردروځلومینځلوزیات حرام دی.

(احسن الفتاوی مخ ۱۵ توک دوهم بحواله ردالمحتارمخ ۱۲۲اومظاهرحق مخ ۴۰۶توک لومړی)

مسئله:په اوداسه کښې دواړه لاسونه دری ځله مینځل په کاردی همدغه طریقه سنت ده پاته دلندولولپاره اوبه یوځل لاس تیره ولوسره هیڅ زیان نه راځی بلکه دغه ښه دی له دی وجې څخه چی دری ځله اوبه ښه باندی وبهیږی همدارنګه پرلاس باندی اوبه دګوتوله طرف څخه وبهول شی اودګوتوخلالول دی دمینځلوپه وخت کښې ووشی یادی دمینځلوڅخه وروسته ووشی په هردول روادی.

(فتاوی دارالعلوم مخ ۱۲۸لومړی توک بحواله ردالمحتارمخ ۱۰۹لومړی توک کتاب الطهارة
)

دهراندام دری ځلومینځلوحکمت

مسئله:په اوداسه کښې دهراندام دری ځله مینځل دنبی ﷺ دمبارک عمل څخه ثابت شوی دی (احسن الفتاوی مخ۹توک دوهم)دهراندام

ددروځلومينځلوحکم ځکه شوی دی چې له دروځلوڅخه په کم مينځلوکې پرنفس ديراغيزنه پيداکيږي اوداعمل په تفريط (کوتاهی)کښې داخليږي اوپه زيات مينځلوکښې افراط (زياتوب)اواسراف راځي ځکه که دمينځلولپاره يواندازه نه وای معلومه شوی نوبه وسواسيانوتهوله ورځ دلاس پښوپه مينځلوکښې تيرولای اوله دوی څخه به دلمانځه وخت هم تيريدلای همدغه وجه ده چې يوصحابي ﷺدنبی څخه پوښتنه وکړه چې اياپه اوداسه کښې هم اسراف شته ؟نبی کريم ﷺوويل چې هو بې له شکه په اوداسه کښې اسراف شته که څه هم اودس کونکی دروانی ويالی پرغاړه ناست وی اواودس کوی. (المصالح العقليه مخ۱۹)

په اوداسه کښې دمسواک فضيلت

حضرت عائشة رضی الله عنها وائی چې نبی کريم ﷺوَويل چې مسواک دخولی دپاکی ذريعه اودخدای جل جلاله درضااودخوشحالی وسيله ده د ام المؤمنين حضرت عائشة رضی الله عنهاڅخه روايت دی چې نبی کريم ﷺچې به څه وخت له خوبْ څخه راپورته شو که به شپه وه که ورځ داوداسه کولوڅخه مخکی به ئې مسواک واهو له همدی مبارکی څخه روايت دی چې نبی کريم ﷺوويل دکوم لمانځه دوداسه لپاره چې مسواک ووهل شی هغه لمونځ اويا۷۰درجې فضيلت زيات لری ترهغه چې مسواک ئې په اوداسه کښې نه وی وهل شوی (مظاهرحق مخ ۳۸۱لومړی ټوک)

حضرت عائشة رضی الله عنها بيان کوی چې نبی کريم ﷺبه څه وخت مسواک وواهونوروسته به ئې مسواک ماته راکړ ددی لپاره چې زه

ئی ومینځم ځنګه چی به مالومړی مسواک وواهواوبیامی ومینځلونبی کریم ﷺ ته به می ورکاوو. (ابوداؤد)

تشریح :ددی لپاره چی زه هغه ومینځم په دغه ددی خبری دلیل دی چی مسواک له وهلووروسته مینځل مستحب دی اوعلامه ابن همام رحمة الله لیکلی دی چی دمسواک دری ځله ووهل شی اوهرځل په اوبوومینځل شی دامستحب دی اوبل داچی مسواک بایدپوست وی اولومړی به ماهغه مسواک واهی یعَنی نبی کریم ﷺ به دمسواک دهلو وروسته خپل مسواک ماته دمینځلولپاره راکړ مابه هغه تر مینځلو مخکې په خوله کي واچاوی اووه به می واهواوحضرت عائشې رضی الله عنهابه داعمل ځکه کاوی چی نبی کریم ﷺ کومی ناړی پرمسواک لګیدلی وی هغه زماپه خوله کښې راشی چی له هغه څخه برکت حاصل شی اوبیاله مینځلوڅخه وروسته هغه مسواک حضرت عائشې رضی الله عنها ونبی کریم ﷺ ته ددی لپاره ورکړچی که مسواک وهل پاتی وی نونبی کریم ﷺ به هغه پوره کړی په هرحال ددی څخه دامعلومه شوه چی دبل مسواک په خوله کښې اچول اوهغه وهل مکروه نه دی داهغه وخت که دمسواک دمالک خوښه وی اودوهمه خبره دامعلومه شوه چی دصالحانودلاړو اونوروڅخه برکت حاصولول غوره شی دی اودریم داچی دښځولپاره هم مسواک وهل سنت دی.

(مظاهرحق مخ۰۳۸۰لومړی توک) محمدرفعت قاسمی غفرله

داوداسه له ادابواوسنتوڅخه هیڅ یوعمل داسی نه دی چی دهغه تهګبنت رسول الله ﷺ دومره کړی وی څومره چی هغه دمسواک په

متعلق کړی دی اونبی کریم ﷺ خپله هم ددې بی اندازې اهمیت بیان کړی دی ددی لویه وجه داده چی دخولی څخه پرته دبدن په ښکاره حصوکښې یوه حصه دانه ده چی په هغی کښې دومره لوندوالی اودخوراک پاتی اجزأیوځای کیږی اودهوادنه لګیدوله وجی څخه په خوله کښې بدبويي پیداکیږی له دی وجی څخه انسان په بدبويي اوخیرنه خوله سره چی کله دقرآن کریم تلاوت اولمونځ کوی نودغه وخدای پاک ته هم ښه نه ښکاری اوپاک مخلوق چی فرشتی دی له هغه څخه په تکلیف کیږی په مسواک کښې دبدنی جوړوالی دبی شماره ګټوسره یوه مهمه ګټه داده چی دغه سر ه خدای جل جلاله خوشحاله کیږی اوپه عباداتو کښې داجراوثواب زیاتونکی دی.
(الترغیب والترهیب مخ ۳۴۲ لومړی ټوک)

دمسواک په وهلو کښې که څه هم هیڅ ستونزه نشته خودلمانځه په ښه والی اوغوره والی کې زیاتوب راځی اوانسان چی دخدای په دربارکی په کومه خوله سره خبری کوی بایدهغه پاکه کړی اوچمتوشي. (محمدرفعت قاسمی غفرله)

په حدیث شریف کښې راغلی دی چی نبی کریم ﷺ وویل که داخیال نه وای چی امت به په لوی تکلیف کښې واچول شی نومی ودوی ته داحکم کاوی چی دماخوستن په لمانځه کښې ځنډ کوئ اودهرلمانځه لپاره مسواک وهی. (بخاری مسلم)

تشریح :که می داخیال نه وای چی امت به په تکلیف کښې ولویږی یعنی که زه نه ویریدای چی دامت خلګ به په زیاته سختی کې مبتلا شی اوپردوی باندی به تکلیف تیریږی نومایوه داخبره پردوی لازمی

کوله چې دماخوستن لمونځ تردریمې حصې دشپې پورې یاترنیمې شپې پورې وځنډوی اوپه دغه وخت کښې یې وکړي اودوهمه مې داخبره باندې لازمه وله چې دهرلمانځه لپاره یعنی دهرلمانځه داوداسه په وخت کښې دې مسواک ضروري ووهي دادواړه عملونه مستحب دي اوډیر فضیلت لري. (مظاهرحق مخ ۳۷۴لومړی ټوک)

په مسواک وهلوکښې دنبي علیه السلام معمول (عادت)

حضرت عائشة رضی الله عنهاوائي چې نبی کریم ﷺبه څه وخت کورته راتلی نوله ټولوڅخه مخکښې به یې مسواک واهي(مسلم)تشریح : دنبی ﷺپه طبعیت مبارک کښې چې څومره دنظافت اوپاکۍ ماده په لویه درجه کښې وه دهمدی اغیزوو چې نبی کریم ﷺبه څه وخت کورته راتلی نوبه یې ترهر څه لومړی مسواک وواهو ددی وجه دااحساسیږی چې په مجلس کښې ډیرچپیدلوله کبله اوډیرخبروله کبله په خوله کښې څه تغیرراځی هغه دمسواک په وهلوسره لری کیږی خو که حقیقت ته وکتل شي نودنبی کریم ﷺ دی مبارک عمل وخلګوته ددی دښوولواوزده کولولپاره وو چې دخپل کور وګړی بایدپه خپل منځ کې په ډیره پاکی نظافت اونرمی سر ه هستو ګنه وکړی تردغه اندازی پورې چې دګډون اوخبروپه وخت کښې چې یوکس دخولی دتغیر(بدبویي)اودنوروپه صورت کښي له تاسوڅخه بدوالی لری والی اوتکلیف محسوس نکړی نوله دی امله لومړی بایدمسواک ووهل شي اوعلامه ابن حجرلیکی چې په دغه حدیث کښې دهرسړی لپاره ټنګښت دی چې څه وخت وخپل کورته داخلیږی نوترټولومخکښې دی مسواک ووهی ځکه چې په مسواک

وهلوسره خوله ډیره پاکه اوښه خوشبویه ګرزي اود غه دکوردوګړوسره دښه تعلقاتواودښه چال چلندسبب ګرزي په دغه حدیث کښې هغه خلګ هم بایدفکراوغور وکړي کوم چې په کورکی دکوردهستوګنوسره په ډیروخرابواوخیرنوجاموکښې ژوندسباکوی اودباندې په ډیراهتمام سره وزی بی شکه له کورڅخه په وتلوکښې هم دپاکی اهتمام کول دی خوپه کور کښې دی هم لږڅه وی لکه څنګه چی نرخپله ښځه په ښه حالت کښې لیدل غواړی همدارنګه ښځه هم خپل میړه په ښه حالت کښې لیدل غواړی علماؤلیکلي دی چی دمسواک وهلو اویا(۷۰) ګټی دی له هغوڅخه چی په ټیټه درجه کښې ده هغه داده چی دمسواک وهونکی به دمرګ په وخت کی دشهادت کلمه په خوله وی. مظاهرحق مخ ۳۷۴لومړی ټوک،

همدارنګه کوم څوک چی دمسواک پابنده وی اودمسواک اهتمام کوی هغه به دخولی دکینسرڅخه بی غمه وی . (مولنامحمدرفعت قاسمي غفرله)

مسواک څه دی اوڅنګه به وی ؟

سواک (مسواک)توری دسوک څخه جوړشوی دی چی دهغه معنی ده یوځای کیدل مښلیدل په اصطلاح کښې(یعنی دمسواک وهلو) مطلب دغاښونویومښول اودخولی پاکوالی دی اودغه غاښونو او خولې پاکی که څه هم په هرهغه شی راتلای شی چی سخت اودغا ښونوژروالی اوخیری لری کولای شی خوددغه عمل لپاره چی شرعا کوم شی اصل دی اوپه کوم شی سره چی سنت اومستحبوالی برکت حاصلیږی هغه لرګی دی چی مسواک ورته ویل کیږی دټولوعالمانو پردی خبره اتفاق دی چی مسواک وهل سنت دی تردي اندازی پوری .

چې دامام ابوحنیفه رحمة الله علیه مذهب دادی چې څه وخت اودس کیږی باید مسواک ووهل شی اودامام شافعي رحمة الله علیه مسلک دادی چې څه وخت اودس کیږی مسواک هم ووهل شی اوڅه وخت لمونځ کیږی مسواک هم بایدووهل شي ګواکی کوم سړی چې په یوه اوداسه سره څلورلمنځونه کول غواړی نودامام شافعي رحمة الله علیه د مذهب مطابق څلورځله دهرلمانځه په وخت کښې مسواک وهل سنت دی ښکاره دی وی چې دسهاراودماپښین دلمانځه څخه مخکښې دمسواک وهلوزیات تینګار شوی دی دخولی پاکی وخدای پاک ته خوښه ده اونبی کریم ﷺ به ددغه ډیرخیال ساتلوعلماؤلیکلی دی: چې دمسواک په بهتری کې څلویښت حدیثو نه نقل شوی دی چې دهغه څخه دخولی دپاک والی لپاره دمسواک اهمیت ښکاره کیږی سره له دی چې خاص دخولی اودغاښونولپاره نه بلکه دټول بدن دروغتیالپاره په مسواک وهلوکښې ډیری لویې لویې ګټې دی نوځکه مسواک وهل په هروخت کښې مستحب اوښه دی خاص بیاداوداسه کولوپه وخت کښې دقرآن دوویلوپه وخت کښې اوپه هغه کښې چې غاښونه زړشوی وی یادچپ کښېنستلویادلوږی له کبله یادهغه شی دخوړلواوڅښلوله کبله چې بدبویه وی دخولی خوندخراب وی اوخوله بدبویه کیږی نوپه دغه وخت کښې دمسواک وهل مستحب اوډیرښه دی مسواک بایدديو ترخې ونې څخه وی اوکه دهغې ونې څخه وی چې له هغې څخه عام ډول مسواکونه جوړیږی بیاخوډیرښه دی ځکه چې په حدیث شریف کښې ددغې ونې (درختی)څخه دمسواک دجوړولویادونه شوی ده دمسواک لرګی دارنګه

کیدل پکاردي چې پندوالی ئي ترغټنه ګوته کم نه وي او اوږدوالی به ئي دیوي لویشتي سره برابروي همدارنګه دمسواک وهلوپه وخت کښې داخیال ساتل پکاردي چې مسواک به دغاښونو پرپراخه حصه بایدووهل شي نه دغاښونوپراوږده حصه ځکه دغاښو نوپراوږده حصه باندي مسواک وهل اوري خرابه وي اولکه څنګه چې ډیروعالمانولیکلي دي چې په اوداسه کښې مسواک بایدهغه وخت ووهل شي څه وخت چې خوله مینځل کیږي اوځینوعلماؤ لیکلي دي چې داوداسه دپیل کولوڅخه مخکښې بایدمسواک وو هل شي (دواړي طریقي روادي)

مسئله: په یومجلس یادخلګو مخته دارنګه مسواک وهل چې ناړي ئي غورځي مکروه دي خاص بیادعالمانواودبزرګانوپه مخکښې ددغه ډول مسواک وهلوڅخه ځان ساتل پکاردي.

مسئله: که یوسړي مسواک نلري یادیوسړي غاښونه مات شوي وي یاښوري مسواک نه شي وهلای نوهغه دي دښي لاس په ګوته سره غاښونه پاک کړي.

مسئله: دامستحب دي چې مسواک وهل دغاښوله ښي طرف څخه پیل کړي امام نووي رحمة الله علیه لیکلي دي چې دهغه معلومي شوي درختي دلرګیوڅخه مسواک جوړشي که مسواک نرم جوړول اسانه نه وي نوپه دغه صورت کښې دي دیوپنډي اوځیږي جامي یادګوتي سره ومښي غاښونه دي په پاک کړي چې په هغه سره دغاښواوخولي خیري لري کیداي شي. مظاهرحق مغ ۳۷۲لومړی ټوک)

په مسواک وهلوسره وینه راووزي

پوښتنه : يوسړی که داوداسه کولوپه وخت کښې مسواک وهی نودخولی اونوروانداموډمينځلوڅخه وروسته دهغه له غاښونوڅخه وينه راځی دوهم ځل دی اودس وکړی ؟ځواب :په دغه حالت کښې بايداودس دوهم ځل ووشی.

(فتاوی دارالعلوم مخ ۱۳۶لومړی ټوک بحواله ردالمحتارمخ ۱۲۸لومړی ټوک باب الوضو)

مسئله: که مسواک په هغه لوښی کښې واچول شی چې په هغه سره اودس کيږی ددی لپاره چې لوند شی نوددغه لوښی په اوبوسره اودس کول هيڅ پروانلری خوښه داده چې مسواک په اوبوسره ومينځل شی اونرم شی په لوشی کښې ئی داچولوضرورت نشته (فتاوی دارالعلوم مخ ۱۸۴لومړی ټوک بحواله ردالمحتارمخ ۱۰۵ لومړی ټوک)ځکه چې ونوروخلګوته په دغه لوښی سره اودس کولوکښې ستونزه وی اوځينی خلګ دخولی ناجوړی لری نوله دی وجی څخه وخلګوته تکليف رسيږی مولانامحمدرفعت قاسمی غفرله په اوداسه کښې دمسواک وهلو وروسته مسواک دپښی په ګوته کښې نيول سنت طريقه نه ده ددی هيڅ سندنه دی ثابت شوی (فتاوی محموديه مخ ۴۱ج۲)که ارتياشوه نيسی دی خوداخيال دی نه کوی چې سنت دی. مولانامحمدرفعت قاسمی غفرله

مسئله:مسواک وهل دنراوښځی دواړولپاره سنت دی.

(امدادالفتاوی مخ ۲۹لومړی ټوک)

په اصل کې سنت دونی مسواک دی که دغه نه وی نه پيداکيږی غا ښونه نه وی يادغاښواووری دخرابی له کبله په مسواک وهلوکښې تکليف وی نودضرورت له کبله دلاس په ګوتوسره ياپه پنډه جامه ياپه منجن (ديودوانوم دی چې غاښونه په مينځل کيږی)سره يادی دبورش څخه

کاروا خلي خودمسواک ددرلودلوپه وخت کښې دغه ذکرشوی شیان دسنت داداپاره بس نه دی او دمسواک پوره ثواب نه حاصلیږي.

(فتاوی رحیمیه مخ ۲۶توک دریم بحواله شامی مخ۱۰۷ الومړی توک وکبری مخ ۱۳۲اوهدایه مخ ۶الومړی توک وصغیری مخ ۱۴اوبحرمخ ۲۱الومړی توک اوعالمگیری مخ ۷لومړی توک)

مسئله: مسواک باید دیوی لویشتی څخه زیات نه وی په پیل کښې که یوه لویشت وی بنه دی اوکه کم وی پروانه لري بیاپه وهلوسره چې څومره کوچنی شی داستعمال وړدی.

(فتاویٰ محمودیه مخ ۲۹توک دوهم بحواله شامی مخ ۷۸لومړی توک)

مسئله: مسواک په اندازه دیوی لویشتی مستحب دی

مسئله: له پیل څخه مسواک دیوی لویشتی څخه کم جوړول د استحباب خلاف دی که داستعمال وروسته کم شی بیاڅه تاوان نلری.

(احسن الفتاوی مخ ۱۵توک دوهم بحواله ردالمحتارمخ ۱۰۷لومړی توک)

له اوداسه وروسته خاص دلمانځه مخکې مسواک وهل څنګه دی ؟

پوښتنه :په ریاض کښې می خلګ ولیدل په صفوکښې ناست وو مسواکونه ئی وهل څه وخت چی به اقامت پیل شودوی به هم مسواک وهل پیل کړل اووړسته به لمانځه ته ولاړشول لمونځ به ئی وکړڅه وخت چی لمونځ وشوماله امام څخه پوښتنه وکړه چی داڅول مسواک روادی ؟نوامام وویل په حدیث شریف کښې راغلی دی چی داوداسه څخه مخکښې اودلمانځه مخکښې مسواک ووهی :تفصیل راته وکړه :

ځواب :دغه امام چی دکوم حدیث حواله درکړی ده هغه دادی که مو داویره نه وای چی خپل امت به می په تکلیف کښې واچول شی نوو دوی ته به می دهرلمانځه په وخت کښې دمسواک وهلوحکم کړی وای

ددی حدیث په الفاظوکې دروایت نقل کونکواختلاف دی ځینی حضرات دعندکل صلواةتوری نقل کوی اوځینی ددغه پرځای دا عندکل وضوءاتوری نقل کوی. (صحیح البخاری مغ ۲۵۹ لومړی ټوک)

ددی دواړوتوروپه وړاندی دامام ابوحنیفة رحمة الله علیه په نزدحدیث مطلب دادی چی دهرلمانځه څخه مخکښې اودس وکړی اودهراوداسه په شروع کښې دمسواک وهلوترغیب درکول شوی دی اودهرلمانځه څخه مخکی دمسواک وهلوحکم څخه مقصداد دی چی دهرلمانځه داوداسه له مخکښې بایدمسواک ووهل شی خاص دلمانځه په وخت کښې دمسواک وهلوترغیب نه درکول کیږی که دلمانځه لپاره دولاړیدوپه وخت کښې ووهل شی نو دغاښوڅخه دوینوراوتلوویره ده کوم چی اودس په ماتیږی نوځه وخت چی اودس نه شوپاته لمونځ هم نه صحیح کیږی له دی کبله امام ابوحنیفة رحمة الله علیه وائی چی دهرلمانځه داوداسه څخه مخکښې مسواک وهل سنت دی خاص د لمانځه په وخت کښې مسواک وهل نشته سره له دی چی مسواک دخولی دپاکوالی اونظافت لپاره وهل کیږی اودغه مقصودهغه وخت حاصلیږی چی داوداسه کولوپه وخت کښې مسواک ووهل شی اوبیاوروسته خوله ومینځل شی لمانځه ته دولاړیدوپه وخت کښې بغیرله اوبواوخولی مینځلوپه مسواک وهلوپاکی نه راځی کوم چی دمسواک څخه مقصودده دسعودی خلک څرنګه چی دامام احمدبن حنبل په مذهب دی دده په مذهب کښې په وینه راتلوسره اودس نه ماتیږی نوله دی کبله دوی چی لمانځه ته

ولاړیږي مسواک وهي اوحدیث شریف هم دغه منشأبولي (آپ کی مسائل مخ ۳۵ توک دوهم)

مسئله:داحنافوپه مذهب په روژه کښې هم دهرلمانځه داوداسه لپاره مسواک وهل مستحب دي اوهغه دخولې بوی کوم چې الله تعالی ته خوښ ده هغه دمسواک وهلوورروسته هم وي .(فتاوی دارالعلوم مخ ۱۳۰ج۱ دهدایې ص ۲۰۲ج۱ په حواله)

مسئله:داوداسه کولوپه وخت کښې مسواک وهل سنت دي که څه هم پراوداسه باندې بل اودس وشي اودډوډی خوړلوورروسته مسواک وهل بیاځان ته سنت دي.

مسئله:مسواک وهل دبنځولپاره هم سنت دي خوکه ددوی اووری دمسواک وهلو څخه خرابیږي نوددوی لپاره ددلرمال استعمال دسنت پرځای دریږي چې دمسواک په نیت سره استعمال شي.
(آپ کی مسائل مخ ۳۴ توک دوهم ونمازمسنون مخ ۷۷)

مسئله:پرغاښوباندې دخیرې پرې وتلوپه وخت کښې له خوب څخه دراپورته کیدلوورروسته په خوله کښې بدبویې وی نوخانه کعبی ته دداخلیدوپه وخت کښې دیومجلس یاجماعت ته دتلوپه وخت کښې اودقرآن شریف دویلوپه وخت کښې مسواک وهل مستحب دي.
(علم الفقه مخ ۸۲ لومړی توک اوکتاب الفقه ۱۱۹ لومړی توک)

ایاپه برش وهلودمسواک سنت اداکیږي ؟

مسئله:ښه خودادي چې دسنت داداکولولپاره مسواک استعمال شي دبرش په .استعمالولوسره دځینوعالمانوپه نزددمسواک سنت ادا کیږي اودځینوپه نزدنه اداکیږي. (آپ کی مسائل مخ ۳۵ توک دوهم)

په برش وهلوسره خاص دپاکې سنت اداکیږي پاته نورسنتونه نه ادا کیږي هغوی لکه داچې دهغه معلومې درختې څخه به وی یادترخې درختې څخه به وی اوږدوالی پنډوالی همدارنګه نور...
(محمدرفعت قاسمي غفرالله له)

مسئله: دبرش هغه وخت استعمال کیدای شي چې دحراموویښتا نو څخه به نه وی جوړلیکن په دغه سره سنت نه اداکیږي. (نمازمسنون مخ۷۷)

مسئله: که دغاښودرژیدلوله کبله دمسواک استعمال ممکن نه وی نوپه منجن (دواده دغاښودمنځلولپاره) یاپیسټ (لنده دواده) سره دمجبوری له وجې هم ثواب ورکول کیږي که مجبوري نه وی نود مسواک ثواب نه ورکول کیږي. (نظام الفتاوی مخ۴۳ لومړی توک)

داوداسه دواجبیدلوشرطونه

(لومړی) مسلمان به وی پرکافراودس واجب نه دی (ځکه چې اودس عبادت دی وکافرته دعبادت کولوحکم نشته)

(دوهم) بالغ به وی پرنابالغه اودس واجب نه دی

(دریم) عاقل به وی پرلیونی مست اوبې هوښه باندې اودس واجب نه دی

(څلورم) داوبوپراستعمال به قادروی کوم سړی ته چې پراوبو استعما لولوقدرت نه وی پرهغه اودس نه دی واجب (پراوبودنه قدرت بیان دتیمم په بیان کښې راځي.

(پنځم) دلمانځه به دومره وخت پاته وی چې په هغه کښې اودس اولمونځ ځائیږي که سړی ته دومره وخت نه شي پیدانوپردغه سړی اودس واجب نه دی دمثال په توګه یوکافرپه داډول تنګ وخت کې

اسلام راوړی چی داوداسه اولمونځ دواړودځائیدلووخت نه وویایو نابالغه په دغه وخت کې بالغ شی. (علم الفقه مخ ۲۵ لومړی توک اوکتاب الفقه مخ ۸۰ لومړی توک)

مسئله: که یونابالغ اودس وکړی نواودس یې صحیح بلل کیږی لکه څنګه چی دبلوغ څخه لږمخکی اودس وکړی بیاوروسته بالغ شی نودده اودس اودس بلل کیږی ځکه جائزدی چی په دغه اوداسه سره لمونځ کولای شی ددغه صورت که څه هم واقع کیدل نادردی خودمسافرولپاره اودهغه خلګولپاره چی په صحراؤکې اوسیږی اوبه لږ وی ګټوردی. (کتاب الفقه مخ ۷۸ لومړی توک)

داوداسه دصحت شرطونه

(لومړی وټولواندامونه اوبه رسول که دیوه ویښته په اندازه ځای وچ پاته شونواودس صحیح نه دی

(دوهم) پربدن به داسی شی نه وی چی دهغه له کبله وبدن ته اوبه نه رسیږی دمثال په توګه داوداسه پراندامو غوړی وی یایې په ګوته تنګه ګوتمۍ وی

(دریيم) په کوموحالاتوکښې چی اودس ځی اوپه کوموشیانوچی اودس ماتیږی دغه شیان به نه وی په دی شرط چی دغه سړی به معذوره نه وی (دمعذوراودس په دغه حالاتوکښې هم صحیح کیږی لکه وچاته چی دسوزک ناروغی وی هروخت یې بولی روانی وی نوددغه سړی اودس په دغه حالت کې صحیح ده) که حائضه یانفاسه اودس وکړی نوصحیح نه دیجنوب (وچاته چی دغسل اړتیاوی) که

اودس وکړي اودس يي نه کيږي دبولو اوګندګۍ کولو په وخت کښې
که اودس وکړي نو نه صحيح کيږي. (علم الفقه مخ ۳ ځلومړی توک کتاب الفقه مخ ۸۲ لومړی توک)
مسئله: که دحيض په حالت کښې اودس وکړي بيا له حيض څخه پاکه
شي نو ددغه اودس ته اعتبار نشته ځکه چې له پيل څخه صحيح نه وو
(کتاب الفقه مخ ۸۳ لومړی توک)

داوداسه فرضونه

(لومړی) ټوله مخ يو ځل مينځل خوا داوداسه والاتي خپله ومينځي
اويائي بل څوک ورومينځي ياپخپله ومينځل شي لکه يو څوک چې په
درياب کښې لامبووهي يادباران اوبه يي پرمخ ونښلي دټوله مخ
څخه مرادهغه اندازه چې دتندي څخه بياترزنې پوري اوله يوه
غوږ څخه تربل غوږ پوري ده دفقهاؤ په نزد مينځل له يوه ځايه پربل ځاي
اوبه بهول اوداندام دمينځلو وروسته دستي به يو دوه څاڅکي الوزي
(دوهم) دستر ګو چې کوم کونج دي اوپوزې ته نيژدې دي ددغه
مينځل فرض دي اواکثروخت پردغه ځاي خيري يو ځاي کيږي بايد
دغه پاکي شي اوومينځل شي
(دريم) دزنې مينځل فرض دي په دې شرط چې دږيرې ويښتان به نه
وي باندې ياويښتان خووي دومره وي چې زنه ښکاره کيږي
(څلورم) دشونډانو هغه حصه چې دبندولووروسته ښکاره کيږي
مينځل فرض دي
(دوهم فرض)

(لومړی) ددواړولاسومینځل ترړیریوپورې فرض دی که ئې پخپله ومینځی اوکه ئې بل څوک ورومینځی یاپخپله ومینځل شی دواړه دی یوځای کړی ودې مینځی یادی بیل بیل ومینځی

(دوهم) که دګوتو ومنځ ته پرته له خلالولواوبه نه رسیږی نوخلالول یې فرض دی

(دریم) که دیوسړی په یوه طرف کښې دوې پښی وی یادوه لاسونه وو که یې په دواړولاسونوکارکاوی شیان یې په نیولای شوواوپه پورته کولای یې شوو نوددواړولاسونومینځل فرض دی همدارنګه که یې ددواړوپښوڅخه کاراخستلای شواوتللای شونوددواړو پښو مینځل فرض دی که یې په دواړوکارنه شوای کولای بیاکه ددواړو ګوتی نښتی وی بیاهم ددواړومنځل فرض دی اوکه یوځای سره نښتی نه وی بیادهغه مینځل فرض دی چی کارپه کول کیږی دلاس پښی په منځ کښې که بل لاس اوپښه نښتی وی دهغه مینځل په اوداسه کښې فرض دی په دی شرط چی دداسی ځای سره به نښتی وی چی دهغه مینځل په اوداسه کښې فرض وی دمثال په توګه په لاس کښې دځنګل یادځنګلی څخه لاندی یوځای شین شوی وی په پښه کښې دبجلکولاندی نښتئ ووکه دځنګل یادبجلکی څخه لوړنښتی وو نودومره حصه مینځل فرض دی چی دځنګل یابجلکی دلاندی حصی په برابری وی.

دریم فرض:

دسردیوې حصې مسح کول دی.

څلورم فرض:

پنځم: کوم ځای چي دبارخوګانواوغوږونوترمنځ دي دهغه منځل فرض دي ږيرې که راغلي وي کنه دواړي پښي تربجلکوپوري مينځل فرض دي په دي شرط که يي ډپوست موزې نه وي اغوستي که دګوتوويبختوته پرته له خلال کولوڅخه اوبه نه رسيدلي نودګو تو خلال هم فرض دي (علم الفقه مخ۵۸لومړي توک شرح الوقايه مخ ۵۱لومړي توک هدايه مخ ۳لومړي توک مراقي الفلاح ۱۸کبيري مخ ۱۷شرح نقايه مخ ۳ابوداؤدمخ ۲۰لومړي توک قرآن کريم مائده، پاره ۶)

مسئله:په اوداسه کښي دپښومينځل فرض دي اوپه قطعي ايات (وارجلکم)ثابت دي پرپښوباندي مسح هغه وخت کول کيږي چي دڅرمني موزي يي اغوستي وي مسح دشيعګانوقول دي هيڅ کله صحيح نه دي. (فتاوي دارالعلوم مخ ۱۲۷لومړي توک بحواله ردالمحتارومنيه مخ ۱۵)

داوداسه وجبات (په اوداسه کي څوواجب دي

مسئله: داوداسه څلورواجب دي

(لومړی) که دوريځويا ږيرې يابريتوويښتان دومره ګڼ وي چي پوست يي پټ کړي وي نه معلوميږي نوپه دغه صورت کښي دهغه ويښتانو مينځل واجب دي چي په هغه سره پوست پټ شوي وي.پاته هغه ويښتان شوو چي برسيره پرپوست زيات شوي وي مينځل يي نه دي واجب

(دوهم) دږيرې مينځل واجب دي که ديوچاويوه اړخ ته دوه لاسونه وي نوپرهغه ددواړولاسوږيرې مينځل واجب په دي شرط چي ددواړولاسوڅخه به کاراخستلای شي که له دواړولاسوڅخه يي کارنه

شواى اخستلاى اودواړه لاسونه يي يوځاى يعني سره نښتي وى بياهم ددوهم لاس ږيرى مينځل واجب دى اوكه يودبل څخه بيل وى نوبياصرف دهم هغه لاږيرى مينځل واجب دى كوم چي كارپه كول كيږى دلاس له منځه كه دوهم لاس پيداشونو دهغه څنګل يادڅنګلى په اندازه حصه مينځل واجب دى

(دريم.) دسرپرڅلورمه برخه مسح كول واجب ده كه پرسرباندى ويښتان وى نوپرهغه ويښتانومسح كول كوم چي دسرپرڅلورمه برخه باندى پراته دى واجب ده

(څلورم)ددواړوپښودبجلكومينځل واجب دى داهغه وخت چي دځرمني موزي به نه وى باندى كه ديوسرى په يوه طرف كښي دوى پښي وى نوپه دغه كښي هم هغه تفصيل دى كوم چي دږيريوپه بيان كي تيرشو .(علم الفقه مخ ۵۹لومړى توک)

مسئله: ږيره يابريت ياوريځى كه دومره ګڼ وى چي پوست نه تر ښكاريږى نوددغه پوست مينځل فرض نه دى بلكه پرهغوويښتانو اوبه بهول چي دپوست پرځاى ولاړدى كافى كيږى په دغه صورت كښي دهغوويښتانومينځل واجب دى چي دمخ په اندازه كښي دى پاته هغه ويښتان چي دمخ دذكرشوى اندازى څخه زيات وى دهغه مينځل واجب نه دى. (بهشتى زيورمخ ۱۳ توک ۱۱بحواله درمختارمخ ۹لومړى توک اوفتاوى دارالعلوم مخ ۱۲۶لومړى توک)

مسئله:دسترګى پوزى اوخولى دننه حصه مينځل فرض نه دى (۲)وريځى ږيره اوبريت كه دومره ګڼ وى چي پوست نه ښكاريږى نو ددغه پوست مينځل فرض نه دى (۳)په اوداسه كښي چي دكوم

اندامومینځل فرض دی که پرهغه داسی شی نښتی ووچی داوبود رسیدلوڅخه يي منع نه کوله نودهغه لری کول فرض نه دی.
(علم الفقه مخ ۵۸لومړی توک

یادونه :که څه هم عزتمنوفقهاؤداوداسه اوغسل په احکا موکښې دواجباتواوفرائضوتفصیل نه دی کړی دواړه يي یوځای جمع کړی دی بلکه ځینوواجبات هم دفرضوپه عنوان سره بیان کړی دی اوځینودا هم لیکلی دی چی په اوداسه اوغسل کښې هیڅ واجب نشته ددی وجه داده چی په اودس اوغسل کښې دواړه په عمل کولوکښې سره برابردی لکه څنګه چی دفرض په پری ښودلوسره اودس اوغسل نه صحیح کیږی همدارنګه دواجب په پری ښودلوسره هم اودس اوغسل نه صحیح کیږی خودکتونکوداسانی لپاره يي فرض بیل بیان کړی دی اوواجبات يي بیل بیان کړی دی دمثال په توګه فقهاؤدواړه لاسونه سره دریریو مینځل فرض کړی دی موږخاص دلاسونو مینځل په فرض کښې داخل کړی دی دریریو مینځل مي په واجباتوکې لیکلی دی.(حاشیه علم الفقه مخ ۵۹لومړی توک)

داوداسه سنتونه

(لومړی) داوداسه نیت کول دی؛نیت دانه چی په ژبه سره څه ووايي بلکه نیت دادی چی صرف اراده وکړی چی زه اودس صرف دثواب اودخدای جل جلاله دخوشحالی لپاره کوم نه دلاس مخ اوپښو پاکو لولپاره .(درمختار)

(دوهم) سنت دادی چی دغه کلمې: [بسم الله العظیم والحمدلله علی دین الإسلام] ووايي اواودس پیل کړی.

(دريم) دمخ دمينځلوځخه مخکښې دواړه لاسونه سره دمړوندو يوځل مينځل دی څه وخت چی لاسونه ترړيړيوړوری مينځي نولاسو نه پياله دغه ځخه مينځل پکاردی.

(ځلورم)دري ځله خوله مينځل دی ليکن دهرځل اوبه به نو ي اوخوله به ډکوی دومره زياتوب مبالغه به کوی چی اوبه وحلق ته ورسيږی په دی شرط که روژاتی نه وو که روژاتی وو بيادومره زيادت نه دی پکار.

(پنځم) دخولی دمينځلوپه وخت کښې به مسواک وهی دمسواک وهلو طريقه داده چی مسواک به په ښیﻻس کښې داډول نيسی چی يوه سرته يي نژدی بته ګوته وی اوتريل سربه ګمچي. ګوته لاندی کوی پرمنځ اوپرلوړه حصه به يي نوری ګوتی وی داسی به يي نه نيسی چی موټ بندکړی لومړی . به دلوړوغاښوپراوړدوالی کښيږدی اوښی طرف ته به يي کش کړی اوبيادی وچپه طرفته همدارنګه دی بيادلاند ي غاښوسره وکړی اوديوځل مسواک وهلوځخه وروسته مسوا ّ، دخولی ځخه وکاږی او خوله دی له اوبوځخه خالی کړی اوپه نوواوبو ی ووهی بيادی مسواک ووهی همدارنګه دی دری ځله په دغه شاز ،سواک ووهی له دی ځخه وروسته دی مسواک ومينځی اوديوال؛ دی جګ کړی پرځمکه دی نه ږدی دغاښونوپرپراخه حصه دی مسواک نه وهی (يعنی)مسواک پرچپه اوښی حصه وهل پکاردی نه پرلوړه اوکښته حصه باندی مسواک بايدسخت اووچ لرګی ځخه نه وی کوم چی وغاښوته زيان رسوی اونه بايدداسی نرم اولوندی وی چی خيری نه پاکوی دپيلويازيتون ياديوترخی درختی

څخه باید نه وی درمیانه باید وی دډیرې نرمې درختی څخه یادزهر جنې درختې څخه بایدنه وی په اوږدوالی بایدیوه لویشت وی په استعمالولوسره که کم شی پروانلری اوپه پنډوالی به دبټی ګوتی څخه زیات نه وی سیده به وی که مسواک نه وی بیادی دګوتی اوجامی څخه کارواخلی.

(شپږم) په پوزه کښی دری ځله اوبه اچول دی اوهرځل به نوي اوبه وی اودومره زیاتوالی به کوی چې اوبه دپوزې واخزته ورسیږی (یعنی دپوزې وبیخ ته.

(اووم)ددروځلوخولی مینځلووروسته چې محرم نه وی (یعنی کوم شوک چې دحج یادعمری په نیت داحرام تړلی وی اوداشرط ځکه چې دږیری په خلالولوکښی دویښتانودماتیدوویره وی اوهغه شوک چې احرام یې تړلی وی وهغه ته دویښتانودماتولوایجازه نشته بلکه ځینی منع شوی دی)ږیره به خلال وی په دې شرط چې ږیره به ئې ګڼه وی دخلال طریقه داده چې په ښی لاس کښی به اوبه راواخلی دزنې څخه چې لاندی ویښتان دی دهغه په بیخوکښی دی واچوی اودلاس چپه طرف دی دغاړې وطرف ته کړی ګوتی دی په ویښتانوکښی واچوی دلاندی طرف څخه دی ولوړطرف ته کش کړی

(اتم)لاسونه به دګوتوله طرفه څخه مینځی دږیریوله طرفه څخه دی نه مینځی.

(نهم) ترږیریوپوری له دروځلومینځلووروسته دلاس ګوتی دی دری ځله خلالی کړی دلاس دګوتوخلالول هغه وخت سنت دی چې دګوتو ومنځ ته اوبه رسیږی اوکه دګوتومنځ ته اوبه نه رسیدی بیااوبه

وررسول فرض دی اوهمدغه صورت دپښودګوتوهم ده (اوددی طریقه داده چی دیوه لاس چپه حصه دبل لاس پرورغوی کښیږدی دلورلاس ګوتی دلاندی لاس په ګوتوکښی واچوی اوکش دی کړی

(لسم) دپښودروځلومینځلوپه وخت کښی هرځل دپښودګوتو خلا لول دی دپښودګوتوخلال بایدد چپه لاس په کوچنی ګوته وشی طریقه یی داده چی دښی پښی دګوتوڅخه شروع کړی دچپه پښی پرکوچنی ګوته دی پای ته ورسوی

(یوولسم)یوځل دټول سرمسح کول دی ددی طریقه داده چی دواړه لاسونه سره دګوتواوورغوودی لانده کړی دسردمخ پربرخه دی کښیږدی اوشاته دی کش کړی اوبیادی دشاله لوری څخه دسردمخ لوری ته کش کړی

(دوولسم)دسردمسح څخه وروسته دغوږومسح کول دی په نویو اوبوسره دی لاس نه لندوی بلکه دسردمسح لپاره چی لاسونه په کوموااوبوسره لانده شوی وی په هغه اوبوسره دی دغوږو مسح وکړی خوکه دسردمسح وروسته یی لاس پګړی یاخولی سره ونښلی اولاس ئی وچ شونوبیادی دوهم ځل لاس لوندکړی دغوږودمسح طریقه داده چی کوچنی ګوتی دی غوږوپه سوروکښی کښیږدی اوودي ښوروی دشهادت په ګوتودی دغوږو دننه برخه اوپه بټه ګوته دی دغوږو دباندی برخه مسح کړی .(البحرالرائق)

دیارلسم) هراندام دری ځله داسی مینځل چی په هرځل مینځلوسره اندام ټوله پوره ومینځل شی که اندام یوځل پوره ونه مینځی نوڅه

وخت چې ئې دوهم ځل اوبه پرتيرې کړې دغه دوهم ځل مينځل نه بلل کيږي بلکه يو ځل ومينځل شو.
(څوارلسم) اودس په هغه ترتيب سره کول په کوم ترتيب سره چې ليکل شوي دي يعنې لومړى به خوله ومينځي بيابه پوزه ومينځي بيامخ بيادږيرې خلالول بيادلاسومينځل بيادګوتوخلال بيادسرمسح کول بيادغوږومسح بيادپښومينځل اوترپښولووروسته دپښودګوتو خلالول
(پنځلسم) ښئي اندام ترچپه اندام لومړى مينځل.
(شپاړسم) ديوه اندام دمينځلووروسته ددوهم اندام په مينځلوکښې دومره ځنډ نه کول چې هغه لومړى اندام وچ شي سره له دې چې هواهم برابره وي که يوچادضرورت له کبله دومره ځنډوکړ بياهيڅ پروانه لرى (يعنې بيله ضرورته دومره ځنډبايدنه شي راچې هغه لومړنى اندام وچ شي.
(اوولسم) دمينځلوپه وخت کښې به اندامونه په لاس موښل اولاس به پراندامو باندې تيروي. (علم الفقه مخ ۶لومړى توک هدايه مخ ۵لومړى توک کبيرى مخ ۲۳شرح النقايه مخ ۹لومړى توک وکتاب الفقه مخ ۱۰۵لومړى توک)

داوداسه مستحبات

په اوداسه کښې څوارلس(۱۴) مستحبات دي:
(لومړى)داوداسه کولوپه وخت کښې پرپورته ځاى کښيناستل ددې لپاره چې استعمال شوي اوبه دجامواوبدن سره ونه نښلي.
(دوهم)داوداسه کولوپه وخت کښې وقبلې ته مخامخ کښيناستل.

(دریم)داوداسه لوبنی بہ دخاوروڅخه جوړوی که داستیلویاګیلټ څخه جوړوی یادنوروُدارنګه شیانوڅخه جوړوی دپلاستک په لوبنی سره هم اودس کول روادیٌ.(فتاوی دارالعلوم مخ ۱۲۶توم لومړی بحواله ردالمحتارمخ ۲۰۰لومړی توک،)

په اوداسه کولوکي له بل څخه دکومک غوښتنه نه کول یعنی په بل چاسره به اندامونه نه مینځی (خوداهغه وخت چی عذراومجبوری نه وی)بلکه خپله به یی مینځی که یوچااوبه درکړی اواودس خپله وکړی هیڅ پروانه لری.

(پنځم) داندامومینځل چی ترکومه ځایه پوری فرض یاواجب دی له هغه څخه به زیاتوب نکوی.

(شپږم) په ښی لاس سره خوله مینځل اوپوزی ته اوبه وراچول دی

(اووم) په کین لاس سره پوزه مینځل.

(اتم)وګوتمی یابل داسی شی ته حرکت ورکول چی اوبه لاندی ولاړی شی.

(نهم) دغوږودمسح په وخت کښی دوی کوچنی ګوتی دغوږوپه سوروکی اچول.

(لسم) دپښي دمینځلوپه وخت کښی، په ښی لاس اوبه وربانذی اچول اوپه کین لاس مښوول.

(یوولسم) په یخ کښی پرلاس اوپښولوندلاس تیرول دی چی په اسا نی سره اوبه وټول اندام ته وُرسیږی ځکه چی ځینی وخت پښه چاود لی وی نووهغه ته اوبه رسیدل اسانه نه وی.

(دوولسم) په اوداسه اوله اوداسه څخه وروسته هغه دعاوې ويل دي کومې چې په حديث شريف کښې راغلي دي دغه دعاوې داوداسه په مسنونه طريقه کښې دي.

(ديارلسم) داوداسه له اوبو څخه دپاته شوو اوبو په ولاړې څښل دي.

داوداسه مکروهات

(لومړی) کوم شيان چې په اوداسه کښې مستحب وو دهغوپرخلاف عمل کول اودس مکروه کوي.

(دوهم) اوبه له ضرورت څخه زياتې مصرفول.

(دريم) اوبه دومره لږ استعمالول چې له هغه څخه اندامونه مينځلو کې زيان راشي.

(څلورم) داوداسه په دوران کښې بيله ضرورته دنياوي خبرې کول.

(پنځم) بيله عذره په اوداسه کښې دنوروانداموهينځل.

شپږم: پرمخ اونوروغړيوپه زوره اوبه ويشتل.

(اووم) ددرې ځلو څخه زيات اندامونه مينځل.

اتم: په نويواوبودرې ځله مسح کول.

نهم: تراوداسه وروسته دلاسونواوبه څنډل.

(علم الفقه مخ ۴۳ج ۱ ،نورالايضاح مخ ۸ ،کتاب الفقه مخ ۱۲۳ الومړی توک)

داوداسه مسنونه اومستحبه طريقه

داودس کولولپاره دخاورويادبل شي په لوښي اوبه واخلي اوپرلوړ ځای دې کښيني مخ دی وقبلې شريفې ته وګرزوي اوپه زړه کښې دې داارادہ وکړي چې زه اودس خاص دخدای جل جلاله دخوشحالی لپاره کوم مقصودمې دبدن مخ يالاسوپاکوالی نه دی دغه اراده دي

دهراندام دمینځلوپه وخت کښې کوی اوبیادی بسم الله العظیم
والحمدلله علی دین الاسلام ووائی په ښی لاس کښې دی اوبه
راواخلی دواړه لاسونه دی ترمړوندوپوری ومینځی همدارنګه دی
دری ځله وکړی بیادی په ښی لاس کښې اوبه راواخلی خوله دی په
ومینځی اومسواک دی په ښی لاس کښې دارنګه ونیسی چې کوچنۍ
ګوته دی دمسواک دیوه سرسره وی اوبټه ګوته دی دمسواک له بل
سرسره نیژدی وی اوپاته ګوتی دی پرمسواک برسیره وی اومسواک
دی دپورته لوری غاښو پراوږدوالی کښیږدی وکیڼ طرف ته دی
راولی بیادی همدارنګه دلاندی غاښوسره ولګوی بیادی مسواک له
خولی څخه راوباسی اوودی نوښتیزی اوودی مینځی بیادغه رنګه
دری ځله مسواک ووهی ددی ورسته دی دوه ځله نورپه خوله اوبه
وګرزوی ددی لپاره چې دری واره په خوله اوبه ګرزول پوره شی له
درووارو څخه دی زیات نه وی په خوله دی دارنګه اوبه ګرزوی چې
ترحلق پوری ورسیږی یعنی اوبه دی غرغره کړی په دی شرط چې
روژاتی نه وی دخولی دمینځلوورسته بسم الله اودشهادت دکلمی
وروسته دادعاوایی:(اللهم اعنی علی تلاوة القرآن وذکرک وشکرک وحسن
عبادتک)په پوزه کښې داوبواچولوپه وخت کښې دبسم الله اود شها
دت دکلمی وروسته به دادعاوایی:اللهم [ارحنی رائحة الجنة ولاتر حنی
رائحة النار]
بیادی په ښی لاس اوبه راواخلی پوزې ته دی دارنګه ورورې چې
دپوزی وبیخ ته ورسیږی داهغه وخت چې روژه یې نه وی اوپه کیڼ
لاس دی پوزه پاکه کړی دارنګه دې دری ځله عمل وکړی دهرځل لپاره

دی نوی اوبه رااخلی بیادی په دواړولاسوکښی اوبه راواخلی دټوله مخ سره دی ولګوی اوپري دی مینځی ترداندازی پوری چی په برابری دیوه ویښته باندی ځای پاته نه شی اوکه احرام یې نه وو ترلی نوږیره دی خلاله کړی دارنګه چی په ښی لاس کښي دی اوبه راواخلی دږیری دویښتانو بیخونه دی لانده کړی دلاس دشاه برخه دی وغاړی ته ورڅیرمه کړی ګوتی دی په ویښتانوکی واچوی له لاندی څخه دی وپورته خواته کش کړی دارنګه دی دوه ځله نورمخ ومینځي اوږیره دی خلاله کړی له درووارو څخه دی زیات نه مینځی ددی لپاره چی دری واره مخ ومینځل شی اودری واره ږیره خلاله شی اودمخ دمینځلوپه وخت کښی دبسم الله اوشهادت دکلیمی څخه وروسته دادعاوایي [اللهم بیض وجهی یوم تبیض وجوه وتسودوجوه]بیادی په ښی لاس کښی اوبه راواخلی ترږیریوپوری دی پروبهوی اوودی مو ښی اوودی مینځی چی دیوه ویښته په برابری ځای هم وچ پاته نه شی که یې په ګوته ګوتمی وی وهغه ته دی حرکت ورکړی که څه هم ګوتمی ارته وی همدارنګه ښځه دی وچلیانوته چی په غوږ کړی ئی وی حرکت ورکړی اوبنګړی چی ئی پلاس کړی وی حرکت دی ورکړی همدارنګه دی دوهم ځل لاس ومینځی بیادی په همدغه ډول کیڼ لاس دری ځله ومینځی اودښی لاس دمینځلوپه وخت کښی تربسم الله اوشهادت کلمی وروسته دی دادعاوایي: [اللهم اعطنی کتابی بیمینی وحاسبنی حسابایسیرا]اودکیڼ لاس د مینځلوپه وخت کښی دی تربسم الله اوشهادت ترکلیمی وروسته دادعاوائی: [اللهم لاتعطنی کتابی بشمالی ولا من وراظهری] بیادی دواړه لاسونه لانده کړی دپوره سرمسح

دی داډول وکړی چی دواړه ورغو ي سره له ګوتودسرېرمخکنی حصه
کښیږدی له مغ څخه دی وشاته کش کړی اوبیادی دشاله خوادمغ
وخواته راکش کړی اودغه لاسوسره کهوچ شوی نه وی اوکه وچ شوی
وی بیادی لانده کړی دغوږومسح دی په وکړی اوداډول چی دوی
کوچنی ګوتی دی دغوږوپه سوریانوکښی کښیږدی اودسردمسح
کولوپه وخت کښی دی بسم الله اودشهادت ترکلمی وروسته
دادعاوایی:
[اللهم اظلنی تحت عرشک یوم لاظل الاظل عرشک]اودسرمسح دی یو
ځل وکړی دغوږودمسح کولوپه وخت کښی دی دبسم الله اودشهادت
ترکلیمی وروسته دادعاوایي:[اللهم اجعلنی من الذین یستمعون القول
فیتبعون احسنه] اوبیادی دښی لاس څخه اوبه واچوی اوپه کیڼ لاس
سره دی لومړی ښي پښه ومینځی دري ځله اوهرځل دی دچپه لاس په
کوچنی ګوته څخه خلال بیادی چپه پښه ومینځی دري ځله اوهرځل
دی دهغی ګوتی دچپه لاس په کوچنی ګوته باندی خلالی کړی چپه
پښی خلال دی دچپه پښی دبتی ګوتی څخه پیل کړی دراسته پښي
دمینځلوپه وخت کښی تربسم الله اودشهادت کلیمی وروسته دی
دادعاوایي:[اللهم ثبت قدمی علی الصرط المستقیم یوم تزل الاقدام]
اودچپه پښی دمینځلوپه وخت کښی تربسم الله اودشهادت ترکلیمی
وروسته دی دادعاوایی:[اللهم اجعل ذنبی مغفوراوسعی مشکورا وتجار
تی لن تبورا]اوس اودس پوره شواواودس دی په خپله بی دچاله
مرستی وکړی (که معذور نه وو)اودیوه اندام دمینځلووروسته دی
دستی بل اندام مینځی چی لومړی مینځل شوی اندام دهواله برابری

سره سره وچ نه شي که داوداسه له اوبوڅخه اوبه پاتي شي که دهغوڅښتل وغواړي نوولاړدي شي اوهغه دي وڅښي اودشهادت کليمه دي ووايي اودادعادي وکړي [اللهم اجعلني من التوابين واجعلني من المتطهرين واجعلني من عبادک الصالحين واجعلني من الذين لاخوف عليهم ولاهم يحزنون] همداغه اودس دي چي نسبت يي دنبي کريم ﷺ ارشاددی: چي که يوڅوک زمارنگه اودس وکړي نودهغه مخکني گناهونه بخښل کيږي. (علم الفقه مخ ۶۱لومړی توک مسلم شريف ۱۲۲لومړی توک کتاب الفقه مخ ۱۲۴لومړی توک ترمزی شريف مخ ۳۴لومړی توک بهشتی زيورمخ ۳۸لومړی توک)

مسئله:تراوداسه کولووروسته ځيني خلک اناانزلناسورة ترپايه وائي ددي ذکرپه يوه روايت کي هم نه دي راغلي دځينومشائخوپه عادت مبارک کښي ددغه اودنورودعاوو دويلوذکرکه څه هم پيداکيږي خوپه صحيح حديثوکي ددي ثبوت نشته کوم روايات چي په دغه اړه ذکرکيږي هغوئ داعتبارړنه دي دغه پرځان لازمول اودغه مستحب گڼل له سنتوخلاف کاردی (نمازمسنون مخ ۸۲تفصيل وگوری امدادالفتاوی جديدمخ ۳۲لومړی توک)اوپه ويلوکښي ئي ثواب شته خوچي سنت يامستحب ئي ونه بولی داسي بلل ورلره پکارنه ده مولنامحمدرفعت قاسمی غفرله

حنفيه دغه دعاوی په سنت کښي نه شميری بلکه دوی وائي چي دغه مندوب يامستحب دی.(کتاب الفقه مخ ۱۲۵ج ۱)

مسئله: داوداس کولووروسته دشهادت دکليمی دويلوپه وخت کښي واسمان ته کتل دنبي کريم ﷺ څخه ثابت دي: [سبحانک اللهم وبحمدک

اشهدان لااله الاانت استغفرک واتوب الیک واشهدان محمداعبدک ورسولک] (احسن الفتاوی مغ ۱۷توک دوهم بحواله ردالمحتارمغ ۹۵لومړی توک وفتاوی توک وفتاوی رحیمیه مغ ۱۴۰توک اووم اوشامی مغ ۱۱۹لومړی توک وفتاوی محمودیه مغ ۲۷توک دوهم) یعنی له اوداسه وروسته واسمان ته دکتلوپه وخت کښي دغه دعاویل دی دغه خاص له ادابوڅخه ده .مولنامحمدرفعت قاسمی غفرله

کوم څوک چی داوداسه کولوپه وخت کښی دغه دعاووائی دهغه لپاره دبخښلویوه پرچه لیکل کیږی اوپرهغه باندی مهرلګول کیږی اوایښودل کیږی دقیامت ترورځی پوری به هغه جوړه اوثابته پرته وی (دبخښلوحکم پرځپل ځای پاته کیږی. (حصن حصین عربی مغ ۶۸)

داوداسه وروسته دتوبی ددعاویلوراز

په اوداسه کی داوواندامومینځلوڅخه داووګناهودپرېښیدلوولورته اشاره ده اودخدای جل جلاله ولورته درجوع صورت اودښکاره اوباطنی پاکوالی دعوه اودزبان حال دعاده له دی څخه وروسته دتوبی دعاپه ژبه ویل دخدای جل جلاله درحمت دجذب کولولپاره ډیره مناسبه اوتاکیدکړشوی دعوه ده ځکه چی څه وخت دانسان ښکاره حصه په اوبوسره پاکیږی نودده دفطرت غوښتنه وی چی زړه هم همدارنګه پاک شی خوهلته دخدای جل جلاله دقدرت څخه پرته دبل چاطاقت په کارنشی راتلای. (المصالح العقلیه مغ۱۵)

داستحباب په ډول له اوداسه څخه دپاته شوو اوبودڅښلوراز

له اوداسه څخه دپاته شوو اوبوپه څښلوکښی دارازدی لکه څنګه چی انسان پرښکاره اندامو باندی اوبه اچوی دښکاره اندامودګناهو نوڅخه توبه کښونکی ګرزی همدارنګه داوداسه کونکی له طرفه

دپاته شوو اوبوپه څښلو کښې دا اشاره ده چې ای زماخالقه لکه څنګه
چې تازمابنکاره یعنې ظاهرپاک کړی دی همدارنګه زماباطن هم پاک
کړی. (المصالح العقلیه مخ ۱۷)

داوداسه په اوبوکښې یوخاص ډول برکت اوښه اثرپیداکیږی له
همدې امله داوداسه څخه پاته شوی اوبه بایدوڅښل شي اوددغه
اوبوڅښل په ولاړه هم روادی. (مظاهرحق جدیدمخ ۲۹۶ لومړی ټوک)

په اوداسه کښې بایدمخ ترکوم ځایه پوری ومنځل شي ؟

داوداسه دڅلوروفرائضوتفصیل کوم چې دحنفیه وو په نزدمعتبردی
(لومړی) فرض دمخ مینځل دی ددی متعلق څلورمسئلې دادی:
(۱) دمخ په څلوروحدودواوږدوالی اوپراخوالی کی څه شته ؟
(۲) دوهم داچې دږیرې بریتواوروریځوویښتان ترکومې اندازې
مینځل کیږی.
(۳) داچې دسترګوظاهری اوباطنی کومو برخومینځل واجب دی اود
کومو داواجب نه دی.
(۴) داچې دپوزې په بیخ کې دتیانوپشان غوښې ترکومه ځایه مینځل
کیږی دمخ څلورحدود دغه دی دهغه چادمخ اوږدوالی چې ږیره نه
لری دویښتانودشنه کیدوله ځای څخه بیاترزنی لاندی پوری دی
دویښتانودشنه کیدودتندی څخه پورته دی عام ډول دانسان مخ
دتندی له هغه ځای څخه پیل کیږی چې له هغه څخه ویښتان شنه کیږی
دویښتانودشنه کیدوځای دتندی څخه پورته دی چې وهغه ته وایي :
عامه یاقوره نوعموماً چې دانسان مخ دتندی دهغه اړخ څخه پیل
کیږی له کوم ځای څخه چې ویښتان شنه کیږی دویښتانو دعادت

خلاف شنه کیدلوصورت دادی چی انسان به یااصلع وی یاافرع (یعنی یابه دلغړتندی والاوی یابه دکوچنی تندی والاوی)اصلع دپراخ تندی والاهغه څوک دی چی دهغه ویښتان د سره دمخ له لوری څخه ختلی وی تردی اندازی چی هغه داسی وی لکه ویښتان چی یې پیداشوی نه وی په دغه صورت کښی حکم دادی چی هغه ټوله ځای چی ویښتان ځینی ختلی وی مینځل یې واجب نه دی بلکه تر هغه ځایه پوری مینځل واجب دی چیری چی عموماً دسرویښتان شنه کیږي یعنی له تندی څخه څه قدرنورپورته برخه افرع (یعنی دکوچنی تندی والا)هغه څوک دی چی دهغه ویښتان دومره غټیږی چی دهغه پرتندی باندی راځی اودځینوخلګوګمان وی چی وریځو ته را رسیږی ودغه چاته اغم یعنی دګڼوویښتانوخاوندویل کیږی ددغه صورت هم هغه حکم دی کوم چی داصلع دی یعنی ودته هم دتندی څخه یوڅه اندازه پورته مینځل واجب دی ځکه چی دزیاتوخلګو دسروویښتان له هغه ځای څخه شنه کیږی په داسی صورت کښی دزیاتوتابعداری کیږی که یوسړی (مورزاده)له نوروانسانانوڅخه ـ جلاوی نوپرهغه سړی باندی دعاموخلګوڅخه پرته نوراحکام نه جاری کیږی اوس بایدپوه شی چی په پراخوالی کی دمخ اندازه دیوه غوږله بیخ څخه دبل غوږترببیخ پوري دی چی وهغه ته ځینی خلګ نرمی یادغوږوپردی وائی نوښکاره شوه چی دزنی اوغوږوترمنځ کومه خالی ګاه ده هغه هم په مخ کښی شمارل کیږی نوله دی کبله ددی ځای مینځل هم واجب دی داحناقوپه نزددمخ پیژندنه دپرا خو الی اواوږدوالی په اعتبارهم

دغه ده. (کتاب الفقه مخ ۸۸لومړی ټوک، امدادالفتاوی مخ ۳۱لومړی ټوک)

په اوداسه کښې د ږیرې او بریتو متعلق مسئلې

مسئله: پرمخ چې کوم ویښتان دي په هغوی کښې تر تولو د یادونې وړ د ږیرې او بریتو ویښتان دي د ږیرې د ویښتانو متعلق حکم دا دی چې د مخ د پوست سره کوم ویښتان دي د پورته څخه پیادزنې ترلاندې پورې چې بشره ورته یل کیږي د دغه مینځل واجب دي او ددي څخه چې کوم زیات شوي ویښتان دي د هغو مینځل واجب نه دي نو ځکه هغه خلک چې ږیرې یې اوږدې وي پردوي خالي د هغو ویښتانو مینځل واجب دي کوم چې د مخ پرپوست باندې شنه وي او د هغو ویښتانو مینځل کوم چې د زنې پرپورته نې برخه باندې وي له دې څخه پرته د زیاتو ویښتانو مینځل واجب نه دي که ویښتان کوچني وي د مخ د پوست وبرخې ته او به رسیدلای شي نو د دغه ویښتانو خلالول (یعني دلاس ګوتې دي د ږمونځ پشان پکښې کشول واجب دي کنه د نورو ویښتانو د پورته څخه مینځل کافي دي د بریتو د ویښتانو متعلق په مسئلو کښې اختلاف دي ځینې وایي که بریتونه ګڼ وي چې او به وپوست ته نه رسیږي نو اودس باطلیږي او ځینې بیا وایي چې اودس باطل نه دي بلکه د ږیرې په شان د ښکاره برخې په مینځلو سره صحیح کیږي تر کومه ځایه چې د اوداسه تعلق دي فتوی پردغه جاري شویده چې نه باطلیږي لیکن په غسل کښې د بریتو د ګڼوالي رعایت نه کیږي (یعنې که خالي پر ښکاره مینځلو باندې کفایت وشي غسل باطلیږي غالباً دا دی وجه داوي چې نبی کریم ﷺ د بریتو د غتیدو څخه منع کړیده ځکه چې په دغه کښې د خوړک خندوالي تینګ پاته کیږي نو ځکه په

تينګښت سره حکم دی چی دغه ومينځل شی اوبيله ګټی بايدنه شی لوی.

په اوداسه کښی دوربخودوينبتانومتعلق مسئلی

پاته هغه وينبتان شوو چی دسترګوڅخه پورته دوربخودی ددی متعلق حکم دادی که وينبتان کوچنی وی اوبه ترپوست پوری رسيږی نوددی ښوړول واجب دی ددی لپاره چی اوبه دوينبتانو وييخوته ورسيږی که ګڼی وی خلالول يی واجب نه دی دپوزی په هکله حکم دادی چی ددی ټولی ښکاره برخی بايدومينځل شی ځکه چی دادمخ يوه برخه ده که لږڅه برخه يی وچه پاته شی که هرڅومره لږوی نواودس فاسديږی ددوو تينکوترمنځ چی کومه پرده ده ددی لاندی برخی په پوزه کښی شامله ده دحنفيانوپه نزدپوزی ددننه برخی مينځل فرض نه دی خوکه پرمخ باندی زورټپ وی نووهغه ته اوبه رسول واجب دی (داهغه وخت چی په ټپ کی تکليف نه وی)لکه څنګه چی دمخ ولاندی ځايوته چی له کمزوروالی څخه پيداشوی وی اوبه وررسول واجب دی.

مسئله: داوداسه کولووروسته که ږيره کوچنی ياوخرپيل شی نو اودس نه باطليږی. (کتاب الفقه مخ ۸۹ لومړی ټوک واحسن الفتاوی مخ ۱۲ ټوک دوهم وامدادالفتاوی مخ ۳۰ لومړی ټوک)

مسئله:په پوزه کی بيله اوبو اچولو اودس صحيح دی خودسنت خلاف دی. (فتاوی دارالعلوم مخ ۱۲۵ لومړی ټوک بحواله ردالمحتار مخ ۱۰۷ لومړی ټوک)

مسئله:په غسل کښی په پوزه کښی دننه په هډوکی کی اوبه اچول فرض نه دی بلکه له کوم ځای څخه چی هډوکئی پيل کيږی ترهغه ځای

پورې اوبه رسول فرض دي چې په لږاهتمام او اساني سره رسیږي (اوبه دساپه ذریعه ددماغ ولورته دکشولو هیڅ ارتیانشته یوازې لکه څنګه چې په اوداسه کښې وروزې ته اوبه اچول کیږي هغه کافي کیږي.
(احسن الفتاوی. مخ ۳۸ توک دوهم وکشف الاسرار مخ۱۹ لومړی توک وفتاوی محمودیه مخ ۲۵ توک دوهم)

په اوداسه کښې لاس ترړیږیو پورې دمینځلوراز

دقوت دوینی پاکی دزړه اوځګرلپاره دلاسونو مینځل ډیرګټمن دی دلاسو هغه رګونه چې په واسطه یاپیله واسطې وزړه یاځګرته رسیږی هغه په مینځلو کښی شامل شی او هغه رګونه چې زړه یاځګرته رسیږی هغه ځینی دلاس دګوتوځینی دورغوو اوځینی له ړیریوو څخه پیل کیږی له دغی وجه څخه دلاس مینځل ترړیریوپورې کیږی ددی لپاره چې ټول رګونه په مینځلو کښی شامل شی دلاسواودمخ دمینځلو څخه زړه اوځګرته قوت رسیږی اوداوبواثردرګوپه همدا رنګه دزړه اوځګرڅخه پرته ددی اثرپرنوربدن باندی هم لویږی بس دلاسومینځل ترړیریوپورې هم له دی امله وټاکل شوچی دبدن دګونو په ذریعه د اوبو اثروټوله بدن ته دننه ځی څه وخت چې اصل په اوداسه کی دبدن داطرافو مینځل مقررشونودلاسو مینځل ترړیریو پورې څکه وټاکل شوچی له دی څخه دلړومینځل اثردانسان پرنفس باندی نه ښکاری څکه دلاس دړیری څخه پرته اندام نه بلل کیږی. (المصالح العقلیه مخ۲ لومړی توک)

په اوداسه کښی دړیریوپه اړه مسئلی

مسئله: داوداسه دفرائضوځخه دوهم فرض لاس تربریوپوری مینځل دی دبریې ځخه مراددجوړهغه راپورته شوی هډوکی چی دلاس پرلاندی سرپاندی وی دهغه په اړوندیوځومسئلې دی یوه داده چی که دانسان دلاس ګوتی پنځه وی نودهغه مینځل واجب دی لیکن که پوره لاس زیات وواوهغه زیات لاس دقدرتی لاس سره یوځای وو نودهغه مینځل واجب دی که له هغه ځخه وتلی وی بیاترهغه ځای پوری مینځل واجب دی ترکوم ځای پوری چی برابروی دزیاتی برخې مینځل واجب نه دی لیکن مستحب دادی چی هغه هم ومینځی دوهمه مسئله داده که په لاس یانوک کښی یوشی بندشی دبیلګی په توګه وره خاوره نوضروری دی چی لومړی هغه وباسی اواوبه دی دنوکانوبیخوته ورسوی که نه ورسیږی نواودس باطلیږی دنوکانو د بیخوځخه مرادهغه برخه ده کوم چی دګوتودغوښی سره پیوندوی.

مسئله: که نوک دومره لوی شوی وی چی دګوتی ځخه وتلی وی نودهغه مینځل واجب دی که نه ومینځل شی نواودس باطلیږی اوهغه خیری اوکه چری چی دنوکانولاندی وی ددی په هکله مفتی به قول دادی چی دغه اودس ته هیڅ تاوان نه رسوی (هغه وخت چی اوبه ورورسیږی اولوند شی)خواه اودس کونکی دښاریادسحراوی دغه حکم له سستی ځخه دژغورلولپاره دی دخاوندانودتحقیق حنفیانوپه نزدباندی داضروری دي چی دلوی شوونوکانولاندی چی کومی خیری وی هغه بایدومینځل شی که دغه نه ومینځل شی نواودس باطل دی (هغه وخت چی وچوالی پاته شی)ددی ځخه پرته هم دغه عمل ښه دی ځکه چی دغه خیری چی دنوکانولاندی یوځای شوی وی

دناروغۍ سبب ګرزي ددوډې پخوونکي چې نوکان يې لوی وی اوترهغه لاندې اوړه يوځای شوی وی نوددغه کارپه وړاندې دی معاف بلل شوی دی.

مسئله:دنکريځوياد رنګ استعمالولوڅخه چې کوم رنګ پاته شی له دې څخه په اودس کښې څه زيان نه راځي خووچې نکريځی که پرلاس پاته شی ددی له کبله په اودس کښې تاوان راځي ځکه چې هغه داوبودرسولوڅخه منع کونکي ګرزي.

مسئله: که ديوڅادلاس يوڅه برخه پرې شوی وی نوپاته برخه دی ومينځی که پوره هغه اندام پرې شوی وی چې مينځل يې واجب وی نودهغه مينځل هم ساقطيږي. (کتاب الفقه مخ ۹۰ لومړی ټوک)

مسئله: دلاسودګوتو خلال دلاس ترپريږپوری دمينځلووروسته کيږي اودپښودګوتوخلال دهغه دمينځلووروسته کيږي بنه همدغه دی. (مظاهرحق مخ ۲۹۵ لومړی ټوک)

مسئله: رنګريز چې دجامودرنګولوکارکوی دهغه پرلاسوچې کوم رنګ ولګيږي دهغه دلرې کولوضرورت نشته خوکه پرلرګی یاو سپنی باندې دټينګيدورنګ (يعنی هغه رنګ چې اوبه نه تروورزی) پرلاس باندې ونښلی نودادی لرې کړی ددی پرته اودس نه صحيح کيږي خوکه داسی رنګ نه وی چې له لاس څخه دی اوبه بندې کړی نوله دی سره اودس صحيح کيږي ځکه چې په دغه وخت کښې داسی شی نشوپاته چې اوبه منع کړی. (احسن الفتاوی مخ ۲۰ ټوک دوهم بحواله ردالمحتار مخ ۱۲۳ لومړی ټوک)

په اوداسه کښې پښې ولې تربجلګوپورې مينځل کيږي ؟

(لومړی) دپښوتربجلکوپورې دمینځلورازدادی چې هغه رګونه چې دماغ ته رسیږي هغه څه دپښودګوتوڅخه پیل کیږي اوددغه ټولو دشاملیدوله کبله ددماغ بخارونه یعنی ګرموالی مړه کیږي همدغه وجه ده چې دپښومینځل تربجلکوپورې تاکل شوی دی.
(دوهم) ځکه چې پښې زیات وخت تربجلکوپورې لڅې وي اوپرهغه باندې ضررمن اثرات اوګرزاوغبارلویږي نوځکه دپښودبجلکوپورې دمینځلوحکم شوی دی.
(دریم) دپښوتربجلکودمینځلورازداهم دی چې دبجلکوڅخه کم پوره اندام نه دی اوسره ددی چې دټوله اندام مینځل مقرر شوی دی ددې لپاره چې ددی دمینځلواثرپه ټول مینځلوسره وي. (المصالح العقليه مخ ۲۴)

په اوداسه کښې دپښواوبجلکوپه اړوند مسئلې

داوداسه له فرائضوڅخه دریم فرض دواړې پښې تربجلکوپورې مینځل دي بجلکه وهغه هډوکي ته وائي کوم چې دپنډۍ یالینګی پرکناره له پښې څخه پورته راوتلي وي پراودس کونکي باندې داواجبه ده چې دپنډۍ ولاندې طرف ته خاص فکروکړي همدارنګه دې دپښې ولاندې برخې ته چې چاوددلي وي فکرکول هم ضروري ده که دپښې ټوله برخه یاټوله پښه پرې شوې وي نوددې حکم دهغه لاس دحکم په شان ده کوم چې پوره پرې شوې وي چې پورته ذکرشوو.
مسئله: که لاس یاپښه غوړکړې اوبیااودس وکړي اوبه پورته باندې وبهیږي اودغوړوالی له کبله اوبه اندام نکړي جذب نوله دې څخه په اوداسه کښې هیڅ تاوان نه راځي.

مسئله: که ښئی چاودلی وی اوپرهغه باندی ملهم یاواسلین لګولی وی اودهغه لاندی ته اوبه رسول ضررمن وی نومینځل يې واجب نه دی که مینځل يې ضررمن نه وی بیادی پټۍ لری کړی هغه لاندی برخه دی ؤمینځی.

مسئله: که په ښپه کښې چاوده وی چی دهغه مینځل یالړترلړه په او بوکی يې اچول بیله منبلودباندی رایستل ضررمن وی نودمینځلو فرضیت يې ساقطیږی وهغه ته پکاردی چی لوندلاس پرتیرکړی یعنی مسح دی پروکړی اوکه له دی څخه هم عاجزوی نومسح هم ساقطیږی صرف دهغه برخی مینځل واجب دی چی مینځل يې ضررمن نه وی

دمولانااشرف علی تهانوی رحمة الله علیه په مواعظ علم اوعمل مخ ۳۳ کښی لیکلی دی له اودس کولوڅخه مخته بایدښئی لندی شی دغه ښه عمل دی کولای يې شی مقصوددښوپه مینځلوکښی مبالغه کول دی اومخته دښولندول (په مینځلو)کښي له دغی وجی څخه معلوم شوخودغه دی سنت طریقه نه بولی. (فتاوی رحیمیه مخ ۲۴۷ټوک څلورم)

په اوداسه کښی دسرمسح په اړوندمسئلې

داوداسه له فرائضوڅخه څلورم شی دسرڅلورومی برخې مسح کول دی اوڅلورمی برخې اندازه یوورغوی تاکل شوی دی له دی کبله واجب دی چی دپوره ورغوی په برابری دسردبرخی مسح دی ووشی نوځکه که لاس داوبوسره لګیدلی وی اودغه لاس دسرپرشایاپرمخ یاپربل لوری باندی وګرزول شی نومسح صحیح کیږی پردغه بناباندی دمسح لپاره داضروری نه ده چی خاص په ورغوی سره به

مسح کوی بلکه پرڅلورمه دسربا ندی (دورغوی په اندازه پرځای)
دلوندلاس اوبه رسول کافی دی.
مسئله: په لاس باندی دمسح کولولپاره داشرط دی چی لږترلږه په
درو(۳) گوتواستعمال کوی ددی لپاره چی دوچیدومخته دسر د
څلورمې برخې پورې اوبه ورسیږي.
مسئله: که دوی گوتی دمسح لپاره استعمال وکارو ل شی نوزیات
وخت دسروڅلورمی برخی ته دلاس درسولومخته گوته وچه پاتیږی
او اوبه هلته نشی رسیدلای ترکوم ځای چی مقصوددی.
مسئله: که دگوتوپه سروسره مسح ووشی چی له هغه څخه دومره اوبه
غورزیدلی چی ترهغه ځایه پوری رسیدلی ترکوم ځای پوری چی یې
رسول مقصوددی نومسح صحیح کیږی که دارنگه نه ووبیانه صحیح
کیږی له دی کبله چی دسردمسح لپاره نوی اوبه شرط نه دی نوکه لاس
لوند وونومسح صحیح کیږی لیکن دانه دی رواچی دبل اندام په
لوندوالی سره مسح وشی دبیلگی په توگه دځنگلی دمینځلو وروسته
لاس وچ شوییادی دځنگلی په اوبوسره لوندکړی اودسر مسح دی په
وکړی نودغه نه کافی کیږی.
مسئله: دکوم سړی چی دسروېښتان اوږده وی وغاړی اوتندی ته
ځړیدلی وی که پردغه ځړیدلووېښتانومسح وشی نومسح نه ده
رواځکه چی دمسح څخه مقصودمسح دڅلورمی برخی دسرده اوسر
که سرخړپیل شوی وی بیاخوهیڅ خبره نه ده (چی دسرمسح کول کیږی
)خوکه پرسرباندی وېښتان وی نوپردغه وېښتانومسح کول ضروری
ده کوم چی دسردیوی برخی څخه پورته شوی وی یعنی کوم وېښتان

چې ځړيدلي وي هغه خوپرسرباندې بالکل نه دي نوددې دمسح ځخه دسرمسح نه صحيح کيږي.
مسئله: که دسرځيني برخه خرپيل شوي وي اوځيني برخه يې نه وي خرپيل شوي نوپرهره برخه چې مسح وشي صحيح کيږي.
مسئله: دسرله مسح ځخه وروسته دوېښتانوپه کمولوسره مسح نه باطليږي.
مسئله: که ديخې ټوټه پرسرباندې وګرزول شي نومسح صحيح کيږي چې دمسح په نيت سره وي.
مسئله: که سراو مخ يوځای ومينځل نوصحيح کيږي خومکروه ده
مسئله: پرېګړی اونورداسې شيانوباندې بيله ضرورته مسح کول صحيح نه ده همدارنګه دښځې لپاره پردسمال ياټکرې باندې چې پرسرکړي يې وي مسح کول روانه ده خوکه هغه دومره نرم وي چې پرهغه مسح وکړل شي اوبه وېښتانوته رسيږي نورواده.
(کتاب الفقه مخ ۹۲ لومړی ټوک اوفتاوی دارالعلوم مخ ۲۵ لومړی ټوک بحواله ردالمحتارمخ ۹۲ لومړی ټوک)
مسئله: دسرپه مسح کښې سنت طريقه داده: چې په دواړولاسونوسره وشي که په يوه لاس وکړل شي مسح صحيح ده خودسنت طريقې موافق نه کيږي. (فتاوی دارالعلوم مخ ۱۳۰ لومړی ټوک بحواله عالمګيری مخ ۴ لومړی ټوک)
مسئله: دغاړې مسح دګوتوپه شاسره لکه ځنګه چې مشهوره ده صحيح ده. (فتاوی دارالعلوم مخ ۱۳۲ لومړی ټوک بحواله ردالمحتارمخ ۱۱۵ لومړی ټوک
مسئله: که دعطروپمبه په غوږوکې پراته وي دمسح کولوپه وخت کې هغه لرې کول سنت دي (ځکه چې دغوږودټولې برخې مسح سنت ده اودايله دي چې پمبه نه وباسې ممکنه نه ده اودسنت موقوف عليه

سنت وی نوځکه ددی لری کول سنت دی) اوکه په سوریانو کښې اینښودل شوی وی بیایي لری کول مستحب دی ځکه چې دغوړو په سوریانو کښې ګوتی وهل مستحب دی کوم چې بي له پمبه لری کولو ممکن نه دی نوځکه ددی لری کول مستحب دی (امدادالفتاوی مخ ۳۵ لومړی توک مع حاشیه استاذی مولانامفتی سعیداحمدصاحب مدظله)

مسئله: دعذرپه وخت کی یوازی په یوه لاس سره پرسر او غوږو مسح کولای شی. (امدادالفتاوی مخ ۳۵ لومړی توک)

مسئله: څوک چې په اوداسه کښې یوازی دسرپرمسح کښې پرڅلور می برخی بسنه او هیڅ کله دټول سرمسح نکوی نودغه عمل مکروه ده (امدادالفتاوی مخ ۳۶ لومړی توک)

مسئله: که دسړی په سرکښې دومره ټپ یادردوی چې مسح نه شی کولای وهغه ته دسر مسح معاف ده.
(علم الفقه مخ ۸۳ لومړی توک اوکتاب الفقه مخ ۱۱۹ لومړی توک

په اوداسه کښی دپوزی دپاکولوحکمت

دهرمذهب اوملت خلک دپوزی ګرنګ اوخیری لری کولوته په ښه نظرګوری که دننه پوزه ونه مینځل شی نودپوزی دوچ شوی ګرنګو څخه ودماغ ته ناوړه اغیزرسیږی چې ځینی وخت دمرګ سبب ګرزی همدارنګه دعربوپه رواج دپوزی توری دعزت اوزیاتوالی پرځای کارول کیږی نوځکه هغوی چې وچاته ښیراکوی نووایي چې خدای پاک دی دده پوزه په خاوروککړه کړی.

ددی مطلب دادی: چې دده عزت دلوړمقام څخه دذلت وځای ته وغورزوی.

نودپوزی مینځل دلوبي اوغرورپرېښودلواودخداي جل جلاله په دربارکی دخپل نفس کوچنی کولوته اشاره ده. (المصالح العقلیه مخ ۲۳)

دناستی دخوب په کوم صورت کښی اودس ماتیږي

پوښتنه دناستی دخوب کوم صورتونه اودس ماتونکی دی؟

ځواب (۱): که بیله یوشي ته تکیه کولوویده شي اوونه نړیږی اویاخودنړیږدوپه وخت کښی رابیدارشی اودس نه ماتیږی

(۲) دهغه سجدی پرډول ویدیدل چی دسنت طریقی مطابق وی اودس نه ماتوی (دسجدی سنت طریقه داده چی نس له ورنوڅخه بیل وی همدارنګه څنګلی هم له اړخوڅخه بیلی وی)

(۳) که پوره کوناتی پرځمکه نه وی پراته تکیه یې لګولی وی اوویده وی که پرخپل ورانه یابل شی باندی وی اودس ماتیږی نوځکه پردووزنګنوکښینستل اوپرهغه تکیه وهل اودس ماتوی همدارنګه چارزانوکښینستل پرورون یابل شی باندی تکیه ولګوی اودومره تیټ شی چی پوره کوناتی پرځمکه باندی لګیدلی نشی پاتی نوهم اودس ماتیږی خوکه پره کوناتی پرځمکه باندی لګیدلی وی مثلاًزنګنونه ودروی په لاسویې ونیسی یاپه جامه یابل شی سره یې له ملاسره وتړی اوپرزنګنوسرکښیږدی ویده شی یاچارزانوکښینی په ږیریوسره پرورنوتکیه وکړی دومره تیټ شی چی کوناتی پرزمکه باندی پوره ولګیږی نواودس نه ماتیږی.

(۴) که پوره کوناتی پرځمکه ولګیږی اوتکیه ولګوی دومره ویده شی که دغه شی ځینی لری شی دی نړیږی په دغه صورت کښی

اختلاف دی پرنه ماتیدوباندی یې فتوی راغلی ده یعنی اودس نه ماتیږی.

(احسن الفتاوی مخ۲۱توک دوهم بحواله ردالمحتارمخ۱۲۲الومړی توک فتاوی دارالعلوم مخ۳۵الومړی توک ومظاهرحق مخ۳۲۵لومړی توک علم الفقه مخ۶۶لومړی توک)

مسئله: مراقبې په حالت کښې په چارزانوویدیدلواودس نه ماتیږی داهغه وخت چې ویوشی ته یې تکیه نه وی وهلی.

(فتاوی دارالعلوم مخ۱۴۶لومړی توک بحواله ردالمحتارمخ۱۳۲لومړی توک اوعالمګیری مصری مخ۱۲لومړی توک وامدادالفتاوی مخ۳۸لومړی توک)

مسئله: هغه څوک چې اودس یې کړی وی ویوشی ته تکیه ولګوی اودومره ویده شی که هغه شی څینی لری شی نودی به ونړیږی اودس ئی مات دی. (شرح نقایه مخ۱۱اوهدایه مخ۹لومړی توک)

مسئله: یوازی ویدیدل اودس نه ماتوی بلکه په خوب کښې یوقسم غفلت پیداکیږی چې دهوادوتلواونه وتلودرک سړی ته نه معلومیږی نودغه خوب اودس ماتوي (څه وخت چې انسان ویدیږی نودهغه بندونه سستیږی اودهواوتلواونه وتلوګمان غالبه کیږی. محمدرفعت قاسمی غفرله

مسئله: که یوڅوک دناستې په دارنګه حالت کښې ووچې له خوب څخه زنګیدی اوبیاونړیدی اودنړیدوپه حالت کې ئې سترګې راوښې کړی نودده اودس نه دی مات دهغه سړی هم اودس نه دی مات چې دخوب په داسې حالت کښې وی چې له ځان سره دناستوخلګوخبری زیاتې اوری اوپه پوهیږی. (درمختارمخ۸لومړی توک اردو)

مسئله: هغه خوب اودس ماتوی چې دسړی قوت ماسکه دارنګه ختم کړی چې دده کوناتې دزمکې سره نه لګیږی قوت ماسکه وهغه قوت

ته وايي چې انسان دهغه په ذريعه سره دننه هواوتل بندوی اوپريوه
اړخ ويديدل څلوروله خوب اودس ماتوی (۱)داړخ خوب (۲)پريوه
شی باندی تکيه لګول (۳) پرمخی خوب (۴)چپه ويديدل ؛په دغه
څلوروصورتونوکښی قوت ماسکه نه پاتيږی که دارنګه خوب ووچی
هغه قوت ماسکه نه ختمولونواودس نه ماتيږی که څه هم دغه کس په
لمانځه يابې له لمانځه کښی قصداويده شوی وی.
درمختارمغ۷لومړی ټوک مشکوة مغ۸۳لومړی ټوک

په قهقهه (په زوره خندا)سره دجنازی لمونځ دختميدواواودس نه ماتيدووجه

پوښتنه : که اودس لرونکی سړی په لمانځه کښی په زوره وخاندی
اودس يي ماتيږی اودجنازی په لمانځه کښی په زوره خنداکولوسره
لمونځ خرابيږی اواودس نه ماتيږی ددی څه وجه ده اوحکمت پکی څه
دی ؟

ځواب : قياس عقلی خودادی: چې په خنداقهقهه سره اودس هيڅ کله
بايدنشی مات خودنبی کريم ﷺڅخه ثابته شويده چې نبی کريم
ﷺويوسړی ته په خنداقهقهه کولوسره داوداسه اولمانځه راګرزولو
حکم وکړنوځکه پرمسلمانانو حکم منل ضروری شوو که څه هم دده په
ناقص فهم کښی ددی حکمت رانشی خوڅه وخت چې داحکم دقياس
ظاهری څخه خلاف دی نوله دی کبله پرکوم ځای چې واردشوی دی
پرهغه ځای پربينبودل کيږی پربل ځای باندی داوداسه دماتيدوحکم نه
کيږی که څه هم په دغه کښی تهقهه کول په نسبت وهغه بل ته ډيره بده
ده ديلګی په توګه دجنازی په لمانځه کښی خنداقهقهه کول
دادااصولو قاعده ده چې کوم حکم نه قياسيږی هغه له خپل ځای څخه

بل ځای ته نه بیول کیږي. (فتاوی دارالعلوم مخ ۱۴۸ لومړی ټوک بحواله هدایه فصل نواقض الوضوء مخ ۲۶ لومړی ټوک تفصیل وګوری درمختار اوردو مخ ۱ الومړی ټوک)

په قهقهه اوقی سره داودس ماتیدوراز

بهیدونکی وینی زیاتې قی بدن خرابوی اودنفس دمردارولوشی دی اوپه لمانځه کښی په زوره خنداکول یوجرم دی چی دهغه کفاره راوړل پکارده که ددغه شیانوځخه نبی کریم ﷺداودس کولوحکم وکړی هیڅ عجیبه نه ده دخنداقهقهه جرم ځکه شته چی په لمانځه کښی قهقهه دنفسیاتی پلیدی له کبله وی چی دهغه دلری کولولپاره اودس کول لازم شو (المصالح العقلیه مولاناتهانوی مخ ۲۸ واسرارشریعت)

دخندابه اړوندمسئلې

مسئله: که په لمانځه کښی په دومره زورسره وخندل شی چی دهغی خنداوازخپله هم واوری اوله ده سره یوځای خلک یي هم واوري لکه لویه خنداچی تهوله یي واوری په دغه سره هم اودس ماتیږی اوهم لمونځ فاسدیږي که اوازخپله واوری اونوریي نه واوري که ډیرزیات نژدی خلک یي واوری نولمونځ فاسدیږی اودس نه ماتیږی اوکه په خندا کښی صرف غاښونه سپین کړی شی اوازبالکل نه راووزی نونه اودس ماتیږی نه لمونځ فاسدیږی همدارنګه که کوچنی هلک یا کوچنۍ انجلۍ چی تراوسه پوری لوی شوی نه وی په زورسره په لمانځه کښی وخاندی یاپه سجده تلاوت کښی بالغ وخاندی اودس

يي نه ماتيږي هغه سجده اولمونځ فاسديږي چې په هغه کښې وخندل شي.

(بهشتي زيور مخ ۵۲ لومړی توک بحواله عالمګيري)

مسئله: دجنازي اوسجدي تلاوت په لمانځه کښې خنداقهقهه اودس نه ماتوي بالغ وي اوکه نابالغ وي. (منيه مخ ۴۷ باب ماينقض الوضوء)

مسئله: دبالغ په خنداکې داشرط دی چې خندابه درکوع اوسجدي په لمانځه کښې راغلی وي (که څه هم هغه خنداتر ډيره پوري نه وي) په سجده تلاوت اودجنازي په لمانځه کې په خنداقهقهه سره سجده اود جنازي لمونځ باطليږي خواودس نه ماتيږي اوکه دلمانځه دوتلوپه نيت قصدا خنداقهقهه وکړي اودس خوماتيږي ليکن لمونځ نه فاسديږي يعنی لمونځ صحيح کيږي داحنافوپه مذهب دسلام ګرزولوپرته په بله طريقه هم لمونځ ختمولای شي. (کتاب الفقه مخ ۱۴۳ لومړی توک اوعلم الفقه مخ ۱۷۰ احسن الفتاوی مخ ۲۴ توک دوهم بحواله ردالمحتار)

داډول عمل کول ښه نه دی ځکه چې لمونځ يوعبادت دی اوداطريقه مناسبه نه ده. مولانارفعت قاسمي

مسئله: دخندادري قسمونه دی (۱) خنداقهقهه چې بل يي هم واوري (۲) ضحک چې خپله يي واوري بل څوک يي نه واوري (۳) تبسم چې مطلق اوازنه وي پکې يعنی غاښونه سپين کړي (چې دی ته په اردوژبه کښې مسکراناهم وايي) په خنداقهقهه سره اودس اولمونځ دواړه له منځه ځي په ضحک سره لمونځ فاسديږي په تبسم سره نه لمونځ فاسديږي اونه اودس. (درمختاراردومخ ۱۱ لومړی توک)

مسئله: بالغ سړی درکوع اوسجدې په لمانځه کښې په زوره وخندل چې دهغه لپاره ده په جلاتوګه اودس یاتیمم وهلی وی بیاهغه په دغه لمانځه کښې حقیقتاوی یاحکماوی دحکماصورت دادی چې دلمانځه کولوپه وخت کښې ده ته څه شی ورپیښ شی چې په هغه سره اودس مات شونولمونځ یې په پټه خوله پریښودی داوداسه کولولپاره ولاړی چې اودس وکړی اوپاته لمونځ پوره کړی اودس یې وکړراروان شوپریوخبره یې په زورسره وخندل نودلته ګوادحقیقتا لمانځه په حکم کې نه دی بلکه په حکماالمانځه کی دی ځکه چې پر مخکې لمانځه باندی بنأوی نوپه دغه دواړوصورتوکښې ددغه لمونځ کونکی اودس ماتیږی اوپه زوره خنداوهغه ته ویله کیږی چې هغه دده سره یوځای ملګری واوری.

مسئله: که دمقتدی امام په زورسره وخندل بیامقتدی په زوروخندل که څه هم هغه مقتدی مسبوق وی نوپه دغه حالت کښې دمقتدی اودس نه ماتیږی له دی کبله چې امام څه وخت په زوره وخندل نولمونځ باطل شواوس چې مقتدی په زوره وخندل نودده خنداد لمانځه څخه خارج موجوده شوه اوله لمانځه څخه خارج په خندا اودس نه ماتیږی.

مسئله: که امام په لمانځه کښې قصدا خبری وکړی اووروسته مقتدی په زورسره وخندل دمقتدی اودس نه ماتیږی.

مسئله: دسلام ګرزولوپه وخت کښې قصداخنداقهقهه وکړل شی دقصدا توری ځکه یادکړل شوی دی چې خروج بصنعه یعنی په خپل عمل سره دلمانځه څخه راوتل لمونځ نه باطلوی مګراودس ماتیږی

شوه اوکوم چې داوویل شوچې دسلام دګرزولوپه وخت کښې امام خنداقهقهه وکړه بیامقتدی خنداوکړه نواودس نه ماتیږی خوکه امام قصداخبری وکړی ددی وروسته مقتدی په زورسره وخندل نودمقتدی اودس نه ماتیږی دلته یې داوښول چې دخنداا وخبرو تر منځ فرق شته خبری لمونځ ختموی نوځکه څه وخت چې په دغه صورت کښې طهارت (پاکی) ختمه نه شوه نودمقتدی لمونځ نه فاسدیږی او قهقهه دننه په لمانځه کښې راغله اوڅه وخت چې خندا قهقهه په لمانځه کی راشی اودس ماتوی په خلاف دلومړی صورت چې امام خنداقهقهه وکړی قصدا نوددی څخه پاکی ختمیږی نواوس په دغه حالت کښې دمقتدی خنداپه لمانځه کښې نه راغله نوځکه په دغه دده اودس نه ماتیږی۔(کشف الاسرارترجمه درمختارمخ۲۱لومړی توک اوعلم الفقه مخ۵۴لومړی توک)

په نس کې ګړهاری راتلل یاهوابندول

مسئله : داوداسه کولوپه وخت کښې یالمانځه کولوپه وخت کښې هوانه وباسی بلکه بنده یې کړی نواودس نه ماتیږی اولمونځ صحیح کیږی ځکه چې دهواوتل اودس ماتوی.

(فتاوی دارالعلوم مخ۱۴۶لومړی توک بحواله ردالمحتارمخ۱۲۶لومړی توک)

دلمانځه په وخت کښې فکرکول لمونځ مکروه کوی. محمدرفعت قاسمی

مسئله: که دهوادوتلو یقین وی خواوازیابدبویې وکړی یانه اوهغه سړی معذورهم نه وی نواودس دوهم ځل پکاردی اوکه خاص شک وی لږڅه بنوریدل وی نواودس نه ماتیږی لمونځ صحیح ده.

(فتاوی دارالعلوم مخ۱۴۸لومړی توک بحوارله عالمګیری فصل ثانی سنن وضومخ۸لومړی توک)

مسئله: که په نس کښې له ګړګړ څخه شک پیداشي نوپه دغه ډول شک سره اودس نه ماتیږي ترڅوچي دهوادوتلویقین نه وی اواز واوري یابدبویي محسوس شي غرض دا چي یوډول یقین یي راشي چي هواووتله ترڅوپوري چي شک وي اودس نه ماتیږي لمونځ صحیح ده. (الجواب المتین مخ۱۰ ومظاهرحق ۳۲۲لومړی ټوک فتاوی رشیدیه مخ۲۸۳لومړی ټوک)

په هواوتلوولی اودس ماتیږي ؟

پوښتنه : مسئله: داده: که اودس دهواوتلوله کبله مات وی نوصرف اودس دی وکړی دامعلومول دی چي له کوم ځای څخه هواتله هغه ځای خونه مینځل کیږي ددی سره دی اودس وکړل شي څه وجه ده ؟

ځواب : ددی وجه نبی کریم ﷺ نه ده فرمائلی یوازی داوداسه حکم یي کړی دی وچاته دااختیارنشته چي ددی وجه وپوښتی دغه امرتعبدي دی. (فتاوی محمودیه مخ۱۲۵ ټوک اووم بحواله هدایه مخ۸ لومړی ټوک)

دهواوتلوڅخه دبدبوي له کبله دننه دنس حالت ته یوقسم مرداری اوضعف ورځي اودفرشتوڅخه لري والي راځي اوشیطان اوپیریان پرده باندی راګرزی ددی څخه وروسته داوداسه کولوحکم وشوځکه چي په اوداسه سره مردازی پلیدی اوضعف لري کیږي اوله فرشتو سره نژدی کیږي اوله شیطانانو اوبدوڅخه لري کیږي. (المصالح العقلیه مخ۳۵)

مسئله: هوااودس ماتوی خونجاست غلیظ نه دی بلکه پاک ده (څه وخت چې دمردارزی سره نه ورځي)ددی په وتلوسره جامه ناپاکه نه ګرزی. (کشف الاسرارمخ۸۳توک دوهم)

مسئله: هرهغه شي نجاست غلیظ دی چې دانسان له بدن څخه ووزی اودس یاغسل واجب کړی (پرته له هوا)لکه بولی مذی ؛ودی ؛نوونه ؛په ډکه خوله قی بهیدونکی وینه حیض اونفاس دغه ټول نجاست غلیظ بلل کیږی پرته دشهیدله وینوچې پربدن یې پرتې وی دغه پاکی دی. (کشف الاسرارمخ۸۴توک دوهم)

ایاپه رګ کښې پیچکاری لګول اودس ماتوی

مسئله: درګ په پیچکاری کی ددی معلومول چې ستن ورګ ته ورسیده ذریعه یې خاص داده: چې په پیچکاری کی وینه راشی ترڅه وخته پوری چې په پیچکاری وینه نه وی راغلی دوائی وبدن ته نه داخلیږی په غوښه اوپوست کی پیچکاری لګول اودس نه ماتوی ځکه چې ددغه څخه په پیچکاری کښې وینه نه راوزی نوخالص په رګ کی پیچکاری لګول اودس ماتوی نه دغوښې اوپوست.

مسئله: که یوڅادستنی سردبدن سره ونښلاوی اووینه راووته اوبهیدلی نه وه نواودس نه ماتیږی (کشف الاسرارمخ۱۸الومړی توک

مسئله: داوداسه دماتیدلولپاره وینه راوتل اوننه وتل برابردی نولکه څنګه چې په وینه راوتلوسره اودس ماتیږی همدارنګه په وینه ننه

وتلوسره هم اودس ماتیږي نوځکه درگ په پیچکاري سره اودس ماتیږي. (احسن الفتاوی مخ۳۸توک۲رهم بحواله ردمحتارمخ۱۲۷لومړی توک).

مسئله: پیچکاري لګول یـ په بدن کښې وینه درمل اوګلوکوز داخلول که د دغه شیانو داستعمال ځخه یوشی له بدن ځخه نه راوزي نواودس نه ماتیږي ځکه چې اودس ماتونکئ شی مرداړه (یعنی دمردارۍ په راوتلو سره اودس ماتیږي)اودلته نه ده موجوده شوی خوکه دپیچکاري ځخه مقصدوینه را استل وي نوپه دغه سره اودس ماتیږي.
(نظام الفتاوی مخ۲۴لومړی توک بحواله عالمگیری مخ۹لومړی توک ودرمختارمخ۹۰لومړی توک)

مسئله: دپیچکاري یادبل شي په ذریعه وینه را ویستل که راویستل شوي وینه پراندازه دبهیدلووي اودس ماتوي په کبیری کښې راغلی دی چې ښکرلګول اوډیره وینه له تپ ځخه ویستل که څه هم دتپ ښکاره دذری برابروینه نه ولګیږي په دغه سره اودس ماتیږي په تیروخت کښې دښکرلګولو شي (دپیچکاري پشان)سوری ښکروو او په نوي وخت کې پیچکاري هغه دښکردالي هغه شي چې وینه به په راوتله)بدل شوی صورت دی دژوري دویني ځښونکي حیوان)په ذریعه وینه راویستل کیږي ددي هم حکم همدغه دی.
(فتاوی رحیمیه مخ۲۶۸توک خلورم بحواله درمختارمخ۱۲۹لومړی توک وکبیری مخ۱۳۴)

وریدی پیچکاري په رگ کښې دلگونکي پیچکاري

عضلاتی ؛په غوښه کښې دلګونکي پیچکاري

جلدی ؛په پوست کښې دلګونکي پیچکاري. مولانامحمدرفعت قاسمی غفرله

ایادمخصوصي برخی سره لاس ښلول اودس ماتوی ؟

مسئله : دمخصوص اندام سره لاس نښلول اودس نه ماتوي كه څه هم سره له شهوته وي (داهغه وخت چې مذي يابل شي نه راووزي)هغه كه ورغوي ياد ګوتو دننه برخه ورسره ونښلوي.

مسئله: همدارنګه دبدن دنوروبرخوسره لاس نښلول يعني مسح كول اودس نه ماتوي لكه څنګه چې يوڅوك دخپلو بولوځاى په لاس سره مسح كړي نواودس يې نه ماتيږي خوكه ګوته يايوبل شى دبيلګى په توګه په حقنه يعني ددواوركولودنلكى سرداخل كړي اوهغه پكښې پټ شونو اودس ماتيږي ځكه چې دغه عمل ددننه برخه كښې ديوشى اچول ياځينى راويستلوسره برابردى كوم چې اودس ماتونكى دى يعنى اودس ماتيږي .

مسئله: كه يوڅه برخه داخله وى خودننه نه وى پټه شوى نوڅه وخت چې راوايستل شى ورته كتل كيږي كه هغه لنده وه يادهغې بدبويي تله نو اودس ماتيږي كه دارنګه نه وه بيا اودس نه ماتيږي همدارنګه كه ښځې خپله ګوته ياپمبه يابل شى په خپل فرج كښې واچوي اولوند راوواتى نواودس يې ماتيږي كه دارنګه نه وو بيايي اودس نه ماتيږي.
(كتاب الفقه مخ ۱۴۰ اومظاهرحق مخ ۳۲۷ لومړى ټوک)

مسئله: دفرج سره په لاس لګولوكى اودس نه ماتوي په دى شرط چې مذي (داهغه اوبه دي چې وچاته په شهوت كتلوسره راوزي)اونه راووزي. (آپ كى مسائل مخ ۴۱ ټوک دوهم)

مسئله: دبدن اندامونه مسح كول خواه هراندام وى اودس نه ماتوى يعنى اودس يې نه ماتيږي دمسح كوونكى ياهغه چې مسح كيږي دواړه بربنډوى لكه څنګه چې يوڅوك اودس وكړي دخپلې ښځې سره

په یوه بستره کی پریوزی اودواړه هم بربنډوی اودیوه بدن له بل سره ولګیږی نودیوه اودس هم نه ماتیږی په دی شرط چی له دوو شیانو سره به نه وی مخامخ شوی یوداچی مذی یابل به نه وی وتلی دوهم داچی یودبل فرجونه به نه وی سره لګیدلی په دغه صورت کښی دنارینه اودس ماتیږی که ودته دذکرپورته کیدل راغله اوددواړو تر منځ دبدن دحرارت دمنع کولوهیڅ پرده نه وه لیکن دښځی اودس خالص دفرجوپه مښلوسره ماتیږی هغه وخت چی دسړی ذکرپورته شی.

مسئله: که دوې ښځې دبربنډوالی په حالت کښی یوځای شوی اوددوی فرجونه یوله بل سره ولګیدل نوددواړواودس ماتیږی.
(کتاب الفقه مخ۱۳۷لومړی ټوک درمختارمخ۲لومړی ټوک)

مسئله:که ددووبالغوانسانانوفرجونه یوله بل سره ولګیږی اودواړه نارینه وی یادواړه ښځینه وی یایونارینه اوبل ښځینه وی په دی شرط چی ترمنځ به یی داسی شی نه وی چی دبدن ګرموالی بندکړی یعنی یوله بله یی احساس نشی کولای نواودس یی ماتیږی.
(علم الفقه مخ ۶۷تر۶۹لومړی ټوک آپ کی مسائل مخ ۳۸ټوک دوهم)

مسئله دنارینه اوښځینه خاص اندام ته (فرج) ویل کیږی دشهوت په وخت کښی په دوی کی قدرتی ولاړیدل پیداکیږی ودی ته انتشار ویل کیږی ددغه په یوځای کیدوسره اودس ماتیږی په دی شرط چی دواړه فرجونه په انتشارکښی وی اوترمنځ یی یوجامه یابل شی نه وی اوبربنډسره یوځای شی که څه هم مذې راونه وزی هغه که ددوو ښځو یوځای کیدل وی اوکه یوی ښځی اونارینه ترمنځ وی. (درمختارمخ۲لومړی ټوک)

مسئله: داودس کولو وروسته دیو چاعورت (دبدن هغه برخه چې پټول يي ضروري دي)لیدل یاخپل عورت یي ښکارشویایي دبربنډوالي په حالت کښې غسل وکړی نودده اودس صحیح دی دوهم ځل داوداسه راګرزولوضرورت نشته لیکن بیله ضرورته دیو چاعورت لیدل یاخپل عورت ښکاره کول ګناه ده. بهشتی زیورمخ ۳ لومړی توک اوفتاوی دارالعلوم مخ ۱۴۲ لومړی توک

مسئله: دنارینه یاښځی له عورت لیدلوځخه یادعورت دلوځیدلو ځخه یادخپل عورت له لیدلوځخه اودس نه ماتیږی.(علم الفقه مخ ۷۰ لومړی توک)

مسئله: داوداسه په وخت کښې زنګون ښکاره کول په اوداسه کښې هیڅ تاوان نه لري خودنورو مخته زنګون ښکاره کول ګناه ده.

(احسن الفتاوی مخ ۲۴ توک دوهم فتاوی دارالعلوم مخ ۳۵ لومړی توک)

مسئله: که نارینه یاښځینه په خپل خاص غړی کښې تیل یاپوبله دوایا اوبه دپیچکاری په ذریعه واچولی اوهغه بیرته دباندی راووتلی نوپه دغه سره اودس نه ماتیږی ځکه چې په خاص غړی کښې مرداری نه پاتیږی ددی لپاره چې دا احتمال نشی پاته چې دغه تیل یادواپرمرداری ولګیدله اوبیرته راووتله. (علم الفقه مخ ۷۰ لومړی توک)

نارینه یاښځینه که په خپل خاص اندام کی پنبه اونورکښیږدی

مسئله: سړی که ښځه یادښځی خاص ځای یادیوچامشترکه برخه یاخپله خاصه برخه مسح کړه نواودس یي نه ماتیږی همدارنګه دښځی اودس دنارینه یادنارینه په خاص ځای یادحصی مشترکی یادخپل خاص ځای په مسح کولوسره اودس نه ماتیږی.

مسئله: که سړی یا ښځه په خپل خاص اندام کښې یو شی لکه جامه
پنبه یا نورشیان کښیږدی اومرداری له دننه څخه راووزی دغه جامه
لنده کړی نو اودس نه ماتیږی په دی شرط چی دجامی پردباندی برخه
به یي دمرداری هیڅ اثرنه وی یادغه جامه په خاص ځای کښی دارنګه
کښیښودل شی چی دباندی نه ښکاریږی.
لوسړی مثال یوسړیٔ په خپله خاصه برخه کښی پمبه کښیږدی اوبولی
یامنی دخپل خاص ځای څخه راغله پمبه یي لانده کړه خودپمبی هغه
برخه کوم چی دباندی ښکاره کیږی نه وی لنده شوی یاپمبه په خاصه
برخه کښی دارنګه پټه شوی وی چی له دباندی څخه بالکل نه
ښکاریږی نوپه دغه صورت کښی که تهٔ له پمبه لانده شی هم ددغه
سړی اودس نه ماتوی (دوهم) یایوی ښځی په خپل خاص ځای کښی
پمبه یاجامه کښیښودل اوبولی یاحیض له خپل ځای څخه دغه پمبه
یاجامه لنده کړه خودجامی هغه برخه چی دباندی ښکاره کیږی نه وی
لنده شوی یادغه پمبه یاجامه په خاص ځای کښي دارنګه پټه شوی
وی چی له دباندی څخه نه معلومیږی نوپه دغه صورت کښی که تهٔ له
جامه یاپمبه لانده شی هم ددغه څخه نه معلومیږی نوپه دغه صورت
کښی که تهٔ له جامه یاپمبه لنده شی هم ددغی ښځی اودس نه ماتیږی.
مسئله: که یونارینه یاښځینه په خپله مشترکه برخه کښی پمبه جامه
یابل شی کښیږدی اوددی پمبه هغه برخه چی دننه ده په مرداری ولړل
ا- شی خو هغه برخه چی دباندی ده لنده نه شی یاهغه هم لنده شی اوهغه
په مشترکه برخه کښی دارنګه پټ شوی وی چی له دباندی څخه نه
ښکاریږی نوپه دغه تهٔ لوصورت کښی اودس نه ماتیږی.

(علم الفقه مخ۷۰لومړی ټوک)

مسئله: که یوسړی دیوحیوان سره بدکاری وکړی نوددغه سړی اودس ترهغه نه ماتیږی چی منی یامذی نه وی راوتلی

مسئله: منی دخپل ځای څخه ووتل خوهغه خپل خاص ځای دومره ټینګ کړی چی منی دباندی بالکل نه راووز ی نواودس یي نه ماتیږی(اوغسل نه واجبیږی)

مسئله: که دووکسانوخپلی خاص برخی سره یوځای کړی اوویي مو ښلی خوترمنځ یي داسی پنډه جامه واقع وه چی یودبل دبدن ګرموالی یي محسوس نه شوای کړای نواودس نه ماتیږی دواړه نارینه وی یادواړه ښځینه یایونراوبله ښځه وی یانابالغ وی. (علم الفقه مخ۷۲لومړی ټوک)

په فرجوکښی دګوتوداخلولوسره داوداسه حکم

مسئله: که یوڅوک دخپلی ښځی په فرجوکښی ګوتی وهی نودښځی اودس مات شوکه پرګوتوجامه وی اوکه نه وی ځکه څه وخت چی ګوتی راوزی نوخامخامرداری پرلګیږی اومرداری راوتل اودس ماتوی خوکه ګوتی په دننه فرج کی نه شی ولاړی نواودس نه ماتیږی. (احسن الفتاوی مخ۲۰ټوک دوهم)

مسئله: که دلمانځه په دوران کښی دبولوله ځای څخه چینجی راووت . نواودس ماتیږی لمونځ یي نه صحیح کیږی. (احسن الفتاوی مخ۲۲ټوک دوهم

دفرج پرښکاره برخه ګوتی لګولوسره داوداسه حکم

پوښتنه:که یوښځه چی دنس ناستی په ناروغی اخته وی دلمانځه یاتلاوت په دوران کښی دیوڅه ځنډوروسته دننه پوست سره یي ګوته ولګوله ددی لپاره چی معلومه یي کړی چی ایااوبه راوتلی دی کنه که یي په دغه طریقه سره معلومه کړه خوځای بالکل پاک وو نوپه دغه

صورت کښې دفرض په مسح کولو اولیدلو سره اودس ماتيږي که نه ماتيږي ؟

ځواب : په دغه عمل سره اودس نه ماتيږي خو په دننه سوري کې ګوته اچول اودس ماتوي ځکه چې دګوتې سره دننه مرداري هم راوزي.
(احسن الفتاوی ص۲۶ ج۲)

مسئله: که يوڅوک داودس کولو وروسته پرڅپل فرج لوندوالی وو ينې چې بهيږي نوهغه دی دوهم اودس وکړي اوکه وده ته نه معلو ميده چې داڅه دي ؟يعنی خالص وهم وي په حقيقت څه شی نه وي نو سوچ دی نه پکی وهی شیطانی وسوسه دی وبولی باک دی نه په کوی.
(کشف الاسرار مخ۱۸ الومړی توک)

درنګ شوو نوکانوسره اوداسه حکم

مسئله: نن سبا چې ښځې پرنوکانوباندی رنګ کريم لګوی دهغه رنګ پرنوکانوباندی دپاته کيدوپه وخت کی اودس اوغسل نه صحيح کيږي ځکه چې درنګ له کبله اوبه ونوکانوته نه رسيږي په دغه صورت کی دښځولمونځ نه صحيح کيږي اوڅومره لمنځونه چې يي کړي وي تردغه مهاله دهغوراګرزول واجب دی. (احسن الفتاوی مخ۲۶ توک دوهم نمازمسنون مخ۷۲)

مسئله: دارنګه ښائيست حرام دی چې دشرعی فرائضودصحت لپاره منع کونکی شيان وی چې وبدن ته اوبه نه پريږدی دهغودموجودګی په وخت کښې اودس اوغسل نه دی رواکه څه هم دوينته په برابروچ ځای پاتی شی نه يی اودس اونه هم غسل صحيح کيږي فقهاحضرات وچ اخښل شوی اوړه داودس دصحت لپاره ئی منع کونکي بللی ده

سره له دې چې هغه دنوکانو درنګ په څیر نه ټینګیږي اوددې ضرورت هم نشته نودنوک درنګولو ایجازه به څنګه وشي څومره لمنځونه چې يې درنګ لګولو په وخت کښې کړي وي دهغورا ګرزول واجب دي اوله دې سره سره دې توبه او استغفار هم وغواړي. (احسن الفتاوی مخ۲۷ټوک دوهم بحواله ردمحتارمخ۲۲۴لومړی ټوک)

مسئله: سرخي (چې پرشونډانولګول کیږي)یاپوډر یاکریم که ولګول شي اودس ورسره صحیح کیږي په دې شرط چې يومردارشي نه وي ورسره ګډکه دنوکانودرنګ په څیر سرخي خورونيسي نواوداسه کولوپه وخت کښې دهغه لرې کول ضروري دي (داهغه وخت چې اوبه لاندې نه پریږدي)

مسئله: وښځې ته داودس کولوپه وخت کې ټکري اړول ضروري نه ده خودښځې چې څومره وس وشي بايدسرنکړي لوڅ خواودس صحیح کیږي. (آپ کی مسائل مخ ۴۳ټوک دوهم)

مسئله: پرسرياپرېږه دنکريځووچيدلووروسته داودس دصحیح کیدولپاره وچې نکريځې لرې کول ضروري دي.(آپ کی مسائل مخ۴۲ټوک دوهم) دنکريځور نګ واوداسه اوغسل ته هیڅ تاوان نه رسوي. محمدرفعت قاسمی

دسوزک دناروغی په دوران کښی داوداسه دساتنی تدبير

پوښتنه:ديوی ښځې اوبه (دبولوله ځای څخه)خارجيږي اوودې ته دا نه معلوميږي چې دااوبه څه وخت راځي ترڅوچې ښځه دااوبه نه ويني کله لربهيږي اوکله ډيرې دلمانځه له پيل څخه مخکې دي وکتل هيڅ ناپاکي يي نه وليده خودلمانځه لس دقيقې وروسته يي وکتل اوبه

راوتلې خوپه پوست کښې دننه وي اوله دې ځخه پرپاې جامه هيڅ تپ نه وولګيدلې تقريبالمونځ دري پاوه جاري وو۲۵دقيقې وروسته يي وليدل چې اوبه راوتلې وي نواياپه دې صورت کښې لمونځ کيږي يانه ؟ځه وخت چې ودې ته هيڅ خبرنه وي چې ايادغه دلمانځه په دوران کې راوتلې دي که له لمانځه ځخه وروسته که له دې ځخه لمونځ نه وي صحيح شوې نواياتوله لمونځ راوګرزوي که صرف فرض؟

ځواب : کوم وخت چې دلمانځه په منځ کښې داوداسه دماتيدويقين نه وي نولمونځ کيږي دغه ناروغه دي په خپل فرج کښې اسپنج کښيږدي دغه اوبه جذب کوي کوم وخت چې داسپنج پرهغه دباندنې برخه لوندوالې نه وي راغلې په دغه وخت کښې اودس نه ماتيږي.

(احسن الفتاوی مخ۸ټوک دوهم)

مسئله: دډيروښځوسپيني اوبه هميشه بهيږي هغه که ځه هم له يو وجې ځخه وي اودس ماتونکې دي (ددې دراتلواوتلوځخه اودس ماتيږي) اوناپاکې دي خوکه دغه اوبه هميشه بهيدې نودغه ښځه معذوره بلل کيږي. (امدادالفتاوی مخ۱۱۲الومړی ټوک)

دمواسيروچې کوم لندوالې دباندې نه شي راددې حکم

پوښتنه :دمواسيرودانې ځه وخت چې موادځيني ووزي ديوجال پشان کيږي په هغوی کې لندوالې وي خوبهيدونکې نه وي خوپه ولاړه اوناسته کې جامې ورسره لګيږي نواياپه دغه صورت کې او دس ماتيږي اوجامې ناپاکه کيږي؟

ځواب : که لوندوالې له تپ ځخه دباندې ونه بهيږي نواودس نه ماتيږي اوجامې هم نه خرابيږي ځکه چې قاعده کليه (عامه) ده

فقهأحضرات ليکې (ماليس محدث ليس بنجس) کوم شی چی اودس نه ماتوی هغه مردارنه دی نوکوم صورت چی تاليکلی دی په دغه کي اودس نه ماتيږی اونه جامه ناپاکه کيږی.

(فتاوی دارالعلوم مخ۳۷ الومړی توک بحواله ردمحتار مخ۱۲۰ الومړی توک باب نواقض الوضوء)

مسئله: که مواسيرې سرې هغه غوښه چی دمواسيروڅخه په پاخانه کنبې پيداکيږی په لاس سره دننه کړه نواودس يي ماتيږی اوکه هغه غوښه پخپله دننه شوه نواودس نه ماتيږی خوکه مرداری ښکاره وه بيايي اودس ماتيږی همدارنگه که ديوچادبولوله ځای څخه چينجی نيم راووت اونيم دننه وو بياهغه بيرته پخپله ننووت نواودس نه ماتيږی (داهغه وخت چی مرداری نشی ايله . (کشف الاسرار مخ۶ الومړی توک)

دليونی داوداسه حکم

مسئله: که ديوچاپه حواسوکنبې گډوډی راشی خودغه دحواسوگډ والی دليونتوب اوبی هوښی ودرجی ته نه ورسيږی نواودس يي نه ماتيږی. (علم الفقه مخ۷۰ الومړی توک)

مسئله: پربې عقله ليونی بی هوښه اوپرهغه چی حواس ئی گډوډ شوی وی اودس واجب نه ده که اودس وکړی اودس يي نه ده صحيح لکه څنگه چی يوفاترالعقله (چی عقل ئی ختم شوی وی)اودس وکړی څه موده وروسته ددغه ناروغی څخه جوړشی په دغه اودس سره لمونځ نه دی رواودليونتياوهلی انسان هم دغه حکم د ی.(کتاب الفقه مخ۸۲ الومړی توک)

مسئله: بی هوښی اوليونتوب اودس ماتوی (که يي اودس درلودی) اوپه هغه نشه سره هم اودس ماتيږی چی دهغه له کبله دسړی په تگ

کنبی کړوالی راشی دغه نشه که څه هم دبنګو دخوړلوله کبله وی (یادشرابو څښلویانوروشیانوڅخه وی. (درمختاراوردومخ ۱۰ لومړی ټوک

مسئله: که صحتمند شی ددہ لپاره غسل کول مستحب دی همدارنګه بی هوښه سړی که صحتمند شی نو غسل کول مستحَب دی.

مسئله: که سړی بی هوښه شی یایی له لیونتوب څخه عقل سلب شی نوددغه سړی اودس ماتیږی که څه هم بیٰ هوښی لږ موده وی همدارنګه که سړی تمباکو (سګریټ چلم) یایوبل دنشی شی وخوری اودومره نشه شی چی سم تګ نه شی کولای پښی یي دلته اوهلته کیږی نواودس یي ماتیږی (بهشتی زیورمخ ۵۲ لومړی ټوک بحواله عالمګیری بابماینقض الوضؤمخ ۱۷ لومړی ټوک مظاهرحق جدید مخ ۲۷۳ لومړی ټوک)

مسئله: که داوداسه کولوورسته عقل ختم شی هغه که دمیرګئ ددوری یادلیونتوب یادبی هوښی څخه وی یادداسی شی له استعمال څخه رامنځته شی چی دهغه له کبله عقل کارپریږدی دبیلګی شراب بنګی یادنوروشیانوڅخه رامنځته شی همدارنګه ټول هغه شیان چی سړی غافله کوی ماتونکی دی بلکه په خوب کی داسی شیان رامنځته کیږی یاواقع کیږی چی اودس ماتیدوسبب وګرزی. (کتاب الفقه مخ ۱۲۱ ټوک لومړی)

دخوب له وجی سړی په خپل حال نه خبریږی. (محمدرفعت قاسمی)

مسئله: خالص دشراب څښلوڅخه اودس نه ماتیږی ترڅوچی نشه نه راولی خوخوله په مرداریږی ځکه چی شراب مرداردی ددوی څښل حرام دی. (فتاوی محمودیه مخ ۳۶ ټوک دوهم)

مسئله: هغه څوک چې همیشه شراب څښي دده غه کس له بدن څخه په خولو او تلو اودس نه ماتیږي. (علم الفقه مخ ۳۲ او مخ ۷۳ لومړی ټوک او کتاب الفقه مخ ۲ لومړی ټوک)

مسئله: په ګناه کولو سره یا په کافر کیدلو سره اودس نه ماتیږي.

مسئله: په چلم، بیړی، پان، او سګریټ، سره اودس نه ماتیږي (په دې شرط چې دنشې له کبله یې عقل ولاړ نشي) خو دلمانځه څخه مخکښې دخولې بدبویي لرې کول ضروري ده که دخولې څخه دچلم یا سګریټ یا نورو بوي راځي نو لمونځ مکروه ده.

(آپ کی مسائل مخ ۴۱ ټوک دریم او فتاوی دارالعلوم مخ ۱۴۳ لومړی ټوک)

مسئله: که یو چا اودس وکړی اوله اوداسه وروسته یې دمسلمان ورور غیبت وکړاو یایې دروا غ وویل یا کافر شو دده غه کس اودس نه ماتیږي. (علم الفقه مخ ۷۳ لومړی ټوک)

یعنی دغه دغیبت کونکی اودرواغجن او دکفر مختارولو څخه ورو سته بیرته ترمسلمانیدو پورې په هغه اوداسه لمونځ کولای شي په دې شرط چې په بله وجه یې اودس نه وی مات کړی. (محمد رفعت قاسمی غفرله الباری)

په اوداسه کښې دګرمکو (دګرمۍ دانې) څخه داو بوو تلو حکم

مسئله: دګرمۍ او باران په موسم کې زیات وخت دګرمۍ دانې راوزي او په ماتیدلو سره او به ځینې بهیږي که ددانې له ماتیدو څخه او به خپله نه وبهیږي بلکه دلاس یا دجامې دنښلیدو سره وبهیږي نو اودس نه ماتیږي او که تېپ له او بو څخه ډک شي او به پورته ځینې راغلي اوددانې دسورې څخه راووتي په نورځای کې خورې شوې خود ډکیدو له کبله لاندې ایله نه شوې نو ددې له کبله په اودس ماتید لو کې

اختلاف ده راجح قول دادی چې اودس نه ماتیږی یعنی په دغه سره اودس نه ماتیږی. (احسن الفتاوی مخ ۲۹ توک دوهم بحواله ردالمحتار مخ ۱۲۵ لومړی توک)

مسئله: هغه دانی چې له خارش څخه پیداشوی وی ځینی وخت مسلسل اوبه ځینی بهیږی که دغه اوبه له خپل ځای څخه وبهیږی نواودس ماتوی (یعنی څه وخت چې دغه اوبه له خپل ځای څخه تیری شی دزیاتیدوله کبله نواودس ماتونکی دی اوپرکومه جامه چې ولګیږی هغه خرابوی. (فتاوی محمودیه مخ ۳۲ توک دوهم)

له اوداسه کولووروسته غوښه راووزی

مسئله: که دیوی مشترکی برخی څخه یوجزراووزی چې وهغی ته کولمه وائی (دناروغی له کبله دبولوله ځای څخه راووزی) ایله کیږی نوپه دغه سره اودس ماتیږی هغه که پخپله بیرته دننه شی اوکه دیو شی په وسیله سره ئی دننه کړی.

(بهشتی زیورمخ ۱۳ توک یوولسم بحواله شامی مخ ۱۵۵، علم الفقه مخ ۶۵ لومړی توک)

مسئله: داوبوچینجی یامنګورچې زیات وخت په حیواناتوکښې پیدا کیږی یایوبل حیوان که دومره وینه وڅښی که هغه پریدن پریښودل شی نوپریدن بهیږی نواودس ماتوی. (علم الفقه مخ ۶۵ لومړی توک)

مسئله که یوچاجونک ولګاوی (هغه حیوان چې وینه څښی) اوپه جونک کښې دومره وینه راغله که هغه دپای له خواپرې شی نووینه څنې وبهیږی نواودس یې ماتیږی که دومره زیاته ئی نه وی څښلې بلکه لږئی څښلې وی نواودس نه ماتوی.

مسئله: که غماشی مچ یامنګورینه وڅښله نواودس نه ماتوی.

(بهشتی زیورمخ ۱۵ لومړی توک کبیری ۳۴)

وراخه(چې په سپي غوايا ګامېښه کښې پيداشي)دأوداسه په ماتو لوکي دمنګوړيشان دي منګوړياوراځه که دومره لوی نه وی چې بهيدو ونکي وينه ئينې راوزی نوکه سړی وخوري نواودس نه ماتوی لکه دغماشي اومچ په خوړلوسره چې اودس نه ماتيږی ځکه چې په دوی کښې بهيدونکی وينه نه وی.   محمدرفعت قاسمی

په اوداسه کښې ددانوپه اړوندمسئلې

مسئله: که يوڅوک هغه خورچې پردانه برسيره دی ددانی څخه واړوی اوله هغی چې لاندی کومی وينې اونوونه دی هغه ښکاره شی خوله خپله ځايه څخه نه وبهيږی بلکه پرخپل ځای باندی ولاړوی نواودس نه ماتيږی.

مسئله: که په دانه کی لوی ژورغاروی نوترڅوچې وينه يانوونه دننه په دانه کښې وی دباندی راشی خوړبدن نه وبهيږی تردغه وخته پوری اودس نه ماتيږی.

مسئله: که له دانی څخه پخپله وينه يانوونه نه راووزی بلکه دهغی په کښيکښلوسره راووزی بياهم اودس ماتيږی داهغه وخت چې هغه وينه وبهيږی.

مسئله: که ديوچاله تپ څخه لړلړوينه راتله پردغه تپ باندی خاوره واچول شی اويائې په جامه سره وچه کړی بياله دی وروسته لړلړ راوتله اوده وچوله همدارنګه يې څوځله دغه عمل وکړی ددی لپاره چې وينه نه وبهيږی نوکه په زړه کښې داوړته معلومه وه چې که دغه نه وچيدلای نوبهيدله بيااودس ماتيږی.

(بهشتي زيورمخ ۵۰ لومړى ټوک بحواله ردالمحتارمخ ۱۷ لومړى ټوک اوشرح تنويرمخ ۲۵ لومړى ټوک اوكتاب الفقه مخ ۱۲۹ لومړى ټوک)

مسئله: كه دژوندى انسان له بدن څخه وينې اونوونه يابل ناپاكه شى راووتلونواودس ماتوي په دې شرط چې هغه شى دانسان له بدن څخه وځيځيږي اوله خپل ځاى څخه وبهيږي و هغه ځاى ته ورسيږي چې هغه ځاى مينځل په اوداسه ياغسل كښې واجب وي.

مسئله: كه دژوندى انسان له بدن څخه يوناپاكه شى ووتلوخودخپل ځاى څخه ونه بهيدى خودارنګه ووكه هغه پرخپل ځاى پريښودل شى نوضرورله خپل ځاى څخه وبل ځاى ته ځي نواودس ماتوي.

(علم الفقه مخ ۶۵ لومړى ټوک)

مسئله: كه دبدن ديوبرخى څخه سپينى اوبه راووزي اوددغه له راوتلو څخه انسان ته تكليف وي هغه كه په ښكاره يوتپ معلوميږي يانه وكه ددغه له راوتلو څخه تكليف نه وي خوډاكټرياطبيب يې تجويز كړي اوپه يو طريقه سره يې معلومه كړي چې دغه نوونه دى اوديوتپ څخه راوزي بياهم اودس ماتيږي. (علم الفقه مخ ۶۴)

مسئله: ديوچاپربدن باندى دانه وي له هغه څخه وينه يانوونه راووزي له دى كبله يې پمبه پرلګولى وي پټي يې پرلګولى وي دننه لړلړوينه راووزي خودپټي له كبله دباندى نه راووزي كه دومره وينې راوتلى چې نه بنديدلى دتپ له ځاى څخه تيريدلى نو اودس ماتيږي.

(فتاوى رحيميه مخ ۲۶۸ ټوک خلورم بحواله كبيرى مخ ۱۳۰ وشامى مخ ۱۲۹ لومړى ټوک اوعلم الفقه مخ ۶۵ لومړى ټوک)

په اوداسه کښې دټپ په اړوندمسئلې

مسئله: که ديوچا ټپ وي له دغه ځخه چينجي راووت ياله غوږځخه راووت يادټپ ځخه يوڅه غوښه بيله شوه اوخپله ايله شوه اووينه نه وبهيده نوپه دغه سره اودس نه ماتيږي.
(بهشتی زیورمخ۴۹لومړی ټوک مظاهرحق مخ ۳۲۷لومړی ټوک)

مسئله: که وټپ ته له اوبوځخه زيان رسيدی نوپرهغه دی دمينځلو پر ځای مسح وکړی.

مسئله: که له ټپ ځخه هميشه وينه بهيدله اوپه يوه وخت کښې هم نه دريدله نودهرلمانځه په پوره وخت کښې يوځل اودس کول کافي دی اوکه کله بهيده اوکله نه بهيده نوڅه وخت چې وينه راوزی اووبهيږی نودوهم ځل دی اودس وکړی. (آپ کی مسائل مخ۳۷ټوک دوهم)

مسئله: که له ټپ ځخه وينه راووتله په ټپ کښي ولاړه وه اوټپ هم دارنګه ټپ ووچې اوبوورته زيان رساوو نواودس په دغه صورت کښي نه ماتيږي. (علم الفقه مخ۷۱لومړی ټوک)

مسئله: که داوداسه پراندامو باندی ټپ وواوداسه وروسته که دهغه ټپ ځخه پوست (خور)لری کړل شو اودس نه ماتيږی اونه ددغه ځای دوهم ځل دمينځلوضرورت شته که دپوست په لری کولوکښې تکليف وی که نه وی. (علم الفقه مخ۷۲لومړی ټوک)

مسئله: که يوچاښکرولګاوو (يعنی دټپ يابل ځای ځخه يې وينه وکښله يايې يوځای مات شواووينه ووتله ياله دانوځخه ياپه ټوله بدن کښې له يوځای ځخه نوونه ياوينه راووتله نواودس ماتيږی خوکه دټپ په خوله کښې ودريده مخته نشوه زياته نواودس نه ماتيږی که په

برابرې ډيوي زرې وبهيده بيااودس ماتوي. (بهشتی زيورمخ۰ ۵لومړی توک بحواله غنيه مخ۱۲۸)

مسئله: كه پرتېپ پټي تړل شوي وي اوذويني يادبل شي لوندوالي پرپټي ښكاره شونوپه دغه وخت كنبي اودس نه ماته كيږي ځكه چې دغه لوندوالي دبهيدلوپرځاي دي كه دغه پټي نه واي نووينه بهيدله. (كشف الاسرارمخ۴اوركن الدين مخ۴)

مسئله: كه ديوچادارنګه تپ ووچي هميشه به بهيدی اوڅه وخت چې به يي اودس وكړبل تپ به پيداكيدی اوبهيدی به نواودس يي ماتيږي دوهم ځل دي اودس وكړي.
(بهشتی زيورمخ۵۴لومړی توک بحواله شرح البدايه مخ۴۷لومړی توک اوكتاب الفقه مخ۸۰لومړی توک)

مسئله: كه دتپ څخه وينه راوتله اوجامي ورسره نښتي خوبهيدلي نه نوپه يومجلس كنبي راغلي هرواردجامي لګيدووينه دي اندازه كړي كه داوينه دومره كيدله چي كه جامه جذب نه واي كړي نوبهيدله نواودس ماتيږي كه دومره نه وه نه ماتيږي كه په يومجلس كي دومره وينه نه وه بلكه دمختلفومجلسونومجموعه دومره شوه هغه اودس نه ماتوي يعني په دغه سره اودس نه ماتيږي. (احسن الفتاوی مخ۲۸دوهم توک بحواله ردمحتارمخ۱۲۵لومړی توک)

مسئله: كه دتپ له كنبيكنبلوياپرهغه باندي دزورزاوستلوڅخه لوندوالي (بهيدونكی) راووزي اودتپ له ځاي څخه وبهيږي نواودس ماتيږي اوكه راووتي خومخ ته نه وبهيدي بلكه په تپ كنبي يي دننه قرارونيوي نواودس په دغه صورت كنبي نه ماتيږي غرض دادي چي بيله قصدزورپرتپ راوستل اوقصداكنبيكنبل سر

بدي او که ښځه زورباندې راغلې اوبهيدونکي لوښوالي راووت کوم چې کښېکښېل شي راووزي او وبهيږي نو اودس ماتيږي۔
(فتاوی دارالعلوم مخ۲۳۷ لومړی ټوک بحواله ردمحتارمخ۱۲۷ لومړی ټوک)

په اودسه کښې له سترګې څخه داوبوراوتلوپه اړوند مسئلې

مسئله: دتيزې روښنائي دلمردشعلو ديپيازودکوټلواوپه لمانځه کښې دټوخې له بندولو څخه له سترګو اوبه راوتل اودس نه ماتوي يعنې په دغه اوبوراوتلوسره اودس نه ماتيږي که دسترګې دخوږوالي په حالت کښې اوبه څيني راوغورزيدلې يانوونه څيني راووتل نوپه دغه صورت کښې اودس ماتيږي اوبيله خوږوالي اوتکليف دسترګې څخه اوبه راوتل اودس نه ماتوي.
(فتاوی رحيميه مخ۲۷۶ ټوک څلورم بحواله درمختارمخ۱۳۷ لومړی ټوک)

مسئله: دپاک شي په راوتلوسره اودس نه ماتيږي لکه اښکې اوخوله.
(علم الفقه مخ۷۳ لومړی ټوک اودرمختارمخ۹۴ لومړی ټوک)

مسئله: که په سترګه کښې دانه ماته شي اودباندې نه راووزي نو اودس نه ماتيږي خو که دباندې راووزي بيا اودس ماتوي.
(شرح نقايه مخ۶۷ علم الفقه مخ۷۲ لومړی ټوک)

مسئله: که ديوچاپه سترګه کښې دننه دانه وه اوماته شوه ياهغه ځپله ماته کړه او اوبه ئې ونه بهيدې په سترګه کښې خورې شوې دباندې نه راووتې اودس نه ماتيږي او که دباندې راووتې بيا اودس ماتيږي.
(بهشتی زیور مخ۰ دلومړی ټوک)

مسئله: هغه اوبه چې دسترګې څخه وغورزيږي ترڅوچې په دغه اوبوکښې تغيرنه وي راغلې دبيلګې په توګه په دغه کښې سوروالي

یابل رنګ نه راغلی بلکه پاکی اوبه وی په دغه اودس نه ماتیږی اومرداری هم نه ده.
(فتاوی دارالعلوم مخ۱۴۴ الومړی ټوک بحواله ردمحتارمخ۱۳۷ الومړی ټوک آپ کی مسائل مخ۳۷ ټوک دوهم اوفتاوی رشیدیه مخ۲۸۳ ټوک لومړی)

مسئله: ددرد له کبله که له سترګو څخه اوبه راووزی په دغه سره اودس ماتیږی. (فتاوی دارالعلوم مخ۱۴۱ الومړی ټوک)

مسئله: درانجی دتیزی یادهغه دلګولو څخه کومی اوبه چی دسترګ څخه راووزی اودس نه ماتوی. (فتاوی دارالعلوم مخ۱۴۴ الومړی ټوک بحواله ردمحت مخ۱۳۷ الومړی ټوک کتاب الطهارات)

مسئله: دنزلی له کبله که ترسترګواوبه بهیدی اودس نه ماتوی او ک دسترګو څخه اوبه دیوتپ له کبله بهیدی خوهغه تپ ښکاره معل میږی یادیوطبیب دمعائني په وجه معلوم شی نوددغه تپ څخه او. وتل اودس ماتوی. (بهشتی زیورمخ۲۵ لومړی ټوک تفصیل وګوری فتاوی دارالعل مخ۱۳۵ الومړی ټوک اوشامی مخ۱۳۷ الومړی ټوک)

په اوداسه کښی دغوږواوغابښ په اړوندمسئلې

مسئله: که دیوچاپه غوږکی دانه ماته شی ترڅوچی وینه یانوونه د: په غوږ کښی پرهغه ځای باندی وی چی وهغه ځای ته اوبه رسول غسل کښی فرض نه وی تردغه وخت پوری اودس نه ماتیږی او پرداسی ځای باندی راغلی چی دهغه ځای مینځل په غسل کښ فرض وو نواودس ماتوی. (بهشتی زیورمخ۵۰ لومړی ټوک بحو ردمحتارمخ۱۷ الومړی ټوک اوشرح تنویرمخ۲۵۰ لومړی ټوک اوکتاب الفقه مخ۱۲۹ الوم ټوک)

مسئله: ديوچاغوږدردکوی اودغوږڅخه اوبه راوزي نودغه اوبه چې دغوږوڅخه بهيږی پليتی دی که څه هم دانه ښکاره نه وی بس د دغو له وتلوسره اودس ماتيږی داهغه وخت چې دغوږ دسوری څخه راوو زی وهغه ځای ته ورسيږی چې دهغه مينځل په غسل کی فرض وی.

مسئله:همدارنګه که له نو څخه ددردپه حالت کښی اوبه راووتلی اودس ماتوی. (بهشتی زيورمخ۵۲لومړی توک بحواله درمختارمخ۱۷لومړی توک)

مسئله دغوږڅخه په خيری راوتلوسره اودس نه ماتيږی خوکه دغوږو څخه بهيدلی يايي په غوږ کښی ګوته واچوله اوګوته له اوبو سره ولګيده نوپه دغه دواړوصورتوکی اودس ماتيږی اودغه او به مرداری هم دی. (آپ کی مسائل مخ۴۲توک دوهم)

مسئله: که پرغوږ ياسترګه باندی دردوی اوپه تکليف وی په دغه وخت کی دسترګوياغوږو څخه اوبه راووتلی اووهغه ځای ته ور سيدی چې دهغه مينځل په غسل کښی واجب وی نوپه دغه سره اودس ماتيږی اوپرته له نوی اودس کولولمونځ نه صحيح کيږی که څه هم لمونځ يي کړی وی نوددغه لمونځ راګرزول واجب دی اوکه څه درداوتکليف نه وی اوبه څينی راووتلی نواودس نه ماتوي.

(فتاوی رحيميه ص۱۲۸ج۷ددرمختارص۱۳۷ج۱په حواله)

مسئله: که چاکوم شئ په غابښ پري ياونيوی اوپرهغه دوينی اثرومونډل شو نورخت يالاس به په غابښونوږدي ګوری به که پرهغه وينه نه راووزي نواودس نه ماتيږي. (علم الفقه مخ۷۰ لومړی توک)

مسئله: یوچادغاښوخلال وکړې په خلال کښې يې دوینوسوروالی ولیدی یایی په غاښ سره یوشی ماتولو پرهغه شی باندی دوینو اثر معلوم شوخوپه لاړوکښې دوینوهیڅ اثراورنګ نوی ښکاره نوپه دغه صورت کښې اودس نه ماتیږی. (بهشتی زیور مخ ۰علومری توک بحواله درمختار مخ ۱۴لومړی توک لوکبیری مخ ۱۳)

مسئله: دغاښ څخه په وینوراوتلواودس ماتیږی په دی شرط چی دومره وینه به راوتلی وی چی دلاړورنګ به وسوروالی ته مائل وی یابه یي په خوله کښې دوینوخوندوی. (آپ کی مسائل مخ ۳۷توک دوهم)

مسئله: که پرغاښوباندی پتی (خیري)راجمع شوی وی دغه له اوداسه څخه منع نه کوی لیکن دغسل څخه منع راولی. (فتاوی رشیدیه مخ ۲۸۴لومړی توک)

مسئله: که یوسړی دوډۍ، میوه یایوبل شی وخواړی اوپه هغه کښې دوینواثرولیدل شوکوم چی له ووری، څخه راروانی وی نودغه سړی دی هلته ګوته کښیږدی که پرګوته وینی معلومې شوی نواودس ماتیږی اوداسی نه وی نواودس نه ماتیږی. (کشف الاسرار مخ ۱۸)

مسئله: دتیغ په راکښلوسره اودس نه ماتیږی که څه هم بدبویه وی. (علم الفقه مخ ۷۰لومړی توک)

په اوداسه کښې دوینښتانونوکانواونوروپه اړوندمسئلې

مسئله:داوداسه کولووروسته که نوکان پری کړل شی اودس نه ماتوی اونه اوداسه وراګرزولوته ضرورت شته اونه دهغه ځای ولندولوته ضرورت شته. (بهشتی زیورمخ ۳لومړی توک بحواله شرح تنویر مخ ۱۵۰ اوعلم الفقه مخ ۷۳لومړی توک)

مسئله: په نوکانو کښې که څه هم خیری وی اودس پرکیږی لیکن نوکان لویول دفطرت خلاف کاردی. (آپ کی مسائل مخ۴۳توک دوهم)

مسئله: که په نوک کښې اوړه وچ شوی وی نوترڅه وخته پوری چی نه وی مینځل شی یالری نه شی اودس نه صحیح کیږی.
(شرح نقایه مخ ۷۳لومړی توک درمختارمخ۹۱لومړی توک)

مسئله: کومی خاوری یاخیری چی په نوکانو کښې وی اودس اوغسل ورسره صحیح کیږی بیله دی چی لری یې کړی خوداهغه وخت صحیح کیږی چی دردوی اوبه لاندی شی. (امدادالفتاوی مخ۳۶لومړی توک)

مسئله: داوداسه کولووروسته په ویښتانویا نوکانوپری کولوسره اودس نه ماتیږی همدارنګه په عطرو(خوشبویي)لګولوسره اودس نه ماتیږی. (آپ کی مسائل مخ۴۳توک دریم)

مسئله: داوداسه کولووروسته که دسر یادږیری ویښتان پری شی نوپه دی سره اودس اودسرمسح نه باطلیږی یعنی ددغه ځای دوهم ځل مینځل نه دی ضروری. (علم الفقه مخ۳لومړی توک کبیری مخ۱۴۵)

په اوداسه کښې دناړوبلغمواوزکام په اړوندمسئلې

مسئله: ناړی یابلغم که له دارنګه شی سره یوځای وودبیلګی په توګه دخورک له شی سره یادصفراً (ژړو)یادارنګه شی سره چی هغه په قی کښې راځی اوهغه هم پاک وی نوپه دغه صورت کښې که ناړی یابلغم ډیروی اوهغه شی لږوی اودومره نه وی چی په هغه سره خوله ډکیږی نواودس نه ماتیږی اوکه ناړی اوبلغم له هغه شی برابروی خوپه دواړوکښې یوهم دومره نه وی جی خوله په ډکیږی بیاهم اودس نه ماتیږی (علم الفقه مخ۷۲لومړی توک)

مسئله: په ناړواوبلغموراوتلوسره اودس نه ماتیږي که هرڅومره وي يعنى كه څه هم په خوله ډکه وي اودس نه ماتیږي.
(علم الفقه مخ۷۲لومړی توک اوفتاوی دارالعلوم مخ ۱۴۲لومړی توک بحواله ردمحتارمخ۱۲۸لومړی توک باب نواقض الوضوءاوبهشتی زیورمخ۵۲لومړی توک)

مسئله: که ناړې له وینوسره یوځای شوې اوراوتلې نوکوم یوچې غالب وي دهغه اعتبار کیږي يعنى كه ناړې غالبه وي اودس نه ماتیږي اوکه وینه غالبه وي اودس ماتوي. (شرح وقايه مخ۶۷لومړی توک)

مسئله: که له پوزې څخه وینه راوتله دپوزې ونرمۍ ته راغله نواودس ماتیږي (علم الفقه مخ۶۵لومړی توک) نرمۍ دپوزې هغه برخه ده چې مینځل یې په غسل کښې واجب دي. محمدرفعت قاسمی غفرالله له

مسئله: که دپوزې څخه وینې ووتلې خوونرمۍ ته ونه رسیدلې نو اودس نه ماتیږي. (علم الفقه مخ۷۰لومړی توک)

مسئله: که په ناړوکې وینې ښکاره شوې که وینې پرناړوکښې بیخي لږوې اودناړورنګ سپین یاوژړوالي ته مائل وي نواودس نه ماتوي اوکه وینې زیاتې وي یادناړوسره برابرې وي اووسوروالي ته مائل وي نواودس ماتیږي. (بهشتی زیورمخ۵۰لومړی توک بحواله درمختارمخ۱۷لومړی توک)

مسئله: دبلغموقي اودس مطلقانه ماتوي. (درمختارمخ۵لومړی توک ترجمه اوردو)

مسئله: دپوزې په ذریعه چې کوم شی تیل یابل کوم اسی نرم شی دماغ ته پورته شي اوهغه بیادباندې راووزي نوپه دغه سره اودس نه ماتیږي ځکه چې دغه دپاک ځای څخه راوتلې دي. (کشف الاسرارمخ۱۸لومړی توک)

مسئله: که یوچاپوزه ټکوهله (پاکه ئی کړه) اوله دغه ځخه دختمې شوی وینی توتی راووتلی نو اودس نه ماتوی اودس په نرموا وبهید و نکو وینوسره ماتیږی.
مسئله: که یوڅوک په پوزه کی ګوته واچوله څه وخت چی یی راوایستله نودوینوا ثرورباندی ښکاری دی هغه وینی بس دومره وی کوم چی پرګوته لګیدلی وی لیکن بهیدلی نه وی نوپه دغه سره اودس نه ماتیږی. (بهشتی زیورمخ۰۵لومړی ټوک بحواله درمختارمخ۱۷الومړی ټوک اوشرح تنویرمخ ۲۵۰ لومړی ټوک اوکتاب الفقه مخ ۱۲۹ الومړی ټوک)
مسئله: په زکام یابلغم یاخرابه پوزه کښی ټوټه (یوځای شوی) وینه راځی دغه وینه اودس ماتوی. (فتاوی محمودیه مخ۳۹ټوک نهم)
مسئله: کومی اوبه چی له سترګوغوږ اوبل ځای څخه دتکلیف په وخت کښی راشی دغه ټولی اودس ماتونکی دی. (آپ کی مسائل مخ۵۰ټوک دریم)

مسئله: دنزلی اوزکام له کبله چی کومی اوبه له پوزې ځخه بهیږی دغه اوبه ناپاکه نه دی ځکه چی دیوټپ ځخه نه راووزی نه دیوټپ سره نښلی همدغه وجه ده چی په دغه اوبوسره اودس نه ماتیږی. (آپ کی مسائل مخ۵۰ټوک دریم)
مسئله: دسترګوپاکی اوبه اودزکام اوبه اودس نه ماتوی ځکه چی پوزه اوسترګی دخولۍ په شان اصل دلوندوالی ځای دی په خوله کښی که ټپ وی ترڅوچی یقین نه وی راغلی چی دغه نوونه یاوینی دی اودس نه ماتیږی په خالص ناړوسره اودس نه ماتیږی که څه هم دیوعارض له کبله ناړی ډیری بهیږی داغه حکم دپوزی غوږزکام اودسردرد دی دډاکټرانو دتحقیق څخه معلومه شوی ده چی

دسترګو او به کوم چې پاکې او به دی او دزکام داو بود تپ سره یې هیڅ اړه نشته. (احسن الفتاوی مخ۲۱ ټوک دوهم بحواله ردمحتار مخ ۲۲۳ لومړی ټوک)

مسئله: دپوزې څخه په وینو راوتلو اودس ماتیږی. (آپ کې مسائل مخ۳۷ ټوک دوهم)

په اوداسه کښې دقې په اړوندمسئلې

مسئله: قی که په ډکه خوله سره وی اودس ماتوی دډکې خولې قی ودی ته ویل کیږي چې انسان دهغه پربندولو قادرنه وی او که لږلږقی ووهی نو ددی مجموعی ته اعتبار ور کول کیږي. (درمختار مخ هلومړی ټوک)

مسئله: که لږلږقی یې یو ځوځله وواهو لیکن چې ټوله سره یو ځای کړی نو خوله په ډکیږی نو که په یوځل خواګرزیدو سره داسی لږلږ قی وواهی نو اودس مات شواو که په یوځل خواګرزیدوسره نه وُ بلک لومړی ځل خواګرزیدل یې ختم شو یعنی طبیعت یې سم شوبیا یې دوهم ځل خواراو ګرزیده اولږ قئ یې وواهی بیاچې کله داخواسه شوه نودریم ځل ئې بیاخواو ګرزیده اولږ قئ ئې وواهی نو اودس نه ماتیږي. (بهشتی زیور ص۵۲ ج ۱ ددرمختار ص۱۷ ج۱ په حواله)

مسئله: که په قی کښې وینه راشی نو که وینی نرمی اوبهیدونکی وی نو اودس ماتیږی که لږوی که ډیری وی او که ټوټی ټوټې وینی وی او خوله په ډکه شوه اودس ماتوی. (بهشتی زیور مخ. لومړی ټوک بحواله درمختار مخ۱۷ لومړی ټو)

مسئله: که یو پاک شی په قی کې راووزی لکه چینجی یابل داسی شی بیاهم اودس نه ماتیږی (په دی شرط چې په ډکه خوله نه وی) (علم الفقه مخ۷۳ لومړی ټوک)

مسئله: که ددماغ، نس، خولې څخه بهیدونکې وینه راووتله نو اودس ماتوي هغه که په ډکه خوله سره وي که په تشه خوله سره.
(علم الفقه مخ۴۵لومړی توک)

مسئله: دکوم شي په وتلوسره چې اودس ماتیږي هغه ناپاکه کیږي اوپه کوم شي سره چې اودس نه ماتیږي هغه ناپاکه هم نه وي نوکه لږوینې له تپ څخه راووتلې خونه وبهیږي یالړقې ووهې خوپه ډکه خوله سره نه وي په دغه قې کښې دخورک شي اوبه یاوچه شوي وینه راووزي نودغه لړوینه اولړقې مردارنه دي که له جامې سره ولګیږي نوددغه مینځل واجب نه دي خوکه یې په ډکه خوله سره قې وواهوا ووینې له تپ څخه وبهیدې نودغه مرداري دي ددې مینځل واجب دي که په ډکه سره قې ووهې دیولوښې سره دیبلګې په توګه کټوري ګلاس خوله ولګوي دخولې دمینځلوپاره اوبه واخلې نودغه لوښې ناپاکه ګرزي ځکه چې بایدپه لاسوسره اوبه راواخلي.
(بهشتي زیورمخ ۲ ۵لومړی توک کبیري مخ۴۹شامي ۱۴۵لومړی توک)

لوښې یابل شي دې ومینځي بیادې استعمال کړي. محمدرفعت قاسمي

مسئله: کوچنۍ ماشوم چې شیدې قې کړي ددې حکم هم دغه دی که په ډکه خوله سره نه وي نونه دي مرداراوکه په ډکه خوله سره وي نومرداردي که پرجاموباندې ولګیږي بیله منځلوکه لمونځ ورسره وکړي لمونځ یې نه صحیح کیږي. (دلومړنی حوالي په ډول)

مسئله: هغه قې چې په ډکه خوله سره وي دغه نجاست غلیظه دی که پرجاموباندې دیوه درهم په اندازه ولګیږي نومعاف دی که له درهم څخه زیات وو بیاجامې په مردایږي لمونځ نه په صحیح کیږي هغه

مرداري چې جسم لرې په دغه کښې درروندوالي (يعني وزن) د اعتبار وړده او هغه مرداري چې نرم وي صورت نه لري په هغه کښې اندازې ته اعتبار ور کول کيږي يعني دورغوي په اندازه پروانه لري له دغه څخه زيات نه معافيږي. (فتاوی رحيميه مخ۲۴۶ توک څلورم بحواله مراقی الفلاح مخ۳۹)

داوداسه نه درلودلو په اړوند مسئلې

داوداسه ماتيدلو په حالت کښې چې په انسان کښې کوم شرعي حالت پيداشي ودغه ته حدث اصغروائي (کوچنى بې اودسى)

مسئله: دحدث اصغرپه حالت کې لمونځ کول حرام دي که نفلي لمونځ وي اوکه فرضي وي ددغه پنځووختولمونځ وي که داختريا جنازې لمونځ وي.

مسئله: دبې اودستياپه حالت سجده لګول حرامه ده خوادتلاوت شکراوکه کومه بله سجده وي.

مسئله: قرآن شريف ياهغه شي چې له هغه سره لګيدلي وي لکه هغه جامې چې دقرآن شريف پرجلدلګيدلي وي دامکروه تحريمي ده که دغه قرآن يائې جلدپه هغه اندامو سره مسح کړي چې په اوداسه کښې مينځل کيږي اويائې په هغه اندامو سره مسح کړي چې دهغه مينځل پر اوداسه کښې واجب نه وي لکه مټ؛ ياسينه؛ يانوريائي په داسې جامې سره مسح کړي چې هغه دده پربدن باندې وي لکه لستوڼي ؛لمونځ ؛پګړي؛دسمال ؛اوپټو ؛همدارنګه نور...

مسئله: که پرکاغذيابل شئ باندې دقرآن کريم آيت ليکل شوى وي

نوددغه پوره کاغذمسح کول تحریمي مکروه دی هغه که هغه ځای مسح کړی کوم چی آیت پرلیکلی وی اوکه هغه چی ایات نه وی پر لیکلی.

مسئله: که د کاغذ څخه یابل شی څخه پرته پربل شی دقرآن آیت لیکل شوی وونودغه شی صرف هغه ځای مسح کول مکروه تحریمی ده پرکوم ځای چی آیت لیکلی شوی وی دهغه خالی ځای مسح کول روادی دبیلګی په توګه پرډبره یادیوال یاروپی باندی آیت لیکل شوی وی.

مسئله: دقرآن شریف څخه پرته نوروآسمانی کتابونو کی لکه تورات انجیل،زبور خالی دهغه ځای مسح کول مکروه دی پرکوم ځای چی لیکل شوی وی دخالی ځای مسح کول یې مکروه نه دي.

مسئله: که قرآن شریف په دارنګه جامه سره مسح شی چی هغه پربدن باندی نه وی یادجامی څخه پرته په بل شی سره مسح کړل شی لکه لرګی نومکروه نه ده.

مسئله: دبي اوسیاپه حالت کی دقرآن لیکل پرپو کاغذه مکروه نه دی په دی شرط چی دغه کاغذبه نه مسح کوی نه لیکل شوی اونه خالی کاغذیعنی یوبه هم نه مسح کوی ځکه که څه هم پرکاغذباندی یوآیت ولیکل شی بیاهم دپوره کاغذمسح کول مکروه ده.

مسئله: له کاغذاونوروڅخه پرته پربل شی باندی لکه ډبره یابل شی باندی دقران شریف لیکل مکروه نه دی په دی شرط چی لیکل شوی قران شریف به نه مسح کوی که څه هم خالي ځای مسح کولای شي.

مسئله: له یوه آیت څخه کم لیکل مکروه نه ده که څه هم پرېوشي باند
يي ليکي.

مسئله: دحدث اصغریعني داوداسه نه درلودلوپه حالت کښي دقرا
ويل اووبل چاته ويل هغه که ورته ګوري يانه ګوري صحيح ده په د
شرط چي لاس به نه ورسره لګوي.

مسئله: ونابالغه کوچنيانوته دبي اودسي په حالت کښي قران شريف
ورکول او دهغه مسح کول مکروه نه دي. (علم الفقه مخ ۸۰ لومړی توک)

مسئله: که دقران مجيدترجمه په بله ژبه کښي وي نوصحيح داده چ
ددي هم هاغه حکم دی کوم چي دقران شريف دی. (بحرالرائق درمختار)

مسئله: دقران شريف دهغوآياتونوچي منسوخ شوي دي حکم هم هغ
دی کوم چي دقران څخه پرته دنوروآسماني کتابونوحکم دی هغه ک
پرېوشي باندي ليکل شوي وي نوخالص دهغه ځاي مسح کول مکرو
دی پرکوم ځای چي ليکل شوي وي دټوله ځای مسح کول مکروه ن
دی. (علم الفقه مخ ۸۱ لومړی توک)

مسئله: بيله اوداسه لمونځ کول سجده تلاوت دجنازي لمونځ دکعب
طواف اوقران کريم لره لاس وروړل روانه ده

مسئله: وحائضي اونفاسي ښځي اوبي اودسه يعني جنوب سړ
لپاره دقرآن شريف په شان تورات انجيل اوټول اسماني کتابوته لا
وروړل هم مکروه ده. (شامي مخ ۱۶۰ لومړی توک کبيري مخ ۶۰)

مسئله: که يوڅادخانه کعبي طواف بيله اوداسه وکړنوطواف
صحيح کيږي امادغه عمل ئي حرام دی ځکه چي دطواف لپاره له ب
اودسي څخه پاکيدل واجب دی. (کتاب الفقه مخ ۸۵ توک لمړی)

داوداسه بیلابیلی مسئلی

مسئله: که دناخبرتیاله کبله دحیض په وخت کي طواف زیارت وکړی حج اداکیږی خوتوبه اودمغفرت غوښتنه باندی لازمه ده اواوښ یا غویي به ذبح کوی (یعنی وینه بهول باندی لازمه ده. فتاوی رحیمیه مخ۲ځلوک دوهم)

مسئله: که داوداسه په شروع کی بسم الله ویل هیرشی نوداوداسه په منځ کی په بسم الله ویلوسره سنت نه اداکیږی ځکه چی اودس یو عمل دی په خلاف له ډوډی په ډوډوی خوړلو کښی هره ګوله اوهر غوړپ جلاجلاعمل دی نوځکه دډوډی په منځ کی په بسم الله ویلو سره سنت اداکیږی. (نمازمسنون مخ۷۵کبیری مخ۲۲امدادالفتاوی مخ۱۴لومړی توک)

مسئله: په ژبه سره داوداسه نیت کول مستحب دی. (احسن الفتاوی مخ۲توک دوهم)

مسئله: ځینی خلګ داوداسه مخکی اعوذبالله وایي ددی حکم نه دی شوی اودسنت خلاف دی. (نمازمسنون مخ۷۵)

مسئله: دیوه لاس په اودس کولو کي مي مکروه والی نه په روایت کی لیدلی دی اونه یوروایت ددغه واجبونکی ګرزی سره له دی چی ځینی اندامونه په دواړولاسونونه شی مینځل کیدالای هغه لکه دواړه لاسونه تربریوپوری مینځل اودځینواندامونو مینځلو کښی په دواړولاسوسره تکلیف وی لکه دپښی مینځل چی په یوه لاس کښی یي لوټه وی (کوزه)(امدادالفتاوی مخ۳لومړی توک)

مسئله: بی له عذره په اودس کولو کښی دبل څخه کومک غوښتل نه دی پکار. (شرح نقایه مخ۹لومړی توک کبیری مخ۳۱)

مسئله: له ښځې څخه په مچه اختسلوباندی(یعنی خپله ښځه ښکلول) اودس نه ماتوی ترهغه چی مذی نه وی راوتلی. (آپ کی مسائل مخ ۳۹ توک دوهم)

مسئله: په چوتړو کښې دننه مرداری نه وی نوځکه له اوداسه وروسته په چوتړوا غوستلوسره اودس دوهم ځل نه لازمیږی. (آپ کی مسائل مخ ۱ توک دوهم)

مسئله: پراوردیخ شوی په خوړلوسره اودس نه ماتیږی. (آپ کی مسائل مخ ۱۴ توک دوهم)

مسئله: داوبې دغوښوپه خوړلوسره اوهرهغه شی چی پراورباندی پخ شوی په خوړلویې اودس نه ماتیږی. (علم الفقه مخ ۷۳ لومړی توک)

مسئله: دګناه په کاروسره اودس نه ماتیږی خومکروه کیږی له همدی کبله دوهم ځل اودس کول مستحب دی. (آپ کی مسائل مخ ۱ ۴ توک دوهم)

مسئله: داوداسه په وخت کښې په سلام اودهغه په ځواب سره اوداسه ته هیڅ تاوان نه رسیږی دډوډی دخوړلوپه وخت کښې بای دسلام نه واچول شی پرډوډی خوړونکی دسلام ځواب واجب نه دی. (آپ کی مسائل مخ ۴۴ توک دوهم)

مسئله: واودس کونکی ته سلام اچول صحیح دی خوهغه وخت چی هغه په دعاویلوسره بوخت نه وی که بوخت وی بیامکروه ده. (فتاوی محمودیه مخ ۲۳۰ توک پنځم)

مسئله: داوداسه کولوپه وخت کښې دی داذان ځواب هم ورکوی اودس دی هم کوی. (فتاوی محمودیه مخ ۴۲ توک دوهم بحواله شامی مخ ۲۶۷ لومړی توک)

مسئله: دښځې وکوچنی ته په تی ورکولوسره اودس نه ماتیږی خوکه دلمانځه په وخت کوچنی تي ورو ی اوشیدی هم راووتلی نولمونځ

فاسیدیږی خوکه شیدی نه راووتلی لمونځ نه فاسیدیږی یعنی صحیح کیږی. (امدادالفتاوی مخ۴۱لومړی ټوک اوفتاوی دارالعلوم مخ۱۲۶لومړی ټوک)

مسئله: دهغه کوچنی بولی چی شیدی خوری ناپاکه دی له هغی جامی سره چی دغه بولی ولګیږی بیله پاکولو لمونځ نه ورسره صحیح کیږی. (فتاوی محمودیه مخ۱۳ټوک دوهم)

مسئله: که ویښتان غوږشوی وی اواوبه پرتیری شی نو هیڅ تاوان نه لری. (امدادالمسائل مخ۴۳)

مسئله: که دیوچالاس یاپښی چاودلی وی اوپه هغه چاوده کښی یی موم (هغه نرم شی چی مچمچیانی یی له شاتو سره جمع کوی) یاروغن یادیود واڅخه یی ډک کړی اوددی په راکښلو کښی تکلیف وی نوبیله راکښلودی اوبه باندی وبهوی اواودس صحیح کیږی.
(بهشتی زیور مخ۴۸لومړی ټوک فتاوی دارالعلوم مخ۱۴۱لومړی ټوک بحواله ردمحتار مخ۱۵لومړی ټوک)

بیله اوداسه وقران شریف ته لاس وروړل

مسئله: وړوره قرآن یادهغه ویوی برخی ته بیله اوداسه لاس وروړل یادهغه لیکل په څوشرطوسره روادی (لومړی) شرط دادی چی بیړنی حالت به وی دیبلګی په توګه قرآن شریف په اوبو کښی ډوبیږی یاپه اورکښی سوځل کیږی نوپه دغه وخت کښي وقرآن شریف ته بیله اوداسه لاس وروړل روادی (دوهم) شرط دادی چی قرآن شریف به په داسی پوښو کښی وی چی هغه ورسره نښتی نه وی لکه قرآن شریف چی په خلطه یاجامه چمړه یاکاغذاویاپه دسمال کښی نغښتی وی په دغه حالت کښی وقرآن شریف ته لاس وروړل یاپورته کول روادی خوپه کوم شی کښی چی بندوی اوهرهغه شی چی پیرودلوپه وخت

کښبی بی له وضاحته له ده سره شامل بلل کیږی ودی ته لاس وروړل
نارروادی که څه هم هغه دقرآن شریف څخه جلاوی هم پرداغه قول
باندی فتوی ده (درېيم)شرط دادی چی دلاس وروړونکی به نابالغ
وي اودلوستلوپه غرض لاس وروړي داحکم له زحمت اومشکل څخه
دبچ کیدوپه غرض دی بالغ اوحائضه ښځه که استاذوی که شاګرد
لاس وروړل ورته روانه دی (څلورم)شرط دادی چی دلاس وروړونکی
به مسلمان وی که دغه شرطونه نشوموجودنوناپاکه اوبی اودسه
سړی ته وقرآن شریف ته لاس وروړل یعنی دبدن په یوبرخه سره یې
مسح کول روانه دی وقرآن کریم ته بې اودسه دقرآن شریف لوستل چي
لاس نه وروړي په یادیاچي ورقی بل څوک خلاصوی جائزدی.
مسئله: وناپاکه (چی غسل باندی واجب شوی وی) سړی اوحائضی
ښځی ته دقرآن تلاوت هم حرام دی.
مسئله: بیله اوداسه وتفسیرته لاس وروړل مکروه دی دتفسیرڅخه
پرته ونورودفقهی حدیثواونوروکتابوته لاس وروړل روادی دغه
دارنګه اموردی چی اجازه یې شوي ده. (کتاب الفقه مخ ۷۸لومړی ټوک)
مسئله: بیله اوداسه فیته (کیسټ) دکول اوهغه په لاس کښې
رااخستل روادی ځکه چی په فیته کی خالص هوابندیږی کلیماتی
یابل شی نه پکښې بندیږی په خلاف دکتاب لیکل په کتاب کښې
کلیماتی جمع اوبندیږی نوځکه لیکل.
مسئله: بیله اوداسه اوهغه بیله اوداسه مسح کول روانه دی.
(نظام الفتاوی مخ۲۵ لومړی ټوک بحواله فتاوی عالمګیری مخ ۲۰ لومړی ټوک کتاب الطهارات)

مسئله: دقرآن شریف وتیپ اوفتی ته لاس وروړل بیله اوداسه روادی
(احسن الفتاوی مخ۱۹ توک دوهم اوامدادالفتاوی مخ۴۴ الومړی توک)

بیله اوداسه دِقرآن شریف وهغه ورقی ته لاس وروړل چی هلته دقرآن شریف آیت نه وی لیکل شوی لکه چی په قرآن کښی په پورتنی ورقه باندی آیت نه وی لیکل شوی مسح کول یي روانه دی بلکه جلدیعنی وقایه مسح کول هم روانه دی. (احسن الفتاوی مخ۱۹ توک دوهم بحواله ردمحتار مخ۱۶۰ الومړی توک)

ځکه چی دغه جلدونه ټول دیوه په حکم کی دی. محمدرفعت قاسمی غفرالله له

مسئله: په اخباريابل شی کی چی دقرآن آیت لیکل شوی وی خالص دهغه ځای مسح کول منع دی چیری چی آیت لیکل شوی وی ونوروځایو ته يي لاس وروړل روادی خوکه یوآیت ډیرکوچنی وی یعنی ترشپږو تورو هم کوچنی وی نودیوه قول مطابق پردغه دلاس ایښودلوجوازشته. (احسن الفتاوی مخ۱۹ توک دوهم بحواله ردمحتار مخ۱۶۰ الومړی توک)

مسئله: په تفسیرکی دقرآن پرته بل شی ډیروی نودغه تفسیرته بیله اوداسه لاس وروړل جائزدی خوچیري چي قرآن لیکل شوی وی هلته دی لاس نه لګوي دحدیثوکتابونه بیله اوداسه مسح کول روادی.
(احسن الفتاوی مخ۲۷ توک دوهم اوامدادالفتاوی مخ۴۵ الومړی توک اوفتاوی محمودیه مخ۲۶ توک دوولسم)

دکتابودتجارلپاره بیله اوداسه وقران ته لاس وروړل

دکتابودتجارلپاره بیله اوداسه قرآن مسح کول په یوه طریقه هم نه دی رواپه دسمال سره دی مسح کړی اوپه چاقویاقلم سره دی ورقه واړوی اوډ‌ی يي ګوری لاس دی نه وروړی اوپه کوم کتاب کښی چی یویادوه آیته لیکل شوی وی دغه بیله اوداسه ویل روادی خوځای دی نه مسح کوی پرکوم ځای چی آیت لیکل شوی وی. (امدادالاحکام مخ۲۴۱ الومړی توک)

دست کلی په لاس کول بیله اوداسه قران ته لاس وروړل

پوښتنه : دقرآن شریف دیادولولپاره هرګړی مسح کول راځی که هغه دستکلی په لاسوکړی چی هغه خاص دقرآن کریم دمسح کولولپاره جوړی شوی وی دی بیابیله اوداسه وقرآن ته لاس وروړلای شی کنه ؟

ځواب : دست کله هم یوه اغوستل شوی جامه ده په دغه سره قرآن کریم مسح کول روانه ده بلکه په دسمال یابل شی سره مسح کول روادی کوم چی دبدن څخه بیل وی. (امدادالاحکام مخ۲۵۰لومړی ټوک)

مسئله: بیله اوداسه اوبیله لاس وروړلووقرآن ته قرآن ویل په یادلپاره دثواب رسولوومړوته رواده په دی شرط چی ناپاکه به نه وی یعنی غسل پرواجب نه وی. (امدادالاحکام مخ۳۱۷لومړی ټوک)

مسئله: قرآن حدیث اودخدای جل جلاله نومونه که په بله ژبه کښی لیکل شوی وی هغه هم واجب التعظیم دی یعنی تعظیم یي کول واجب دی. (امدادالاحکام مخ۲۴۳لومړی ټوک)

مسئله: بالغ سړی که قرآن راواخلی نوبایدسره له اوداسه یي ووایي اوهغه چی نابالغه وی وهغه ته قران ویل بیله اوداسه صحیح ده بالغانوته که داوبوبرابرول سخته وی نوبیله اوداسه وقرآن ته لاس باید ورنه وړی بلکه په جامه یاقلم سره دی ورقه اړوی.
(فتاوی محمودیه مخ۲۶۷توک شپږم او۲۴لومړی ټوک)

مسئله: ونابالغه ته قران مسح کول یاهغه تخته مسح کول چی پرهغی قرآن لیکل شوی وی مکروه نه ده اوپه دی کښی هم څه تاوان نشته چی بالغ اواوداسه والاوکوچنی نابالغه بی اودسه ته یي ورکړی یادبی اودسه هلک څخه بالغه اواودس والا قرآن طلب کړی همدارنګه قرآن

پاک دضرورت په وخت کښې اخستل اوورکول روا دی هغه ضرورت وکوچنیانوته قرآن وریادول دی ځکه چې په کوچنی والی کښې یادول داسی دی لکه پړه‌بره چې یونقش ولیکل شی (په نابالغه باندی هروخت اودس کول دوی. په تکلیف کی اچول دی اودبلوغ په انتظارکی نه یادول دحفظ قرآن ومسئلی ته تاوان رسوی)نوځکه دکوچنیانولپاره په قرآن مسح کولو کی اودس شرط نه دی هغه یې بیله اوداسه مسح کولای شی. (کشف الاسرار مخ۹۰لومری توک)

مسئله: بیله اوداسه قرآن مسح کول صحیح نه دی خوکه په دارنګه جامو سره یې مسح کړی چې هغه له بدن ځخه بیلی وی مثلاپه پټوسره همدارنګه دقرآن کریم یادول بیله اوداسه روانه دی اوکه قرآن شریف خلاص وی اوبیله لاس وروړلوورته وګوری ووایي نوصحیح دی. (بهشتی زیور مخ۱۲لومری توک بحواله شامی مخ۱۵۵لومری توک)

دمعذوریېژندنه اودهغه حکم

دایودلمرپه شان ښکاره خبره ده چې په شریعت اسلامی کی په ډیر ښکاره ډول باندی داتصریح موجوده ده چې دده په حکم کښې هیڅ سختی اوتکلیف نشته دالله تعالی فرمان دی:[وماجعل علیکم فی الدین من حرج]یعنی ددینی اوموروپرڅای راوړلوکی پرتاسوهیڅ سختی نشته هر هغه شئ چې په هغه کی سختی اوتکلیف وی پر مکلف انسان باندی واجب نه دی په دغه کښې ددارنګه ناروغیو ناروغان داخل دی چې دناروغی په حالت کی مجبورکیږی دبیلګې په توګه دسوزک ناروغی چې ددی له کبله تولوه وخت یازیات وخت دبولوڅاڅکی راووزی همدارنګه دمذی یانورومسلسل وتل ودغه

ناروغیو ته سیلان ویل کیږي په دغه کښې هغه ناروغي هم داخله ده چې پرله پسې دنس ناستی ناروغي وي یادمعدې ناروغي چې وهغه ته پیچ (dysentery) ویل کیږي داهغه ناروغي ده چې دبولوله ځای څخه وینې اونوونه راووزي په دغه اوهمدارنګه په نوروبیلابیلو ناروغیوکې دپاکۍ یوه خاصه شرعي طریقه ده چې له دغه ناروغیو سره مناسبه ده دحنفیه وواحنافوپه انددې په اړوندڅوامورده (لومړی)دسیلان (پرلپسې بې اوداسیا) پیژندنه (دوهم)ددې شرعي حکم (دریم)هغه امورچې دهغه پوره کول پرمعذوره انسان واجب وې پیژندنه دسوزک دناروغۍ یوخاص کیفیت (ډول) دی چې په هغه کښې همیشه بولي راوزي یاهرګړی بادونه خارجیږي یاحائضه (دښځودناروغۍ وینه)وي یایې همیشه پیچ اودارنګه نوری مشهوری ناروغي وي کوم شخص چې ددغوناروغیوناروغه وي وهغه ته معذورویل کیږي لیکن معذورهغه وخت بلل کیږي چې دفرض لمانځه ټوله وخت ډاوداسه دماتیدلوپه ډول تیرشي که بې اودسیادفرض لمانځه وخت ټوله نه نیوی نوناروغه معذورنه بلل کیږي همدارنګه که یوه فرض لمانځه ټوله وخت بیله بې اودسی حالته نشي تیرنودغه دعذرڅخه نه بلل کیږي خوکه دعذرکیفیت وریښ وي هغه که دلمانځه ډوخت په هره برخه کښې چې وي عذربلل کیږي لکه څنګه چې دماپښین دلمانځه له شروع څخه دبولوناروغي پیښه شي نودماپښین دختمیدوپوری دی معذور بلل کیږي اودغه معذوری روانه پاته کیږي ترڅوچې دلمانځه پوره وخت نه شي تیرعنی دماپښین ډوخت دتیریدلوڅخه وروسته دمازدیګر وخت راغلی

اوهغه پوره تیرشواودبولوڅاڅکي رانشي که دیوسړي عذردماپښين دوخت له پيل څخه بیاترتمامیدوپوري جاري وو اودمازدیګردوخت په یو ه برخه کښي هم داعذرجاري وي اوبیابندشي که څه هم په دغه وخت کښي یوڅاڅکي دبولوراشي په دغه ټوله وخت کښي معذور بلل کیږي یعنی دغه ټول وخت دعذردی داحنافو په مذهب دمعذوردغه تعریف دی په دغه صورت کښي حکم دادی چی دهرلمانځه دوخت لپاره به اودس کوی اوپه دغه اوداسه سره فرض اونفل ټول کولای شي یعني په یوه وخت کښي هرقسم عبادت په کولای شي خوچي فرضي وخت تیرشي اودس هم ختم دی که یوسړی دعذردحالت له پیښیدوڅخه مخکي اودس درلودی نودوخت دختمیدو له کبله یي اودس نه ماتیږي بلکه هغه وخت ماتیږي چی دعذرڅخه پرته په بله وجه سره یي اودس مات شي هغه لکه دهواوتل دویني وتل له دغه تفصیل څخه دابنکاره کیږي چي دمعذورسړي داودس دماتیدووجه دفرض لمانځه دوخت تیریدل دی که لمراختلووروسته یي داختردلمانځه لپاره اودس وکړي اودماپښين وخت راغلی نواودس یي نه ماتیږي دغه اودس (چی داختردلمانځه لپاره شویدی) چی په کوم وخت بنی شوی دی دفرض لمانځه وخت نه وو بلکه دارنګه وخت ووچی په هغه کی فرضي لمونځ نه وونود اختر دلمانځه په اوداسه سره چی کوم لمونځ کول وغواړی کولای ئی شي ترهغه وخته پوری چي دماپښين وخت ختم شي دماپښين دوخت دختمیدلوسره دستي اودس ماتیږي ځکه چي هغه دفرض لمانځه وخت دی خوکه یي دلمردراپورته کیدلوڅخه مخکي اودس وکړي

نودلمر دراختلوسره دستي اودس ماتيږي ځکه دفرض لمانځه (يعنی دسهار) وخت دلمراپورته كيدلوسره دستي ختميږي همدارنګه كه يې دماپښين له لمانځه كولووروسته اودس وكړي نودمازديګردوخت په راتللوسره ئي اودس ماتيږي ځكه چې دماپښين وخت ختم شوی دی. (كتاب الفقه مخ ۱۶۵لومړی توک تفصيل احسن الفتاوی مخ۷۷توک دوهم اوفتاوی دارالعلوم مخ۲۹۸لومړی توک بحواله ردمحتارمخ۲۸۰لومړی توک)

دفكرووړخبره

اوس هغه خبره كيږي چې ومعذورانسان ته دهغه كول پكاردي هغه داده چې معذور انسان ته په كاردی چې دخپلی معذوری حالت لری كړی يادی دخپل وس مطابق دكمولوهڅه وكړی همدارنګه كه تكليف نه وو يعنی دالازمه ده چې ترڅوپوری ممكنه وی درملنه دی وكړی ځكه كه دامكنه وی چې دناروغی څخه دخلاصون لپاره دډاكترانودتجويز مطابق خپله درملنه كولای شی اونه يې وكړی نوګنهګار كيږی فقهاؤ داتصريح كړيده چې ودغه ناروغيوته دخپلی ناروغی درملنه واجبه ده اودخپل وس مطابق دی ددغی ناروغی دلری كولوهڅه وكړی له دغه څخه دامسئله راووته چې دارنګه ناروغ چې درملنه نه كوی اوناروغی ئي زياتيږی سره له دی چې ددغه درملنی وړوی نوګنه ګاردی. (كتاب الفقه مخ۱۶۶لومړی توک)

معذوردی څنګه اودس وكړی ؟

دابښكاره ده چې جامه ياكاغذددرملنی په ډول پردغه رنګه ناروغيو باندی واجب دی لكه د استحاض په حالت كی چې يې ښځه استعما لوی (يعنی دښځودحيض له وينوڅخه پرته درګ دڅاودلوله كبله

وینی همیشه رارواني وی)چې دهغه له کبله وینه بندیږی یاپه هغهٔ کښی کموالی راځی همدارنګه که لمونځ کونکی په ولاړی لمونځ کوی نوبولی څینی کیږی یاپه ولاړی لمونځ کولوسره وینی څینی بهیږی یایوبله دارنګه خبره وی نوپه ناستی دی لمونځ وکړی اوکه درکوع یاسجدی له کبله دغه ورپیښیږی نودی رکوع اوسجده نکوی بلکه په اشاره سره دی لمونځ وکړی.

مسئله: که دناروغی دپیښیدو له کبله پرجاموباندی مرداری ولګیږی اووده داخیال وی چې که دغه ومینځم بیاهم له لمانځه څخه مخکی مرداریږی نوددغه مینځل واجب نه دی خوکه یي داخیال ووچې دلمانځه دپوره کولو څخه مخکښی نه مرداریږی نوبیائي مینځل واجب دی. ،کتاب الفقه مخ۶۷ [۱]لومړی ټوک اوفتاوی دارالعلوم مخ۲۹۶ [۲]لومړی ټوک بحواله ردمحتارمخ۲۸۱ [۳]لومړی ټوکه

مسئله: معذورته په کارده چې له دغه طریقی څخه لکه څنګه چې پورته بیان شوه داودس کولو وروسته پرته له یوه فرض لمانځه څخه بل فرض لمونځ ونکړی بلکه دالازمه ده چې دهر فرض لمانځه لپاره داوداسه اړوندپرتیوله شیانوباندی عمل وکړی بیاپه دغه اودس سره دفرض لمانځه سره نوافل هم چې زړه ئی وغواړی کولای شی کهٔ دفرض لمانځه څخه مخکی یي کوی که یي وروسته کوی داخبره د نیت په بیان کښی ښودل کیږی چې پرمعذورسړی باندی واجبه ده چې داوداسه په وخت کښی داباحت الصلوة نیت وکړی په داډول چې په زړه کښي اراده وکړی چې له دغه اوداسه څخه زمانیت دادی چې دنبی ﷺ له طرفه څخه زمالپاره دلمانځه اداکولو مباح شی په دغه ډول دنیت کولو حکم ځکه دی چې دغه اودس په حقیقت کښی اودس نه دی ځکه

چې اودس دهمیشه بولوراتللوله کبله ختمیږي دغه اساني خوپه اسلام کښې اینبودل شوې ده چې په دغه اوداسه سره پرلمونځ کولو باندې ثواب ورکول کیږي ځکه چې دشریعت په ټولو احکامو کې دخلګودښه والي اودنیااواخرت ددواړوجهانو ښه والي پکې نظر دی. (کتاب الفقه مخ۱۷۰ لومړی ټوک اوآپ کی مسائل مخ۳۲ ټوک دوهم اومخ۲۹ ټوک دوهم)

مسئله: که دسړي له ټپ څخه موادبهیږي نودغه سړی معذوربلل کیږي ددغه سړي په یوه اوداسه ددوهم وخت لمونځ نه دی روا دوخت په وتلوسره دده اودس ماتیږي ددوهم وخت لپاره بایدنوی اودس و شي. (فتاوی دارالعلوم مخ۲۹۵ لومړی ټوک بحواله ردمحتاراحکام معذور مخ۲۸۱ لومړی ټوک)

دمذي دناروغ لپاره داوداسه حکم

مسئله: دهمیشه مذي له کبله چې دناروغي په حالت کښې وي یوڅوک معذورنه بلل کیږي خوکه دمذي همیشه وتل دیوناروغي له کبله نه وو یامعذور بلل کیږي همدارنګه هغه څوک معذور بلل کیږي چې دمذي دوتلوپه وخت کې دمعمول په اندازه دلذت (خوند) احساس کوي که دناروغي له کبله خوداسي نه دي خو چې واده نه دی کړی ځکه ده ته دمذي دوتلوپه وخت کښې لذت محسوسیږي په داډول چې دخالص کتلویاخیال کولوڅخه همیشه مذي راځي نوپه هرصورت کښې په دغه سره اودس ماتیږي خواکه دغه کیفیت ټوله وخت وي (یعنې خالص دناروغي له کبله همیشه ووزي لکه دبولوپه مسئلوکښې چې تیرشوي دي نومعذوربلل کیږي که دمذي په وتلوکي لذت وي که څه هم دغه لذت همیشه وي معذورنه بلل کیږي (کتاب الفقه مخ۱۶۸ ټوک لومړی اوفتاوی دارالعلوم مخ۲۸۹ لومړی ټوک بحواله ردمحتارمخ۲۸۰ لومړی ټوک احکام المعذور)

مسئله: دمذي اوودي په وتلوسره اودس ماتیږي. (هدایه مخ۱۲ ټوک لومړی)

مسئله: که سړی وښځی ته لاس وروړی یایي خالص خیال وکړی نو که دسړی یادښځی دمخ له لوری څخه اوبه راغلی نواودس یي ما تیږی ودغه اوبوته چي دجوش په وخت کی راووزی مذی ویل کیږی.

مسئله: وښځوته دناروغی له کبله دمخ له لوری دپوزی دموادوپه شان سپینی اوبه راځی دغه مرداری دی اوددغه په وتلوسره اودس ماتیږی. (بهشتی زیورمخ۷۴لومړی توک بحواله هدایه مخ۲۹لومړی توک اوشرح التنویرمخ۱۲۹)

مسئله: دبولویادبل شی څاڅکی راوتل یقینی وی نواودس کول ضروری دی که دشرعی عذرو اندازی ته رسیدلی وو دلمانځه په ټوله وخت کښی یي دومره وخت نه شوپیداکولای چی پوره اودس وکړی اولمونځ وکړی یعنی دومره وخت له څاڅکوڅخه دخوندي کیدلونشی پیداکولای چی اودس اولمونځ پکښی وکړی نودغه سړی شرعی معذوربلل کیږی ددغه حکم دادی چی په ټوله وخت کښی دي یوځل اودس وکړی اوچی زړه یي غواړی ددغه وخت دلمانځه سره دی نورلمنځونه (نفلونه) وکړی په دغه وخت کی داوداسه دراګرزولو ضرورت نشته څه وخت چي وخت ووزی اودس یي ماتیږی.

(فتاوی دارالعلوم مخ۲۸۵لومړی توک بحواله ردمحتارمخ۱۲۴لومړی توک اومخ۲۸۱لومړی توک باب نواقض الوضوء امدادالفتاوی مخ۳۴لومړی توک)

دکوم ځاځي لاسونه اوپښی پري شوی وی یایي مصنوعی وی اودس دی څنګه کوی ؟

مسئله: که دیوځالاسونه اوپښي پري شوي وی نوهغه دی داوداسه پراندامواوبه وبهوی که یي پردغه قدرت نه درلودنیادی تیمم ووهی که پرلاسوباندی ټپ وی یایي مټی پوره پری شوی وی اوپرمخ باندی داوبواچولو قدرت هم نه لری نومخ دی دتیمم په نیت سره ددیوال یابل

شي سره ونښلوي اوكه پرمخ باندې دټپ له كبله پردي هم نه وي قادرچې مخ دمځكې يادېوال سره ونښلوي نوبيادي بيله پاكې لمونځ كوي. (احسن الفتاوی مخ۱۷ټوک دوهم بحواله ردمحتارمخ۲۳۲لومړی ټوک)

مسئله: كه دبجلكې دپورته برخې څخه پښه پرې شوې وي نود مصنو عي پښې وخلاصولو ته ضرورت نشته ځكه چې ددغې پښې مينځل ساقط شوي دي (دمصنوعي پښې يادبل مينځل ضروري نه دي. (آپ کی مسائل مخ ۳۲۹ټوک دریيم)

په ناسته اوسجده سره اودس ماتيږي ؟

پوښتنه : يوسړی دمواسيرونار وغی لړی څه وخت چې لمونځ كوي نودسجدې ركوع اوناستې په حالت كښې هميشه مرداري ځينې وزی خوڅه وخت چې ولاړوي بيادغه صورت نه وړپيښيږي نوپه دارنګه حالت كې لمونځ بايدڅنګه وشي خالص په ولاړه لمونځ كيدلای شي ؟

ځواب كه دناستې يودارنګه شكل وي چې دغه په اختيارولوسره مرداري نه راوزي نودي په ناسته سره لمونځ وكړي ركوع اوسجده دي په اشاره سره وكړي كه دغه ډول لمونځ كول ممكن نه وي نود ولاړ وپه حالت كښې دي لمونځ وكړي ركوع اوسجده دي په ايشاره سره كوي كه دبولوپه ځای كښې په جامه ايښودلوسره مرداري نه راوتله اودجامې ودباندې برخې ته مرداري نه رسيدله نوپه دغه ډول دي لمونځ وكړي. (احسن الفتاوی مخ۸۰ټوک دوهم اوفتاوی دارالعلوم مخ۲۹۰لومړی ټوک بحواله ردمحتارمخ ۲۸۳لومړی ټوک فصل احكام المعذور)

دكوم سړي اودس چې په كښينستلواوسجده كولوسره ماتيږي اوله ركوع اوسجدې څخه هم عاجزوي نودارنګه ناروغه دي په ولاړي

اواشاره کولو سره لمونځ وکړي ودغه رنګه ناروغه ته په ستونی ستغ پریوتلوسره لمونځ کول روانه دی دولاړي په حالت کښی دسجدی اورکوع لپاره اشاره کول صحیح ده.
(احسن الفتاوی مخ۸۰تو ک دوهم بحواله ردمحتارمخ۹ ۷۰لومړی توک بحواله بحرمخ ۲۷۲لومړی توک)

دبولودناروغه لپاره داودس حکم

مسئله: هغه پمبه چی دبولوپه سوری کښی ایښودل شوی وی اودننه برخه ئی لنده شوی وی ترڅوچی یي ښکاره برخه نه وی لنده شوی اودس نه ماتیږی. (احسن الفتاوی مخ۷۳توک دوهم بحواله ردمحتارمخ۱۳۸لومړی توک اوفتاوی دارالعلوم مخ ۱۲۹لومړی توک)

مسئله: دکوم سړی ځخه چی دبولوڅاڅکی لویږی که دغه څاڅکی په دننه سوری کښي ولیدل شی نواودس یي پرځپل ځای پاته دی ترڅوچی پردباندی برخه باندی ښکاره نشی اودس نه ماتیږی.
(فتاوی دارالعلوم مخ۱۳۵لومړی توک بحواله ردمحتارمخ۵۳لومړی توک کتاب الطهارة)

مسئله: وکوم چاته چی دبولوناروغی ورپیښه وی که هغه سړی دبو لوسوری له پمبه ځخه ډک کړی که دپمبه دننه اودباندی برخي لندی شی نوددغه سړی اودس مات دی لیکن داهغه وخت اودس ماتوی چی پمبه دسوری څخه دباندی راوتلی وی یاددغه په اندازه وی که هغه دسوری څخه لاندی وی یعنی په دننه برخه کښی پراته وی نوپه دغه وخت کښی دپمبه دلندیدلوڅخه اودس نه ماتیږی ځکه چی په دغه صورت کښی راوتل موندل شوی نه دی همدغه حکم دی دهغه پمبه چی کوم سړی یي دغټوبولوپه ځای کښي کښیږدی یایي ښځه په ځپل فرج کی کښیږدی یعنی که دغه پمبه له دغه ځای څخه دباندی وی

یاورسره برابروی اولندوالی دباندی راوتلی وی نواودس ماتوی که دغه ډول نه وو بیا اودس نه ماتوی لیکن که دپمبه دباندی برخه نه وی لنده شوی بلکه خالص دننه برخه لنده شوی وی نواودس نه ماتوی.

مسئله: که هغه پمبه دسوری څخه ولویدل نوورته کتل کیږی که پمبه لنده وه نواودس ماتوی اوکه نه وه لنده بیایې نه ماتوی اودغه حکم دی دهغه سړی داوداسه چی خپله ګوته دغټوبولوپه ځای کښی واچوی لیکن پوره ګوته دننه نه وی تللی یعنی که ګوته لنده راووتله نواودس ماتوی اوکه وچه راووتله بیااودس نه ماتوی.

مسئله: اوکه پوره ګوته پکښی داخله کړی دارنګه چی ټوله پټه شی نوددغه سړی اودس ماتیږی اوکه دغه عمل روژتی سړی داستنجاپه وخت کښی وکړی نودده روژه باطله ګرزی. (کشف الاسرارمخ ۱۴الومړی ټوک) داستنجاپه وخت کی په ګوته ننوتلوسره ځکه روژه باطلیږی چی د ګوتی سره دننه اوبه ځي ځکه چی داستنجاپه وخت کښی ګوته په اوبوسره لنده وه تفصیلی احکام دروژی متعلق په مسائل روژه کښی داحقرپه کتاب کښی وګوری. محمدرفعت قاسمی غفرله

دمعذوردجاموحکم

مسئله: دکوم ناروغه له تپ څخه چی وینی بهیږی څه وخت چی جامه بدله کړی هغه بیاناپاکه کیږی نوددغه ناروغه دجامی دپاکوالی داحکم دی که دایقین ووچی دلمانځه دکولوڅخه مخکښی دوهم ځل نه ناپاکه کیږی نوپه اجماع سره مینځل یې ضروری دی اوکه ددهم ځل دناپاکه کیدوویره وه نوبیایې مینځل ضروری نه دی.

مسئله: که جامه دمينځلويابدلولوځخه وروسته اودلمانځه له ختمو لومخکښې لنده شې نوددې مينځل يابدلول واجب نه دي که دارنګه نه وي بيا واجب دي.

مسئله: که وناروغه ته دناپاکوجاموبدلول ګران وي نوپه داغه جاموکښې دې لمونځ وکړي. (احسن الفتاوی مخ ۷۵ دوهم توک بحواله ردمحتارمخ ۶۳ ۵ لومړی توک اومخ ۲۸۲ لومړی توک اوبهشتی زيورمخ ۵ ۵ لومړی توک شرح التنويرمخ ۱۶۱ لومړی توک)

مسئله: که دوخت دداخليدلووروسته يوتپ راغلی چې له هغه ځخه وينه نه بنديدله نولمونځ دتراخردوخت پورې وځنډه وي که بياهم وينه نه وه بنده شوې بيادې اودس وکړي اولمونځ دې وکړي که ددوهم لمانځه په توله وخت کښې هم بهيدله نوداول لمانځه راګرزول ضروري نه ده اوکه ددوهم لمانځه دختميدلوځخه مخکښې وينه ودريده نوداول لمانځه راګرزول واجب دي (که يې داګمان وو چې ددوهم وخت دختميدلوځخه مخکښې عذرختميږي نولمونځ په اخري وخت کښې کول فرض نه دي) بنه داده چې لمونځ وکړي اووروسته دې قضاً راوړي. (احسن الفتاوی مخ ۲۸۲ لومړی توک)

مسئله: که له تپ ځخه نوونه راووزي که ځه هم په پټۍ کې دننه وي اودې ماتيږي خودچاتپ شي هروخت بهيږي دمعذروالی له کبله دهغه اودس نه ماتيږي. (امدادالفتاوی ۳۴ ج ۱)

ايامعذورداشراق په اودسه سره دماپښين لمونځ کولای شي

پوښتنه: يومعذورسړي دې اودس نې وکړي اودسهارلمونځ ئي وکړي بيادلمردراختلووروسته يې بل اودس وکړي اوداشراق لمونځ

يې په وکړی څه وخت وروسته يې په دغه اوداسه سره دڅاښت لمونځ وکړی ايا دا صحيح کيږی ؟

ځواب :دڅاښت لمونځ خو صحيح کيږی بلکه دماپښين لمونځ هم په دغه اوداسه سره صحيح کيږی ځکه چې دمعذور اودس دوخت په وتلو سره ختميږی نو ځکه دماپښين دوخت ترختميدلو پورې چې زړه يې وغواړی فرض اونفل کولای شی. (احسن الفتاوی مخ۷۸توک دوهم بحواله ردمحتارمخ۲۸۲لومړی توک)

ايامعذورسړی تروخت مخکښی اودس کولای شی ؟

پوښتنه : معذورسړی دهرلمانځه لپاره نوی اودس کوی خوڅه وخت چې معذوردمانښام دلمانځه لپاره اودس کوی نويويادوه رکعته ځينی تيريږی نوپه دغه رنګه وخت کښی دی دوخت څخه مخکښي اودس کولای شی ؟

ځواب : معذورسړی دوخت څخه مخکښی اودس نشی کولای څه وخت چې وخت داخل شی بس اودس دی کوی که څه هم دجماعت دتيريدلوويره وی. (فتاوی دارالعلوم مخ۲۸۹لومړی توک بحواله ردمحتارمخ ۲۸۰لومړی توک)

مسئله: که يوسړی په دارنګه ناروغی کښی بوخت ووچې په هغه کښی داودس دماتيدلوشيان روان وويعنی وده ته دومره وخت نه ورپيدا کيدی چې دناروغی څخه خالی وی اودی لمونځ پکښی وکړی نودغه سړی ته دهرلمانځه لپاره نوی اودس کول ضروری دی ځکه چې دده اودس دوخت په ختميدلوسره ماتيږی کومه ناروغی چې وده ته

وريپيښه ده په دغه سره اودس نه ماتيږی اودلمانځه دوخت په را تللوسره نه ماتيږی.

مسئله: هغه سړی چی دناروغی له کبله يي اودس نه پاته کيږی دلمر ذراختلووروسته يي اودس وکړی اوبل داسی شی نه شووريپيښ چی اودس ماتوی نودماپښين په راتللوسره ددغه کس اودس نه ماتيږی بلکه دماپښين دوخت په ختميدلوسره ماتيږی اودمازديګرپه راتللوسره پرده نوی اودس لازميږی اوترڅوچی يي ناروغی يومخ نه وی جوړه شوی يعنی ديوه لمانځه پوره وخت نشوپيداچی په هغه کښی دده ناروغی نشی پيښه نودغه سړی معذوربلل کيږی ديلګی په توګه ديوکس دسترګی څخه خيری راووزی اوهروخت دسترګو څخه اوبه بهيږی ياديوکس دسوزک ناروغی وی هر وخت دهغه بولی بهيږی ياديوکس ته دهواناروغی وريپيښه وی يعنی هروخت يي دلويبولوله ځای څخه هواراووزی يايي لويي بولی جاری وی ياديوکس دتپ څخه هميشه وينی يانوونه بهيږی ياديوکس دارنګه ناروغی وی چی ترپوزه يي هميشه وينی بهيږی ياديوکس له فرجو څخه هميشه منی يامذی بهيږی يايوښځه مستحاضه وی (يعنی دیوښځی څخه دحيض اونفاس څخه پرته نوری وينی ديوناروغی له کبله راځی. (علم الفقه مخ ۶۵لومړی ټوک)

مسئله: د کوم کس چی دارنګه ناروغی يي وی چی داودس دماتيدو لړشيان يي جاری وی ودغه کس ته دامستحب ده چی تراخره وخته پوری انتظاروکړی اوپه اخری وخت کی اودس وکړی په اول وخت

کښې يې نه وکړې ځکه چې دا کيدلای شي چې په اخروخت کښې دده ناروغي ورکه شي. (علم الفقه مخ ۸۳لومړی توک)

مسئله: که ديوچاپښه دبجلکی سره پرې شوی وه اوپه بله پښه يې موزه اغوستې وه نوودته خالص پريوه موزه مسح کول روادی.
(علم الفقه مخ ۸۳لومړی توک)

دمعذورداوداسه په اړوندمسئلې

مسئله: که يوحکيم حاذق (پوه طبيب) ويوچاته دناروغی له کبله ديواندام له مينځلو څخه منع کړي نوددغه اندام مينځل فرض نه دی بلکه مسح دې کړي خومسح هم هغه وخت چې زيان نه رسوی که يې زيان رساوی بيامسح هم معاف ده.

مسئله: په اوداسه کښې چې دکوم اندامومينځل فرض دی که په دغه اندامو کې تپ وی ياچاودلی وی يادردکوی نوکه په دغه حالاتو کې اوبه رسول تکليف نه وي اونه زيان وررسيږی داوبوله کبله نو مينځل يې فرض دی که داسې نه وی بيادی مسح وکړی اوکه مسح هم نشی کولای نوبس پريږدی. (درمختار)

مسئله: که په لاس کښې تپ وی ياچاودلی وی چې دهغه له کبله لاسونه اودلاسوپه ذريعه نوراندامونه نشی مينځلای اونه په يوبل چل سره نوراندامونه مينځلای شی اونه ئي په بل مينځلای شی نوپه دغه صورت کی اودس فرض نه دی بلکه تيمم دی ووهی که يې کولای شو.

مسئله: پرلاس پښه اومخ باندی که دوااچول شوی وی نوپردوباندی اوبه بهول واجب دی په دی شرط چې زيان به نه رسوی که داوبوبهولووروسته دواخپله ايله شوه ياېې په قصدايله کړه که دجوړ

والی له کبله ایله شوه یایي بیله ګړه نومسح باطلیږی یعنی ددغه اندامومینځل ضروری دی.
مسئله: که دیوچالاس سره له ږیرپوړی شوی وی یایي پښه سره له بجلکوپری شوی وی نوپه دغه حالت کی دلاس اوپښی مینځل واجب نه دی که یي په یوطریقه مینځلای شی اودسرمسح کولای شی نودی وکړی که یي نشی کولای هغه هم فرض نه دی بلکه دتیمم په نیت سره دی ددیوال یابل شی سره ونښلوی اوپه دغه صورت کښي دی مسح وکړی.
مسئله: که دیوچالاس پری شوی وی خوږیري یادږیري څخه زیات پاته وی یایي پښه پری شوی وی خوبجلکه یادبجلکی څخه زیات پاته وی نوپه دغه صورت کښی دږیری اوبجلکې مینځل واجب دی اودهغه څخه دلاندی برخی مینځل فرض دی.
مسئله: که لاسونه دږیریوسره پری شوی وی یاپښی له بجلکوسره پری شوی وی اومخ هم خوږمن وی نوپه دغه صورت کښی اودس فرض نه پاته کیږی.
مسئله: کوم څوک چی له یووجی څخه ددواړوغوږومسح په یوه ځل نشی کولای (فلج زده وی)نودی لومړی دراسته غوږمسح وکړی بیادی دچپه غوږمسح وکړی. (علم الفقه مخ۸۲لومړی توک)
داوداسه په اندامو کښي یواندام خوږیامات شی
داوداسه په اندامو کی یواندام خوږیامات شی یایي له یووجی پټی باندی لګولی وی ددغه دری صورته دی (لومړی) صورت دپټی خلاصول ضررمن وی دبدن مینځل ضررمن وی اوکه نه ی لکه چی

دمات شوی لاس یا پښې پټې خلاصول ضررمن دی نوپه دغه صورت کښې که پرپټې مسح کول زیان نه رسوی نوپرپټوله پټې دی مسح وکړی دغه پټې دټپ په برابری باندی تړل شوی اوکه دټپ څخه پرته پرجوړبدن هم تړل شوی وی اوکه مسح هم زیان رسوی نوبس پرې دی ږدی (دوهم) صورت دپټې خلاصول ضررمن نه وی لیکن څه وخت چې یې خلاصه کړی بیایې خپله نشی تړلای یاداسی کس هم نه وی چې ویې تړی نوپه داسی حالت کې دی مسح وکړې په دی شرط چې زیان نه رسوی که یې رسوی بیاهم مسح معاف ده (دریم صورت)دپټې خلاصول که ضرر من نه وی اونه دخلاصولوروسته بیرته په بندولو کښې وخت لګیږی نوپه دارنګه حالت کښې که دټپ مینځل زیان نه رسوی نوپټې دی خلاصه کړی ټول اندام دی ومینځي اوکه دټپ مینځل زیان رسوی نوخوږمنه برخه دی نه مینځی پاته جوړه برخه دی ومینځی په دی شرط چې دمینځلوله کبله زیان نه رامنځ ته کیږی پرخوږمنه برخه که مسح تاوان نه رسوی نودی مسح پروکړی که یې تاوان رساوی بیادی پټې وتړی اومسح دی باندې وکړی که مسح هم تاوان رساوی بیامسح هم معاف ده.

مسئله: که پټې دارنګه تړل شوی وه چې په منځ کښې یې جوړه برخه هم تړل شوی وه پردغه دی هم مسح وکړی په دی شرط چې دپټې خلاصول یادهغه اندام مینځل زیان رسوی. (علم الفقه مخ ۸۳لومړی توک)

مسئله: که پریوه پټې بله پټې وتړل شی نوپرهغه هم مسح روا ده.

(علم الفقه مخ ۸۳لومړی توک)

مسئله: که بیله پټی په مسح کولو کښې ویره وی نودی پرېټی باندی لوندلاس تیرکړی که په شاوخوا کښې یوځای وچ پاته شی پروانلری پرټوله ځای دی لاس تیرکړی که څه هم اوبه ولګیږی اوپاته شی لکه څنګه چی په مسح کښې کیږی پروانلری اوکه دغسل ضرورت وی بیایې هم دغه حکم دی یعنی دټپ ځای دی مسح کړی (لوندلاس دی باندی تیرکړی)اوپرنوربدن دی اوبه وبهوی اوودی مینځی.

(فتاوی دارالعلوم مخ۲۹۷لومړی ټوک بحواله ردمحتارمخ۰۰لومړی ټوک باب المسح علی الخفین تفصیل وګوری په بهشتی زیورمخ۴۹لومړی ټوک بحواله شرح الوقایه مخ۱۰۱لومړی ټوک مراقي الفلاح مخ ۳۶کبیری مخ ۱۱۵غنیه مخ۱۱۵فتاوی هندیه مخ۳۴)

مسئله: که پرټپ پټی تړل شوی وی وینه اونوونه پرېټی باندی ښکاره راوزی که وینه یانوونه دومره ووچی که پټی نه وای تړلی نووینه به له خپل ځای څخه بهیدله نواودس ماتیږی. (علم الفقه مخ۵لومړی ټوک)

اودس په دوه ډوله شیانوسره ماتیږی

اودس چی په کوموشیانوسره ماتیږی دهغه دوه قسمه دی یوهغه شی دی چی دانسان له بدن څخه ووزی بل هغه دی چی دانسان پربدن باندی راځی لکه بی هوښې خوب اونورداول قسم دوه صورته دی یوهغه چی دخاص اومشترکی برخی څخه ووزی لکه بولی اوګندګی دوهم هغه دی چی دنور وځایوڅخه که یوشی ووزی لکه وینه ،قئ اونوردلومړی قسم صورت : لومړی دژوندي انسان له خاصې برخې څخه کوم شئ ووزي نو اودس ماتوی خوادغه شی پاک وی لکه شګه یاډبره یابل شی یاناپاکه وی لکه بولی ګندګی مذی همدارنګه نور(دوهم)نارینه یاښځینه که په خپل فرج کښې جامه یابل شی کښیږدی اودغه جامه په بولوسره لنده شی اودجامی په دباندی برخه

کنبې ددې اثرمعلوم شونواودس ماتیږي داهغه وخت چې جامه په فرج کنبې نه وي پټه شوي که جامه په فرج کنبې پټه وه بیاپه لندولوسره اودس نه ماتیږي غرض داچې دمرداري په وتلوسره هغه وخت اودس ماتیږي چې مرداري جلاشي یابنکاره شي.

مسئله: دژوندی سړي دلویوبولوله ځای څخه که یوشی وواتی خوپاک وی لکه شګه یاډبره یاناپاکه وی لکه لویې بولې اودس ماتوی

مسئله: که دښځې دلوی اوکوچنی بولوځایونه سره یوشوی وو فرق یې نه کیدی نودهرې برخې څخه چې یې هواراووزی اودس ماتوی ځکهددوی فرق نه دی پاته شوی.

مسئله: که په دووبرخوکنبې دیوی برخې څخه شی راووتی بیرته ننوتی اودس ماتوی دبیلګی په توګه دښځې له فرج څخه ماشوم یوجزلکه سریابل غړی راوواتی اوبیرته ننوتی که هغه غړی دباندی راوتلی وونیم وی یادنیم څخه زیات یالږوی په دی شرط چې وینه به نه وی راوتلی دایې ځکه وویل چې که وینې راووزی بیاخولویه بې اودسی ده چې غسل واجبوی (دوهم) دنارینه یاښځینه دلویوبولوله ځای څخه یوشی راووزی بیابیرته ولاړشي یعنی دننه شی (دریم) همدارنګه که دکولمی یابل شی یوه برخه دباندی راووتله اوبیرته ننوتله (څلورمه) که دیوکس دلوې بولوله ځای سره یادکوچنې بولوله ځای سره نیژدی یوتپ جوړشواوله هغه څخه سوری جوړشونوددغه سوری هم هغه حکم دی کوم چې دبولودځای دی په دی شرط چې ددغه سوری څخه به هم هغه مرداری راوزی کوم چې دبولوله ځای څخه راووزی دبیلګی په توګه (لومړی

)دلوئی بولوله ځای سره نژدې يوسوری جوړشی اوله هغه ځخه مرداری راووزی (دوهم) یادکوچنی بولوله ځای سره نیژدی یوسوری جوړشی اوله هغه ځخه بولی راووزی (دریم) که دلږی بولوپه ځای کښی یوشی واچول شی لکه لرګی یاګوته یابل شی هغه یې خپله پکښی واچوی یایې بل پکښې واچوی نوځه وخت چی هغه دباندی راووزی اودس ماتیږی (داهغه وخت چی هغه شی لوندوی یعنی په مرداری لړلی وی که دارنګه نه وويااودس کول ښه کاردی .محمدرفعت قاسمی غفرله

(ځلورم) منی که بیله خونده ووزی اودس ماتیږی دیلګی په توګه یوکس دروندشی پورته کړی یاله یوپورته ځای ځخه راولویدي اوله تکلیف ځخه يې منی بیله خونده ووتلو(دبیله خونده توری ځکه وآیې که په خوندسره ووتلویاغسل واجبوی.

(پنځم)دکوموشیانوله کبله چی غسل واجبیږی لکه حیض نفاس او منی په دغه سره اودس هم ماتیږی. «علم الفقه مخ ۶۵لومړی توک هدایه مخ۷لومړی توک شرح نقایه مخ ۹لومړی توک ، کبیری مخ۱۲۴تفصیل وګوری بهشتی زیورمخ۱۱۶لومړی توک اوبخاری شریف مخ۲۹ ج۱اوفتاوی دارالعلوم مخ۱۴۰لومړی توک»

په اوداسه کښی دیواندام په نه مینځلوکی شک پیداشی نو؟

مسئله: له اوداسه کولووروسته که دیواندام په نه مینځلوکښی شک پیداشو اوهغه اندام معلوم هم نه دی نودی دشک دلری کولولپاره کینه پښه ومینځی همدارنګه که داوداسه په منځ کښي دیواندام دنه مینځلوشک پیداشی نوپه دغه صورت کی دی اخری اندام ومینځی دیلګی په توګه دریږی پوری دلاس دمینځلووروسته دغه شک پیداشونومخ دی ومینځی اوکه دپښي دمینځلوپه وخت کښي دغه شک پیداشونولاس دی ومنځی اوداهغه وخت چی کله شک پیدا

کیږي او که یو کس ته زیات وخت دغه شک ورپیدا کیدي نو هغه لره په کار ده چې ودغه ته خیال نه کوی او خپل اودس دی پوره وبولی.

(علم الفقه مخ ۸۳ لومړی توک)

دمظاهر حق جدید په اول جلد ۴۰۲ مخ باندی یو حدیث شریف دی چې دهغه مفهوم یعنی معنی داده چې شیطان داوداسه کولو په وخت کښی دخلګو په زړو کښي وسوسې اوشکونه پیدا کوی او هغه کس حیران بې عقله جوړوی کله کله داخیال وراچوی چې اوبه وتول ځای ته نه دی رسیدلی او کله یې په دی شک کښي اخته کوی چې داوداسه اندامونه یو ځل مینځل شوی دی که دوه ځله او کله یې داشک ورپیدا کوی چې اوبه مرداری وی اوس په نورواوبو سره اودس وکړه غرض داده چې په بیلابیلو وسوسو اوشکونو سره داوبو په کارولو کی اسراف (زیاتوب) په کوی او اندامونه دسنت طریقی ترحده زیات مینځل کیږی (حدیث) نو ځکه حکم شوی دی چې دوسوسی له اوبو څخه ځان وژغوری یعنی داوداسه په وخت کی داوبو په استعما لولو کی که دارنګه وسوسی رامنځ ته شی نو دغه وباسه اولری یې کوه او اودس په دارنګه توجه سره وکړه چې دشیطان په جال کښی بند نشی اودسنت طریقی څخه زیات هم نشی (ا. محمدرفعت قاسمی

(په اوداسه کښی دمفصل شک تفصیل په کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه کښي وګوری مخ ۱۲۵ لومړی توک)

له اوداسه څخه وروسته پرچادراوبه شیندل

مسئله: پرپرتوګ یا بل شی باندی دوسوسی په غرض سره اوبه شیندل صحیح دی خودکوم سړی چې دبولو ډاډکوناروغی وی هغه دی اوبه هیڅ کله نه باندی اچوی ځکه داویره ده چې پرتوګ دی مردار شی

که په دغه منځ کښې دبولوڅاڅکې راغلی نوپرتوګ یقینا ناپاک ګرزي. (فتاوی رشیدیه مخ۲۸۴لومړی ټوک)

داوداسه اوبه په د سمال پابل شي سره وچول

مسئله :داوداسه اوغسل وروسته بدن په دسمال یابل شي سره وچول په قوي اوصحیح قول سره روادی (دمخ په وچولوسره په ثواب کښې هیڅ کمی نه راځي) لیکن مستحب دادی چې په وچیدلوکښې ډیرزیاتوب و نه کړي بلکه دارنګه دي وچ کړي چې یوڅه اثرپي پاتی شي که یووخت په لمن سره وچ کړل شي روادی خو همیشه په لمن سره وچول بزرګانودغه منحوس عادت بللی دی په حدیث شریف کښې راغلی دی چې دنبی کریم ﷺ یوه جامه وه چې په هغه به یې همیشه داودس اندامونه وچول.

(الجواب المتین مخ ۷آپ کی مسائل مخ۳۴ټوک دوهم احسن الفتاوی مخ۲۵ټوک دوهم بحواله ردمحتارمخ۱۲۱لومړی ټوک علم الفقه مخ ۸۳ لومړی ټوکاوکتاب الفقه مخ۱۱۹لومړی ټوک)

مسئله: له اوداسه وروسته په دسمال سره لاس مخ وچول روادی اوکه نه شي وچ هیڅ پروانلری اوداخبره چې دړیری اوبه پرمځکه ایله کیږي وفرشتوته دهغه په پورته کولو کښې تکلیف وی بی بنیاده ده. (فتاوی دارالعلوم مخ۱۳۲لومړی ټوک بحواله ردمحتارمخ۱۲۱لومړی ټوک)

مسئله: داوداسه اندامونه په یوه جامه سره وچول که تکبراولويي دښکاره کولولپاره وي نومکروه دي اوکه نه وي مکروه نه دی. (مظاهرحق مخ۴۰۲لومړی ټوک)

له اوداسه کولووروسته تحیة الوضوءکول

له حضرت ابوهریرة ؓ څخه روایت دی: چې نبی کریم ﷺ یوځل وحضرت بلال ؓ ته وویل: چې ای بلاله ماته ستایوداسی اسلامی

عمل په ګوته کړه چې پرهغه باندې وتاته دثواب ترټولو عملونولوی اميدي ځکه چې ما ستادچپلواوازپه جنت کښې مخته مخته اور يدلې دې حضرت بلال رضی الله عنه ځواب ورکړې چې ماته په ټولو عملونوکښې زيات اميدپردغه عمل دې چې شپه ياورځ څه وخت چې اودس وکړم له هغه وروسته دتوفيق په اندازه څه لمونځ هرومرو کومه (بخاري اومسلم) له حضرت عقبه بن عامر رضی الله عنه څخه روايت دې چې رسول الله ﷺ وفرمائل: کوم څوک چې په ښه طريقه اودس وکړي اوبيادوه رکعته لمونځ دارنګه وکړي چې زړه اومخ دواړه يې دلمانځه ولورته متوجه وي يعنی دښکاره اوپټ په پوره توجه او عاجزۍ سره يې وکړي نودغه کس لپاره جنت واجبيږي. (الترغيب مخ۳۶۴) مسئله: له اوداسه کولووروسته که وخت مکروه نه وي دوه رکعته کول مستحب دي. (شرح نقايه مخ۱الومړی ټوک)

تيمم څه دی ؟

دتيمم دحکم دنازليدو واقعه دشعبان دمياشتې شپږمه وه چې دالله تعالی يولوی احسان دی اودمسلمانولپاره يولوی نعمت دی ددی دشروع حال دام المؤمنين حضرت عائشة رضی الله تعالیٰ عنها له بيان څخه معلوم شودادی چې دنبی ﷺ عادت شريفه ووچې څه وخت به يې دسفراراده کوله نوبه يې دخپلوازواجو مطهراتونومونه به يې وليکل دکومې يوې نوم چې به ژاوخاتی هغه به يې له ځان سره په سفربيوله نبی ﷺ ديوسفراراده وکړه دخپل عادت په څېريې نومان وليکل دحضرت عائشې صديقې رضی الله تعالی عنهانوم راوخوت (دزياتوعلمأ په اند دغه دغزوه بنی مصطلق سفرووچې غزوه مرسيع

هم ورته ویل کیږی)او هغه یي د خپل ځان سره په سفربوتله له سفرڅخه
په راستنیدو کښی چی څه وخت وځای ذات الجیش ته راورسیدلو
اوذوالحلیفه سره چی دیوغره په نوم صلصل ځای مشهوردی هلته
یي وارول چی مدینه منوره ډیره ځینی لیری وه هلته دحضرت عائشی.
صدیقی رضی الله تعالی عنهاامیل وشکیدی نبی کریم ﷺسره له
ټولوخادمانوهلته ودریدل اودځارنې لپاره یي حضرت اسیدبن حضیر
رضی الله عنه (دادلوی شان انصارصحابی اودنبی کریم ﷺڅخه لس
کاله وروسته وفات شویه سلګونوصحابه دده شاګردان دی)اوځه
صحابه یي وټاکل اوامیل نه ؤ پیداشوي چی دسهاردلمانځه وخت
راغلی هلته نیژدی اوبه نه وی صحابه کرام ډیرپه شک کښی شول چی
څنګه بی ځایه بند شوو ځینوخلګودحضرت ابوبکرصدیق رضی الله
عنه څخه شکایت وکړی چی وګوره حضرت عائشه رضی الله
عنهاخلګ په څنګه ځای کښی بندکړل چی داوبونښان هم نشته
اودلمانځه وخت راروان دی ابوبکرصدیق رضی الله عنه درسول الله
ﷺوخیمی ته ورغلی اوو حضرت عائشې صدیقې رضی الله عنهاته
یي غوصه شروع کړه چی ته همیشه خلګ په پریشانی کښی اچوی
اوس نبی کریم ﷺپه داسی ځای کی راګیردی چی اوبه نه پیدا کیږی
حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه حضرت عائشه رضی الله
عنهایوڅه ووهله هم لیکن عائشی صدیقی رضی الله عنهادیوی
خبری په ځواب هم څه نه وویل اونه ښوریدلی ده ځکه چی نبی کریم
ﷺټوله شپه ستړی شوی وو اوویده ووپه امیل پسی یي ځارنه وکړه
خوپیداییي نکړی اسیدبن حضیراونورصحابه هم په خپلوهڅوکښي

بریالی نه شول اوبیرته راغله اوټولوخلګو دمجبوری له کبله هلته بیله اوداسه لمونځ وکړی اوداميل دپیداګولو امیدیي ختم شودروانیدواراده يي وکړه په دغه وخت کښي الله جل جلاله دسورة مائده ددوهمی رکوع ایاتونه نازل کړل چی په هغه کښی دتیمم حکم دارنګه بیان شوی دی اوَإِن كُنتُم مَّرْضَىٰ أَوْ عَلَىٰ سَفَرٍ أَوْ جَاءَ أَحَدٌ مِّنكُم مِّنَ الْغَائِطِ أَوْ لَامَسْتُمُ النِّسَاءَ فَلَمْ تَجِدُوا مَاءً فَتَيَمَّمُوا صَعِيدًا طَيِّبًا فَامْسَحُوا بِوُجُوهِكُمْ وَأَيْدِيكُم مِّنْهُ مَا يُرِيدُ اللَّهُ لِيَجْعَلَ عَلَيْكُم مِّنْ حَرَجٍ وَلَٰكِن يُرِيدُ لِيُطَهِّرَكُمْ وَلِيُتِمَّ نِعْمَتَهُ عَلَيْكُمْ لَعَلَّكُمْ تَشْكُرُونَا

اوکه تاسوناروغه یاتاسوپه سفرکښي یاست اویاراشی یوله تاسو څخه دضرورت له ځایه یانژدی شی له بیبیانوخپلوسره پس بیاموا وبه نه کړی پیدانوقصدوکړی دپاکی زمکی اومسح وکړی پرمخوخپلو باندی اولاسوخپلوباندی له دغه پاکی زمکي الله تعالی دانه غواړی چی پرتاسوتنګی راولی لیکن الله تعالی داغواړی چی تاسوپاک کړی اوپوره کړی ښیګڼی پرتاسوباندی ددی لپاره چی تاسوشکر اداکړی) نبی کریم ﷺډیرخوشحاله شواوويي ویل چی ای عائشی ستاامیل ډیردبرکت وودنبی ﷺله وینا څخه وحضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ته ډیره خوشحالی حاصله شوه اودخوشحالی په حالت کښي دری ځله وویل ای لوری ته ډیره مبارکه اودښه بخت خاونده يي .:اسیدبن حضیر رضی الله عنه چی دامیل په موندلوکي يي ډیره هڅه کړی وه ويي ویل ای دابوبکراولاددا ستاسودخلګولومړی برکت نه دی بلکه له دی څخه مخکښی هم ستاسوله وجې الله تعالی پرمسلمانانوباندی احسانونه کړی دی دالله تعالی په دغه نعمت او احسان سره ټول خلګ

خوشحاله شول او خپلې بسترې او کجاوې يې وتړلې څه وخت چې يې دحضرت عائشته دسپړيدلو اوبن ولاړکړنواميل ترهغه لاندې ووچې دهغه له امله دحضرت عائشې خوشحالي دوه گونه شوه اوونبي کريم ﷺته ارام حاصل شواوټولوخلگودخداى جل جلاله دمهرباني شکراداکړاوبيرته ومديني منورى ته ستانه شول له دغي ورځي څخه داوبودنه شتون اوناروغى له کبله دتيمم حکم جارى شواونبي کريم ﷺوويل: [الصعيدالطيب طهورالمسلم وان لم يجدالمأ عشرسنين فاذاوجدالمأفليمسه بشره] يعني که يومسلمان ته لس کاله اوبه نشي حاصلى نوودغه سړى ته په پاکوخاوروتيمم وهل په کاردى اودغه تيمم کافي هم دى بياڅه وخت چې اوبه پيداشي نوپه هغه سره دى اودس ياغسل وکړى دتيمم دحکم دنازليدلوپه وخت کښې صحابه ټوله د نبي کريم ﷺسره نه وونوځکه دغه حکم په کرارکرار سره وخلگوته معلوم شوو اوځيني وخت دنه خبرتياله کبله خلگ دسختى سره مخامخ کيدو خپله نبي کريم ﷺاوصحابه وو وخلگوته دتيمم داحکاموخبرتيا ورکوله اودوخت په پيداکيدوسره يې دمفصل حکمونوتعليم کاوو.

دتيمم په هکله يوڅوروايات

(۱)روايت:يووخت نبي کريم ﷺپه سفرکې وو دلمانځه څخه دخلا صيدو وروسته يې يوسړى وليدى چې په لمانځه کښې نه وو شريک اودټولوڅخه بيل ناست وو نبي ﷺوويلوچې څه وجه ده چې تاله ټولوخلگوسره يوځاى لمونځ نه وکړ هغه وويل پرماغسل فرض شوى دى او اوبه مې نه کړى پيداله دغه امله لمونځ نشم کولاى (دغه سړى

داخیال کوی چی تیمم یوازی داوداسه پرځای دریدلای شی اودغسل لپاره تیمم نه صحیح کیږی.نبی کریم ﷺورته وویل چی په پاکوخاورو سره تیمم ووهه هغه کافی دی. (بخاری اومسلم)

(۲)روایت:یووخت صحابه دجهادپه غرض په سفرکښي ووپه دوی کی دیوه صحابی په سرکښې ددښمنانوله لوری څخه ډېره ولګیده چی سريي مات شو دغسل حاجت يي پيداشونويي دمجاهدینو ملګرو څخه پوښتنه وکړه چی په دغه حالت کښي تیمم روادی کنه ؟ هغو وویل: چی که ته غسل کولای شی بیازموږ په خیال ستالپاره تیمم روانه دی (ودوی ته مسئله معلومه نه وه چی که دناروغی دزیاتیدو ویره وه بیاتیمم روادی که څه هم اوس پرغسل اواودس کولوباندی قادروی)هغوخلګو پراحکاموشرعی باندی ځان قربانولو عبادت اوپاکی یي په تول ژوند کښی ښه بلله په دغه حالت کښی یي غسل وکړی اولمونځ یي اداکړي داوبوله کبله یي ټپ خرابي شو اودغه دالله ﷻمخلص اوځان قربانونکی صحابی له دنیاڅخه یي کوچ وکړدجنت فردوس په ځایو کښي یي ځای ونیوی پاته صحابه چی څه وخت ومدینی منوری ته بیرته راغلل اودنبی کریم ﷺپه خدمت کښی حاضرشول اوحال یي ورته ووایونوبی کریم ﷺوویل خدای دی یي هغوته وروښيي هغودغه بیچاره مرکړی (یعنی دغه خلګوغلطه مسئله وروښودله چی دهغه دمرګ ذریعه وګرزیده.

(۳)روایت دادی: چی دصحابه کراموڅخه دوه صحابه په سفر کښی وواوبه یي نه کړی پیدانودواړوتیمم وواهولمونځ یي وکړی لیکن دلمانځه دوخت له وتلوڅخه مخکی اوبه پیداشوی یوه صحابی اودس

وکړی لمونځ یي راوګرزاوی دوهم صحابی لمونځ نه راوګرزا وو څه وخت چی نبی کریم ﷺ ته ورسیدل حال یي ورته بیان کړکوم صحابی چی لمونځ دوهم ځل نه ووکړی نبی کریم ﷺ هغه ته وویل چی تاپرطریقه مسنونه اوپرقاعده شرعیه عمل کړی دی اولومړی لمونځ کافی کیږی اوودوهم صحابی ته یي وویل چی وتاته دراګرزونی ثواب درکول شو (ځکه چی دوهم ځل لمونځ په نفلوکښی شمارشودهغه ثواب هم حاصل شو.

(۴)روایت دتیمم دحکم دحاصلیدوروسته حضرت عمرفاروق او عماررضی الله عنهماپه یوسفرتللی وواتفاقاددواړوصحابه وود غسل حاجت پیداشودزمانی شروع وه دتیمم مفصل احکام نه وو معلوم نوځکه عمار رضی الله عنه په خاوروکښی ښه ورغړیدی تیمم یي وکړی یعنی دغسل پرځای یي دټوله بدن تیمم وکړی اولمونځ یي وکړی .حضرت عمر ﷺ داخیال وکړی چی تیمم یوازی داوداسه پر ځای دریږی دغسل لپاره روانه دی نولمونځ یي نه وکړی بیرته ونبی کریم ﷺ ته راغلواودنبی کریم ﷺ په خدمت کی حاضرشول اوعرض یي وکړنونبی کریم ﷺ پرزمکه دواړه لاسونه ووهل اوپرمړوندویي یوڅه اندازه وګرزول اشاره وکړه چی بس همدومره کافی ده یعنی څومره چی داودس تیمم دی هم دومره دغسل تیمم دی په زمکه کی درغړیدو حاجت نشته.(طهورالمسلمین مخ له ۴ تر ۲۰ پوری تالیف حضرت مولانا اصغرحسین میا ن صاحب سورة مائده پاره ۶ تفصیل وګوری بخاری مخ۴۸ لومړی توک مسلم مخ۱۶۰ لومړی توک مظاهرحق مخ۴۸ لومړی توک)

دتيمم معنى

دتيمم لغوي معنى قصدكول دي اوپه اصطلاح دشرع كښې ددې مطلب دادې: چې دپاكى حاصلولوپه نيت سره دپاكې خاورې پاهغه شي چې دخاوروپرځاى دريږي (دبره چينه اونورشيان) قصدكول اودغه پاكې خاورې پرمخ اولاسولګول اوددې صورت دارنګه دې چې دواړه لاسونه دې پرپاكه خاوره ياپل شي ووهي اويوځاى دې يې كړې اوبيادې دواړه لاسونه پورته كړي اوټك دې وهي يعني خاورې دې څنې لرې كړي اووروسته دې پرمخ باندې اوترڅنګلوپورې دې كش كړي تيمم په اصل كښې هغه وخت داودس ياغسل پرځاى دريږي چې اوبه نه وي ياخواوبه وي پراستعمالولويې قادر نه وي او دخداي جل جلاله له هغوغټو نعمتونو څخه يونعمت دى چې په خپل كرم اوفضل سره يې يوازې پرامت محمدي ﷺ باندې كړي دي په تيروشوو امتوكي دغه تيمم مشروع نه وو اودتيمم لپاره چې پرپاكوخاورو ياپل شي باندې لاسونه وهل كيږي وهغه ته ضرب ويل كيږي. (مظاهرحق مخ۴۷۰لومړى ټوک)

تيمم په امت محمديه پوري خاص كړل شوى دى

نبى كَريم ﷺ وويل چې موږته دتيروشوو امتونوپرخلګو باندې په خاص ډول ددرو شيانوپه ذريعه فضيلت راكول شوى دى.

(۱)زموږ (دلمانځه ياجهاد) صفونه دملائكو په ډول ګرزول شوي دي ،يعنى لكه څنګه چې ملائكوته په صف كې غبادت كولوباندې ډير زيات نژديكت اوبزرګي حاصليږي دغه رنګه موږته هم حاصليږي.

(۲)زموږ لپاره دټولې زمكې مخ دلمانځه ځاى جوړكړل شوى دى.

(۳) ددي زمکې خاوره زموږ لپاره پاکوونکي ګرزول شوې ده په هغه صورت کې چې زموږ سره اوبه نه وي . (مسلم)

تشریح: ددروشیانوپه وسیله یعنی په تیرو امتونوکي دلمونځ کولو لپاره دجماعت اوصف جوړولوپابندي لازمه نه وه ،هغوی چی به څنګه غوښت هغسی به ئي لمونځونه کول دهغوئ لمونځ ددوئ له ځانګړوځایونو (کنائس ،بیع) پرته په کوم بل ځای کی کول روانه وو،اونه هغوئ ته دتیمم سهولت ورکول شوی ؤ،اوودغه (محمدي) امت ته پرتیروامتونوچي دکوموشیانوپه وسیله ځان ته یوشان اوپورته والی ورکړل شوی دی له هغوئ څخه په ځانګړی توګه دغه دري شیان هم دی چی مسلمانانوته دصف جوړولواوپه جماعت سره لمونځ کولوحکم وشو،اوپردی یي دملائکوپه څیراجراوثواب موندلوپه هیله کړو، مسلمانانوته سهولت ورکول شوی دی پرته له ځکمه چې هر چیري وي (پرپاک ځای) لمونځ وکړی هلته ددوي لمونځ کول رواکیږي ،او مسلمانانوته ددې اجازه شوې ده چې داوبو موندنه لویاداوبوله استعماله دمعذوریدوپه صورت تیمم ووهی . امظاهر حق جدیدص ۴۷۱ج۱]

مسئله: که ترډیري مودی اوبه پیدانه شوی نوپاکه خاوره به هم هغسی داوبو قائم مقام وی. (مفهوم حدیث مظاهر حق ص ۴۷۴ ج ۱ ،کتاب الفقه ص ۲۶۵ ج ۱،احسن الفتاوی ص ۲۶ ج ۲)

که اوبه پیدانه شي نوتیمم ولي؟

پوښتنه :داوبو نه موندلوپه صورت کي دتیمم حکم کیږي په دي کي څه مصلحت دی ؟

ځواب: زموږ لپاره ترټولو غټ مصلحت هم دغه دی چې دالله تعالی حکم دی ، اودالهی رضاوسیله ده ،داغسی قران کریم ددي دمصلحتونو پرلوراشاره هم کړي ده ځکه الله تعالی فرمایي: الله جل جلاله غواړي چي تاسوپه تنګي کي وانه چوی بلکه هغه داغواړی چي تاسوپاک کړي اوپرتاسوخپل نعمت پوره کړی. (سورة مائده: پ ۷)
له دې آیت شریف څخه معلومه شوه: چې الله تعالی داوبودنیستی په وخت خاوره پاکوونکي ګرزولی ده ،لکه څرنګه چې اوبه دانسان بدن پاکوی همدارنګه داوبودنه قدرت په وخت خاوره همداسی پاکوونکي ده،خاوره پاکه ده اودځینوشیانولپاره داوبوپه ځیرمطهر(پاکوونکي) هم ده مثلاً: دڅرمنی موزه ،توره ،شیشه اونوراونجاست چې پرڅمکه ولویږي خاوري شي هغه هم پاکیږي ،اودغه رنګه پرلاسونواومخ دخاوروپه مښلوکي پوره عجز هم ،کوم چي له ګناهونودمعافی غوښتلوغوره صورت دی ،ګواکي خاوره ظاهری اوباطنی دواړه دوله نجاست لیري کوی ،نوځکه دمجبوریت پرمهال دی داوبوقائم مقام داسی شئ وکارول شی چي تراوبوزیات اسانه پیداکیږي ،نودځمکی داسی کیدل ښکاره دی ځکه چي هرځای شته ،لهذاخاوره دانسان اصل دی اوخپل اصل ته په مراجعه کولوله ګناهونواوخرابیوخوندی کیدل دي. (آپ کی مسائل ص ۶۲ ج ۳)

که نه داوداسه اوغسل لپاره اوبه وی اونه دتیمم لپاره خاوره

مسئله: څوک چي داودس اوغسل لپاره اوبه پیدانه کړی اونه دتیمم لپاره خاوره اونورهغه ته په نقه کي [فاقدالطهورین] وایي یعنی داسی شخص چې ورسره له پاکوونکودووشیانویوشئ هم نه وی ،نه

اوبه نه خاوره، پرداسې چالازم دی چې بیله اوداسه اوبیله تیممه رکوع سجده وکړی لمونځ اداکړی اوبیاچې کله پراوبویاخاوره قادرشي په اودس یاتیمم دی دالمونځ بیااداکړی، مثلاً: یوڅوک داسی تړل شوی وی چي لاس نه شی ښورولای، یاداسی ناروغ وی چی نه شي ښوریدلای اوڅوک تیمم ورروهونکی هم نه وی، (یاپه دي ډول یوبل مجبوریت لري) نوپه دی ډول ټولوصورتوکي چي کله داوبویاخاوري هیله نشی پاتی نولازم دی چی بیله اوداسه اوتیممه په رکوع اوسجده فرض لمونځ اداکړی خوپه دی کی دی قرأت اونورهیڅ نه وائي ،اوبیاچي کله اوبه پیداکړی یادتیمم شیان پیداکړی نوادس یاتیمم دی ووهی دالمونځ دی دوهم ځل اداکړی .(طهورالمسلمین ص ۳۲ازمیان صاحب،فتاوی رشیدیه ص۲۸۵ج۱)

مسئله: څوک چي داوبواوخاوري دواړوپراستعمال قادرنه وی که داوبواوخاوري دنه شتون په وجه یادناروغی په وجه وی نوهغه دی بیله طهارته لمونځ وکړی، کله چي قادرشی نوپه پاکي دي راوګرزوي (علم الفقه ص۱۰۵ج۱،هدایه ص۲۶ج۱،کشف الاسرار ص۲۳ج۲)

تیمم داوداسه اوغسل خلیفه ګرزولووجه

(۱) دالله تعالی هم داسی عادت جاري دی، چی دبندګانولپاره چي کوم شیان ستونزمن وی، هغه پردوي آسانوی، اوداساتتیاترټولوغوره صورت دادي: چي دکوم کارپه کولوکي تکلیف اوپریشانی وی هغه ورځینی ساقط کړی، دهغه بدل ورکړل شي، ترڅوپه دي بدل ددوي زړونه پرځای وي، اودکوم شي چي دوئ بې پایه اهتمام کوي ناڅاپه دهغه په پریښودلوکله چي بدل يي نه وائي ددوي زړونه متردد

اوپریشانه نه وی اودپاکي پرینبودلوعادیان نشی ،ځکه الله تعالی دا رتیاپروخت تیمم داودس اوغسل خلیفه (نائب) وګرزاوواودپاکي لہ تپولګي څخه تیمم هم دمشابهت په وجه یوډول پاکی وګرزول شو .(المصالح العقلیه ص۲۸)
(۲)په خاوره اواوبودپاکۍ مشروع کیدل دمستقیم فطرت اوسلیم عقل په موافقت دی .
(۳)الله تعالی داوبواوخاوری ترمنځ قدرتاً اوشرعاً اخوت (وروروګلوي) واچوله ،ځکه دادواړه دپاکي لپاره راغوندشول ،وجه داده چي آدم ﷺاودهغوئ اولادالله تعالی له دې څخه پیداکړی دی ،ګواکي زموږ مور اوپلاراوددوي داولادلپاره خاوره اواوبه دموراوپلارپه څیردی. (المصالح العقلیه ص۱۶)
له خاوري څخه دتیمم دځانګړتیاوجه
پوښتنه :تیمم په یوه وجه دعقل په خلاف دی ځکه چي خاوري پخپله ککړې دی هغه مرداري اوخیري نه لیری کوی اونه بدن اوجامی پاکولای شی ؟
ځواب: الله تعالی ددي عالم هرشی له خاوري پیداکړی د ی ،زموږ دپیل کیدواصل همدغه دوه شیان دی چي ورڅخه زموږ وده ،زموږ تقویه اوغذاوی ،دکوم چي موږ مشاهده کوو،نوکله چي الله تعالی دغه خاوره اواوبه زموږ دودې اوتقویې اوغذاء اسباب وګرزول ،نوزموږ دپاکیدو لپاره اوپه عبادت کي دمرستی اخیستولپاره هم ددوي وضع وکړه ،وجه داده : چي خاوره هغه اصل شئ دی ،چي ورڅخه دانسان اونورو پیدائش شوی دی،اواوبه دهرشئ دژوند

باعث دی ،لنډه داچې : ددي عالم دټولوشیانوډپیداکیدواصل همدغه دوه شیان دی خاوره اواوبه چي ورځخه الله تعالی داعالم مرکب کړی دی ،نوکله چي زموږ اولنی پیدایش اوتقویه اووده له خاورواواوبوشوی ده نودجسمانی اوروحانی پاکی لپاره هم همدغه الله تعالی وګرزول.

(۲) عادتاً دمرداری اوګندګی لیرکولورواج په اوبوډیردی اوکله چې دناروغی په حالت کي اوداوبونه موندلوعذرشی(دناروغی په حالت کي داوبودنشتوالی په وجه عذرورپیښ شي) نودپاکي لپاره داوبو دوهم ملګری اوهمزولی یعنی خاوره دکوم بل شی په نسبت مقررول زیات مناسب دی.

(۳) دتیمم لپاره ځمکه په دې وجه ځانګړی کړل شوه چي ځمکه یوځای هم نیستی نه وی نوداسی شي ددې ورکیدای شی چي ورځخه دخلګو مشکل لیري شی.

(۴) مخ په خاوروککړول دنفس پرماتولواوخاکساری باندی دلالت کوي اوداشی والله تعالی ته ډیرخوښ دی ،نودتیمم لپاره دخاوروپه استعمالولو کي دغه خاکساری اوعاجزی موندله کیږي ،اوذلت شان دعفوی غوښتلولپاره زیات مناسب دی ،همدغه وجه ده چي په سجده کولو کي خپل مخ له خاورونه ساتل خوښ اومستحب ګرزول شوی دی (المصالح العقلیه ص۳۰)

تیمم وهل هم دالله تعالی فرمان دی

مسئله:ځینی ناروغه داکوتاهی کوی چي سره له دی چی اودس هیڅ زیان نه رسوی بیاهم تیمم وهی ،کله ناکله بیاپوښتنی ته راغلی

یانورخواخوږي ښاغلي ناروغه له اودس کولوڅخه منع کوی اووائي : چي محترمه !په شریعت کي اسانی ده تیمم ووهه ،داډیره ناپوهی ده ترڅوادوس کول زیانمن نه وی تیمم وهل جائزنه دی .

مسئله: ځینی داغلطی اوبې احتیاطی کوی چی که پردوی هرډول مصیبت تیریږي اوکه هرڅومره ناروغی زیاتیږي مربه شی خوتیمم نه وهی ،اودس کوی ،داغلوه ده اوپردی شاته دالله تعالی ورکړی سهولت نه قبلول دی ،کوم چې سخته گستاخی ده اوبې ادبې ده ،ځکه لکه څنگه چې اودس کول دالله تعالی حکم دی تیمم وهل هم دهغه حکم دی ،دبنده کاردحکم منل دی نه دزړه غوښتنه اوپاکی ته کتل دی ،بندگي خودهمدې نوم دی : چي کوم وخت کوم حکم وشی په ځان اوزړه ئي اطاعت وکړي- (اغلاط العوام ازمولناتهانوی ص۱۹۷)

په تیمم کي وهم ته اعتبارنشته

پوښتنه :که غسل واجب شی اودمرض زیاتیدویاناروغه کیدواندیښنه وی نوآیاپه دې صورت کی تیمم کیدای شي ؟

خو'ب ۰صرف وهم ته ،عتبا ,نشته که دچاپه رشتیاداسی حالت وی چي دي که په تودواوبوهم ولامبی نوناروغي زیاتیږي یادناروغه کیدوغالب گمان وی نوده ته دغسل پرځای دتیمم اجازه شته اودغسل هم هغه تیمم دی کوم چي داوداسه لپاره کیږي .

مسئله: دتیمم اجازه یواځي په هغه صورت کي ده چي داوبوپرکارولو قدرت نه وی ،کوم سړی چي اوبه کارولای شی دهغه تیمم جائزنه دی نه دهغه لمونځ صحیح کیږي اوداوبوپراستعمال دقدرت نه

په سفر کې پیښیږي ،نو که اوبه یو میل لیري وی یاڅاه خوشته خوله څاه څخه داوبو راکښلوکوم صورت نشته،یاپراوبوکوم څناوروي ،یاپراوبود دښمن و لکه وی اودهغه دویري په جه تراوبورسیدل شونی نه وی نوپه دغوټولو صورتوکي ګواکي دي سړی ته اوبه حاصلی نه دی ،اودی په تیمامه لمونځ کولای شي.

دوهم صورت دادي: چي اوبه خوشته خودی پخپله ناروغه دی اوپه اودس یاغسل کولوورته دمرګ یادکوم غړی دتلفیدو(له منځه تلو) یاپه ناروغی کی دزیادت یااوږدوالی اندیښنه ده یاپخپله له اودس یاغسل کولوڅخه معذوردی اوکوم بل څوک اودس یاغسل ور کوونکی نشته نوداسی شخص تیمم کولای شی .(آپ کی مسائل ج۳ص ۶۳)

مسئله:دناروغي په حالت یادناروغی له ویري تیمم روادی ،کله چي په سړواوبولمبلویااودس کولوکي دمرګ یاناروغي ویره وی نوتیمم روادی.(فتاوی دارالعلوم ص۲۴۳لومړی ټوک،دردالمحتارلومړی ټوک ص۲۱۴ج(باب التیمم په حواله)

دتیمم حکم دټولولپاره یودی

مسئله:داختردلمانځه لپاره تیمم هغه مهال جائزدی : کله چي داختر دلمانځه دفوت کیدو ویره وی،دغه رنګه که دی اودس کوی نوامام به لمونځ پوره کړي یابه لمرترسرواوړي ،اوداخترانودلمانځه وخت به تیرشي (خو که داختردلمانځه دکومي برخي دموندلو هیله وه یابل ځای په لمانځه کي دبرخي اخیستوامیدوو نواودس به کوي تیمم روانه دی. رفعت

مسئله:دبناء پرمهال هم تیمم روادی دامعنی چي دجنازي یااختر لمونځ یې په اوداسه پیل کړي وي ،په منځ کي اودس مات شي ،اوس

داویره وی چې که اودس کوی نولمونځ ورځخه تیریږي نوپه دې صورت کي په تیمم وهلوبناء کول یعنی په لمانځه کي ورشاملیدل روادی.
مسئله: اوپه دې کي هیڅ توپیرنشته چې بناکوونکی امام وی اوکه مقتدی یعنی کله چې دجنازې یااختر دلمانځه دتیریدوویره وی نوکه اماموی هم تیمم وهلای شی اوکه مقتدی وی هم.
ځکه دتیمم دروااوالی وجه دلمانځه دتیریدووجه ده چې کوم بدل یعنی قضاءیې نشته،کله چې دتیمم دجوازدلمانځه دتیریدووجه ده نود لمر اوسپوږمی دتندرنیولودلمانځه لپاره،دمؤکدوسنتولپاره هغه که دسهار وی اوکه نه وی ،اویوازې دهمدغوسنتوتیریدو ویره وی دسهار دفرضوفاتیدو ویره نه وی ،نوپه دې ټولوصورتوکي تیمم جائزدی یعنی کله چې داویره وی چې داوداسه لپاره اوبوته رسیږم لمریه له تندره خلاص شي یادماپښین اوماښام،ترفرضواداکولو وروسته دچااودس مات شواوپه اوبوسره اودس کولوکی ورته داویره وه چې په اودس کولوبه وخت ووزي نودده لپاره په تیمم سنت کول روادی.
اوله فرضوپرته دسهاردسنتودقضاکیدوصورت دادې:چې اوبه تریوه میل لږلیرې وي نوخادم یابل څوک یې اوبوراوړلوته لیږلي وي خودده یقین یاغالب گمان داوي چې خادم اوبه رارسوي نوبه صرف داودس کولواوپه مشکل سره دفرضواداکولووخت پاته وی ،نودداسې سړي لپاره جائزده چې تیمم ووهی دسهارسنت اداکړي ،اوبیاچې کله اوبه ورته راوړي ،نوسمدستی دی اودس وکړي اوفرض لمونځ دی اداکړي

دسهار دسنتو قضا کیدو دویري شرط څکه دي چي که ویره داوي چي له فرضو سره به سنت هم پاتي شي ،نو بیا تیمم کول روانه دی ،په دي وجه چي کله دواړه قضاشي نو هغه وخت : فرضو له قضا سره دسهار دسنتو کول هم صحیح دی .(کشف الاسرار ص۱۵ ج۲)

مسئله: دو یدید و پرخت ،دسلاء : خوب په وخت داوبو باوجود تیمم وهل جائزدی که څه هم په دغه تیمم لمونځ کول جائزنه دی ،څکه چي دلمانځه لپاره تیمم هغه وخت جائزوی کله چي اوبه ونه موندل شي یا په کومه وجه داوبو پر کارولو قدرت نلري ،دهغو تولو اعمالو لپاره تیمم کول جائزدی چي ورته طهارت شرط نه وی.

مسئله: مسجدته دورننوتلو او په مسجد کي دویدیدو لپاره تیمم وهل جائزدی. (کشف الاسرار ص۱۶ ج۲)

مسئله: دجمعي لمانځه ،دوخت لمانځه او دوترو قضاء کیدو په صورت کي تیمم نشي وهلای څکه چي ددغو لمونځو بدل دقضاء په صورت کي وجود لري. (کشف الاسرار ص۷۱ ج۲)

تیمم له کهالی او وستنی سره اړه نه لري

مسئله: په معمولی ناروغی لکه زکام ،تبه او نورو کي ترڅو د ناروغی زیاتیدو اندیښنه نه وی تیمم جائزنه دی ،که تو دی اوبه زیان نه رسوی او موندل کیدای شي هم نو تیمم جائزنه دی.

مسئله: که خاماخا وهمی شو چي ناروغ به شم یا به ناروغي زیاته شی خو نه په دي ډول ناروغه کیدو عادت شته او نه په عامه توګه ددي خبري ورته تجربه شته نه معتبر طبیب ورته اوبه زیانمنی ښیئ نو تیمم جائزنه دی که په بدن کي توان وی او اوبه ورته تاوان نه کوي

خودکاهلی اوسستی په وجه واودس کولوته ئې زړه نه کیږي نوتیمم جائزنه دی

مسئله: که یواځې پرلاسونویاصرف پرپښوزخم وی نوتیمم جائزنه دی دټپ پربرخه دی مسح وکړي نورغړی دی ومنځی اودس دی وکړی ،که داوبونه موندلوپه وجه ئې تیمم وهلی وو،تردې وروسته په داسی ناروغي اخته شوچې پکې اوبه ورته زیان رسوي خواوبه ئې وموندلی نواوس په هغه مخکې تیمم لمونځ جائزنه دی په اوبوموندلوهغه مات شواوس دی دناروغي دعذرله مله دوهم ځل تیمم ووهي . (طهورالمسلمین ص۱۶)

په سړوهیوادونوکې دتیمم حکم

پوښتنه : چیري چې واوره ډیره کیږي اویخ هم زیات وی هواهم ډیره تیزه چلیږي په اودس کولوکې سخت تکلیف وي تردې چې پښې لاسونه څوساعته یومخ کارپریږدي په داسی حالت کې په تیمم یامسح لمونځ رواکیږي کنه؟

ځواب :که چیری شاذاونادر داسی صورت وي چې په اودس کولود هلاکت یاناروغي ویره غالبه وی اودتودواوبونظم هم نه وی نه داسی کوم تړوکر اورخت وي چې په هغه کې ځان تودکړی په داسی صورت کې تیمم جائزدی کنه جائزنه دی اودپښومنځلوپه بدل کې دموزومسح کیدای شي .(امدادالفتاویص۷۴ الومړی توک)

(دتفصیل لپاره داحقربل کتاب دموزومسئلې وګورئ) رفعت

دتیمم دوجوب شرطونه

(۱) اسلام پرکافرباندی تیمم واجب نه دی .

(۲)بلوغ پرنابالغ باندی تیمم واجب نه دی.
(۳)عقل پرلیونی باندی تیمم واجب نه دی.
(۴) داوداسه یاغسل ارتیا کوم څوک چې اودس یاغسل ته اړتیانه لري یعني پاک وی پرهغه باندی تیمم واجب نه دی.
(۵)په کوم شیآنوحي تیمم جائزدی دهغوي پرکارولوباندی قدرت درلودل څ ت جي ددغوشیانوپراستعمال باندی قادرنه وی پرهغه باندی تیمم واجب نه دی.
(۶)دلمانځه دوخت تنګیدل،دوخت په پیل کي تیمم واجب نه دی.
(۷)دلمانځه دومره وخت موندل چي پکي په تیمامه دلمانځه کولوګنجایش وی،که څوک دومره وخت نشي موندلای نوپرهغه تیمم واجب نه دی.
(علم الفقه ص۱۰۲ لومړی ټوک،کتاب الفقه ص۲۳۹ لومړي ټوک،طهورالمسلمین ص۸)

دتیمم دصحت شرطونه

(۱) اسلام ،دکافر تیمم صحیح نه دی یعنی دکفر دحالت په تیمم تراسلام قبلولووروسته لمونځ جائزنه دی ،هوداسلام قبلولوپروخت چي کوم غسل مستحب دی که دهغه په بدل تیمم ووهی نوده ته دمستحب اداکولوثواب ورکول کیږي.
(۲)دتیمم نیت کول دکومی بې اودسی له امله چي تیمم ووهل شي یاله هغې څخه دپاکي نیت وشي ،یادکوم شئ لپاره چي تیمم ووهل شي دهغه نیت وي مثلا:که دجنازې دلمانځه لپاره تیمم ووهل شي یادقرآن کریم دتلاوت لپاره تیمم ووهل شي نوددې نیت دی وکي خولمونځ په هغه تیمم صحیح کیږي چي له بې اودسی څخه دپاکي نیت

پکی شوی وی ،یادکوم داسی مقصودی عبادت نیت وشي کوم چي بیله پاکي نشي کیدای مقصودي عبادت هغه عبادت دی :چي مشروع کیدل ئي یواځې دثواب اودالله ﷻ درضالپاره وی ،دکوم بل عبادت دادایني لپاره نه وی مشروع شوی ،لکه لمونځ دقرآن تلاوت اونور... په خلاف دهغه اودس چي دقرآن کریم دمسحې ،مسجدته ددخول په نیت وي ځکه په دی کي یواځې دثواب نیت نه وی ،بلکه دنوروعبادتونوادااینه هم په نظرکي وي ،یعنی دلمانځه په تیمم خوقرآن کریم مسح کولای شي ،خودقرآن کریم اونوروسح کولولپاره په تیمم باندی لمونځ نشي اداکولای.

(۳)دټول مخ اودواړولاسونوپوره مسح کول.

(۴)پریدن دداسی شئ نه کیدل چې مسح ته خنډوی مثلا:روغن ،وازگه ،موم اوانگشتری.

(۵)په پوره دواړولاسونویادهغوئ په زیاتره برخه مسح کول.

(۶)په کوموشیانوچې غته یاوړه بې اودسی راځی دتیمم پروخت دهغوي نیستی ،که کومه حائضه میرمن تیمم ووهی نوصحیح نه دی ،اوکه دداسی عبادت لپاره تیمم ووهَل شی کوم چي بیله پاکي نشي کیدای لکه لمونځ دقران تلاوت اونور نودهغه لپاره داوبوله کارولومعذوریدل هم شرط دی. (علم الفقه ص۱۰۳لومړی ټوک)

دتیمم سنت طریقه

مسئله:دتیمم طریقه داده :چي بسم الله الرحمن الرحیم ووایي ،اونیت وکړي خپل دواړه لاسونه پرداسی خاوره چې مرداری ورته نه وی رسیدلی یامرداری په پریمنځلولیري شیوی وی خپل دواړه لاسونه ورغو

لخواوغوړوي (ښه دی وغوړوي) ودي وهي اوسره ودي مبني وروسته دی دواړه لاسونه راپورته کړي ودي څنډي بيادی پوره دواړه لاسونه پرخپل ټول مخ راتير کړي په داسی ډول چي هيڅ ځآی داسی پاتی نشي چي لاس ورونه رسيږي بيادی دغه رنګه دواړه لاسونه پرخاوره ووهی سره ودي موښي اوبيادی خاوری څيني وڅنډي اودکيڼ لاس درې ګوتې دی پرته دشهادت اوبټي ګوتی دښي لاس دګوتو پرسرو نو دشاپرخواکښيږدی ترڅنګليو دی راکش کړی دارنګه چې دکيڼ لاس ور غوي هم ورسره ولګوي ،اوترڅنګليو مسح هم وشي بيادي پاتې ګوتې اودلاس ورغوي پرداښل طرف کښيږدي ترګوتو دي راکش کړی ،دغه رنګه دی دکيڼ لاس مسحه هم وکړي داودس اوغسل دتيمم ددواړو همدغه طريقه ده اويوتيمم ددواړو لپاره کفايت کوی که ددواړو نيت وشي . (علم الفقه ص۱۰۶ لومړی ټوک ، منيه ص۲۹،شامی ص۲۶۴الومړي ټوک ،هدايه ص۶۲لومړی ټوک ،کبيری ص۶۴وطهورالمسلمين ص۲۲،مظاهر حق ص۴۷۹ج۱،شرح نقايه ص۲۶ج۱)

دتيمم فرائض اوواجبات

(۱) دتيمم وهلوپروخت نيت فرض دی .

(۲) پرخاوره يادخاوری له قسم څخه پرکوم بل شي دوه ځله لاسونه وهل

(۳) ټول مخ ددواړو لاسونو په زياتره برخه مښل فرض دی .

(۴) له غړيو څخه دداسی شي ليري کول فرض دی چې دهغه له امله خاوره بدن ته نه رسيږي لکه تيل ،وازګه اونور...

(۵) دتنګي انګشتری ،تنګ ساعت ،اوبنګړيو ايستل واجب دی .

(۶) که په کوم دليل داوبونږدی والی معلوم شي نو دهغه په پلټنه کي سل ګامه پخپله تلل ياڅوک ليږل واجب دی

(۷)که دچاسره اوبه وی اودهغه دورکولوهیله وي نوله هغه څخه غوښتل واجب دی. (علم الفقه ص۱۰۶،مظاهر حق ص۸۵لومړي توک)

دتیمم سنت اومستحبات

(۱)دتیمم په پیل کي بسم الله ویل سنت دی.
(۲)په هغه ترتیب تیمم وهل سنت دی په کوم ترتیب چې رسول الله ﷺ وهلي دی یعنی لومړی دمخ مسح بیادداړولاسونو.
(۳)پرپاکه خاوره دورغویولاندی خوامښل سنت دی نه دهغوئ شاه.
(۴)ترمښلووروسته ددواړولاسونو څنډل سنت دی.
(۵)پرخاوره دلاس وهلوپروخت دګوتوخلاصول سنت دی ترڅوخاوره دننه ورشي.
(۶)لږترلږه په دریوګوتومسح کول سنت دی.
(۷)لومړی دښي طرف مسح اوبیادکیڼ طرف مسح سنت دی.
(۸)په خاوره تیمم وهل سنت دی نه دهغې په جنس سره.
(۹)ترمخ وروسته دږیري خلالول سنت دی.
(۱۰)دیوه اندام ترمسح وروسته بیله درېدوددوهم اندام مسح کول مستحب دی.
(۱۱)دمسحې هم هغه ځانګړی طریقه مستحب ده کومه چې دتیمم په طریقه کی ولیکل شوه
(۱۲)دچاچي دوخت په اخیرکی داوبومندولویقین یاغالب ګمان وی دهغه لپاره دلمانځه تراخیري وخته انتظارکول مستحب دی.دمثال په ډول له څاه څخه داوبوراکښلوکوم شي نه وی اویقین یاغالب ګمان یي داوي چې دوخت په اخیرکي به رسی یاسلواغه پیداشي ،یاکوم

شخص په اورګاډي کي سپوروی او په يقين سره ورته معلومه وی چي دوخت په اخيرکي به ريل ګاډی داسی تم ځای ته ورسيږي چي اوبه به پيدا شي. (علم الفقه ص۱۰۷ ج۱، کتاب الفقه ص۱۵۹ ج۱، کشف الاسرار ص۵ ج۲)

داوبوله کارولو دمعذورت صورتونه

(۱) دومره اوبه چي اودس ياغسل ورباندی کيږي هلته نه وی بلکه ديوه ميل(يو کيلومتر۶۱۰ متره) ياتريوه ميل زيات واټن وی.

(۲) اوبه موجودی وي خو امانت ياغصب شوی وی.

(۳) اوبه ترعام قيمت زياتی ګرانی وی.

(۴) داوبو قيمت ورسره نه ويو اوبه که په قرض موندلای شی اوکه ئی نه شی موندلای اودقرض اخيستلو په صورت کي پردی قادروی اوکه نه وي. (مراقی الفلاح) البته که دی مالداروی اوديوي معلومي مدې په تاکلوئي قرض موندلای شوای نو قرض اخيستل په کاردی.

(۵) داوبو په استعمال دکومی ناروغي دپيدا کيدو يازياتيدو ويره وی ،يا داوبو په استعمال کی دروغتيا ځنډ راځي.

(۶) دومره زيات يخ وی چي داوبو په استعمال کی دکوم غړی دضياع ياکومي ناروغی پيدا کيدو ويره وي او تودی اوبه نشي پيدا کولای.

(۷) دکوم دښمن ياځناورويره وی مثلاً اوبه په داسی ځای کي وي چير ي چي ځناوراونورراځي ياپه لاره کي دغلوخطره وی ياپرده دچا قرض وی يائي له چاسره دښمنی وی ،اودافکريي وي چي که اوبوته ورشم نوهغه پورراکونکی يادښمن به مي بندی کړی يابه کوم ډول تکليف راورسوی يادکوم فاسق سره اوبه وی اوومیرمنی ته له هغه څخه داوبو په اخيستلو کی دخپل عزت ويره وی

(۸) اوبه يي دخوراک څښاک دارتيالپاره ايښي وي، چې که په اودس ياغسل کي مصرف شي نوپه دې ارتياکي به ورته حرج وی، مثلاً: داوروا څښلوياغوښوا ونورپخولولپاره ئي ايښي وی يااوبه دومره وي چي په اودس ياغسل کي صرف کړي نودتندي ويره وي، که دخپلې تندی لپاره يادکوم بل چاياد خپل څاروی لپاره وی، په دې شرط چې کوم بل داسی چل نشی کیدای چې ورڅخه کارول شوی اوبه دحيوانانوپه کارراشي.

(۹) له څاه څخه داوبوراايستلوکوم شي نه وی اونه کوم تو کروی چې په څاه کي يي واچوي لوندی ئي کړی اودهغه په نښتيځلواوبه حاصلی کړی يااوبه په منگی اونورو کی وی، داوبوراخيستلوورسره کوم شی نه وی اودمنگی به کړولواوبه نشی تري راخيستلای اولاسونه مرداروی اوکوم بل داسی څوک هم نه وی چې اوبه ورته راوکاږي، يادده لاسونه ورپريمنځي.

(۱۰) داوداسه ياغسل په کولوکې دداسی لمانځه دقضاويره وی چې خلف ياقضانه لری لکه: داختراوجنازي لمونځ.

(۱۱) داوبو هيريدل مثلا: له چاسره اوبه وی اودده هيري شوی اودده داخيال وی چی زماسره اوبه نشته.

(علم الفقه ص۱۰۴لومړی توک، منية المصلی ص ۴۲، درمختارص۲۲۹لومړی توک، بهشتی زيورص۶۷لومړی توک، طهورالمسلمين ص۱۱)

مسئله: کوم شخص چې له اودس اوغسل کولوداړو څخه معذوروی هغه په حالت دجنابت يعنی دناپاکی په حالت کی که يوتيمم دغسل اواودس په نيت ووهی نودده لپاره کفايت کوي.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۶۳لومړی توک، دردالمحتارص۲۱۴ج ا باب التيمم په حواله)

مسئله:فلج شوی مریض چې پخپله اودس نشی کولای اوبیله تودواوبواودس نشی کولای که دده سره اودس ورکوونکی نه وی یاتودی اوبه ورسره نه وی نودی تیمم وهلای شي.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۶۵لومړی ټوک،دردالمحتارص۲۱۵ج۱باب التیمم په حواله)

دسراوپښوتیمم ولی نشته ؟

مسئله:په تیمم کی ددوواندامو خاصوالی ،دسراوپښونه مشروعیت په دی وجه دی چې ډخاوروپرسراړول ناخوښ اومکروه بلل کیږي .ځکه چې دخاوروپرسراړول اودستونزواوتکلیفونوپرمهال په خلګوکي رواج دی په دی وجه پرسرخاوري مښل یعنی مسح کول مشروع نه دی ځکه چې داعمل دالله ﷻ اوخلګوناخوښ دی اوپه تیمم کي پرپښودلاس تیرولوحکم ځکه نه دی شوی چی پښې خوپخپله په خاورواودوړو ککړی وی اوحکم دداسی شی ورکول کیږي چې له مخکی څخه وجود نلري ترڅودډې په کولونفس ته خبرتیاورکړله شی .(المصالح العقلیتص۳۱)

دغسل اواودس په تیمم کی دنه توپیروجه

دجنب یعنی چې غسل ورباندی اوښتی وی اوبې اودسه دتیمم په یوکیدوکی حکمت دادي :چې کله له بې اودسه سړی څخه پرلاسونو اودمخ له مسحې کولووروسته دسراوپښومسح ساقط شوه نوپرهمدغو اندامویعنی پرلاسونواومخ مسح کولووروسته دجنب لپاره دټول بدن مسح په طریقه اولی سره ساقطیږي ،ځکه دټول بدن په مسح کی تکلیف اوحرج دی ،کوم چې دتیمم درخصتی ضداومنافی دی اوپرټول بدن په خاوره اړولوکی دالله ﷻ په مخلوق کی

ترڅولوغوره یعنی دانسان په خاوروا چولوکی دحیوانانو سره مشابهت پیداکیږي ،نوکوم څه چې حق شریعت مقرر کړی دی ،په حسن بنه والی اوعدل کي له هغه څخه غوره یوشئ نشی کیدای .(المصالح العقلیتص ۳۰)

مسئله:داودس اوغسل په تیمم کي هیڅ توپیرنشته ،ددواړویوه طریقه ده ،یواځي دنیت فرق لري.(آپ کی مسائل ص ۶۴ج۲)

مسئله:څوک چي له اودس اوغسل کولوڅخه معذوروی ،هغه دی دجنابت په حالت کي یوتیمم دغسل اواودس په نیت ووهی ،دده لپاره کفایت کوي.(فتاوی دارالعلوم ص ۲۶۳لومړی ټوک)

مسئله:لکه څرنگه چي بې اودسه سړی داوبونه موندلوپه صورت کي په تیمم لمونځ کولای شي ،دغه رنگه څوک چې غسل ته اړوی هغه هم داوبودنه موندلوپه صورت کي دغسل لپاره تیمم کولای شي .
(فتاوي دارالعلوم ص ۲۵۲لومړی ټوک)

دتیمم لپاره څومره غټه لوټه په کارده ؟

مسئله:په تیمم کي زیات احتیاط دادی :چی لوټه دومره غټه وی چې وربانذی په یوځل دواړه لاسونه وهلای شی ،یاچی لږترلږه دومره غټه وی چې یوپوره لاس یعنی ورغوی سره له گوتوورباندی راشی ،اوپه پرلپسی دواړه لاسونه ورباندی وهلای شي ،ځکه چې دځینوعلماؤپه نزد ضرب دتیمم رکن دی .(امدادالاحکام،ص۳۸۷لومړی ټوک)

پریوه لوټه څوځله تیمم وهل

مسئله:په ځینی مسجدونوکي دتیمم وهلولپاره دخاورویوگټی جوړ شوی وی ددغې خاورې پرگټې څوځله تیمم وهل صحیح دی اوپردې

دحکمې نجاست اثرنه پریوزي په درمختار کې څرګندونه شوي ده چې :پریوه ځای څوځله تیمم وهل صحیح دی .
(فتاوی دارالعلوم ص۲۶۱لومړی ټوک ،دردالمحتارص۲۲۰ج۱باب التیمم په حواله)
مسئله:که پریوه ځای اویوه لوټه څوکسان پرلپسی تیمم ووهی نوصحیح دی .(کبیري ص۸)
مسئله:که دتیمم وهونکی دلاسونوځنډل شوی خاوری جمع شی پرهغوهم تیمم صحیح دی هیڅ پروانلری.(کشف الاسرارص۲۵ج۲)
مسئله:دمسجدپرچونه شوی دیوال تیمم صحیح دی هیڅ پروانلری.
(فتاوی دارالعلوم ص۲۶۲لومړی ټوک ،هدایي ج۱ص۳۵په حواله دتفصیل لپاره امدادالفتاوی ج۱ص۷۱)
مسئله:پرلرګي ،جامه بیله دوړوتیمم وهل صحیح نه دی دغه رنګه دشنواووچووښوحکم دی ،اوپرډبره پوخ یاخام دیوال اوچونه بیله غباره هم تیمم صحیح دی ،اوپرلرګی لږدوړه هم کفایت کوی .
(فتاوی دارالعلوم ص۲۴۴ج۱،دغنیة ص۷۴په حواله)

دتیمم په لوټه استنجاء کول

مسئله:پرکومه لوټه چې تیمم وهل شوی وی په هغه یادهغې په کومه برخه استنجاء وهل خوجائزدی خوښه نه دی ،فقهاء پرناپاک ځای اودس کول دادب په خلاف بولی اووجه ئي همدغه لیکلی ده :چې داوداسه اوبه داحترام وړدی ،نوهمدارنګه دتیمم لوټه هم ده .
.(امدادالاحکام ص۳۸۷ج۱)
مسئله:دتیمم لپاره ضروری ده چې خاوره پاکه وی ،ناپاکه زمکه چې وچه شوی وی دهغې استعمال دتیمم لپاره دمستعملواوبوپه څیرده ،یعنی په خپله خوپاکه ده امپاکوونکي نه ده ،،پرداسی ځمکه

تروچیدو وروسته لمونځ کول خورو ادی خوپه دې سره تیمم صحیح نه دی. (کشف الاسرار ص۳ج۱)

مسئله: پرپاکه لنده خاوره چې اوبه ورباندی غالبې نه وی تیمم جائز دی، خوپه لنده خاوره تیمم هغه وخت وهل پکاردی چې دوخت دفوت کیدو ویره وي ترڅوبیله ارتیاخپله بېه بدله نکړی. (کشف الاسرار ص۱۲ج۲)

په کوموشیانوتیمم رواا وپه کومو نارواد ی ؟

(۱) خاوره یادخاوری له جنس څخه چې کوم شئ وی پرهغه تیمم جائزدی اوکوم شی چې دخاورې له جنس څخه نه وی ،پرهغه تیمم جائزنه دی ،کوم شیان چي په اورکي په سوځولوسره نه نرمیږي اونه په سوځیدوسره ایره کیږي اوهغه شیان دخاورې له جنسه دی لکه شګه ،دډبروقسمونه عقیق ،زبرجد،فیرزه ،سنګ مرمر،هړتال ،اونور،او کوم شیان چې په اورکي نرمیږي یاایرې کیږي هغه دخاورې له جنسه نه دی ،لکه :کپره، لرګي اونورپه سوځیدلوایره کیږي ،اوسره زر، سپین زر اونورچې په اور نرمیږي په دغوتیمم جائزنه دی ـ

(۲) کوم شیان چي دخاوری له قسم څخه نه وی ،که پرهغوي دوړه پرته وی نوپرهغوی ددغه ګرځ په وجه تیمم جائزدی .

(۳) که پرکوم مردارشئ دوړه پرته وی نوکه هغه ګرځ پدې دوچوالی په حالت کي پریوتلی وی اودتیمم وهلوپروخت دکومې مرداری دراوتلوویره نه وي ،نوپه دې سره تیمم جائزدی کنه نه دی .

(۴) پرکوم حیوان یانسان یاپرخپلو اندامو که دوړه پرته وی نوپرهغه تیمم جائزدی لکه چې چا جارووواهودهغه په وجه دوړه پرمخ اولاسونوپرېوته اوپه لاس ئي ومښله نوتیمم صحیح دی .

(۵)که کوم داسی شئ چي ورباندی تیمم جائزنه وی دخاوری اونوروسره یوځای شی نوغالب ته اعتباردی ،که خاوره اونورغالب وی نوتیمم جائزدی کنه نونه دی جائز.

(علم الفقه ص۱۰۵ج۱،هدایه ص ۲۶ج۱،شرح نقایه ص ۲۶ج۱ کبیری ص ۷۶)

مسئله:دیوال که ددبرو وي یادپخو خښتو وی یادخاموخښتوپه دي شرط چي فاک وی تیممورباندی جائزدی.

(نمازکی مسنون اعمال ص۱۳۹،احسن الفتاوی ص۵۷ج۲،ردالمحتارص۲۲۰ج۱)

مسئله: پرغله مثلاًاوربشویاغنمواوبل داسی شی که ګرځ ،غباروی نوتیممورباندی جائزدی کنه نونه دی

(شرح وقایه ص۹۰ج۱کبیری ص۷۶،کتاب الفقه ص ۲۵۵ج۱،طهورالمسلمین ص۱۷.)

دتیمم احکام

مسئله: دکوموشیالپاره چي اودس فرض دی دهغوي لپاره داودس تیمم هم فرض اودکوموشیانولپاره چي اودس واجب دی دهغوي لپاره داودس تیمم هم واجب دی اودکوموشیانولپاره چي اودس سنت یامستحب دی دهغوي لپاره داودس تیمم هم سنت یامستحب دی اوهمدغه حال دغسل دتیمم دی پرغسل دي قیاس کړی .مثلاً:له اودس کولوڅخه معذوردی نودی چي داودس پرځای کوم تیمم ووهی هغه تیمم فرض دی ،علی هذاالقیاس.

مسئله: که پرچاغسل اوښتی وی اومسجدته دتلودده سخت ضرورت وی پرده تیمم وهل واجب دی.

مسئله: دکوموعبادتونولپاره چي له دواړوبې اودسیوڅخه پاکی شرط نه وی لکه سلام ،دسلام ځواب اونورددوي لپاره داودس اوغسل دواړوتیمم بېله عذره کیدای شی اوپه کوموعبادتونوکي چي

يو ائي،له کوچنى بي اودس ځخه پاکى شرط نه وى لکه له لاس وروړولوپرته دقرآن کريم تلاوت يااذان اونور،ددوي لپاره صرف داوس تيمم بيله عذره کيداى شى .

مسئله: که له چاسره شکمنى اوبه وى لکه دخره پسخورده نوپه داسى حالت کى دى اودس ياغسل ورباندى وکړى تردى وروسته دى تيمم ووهى-

مسئله:که هغه عذر چى په وجه ئى تيمم وهل شوى وودبندګانوله طرفه وونوکله چې هغه عذرختم شى نوځومره لمونځونه چي يي په دغه تيمم کړى وى ټول بيرته راګرزول پکاردى مثلاً يوسړى بندى اودمحبس مامورينوده ته اوبه نه ورکولي ،ياچاده ته ويلي ووکه تااودس وکړنوزه تاوژنم ،اونور...

(علم الفقه ص ۱۰۵ج۱،طهور المسلمين ص۱۸،کشف الاسرار ص ۲۵،ج۲)

په کوموشيانوچى تيمم ماتيږي

مسئله:په کوموشيانوچي اودس ماتيږي په هغوشيانوداودس تيمم هم ماتيږي اوپه کوموشيانوچي غسل واجبيږي په هغوشيانوتيمم هم ماتيږي .

مسئله:که داودس اوغسل دواړولپاره يوتيمم ووهل شى نوکله چي اودس مات شي نوهغه تيمم داودس په هکله ماتيږي اودغسل په هکله باقي پاتيږي ترڅودغسل وجبوونکى شى ونه مونډل شي .

مسئله:دکوم عذرپه وجه چي ئي تيمم وهلى وو،دهغه په زوال تيمم ختميږي که څه هم تردى وروسته سمدستى بل عذر پيداشى مثلاً:کوم

شخص داوبونه موندلوپه وجه تیمم وهلی وویباچي کله اوبه وموندلی شوی نودی ناروغ شو (بیادی دناروغی تیمم جلاووهی)
مسئله: که څوک ویده وی داوبوسره تیرشي نودده تیمم نه ماتیږي ځکه دی په داسی حال کې اوبوته ورسیدی چې پکی داوبو پرکارولو قادرنه ووخوپه دې کې شرط دادی: چې داسی ویده وی چې اودس یې نه ماتیږي یایې دغسل په بدل کی وهلی وی مثلاً کوم سړی پرآس یاګاډ ی کې ناست ویده شی اوپه لاره کې کومه چینه یاویاله راشي نودده تیمم نه ماتیږي. (فتاوی قاضی خان، فتح القدیر)
داشرط ځکه لګول شوی دی چې که داودس تیمم وی اوداسی ویده شی چې اودس په ماتیږي نودده تیمم په ویدیدوماتیږي اوبوموندلوته به اثرپاته نشی.
مسئله: که کوم سړی په ریل ګاډی یاالوتکه کې سپوروی اوده داوبو دنیستی په جه تیمم وهلی وی اوپه لاره کی په روانه ګاډي کې دده په نظرداوبوچینه یاویاله راشی نودده تیمم نه ماتیږي، ځکه په دې صورت کی دی داوبوپراستعمال قادرنه دی.
(علم الفقه ص ۱۰۸ ج ۱، منیه ص ۳۰، دُرمختار ص ۴۳ ج ۱)
مسئله: تیمم په هرهغه شی ماتیږي چې اودس ورباندی ماتیږي اوتیمم کوونکی سړی چې داوبونه موندلوپه وجه ئی تیمم کړی وی که اوبه ووینی اوپرکارولوئی قادروی نودهغه تیمم ماتیږي.
(هدایه ص ۲۷ ج ۱، شرح نقایه ص ۲۷ ج ۱، کبیری ص ۸۴)
مسئله: پرچاچې غسل واجب وی که هغه دشرعی عذرله امله تیمم ووا هونوددغه شرعی عذر په ختمیدودغه تیمم هم زائلیږي، مثلاً:

داوبونه موندلوپه جه ئې تيمم وهلى وو ،نوكله چې هغه پراوبوباندى قادرشى نودجنابت تيمم ماتيږي ،يايې ديوې ناروغى له وجې تيمم وهلى وو نوكله چې داناروغي ښه شي نوتيمم ماتيږي ،ياكومه خبره دغسل واجبوونكى وموندله شى نوتيمم ماتيږي اوپه نواقض يعنى داوداسه په ماتوونكوشيانومطلقاً داتيمم نه ماتيږي ،مثلاً :ده دناروغى په وجه دجنابت تيمم وواهويايي داوبونه موندلوپه جه تيمم وواهواوبيااودس ماتوونكى شئ ورپيښ شونوپه دې سره دجنابت تيمم نه ماتيږي . يواځي داودس تيمم ماتيږي دغسل تيمم باقى دى ،داودس لپاره دى بياتيمم ووهى .

(فتاوى دارالعلوم ص۲۵۹ج۱،دردالمحتار ج۱ص۲۳۴باب التيمم په حواله)

دتلاوت په نيت وهلى تيمم لمونځ كول څنګه دى ؟

پوښتنه:-يوه ناروغ ته اوبه زيانمنى دى ده دقرآن كريم دتلاوت لپاره تيمم وواهونوپه دې تيمم لمونځ كولاى شى كنه؟

ځواب:-قاعده داده چې كه دكوم عبادت لپاره تيمم ووهل شى كوم چې ذاتاً مقصودى وى اودهغه لپاره طهارت (پاكى) هم ضروري وى نوپه دغه تيمم لمونځ صحيح دي كنه نه دى صحيح ،پورته بيان شوى دواړه شرطونه كه وموندل شى نوپه دې سره لمونځ صحيح كيږي اوكه دواړه شرطونه ياله دواړوڅخه يونه وى نوپه دې تيمم لمونځ نشى كولاى ،نوكه بې اودسه سړى په خوله تلاوت كولولپاره تيمم وواهونوپه دې كې دوهم شرط نشته يعنى طهارت ضرورى نه دى (ځكه چې په خوله تلاوت لپاره اودس ضروري نه دى)اوكه قرآن كريم ته لاس وروړلولپاره تيمم وواهونولومړى شرط نه دى موجودشوى

یعني دامقصودی عبادت نه دی ،ځکه په دې دواړو صورتو کی په دې تیمم لمونځ نشی کولای خودتیمم پرمهال که صرف دتلاوت دنیت پرځای دکامل طهارت نیت وکړی نو په دې سره لمونځ هم صحیح کیږي ،اوکه ناپاک سړی چې غسل ته اړوی دتلاوت په نیت تیمم وواهونودی په دې تیمم لمونځ کولای شي ځکه چې تلاوت مقصودی عبادت دی اوددې لپاره له جنابت څخه پاکی هم شرط ده. (احسن الفتاوی ص۶۰ج ۲ ،دردالمحتارص۲۲۶ج۱په حواله)

مسئله:داوبوپه موجودیت کی دروغ سړی دقرآن کریم دتلاوت لپاره تیمم وهل صحیح نه دی.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۶۴ج۱دردالمحتارص ۲۲۶ج۱په حواله)

په ناروغي کي دمریض طبیعت ته اعتباردی که طبیب ته ؟

پوښتنه :- دناروغی پرمهال چې کوم تیمم جائزدی په هغه کی دناروغه وطبیعت ته اعتباردی که وماهر طبیب ته ؟

ځواب:-ددرمختار له عبارته معلومه شوه چې په تیمم کی دناروغ وطبیعت ،تجربه اوغالب گمان ته هم اعتباردی اودماهر طبیب وویناته هم ،په دې کی چې هریوومونډل شي تیمم جائزدی.

(فتاوی دارالعلوم ص۲۵۸ج۱دردالمحتارص ۲۱۵ج۱په حواله)

دوخت دتنگي له وجې تیمم وهل

پوښتنه : سهارناوخته سترگی خلاصی شوی چې که اوبه تودوي نود لمانځه وخت ختمیږي نوایالمونځ کونکی داداء په وخت کي په تیمامه لمونځ کولای شی ؟ځکه چې دیخ په وجه په سړواوبو نشی لمبیدلای.

ځواب : کله چې دی پرتودواوبوقدرت لری نوتیمم جائزنه دی دلمانځه قضاء دی راوړی خوغسل اواودس دی هرومرووکړی.

(فتاوی دارالعلوم ص ۲۴۳ج۱ دردالمحتارص ۲۱۶ج ۱باب التیمم په اواحسن الفتاوی ص۵۴دوهم ټوک)

پرناروغ که مرداري ولګيږي اواوبه ورته تاوان کوي!

پوښتنه:- دناروغ پربدن نجاست لګيدلی دی ،اوبه ورته تاوان کوي نوڅنګه پاکي حاصله کړي؟

ځواب:- پربدن که مرداري وي نوهغه دې ومنځي ،وروسته دې تيمم ووهي.(فتاوی دارالعلوم ص۲۴۴ج ۱دردالمحتارج ۱ص۲۱۵اوص ۲۰۲باب الانجاس په حواله)

مسئله:کوم ناروغ چې اودس کولای شي خوله غسل کولومعذوروي دهغه لپاره دجائزدی چې اودس وکړي اودغسل پرځای تيمم ووهي.
(فتاوی دارالعلوم ص۲۶۲ج۱عالمګيري ص۲۶ج۱)

مسئله:پرچاچې غسل واجب وي له هغه سره صرف داودس وړاوبه وي اوبدن ئې هم مرداروی نوهغه دې ناپاک بدن پريمنځي اوغسل اواودس لپاره دې تيمم ووهي.
(فتاوی دارالعلوم ص۲۶۲ج۱دعالمګيري ج۱ص۲۸باب التيمم په حواله)

مسئله: پرچاچې غسل واجب وي له هغه سره صرف داودس وړاوبه وي دغسل وړنه وي په دې صورت کې دواړه ډوله جائزدي چې دلمانځه لپاره اودس اوغسل لپاره تيمم که مخکې تيمم وهي اوکه اودس کوي اوبيادجنابت تيمم ووهي دواړه رنګه جائزدي.
(فتاوی دارالعلوم ص۲۶۲ج۱)

هره شپه احتلام کيدوونکی لپاره تيمم وهل

پوښتنه:-ماته داحتلام عارضه راپيښه ده شايدچې داسې شپه به وي چې احتلام ونشي اوس موسم ديخ دی دسهارلمونځ دجنابت په حالت کې وکوم؟ ځکه چې سهارپه غسل کولوراته دناروغۍ انديښنه ده؟

ځواب: شرعي حکم په داسې صورت کې دادی: که په تودواوبوغسل کول زیانمن نه وی نو په تودواوبوغسل کوه اودسهارلمونځ پروخت اداء کړه اوکه له تودواوبوڅخه هم دناروغه کیدوغالب گمان وی یاتودی اوبه نه وی نوتیمم وهه دسهارلمونځ پروخت اداکړه اووروسته پریوولس بجې له عادت سره سم غسل وکړه (کله چې غسل تاوانی نه وی) نورلمونځونه پخپلووختونوکی اداکړه .(فتاوی دارالعلوم ج اص۲۵۸دغنیة ص۶۴په حواله)

مسئله: دغسل اواودی تیمم یودییوتیمم ددواړولپاره کفایت کوی .
(فتاوی دارالعلوم ص۲۴۸ج اوهدایه ص۲۵ج ۱، کبیری ص۸۱، کتاب الفقه ص۲۶۳ج ۱)

کومه میرمن چې په غسل کولوکې په تکلیف کیږي

پوښتنه : دزیدیوه کوروالاده زیاتره هغه ناروغه وی اوکله چې داغسل وکړی نودکمزوری په وجه کله زکام شې اوکله ئې پرسراوغوږدردوی له همدې ویری دادخپل خاوندخواهش یعنی کوروالی نه غواړی ،چې له دې کبله دزیدپه گناه کې دواقع کیدوویره ده په دی صورت کې دزیدکوروالاپه تیمم لمونځ اداکولای شی کنه؟

ځواب :په درمختارکې دی:چې که میرمنی ته دسرمینځل تاوان کوی نو سردی نه پریمنځی اودسرمسح دی وکړی اوزیات حتیاط په همدې کې دی په بل ځای په درمختارکې ئې داواجب لیکلی دی :یعنی که دسر مسح کولای شی اوپه دې کې دناروغی ویره نه وی نودسرمسح دی وکړی کنه نوپرسردی پټی وتړی مسح دی وریاندی وکړی ،اودغه میرمن دی خاوندله کوروالی نه منع کوی ،اوپه یوه روایت کی داهم رانقل شوی دی :چی که دچاپه سرداسی دردوی چې

مسح هم نشی کولای نو هغه دی تیمم ووهی ،اودشامی په دې اخیرنی عبارت کی څرګندونه شوی ده چې روغ سړی ته که له غسل کولو څخه دناروغی اندیښنه وه دغالب ګمان یامخکینی تجربې په موافقت وی نودی تیمم وهلای شی .ځکه نوپه دغه صورت کی دی دغه میرمن تیمم ووهی اوخاونددی له کوروالی څخه نه منع کوی ،ددې ناروغی ترزائیلدو ددې لپاره تیمم وهل صحیح دی بیاچې کله داویره ورکه شی نوبیادی غسل کوي .

(فتاوی دارالعلوم ص۲۶۴ج۱دردالمحتار ج۱ص۱۴۲اوباب مسح علی الخفین ج۱ص۲۳۹په حواله)

دبوداتوب په وجه تیمم وهل ؟

پوښتنه :- که چاته دناتوانی اوناروغی یابوداتوب په وجه اوبه تاوان کوی یادتاوان ویره ورسره وی یاداوبو کارول ورته ګران اوسخت وی زغملای ئې نشی نوایادی تیمم وهلای شي ؟

ځواب : دعذرپه حالت کی تیمم لکه څنګه چې داودس پرځای وهل کیږي دغه رنګه دغسل پرځای هم کیږي اوپه دغه تیمم فرض اونفلې لمونځ ،تلاوت اونورټول صحیح دی ،اوهغه عذر چې په وجه دبې اودسی اوجنابت تیمم صحیح دی دادی :چې مریض ته دناروغی دزیاتیدویااوږدیدوویره وی یعنی په اودس یاغسل کولوبه دده مرض زیات شي یابه اوږ دشي یابه دیخ په وجه هلاک شی یاناروغ شی ،یوا ځې په دې وجه چې سړې اوبه خوندنه ورکوی اوورڅخه په تکلیف کیږي تیمم صحیح نه دی بلکه دمره کیدویاناروغه کیدوورته اندیښنه وی هغه وخت تیمم صحیح دی .(فتاوی دارالعلوم ص۲۴۹ج۱ دردالمحتار ج۱ص۲۱۸په حواله)

مسئله:ترڅوچې دناروغی وغیره کوم عذرنه وی دده لپاره تیمم صحیح نه دی اوکه دیخ په موسم کی له سړواوبوڅخه دتاوان رسیدواندیښنه وی نوکه داوبوتودولوقدرت وی نواوبه دی تودی کړی اودس دی په وکړی ،تیمم په داسی حالت کی صحیح نه دی.
(فتاوی دارالعلوم ص۲۵۷ج۱دعالمگیری ج۱ص۳۶په حواله)

په تبه کی تیمم وهل

مسئله: تبه که داسی وی چې له اوبوڅخه تاوان یادناروغی دزیاتیدو اندیښنه وی نوپه تیمم لمونځ صحیح دی. (فتاوی دارالعلوم ص۲۵۷)

دتبې په اندیښنه تیمم وهل

پوښتنه : یوه سړي ته په سړواوبواودس کولوڅخه دتبې اندیښنه ده که دی په تودواودس کول وغواړی نوده ته یادده کوروالاته په اوبوتو دولوکې تکلیف وي نوایادی تیمم وهلای شی؟
ځواب:کله چې داوبوتودولواواودس کولوتوان شته نودده لپاره تیمم وهل صحیح نه دی .(فتاوی دارالعلوم ص۲۵۷ج۱دعالمگیری ج۱ص۲۶باب التیمم په حواله)
مسئله:که داوبوپه استعمال دمریض دمرگ یاناروغي زیاتیدواندیښنه‌وي یاداویره وي چې داوبوپه استعمل به ناروغي وږده شي نوپه ټولوصورتوکي تیمم رواکیږي ،که څوک فعلاً روغ دی خوغالب گمان یې دي چې داوبوپه کارولوبه ناروغ شم نوتیمم جائزدی ،که اودس کولای شي خوغسل ورته تاوان کوي نواودس دی هم وکړي اودغسل پرځاي دی تیمم ووهی،اوکه له سړواوبوڅخه دناروغی اونورواندیښنه وی اوتودی اوبه نه پیداکیږي نوتیمم جائزدی ،که دومره زیات یخ وی چې په تودواوبوپه غسل کولوکي

دناروغی یامرګ اندیښنه وه نوتیمم جائزدی داصورت که په ځنګل کې ورپیښ شی یاپه کلی کې

یادونه : له دې ځخه دځوک دانه فهموی چې په سخت یخ کې همیشه تیمم جائزشوځکه چې په ډیرزیات یخ کې په تودواوبوله غسل کولو ځخه ځوک نه ناروغه کیږي ،اونه مری ،خوکه په کوم ځانګړی ځای کې اتفاقاً داسی یخ وی چې تودی اوبه هم زیانمنی وی اوکومه داسی کیږه اونورڅه نه وي چې ترغسل وروسته ئې پرځان واچوي اوځان په تودکړی هلته تیمم رواکیږي . (طهورالمسلمین ص۱۴)

په ریل ګاډي اوبس کي دتیمم شرطونه

مسئله:په اورګاډي اوبس کي په تیمم دلمانځه صحیح کیدولپاره لاندینی شرطونه دی؛

(۱)دریل ګاډي په یوه ډبه کي هم اوبه نه وي .

(۲)پرلاره په یوه شرعی میل (۱۸ء ۳کیلومتره) کي دننه داوبودشتون خبرتیاورته نه وي .

(۳)دریل ګاډي یاموټر پرتخته دومره دوره وی چې په اسانی سره پرلاس لګی نوپردی دی تیمم ووهی .

له دغو ځخه که پریوه شرط قدرت نه وي نوځنګه چې ممکن وی ادادي کړي ،خووروسته به قضاراوړی .(احسن الفتاوی ص۵۵ج۲،درالمحتارج۱ص۲۱۷په حواله)

مسئله:که په ریل ګاډي کي یقین وی چې دلمانځه پروخت اوبه موندلای شی نولمونځ ځنډول مستحب دی ،که اوبه پیداشوي نوپه اوداسه دی لمونځ اداکړی که پیدانشوی اودوخت پای ته رسیدواندیښنه وی نوپه تیمم دی لمونځ اداکړی .

مسئله:دریل ګاډي پراستیشن که اوبه ورکونکی نامسلمان وی نودهغه په اوبواودس کول جائزدی هوکه یقین وی چې لوښی مرداردی نوتیمم وهل جائزدی .(فتاوی دارالعلوم ص۲۵۰ج۱،دردالمحتار ص۲۱۴ ج اپه حواله)

[پراستیشن چې کومې اوبه ورکول کیږي هغه اکثره پاکي وی اودهغوي لوښی هم ځکه شک نه دی کول په کار. رفعت قاسمي غفرله

دزخمی اوچیچک (ګوي) دناروغ لپاره دتیمم حکم

پوښتنه : که پرپښواومخ دخارش دانې وي اواوبه ورته تاوان کوي نوایاداسړی داودس اوغسل لپاره تیمم وهلای شي؟

ځواب ک که داوداسه داندامونو(مخ ،دواړولاسونو،اوپښو) پرزیاتره برخه زخمونه وي نوتیمم دی ووهی ،کنه روغ غړی دي ومنځي اوپرزخمی برخه دی مسح وکړی اودغسل هم همدغه حکم دی ،خوپه هغه کي دغړودشمیرپرځای وټول بدن ته کتل کیږي ،که ترنیمایي زیات بدن باندی ټپونه وی نوتیمم دی ووهی اوکه پرنیم بدن یاترهغه پرکم وی نومسح دی وکړي اوکه پردوغ بدن په اوبوبهیولودزخمی برخې له اوبوساتل ګران وی نودومره روغه برخه هم دزخم په حکم کي شمیرل کیږي.

(احسن الفتاوی ۵۸ج۲،دردالمحتار ص ۲۳۷ج اپه حواله)

مسئله:که پرټپ پاپټی مسح نشی کیدای نوبیاتیمم صحیح دی .

(فتاوی دارالعلوم ص۲۶۴ج۱،دردالمحتارباب المسح علی الخفین ص ۲۵۸ ج اپه حواله)

مسئله:که پردواړولاسونودانې وی اواوبه ورته تاوان کوی نوتیمم صحیح دی خوکه کوم بل څوک اودس ورکوونکی وی نودتیمم په جوازکي اختلاف دی راجح اواحوط عدم جوازدی.

(احسن الفتاوی ۵۶ج۲،دردالمحتارج۱ ص۲۳۸په حواله)

مسئله: که پرټول مخ دانې وي چې نوونه اووينې پکښې وی ،داوبوپه لګيدوله دانووينه راوزي ،که په رښتياهم دومره تکليف وی اومسح هم نشی کولای نوتيمم جائزدی.
(آپ کی مسائل ص۶۵ ج۲ ،تفصيل مظاهر حق ج۱ص۴۷۵)

مسئله: که دچاترنيم بدن زيات باندی زخم وی يادکوي دانې وی نولمبيدل واجب نه دی بلکه تيمم دی ووهی. (بهشتی زيورص۶۷ج۱،ومنيه ص۲۲په حواله)

مسئله: که پربدن ځای پرځای زخمونه وی يادکوي دانې وی نوتيمم جائزدی ،که ځای پرځای نه وی پريوه ځای دبدن ترنيمه برخه زياتی وی ،بياهم دغسل پرځای تيمم جائزدی ،اودنوروغړيوپرينځلوته اړتيانشته که له څلوروانداموصرف يوروغ وي نوداودس پرځای تيمم وهلای شي ددغه اندام ومنځلوته ضرورت نشته مثلاً : مخ روغ وی ،لاس ،پښې اوسرزخمې وی نوتيمم دی وکړی ،ومخ منځلوته اړتيا نشته ،دغه رنګه که لاسونه ،پښې اومخ زخمې وی صرف سر روغ وی نوتيمم جائزدی ،دسرمسح دی نه کوی يعنی سردی نه منځي.

قاعده داده: چې په اودس کې دغړيووشميرته اعتباردی که يوياد وه غړي زخمي وي نواودس کول پکاردی،روغ اندامونه دي پريمنځي اوپرنورودي مسح وکړي اوکه په دريواندامونوکي عذروي نواودس معاف شو،اوس دي تيمم ووهي کومه برخه چې روغه ده هغه دي هم نه پريمنځي اوپه غسل کی ومساحت اوپيمائش ته اعتباردی کله چې ترنيم بدن زيات پريمنځوڅخه معذوروي نوتيمم جائزدی اوکله چې زياته برخه روغه وي نودهغي پريمنځل پرنوربدن مسح کول ضروري دی. په غسل کي دغړيووشميرته اعتبارنشته.

وګورئ! که څوک له سيني څخه ترېښو زخمي وي نوتيمم جائزدی حال دادی چې کوم اندامونه روغ دي هغوئ په شميرکي زيات دي(مثلاً لاسونه،سر، سترګي،پوزه،غوږونه اونور..) که لاسونه داسي زخمي وي چې په اوبوکي ئي نه شي اچولای اونوراندامونه هم نه شي پريمنځلای نوتيمم جائزدی ،خوغوره دادی چې دکوم بل چاپه مرسته اودس وکړي،که ترنيمايي کم بدن زخمي وي خوپرروزغ ځای داوبو پريوتوپه وجه وزخموته تکليف رسيږي نوتيمم جائزدي .

داوبوزيان رسولواوناروغه کيدويادناروغئ زياتيدوانديشنه په همدي حال کي معتبره ده چې په خپله له خپل عادت څخه معلوم وي ياله عامي تجربي اوليدني څخه معلوميږي ياکوم مسلمان باوري طبيب ورته ووائي چې تاوان کوي ياناروغي زياتيږي يابه په ځنډسره ښه شي . (طهورالمسلمين ص:۱۵)

دجنازي لمانځه اومؤکدسنتودپاره تيمم وهل

مسئله: قاعده داده چې که دکوم عبادت فوت کيدوخطروي اوهغه قضاء هم نه لري نوسره له دي چې اوبه وي دده دپاره تيمم جائزدي .ځکه که دجنازي دلمانځه ترآخري تکبيرمخته دګډون هيله وي نوتيمم جائزنه دي کني په تيمم کولوبرخه پکي اخيستلای شي .

داختردلمانځه هم همدغه حکم دي چې دامام دفارغيدوويره وي نوپه تيمم وهلو دي ورګډشي (کله چې بل ځاي هم داختردلمانځه موندلو هيله نه وي) همدارازدمؤکدسنتونوقضاء خونشته ځکه که دهغوئ دفوت کيدوويره وي نوهم سره له دي چې اوبه موجودي وي تيمم دي ووهي سنتونه دي اداء کړي .

(احسن الفتاوی ص: ۵۹ج ۲دردالمحتارج ۱ص۲۲۲په حواله اومظاهرحق ص۴۷۹، فتاوی رشيديه ج ۱ص ۲۸۴)

مسئله: که دجنازي دلمانځه تيريدوويره وي نوپه تيمامه دجنازي لمونځ کولای شي په دي شرط چې دمړي ولي نه وي . (ځکه چې دجنازی لمونځ دمړي دولي پراجازه موقوف دی)
(هدایه ص۴۸ج۱، شرحی نقایه ص۲۵، کبیری ص۱۸)

مسئله: کوم مړي ته چې غسل ورکول ممکن نه وی هغه ته دی تيمم ورووهل شي اودفن دي کړل شي. (شامی ص۲۳۶لومړی ټوک)

مسئله: په بيړه تيمم وواهو دجنازي په لمانځه کي شريک شو،(دجنازي لمونځ خوصحيح شواما) په دي تيمم وختی فرض لمونځ نشي کولای .په اودس کولو وختي لمونځ کول په کاردی .
(فتاوی دارالعلوم ص۲۴۵ج۱دردالمحتارباب التیمم ج۱ص ۲۲۳په حواله)

مسئله: که دجنازي دلمانځه دټولوتکبيرونوتيريدوويره وي نوتيمم وهلای شي که څه هم تيمم وهونکی جنب نارينه اوښځينه وي،خوکه داسي نه وی يعني دتکبيرونوموندلوغالب يقين وي ياورته معلومه وي چې دده انتظاربه لازماً کيږي نوتيمم صحيح نه دي .

مسئله: يودجنازي لمونځ ئي په تيمم کړي ؤچې دوهمه جنازه راوړله شوه که دغه تيمم کونکي ته ددي دواړوجنازوترمنځ اودس کول ممکن شوي ووخوبيادغه امکان ياقوت زائل شونودوهمي جنازي دپاره دي دوهم ځل تيمم ووهي،که ددواړوترمنځ داودس کولوقدرت ونه موندي نودوهم ځل وتيمم ته اړتيانشته ،په اولني تيمم به دجنازي لمونځ کوي . (کشف الاسرار جلد۲صفحه ۱۵)

(دلته خودتيمم مسئلې رواني وي ځکه داڅومسئلې مي بيان کړي، نوردمړي دغسل بشپړي مسئلې دغسل مسئلې په نوم کتاب کي

وګورئ،اودعاء کوي په آئنده کي دمړي مسئلي ليکلوخيال مي ددوستانوپه تينګارشته،چې پکي به دمرګ آثار،غسل،کفن،جنازي لمانځه،دفن پرقبردتختي اونورولګولو،ايصال ثواب،روح اونوروپه اړوندتفصيل وي .انشاالله . دعاغوښتونکی محمدرفعت قاسمی غفرله

دتيمم بيلابيلي مسئلي

مسئله: داوبوپه موجوديت کي دقرآن کريم مسح کولودپاره تيمم صحيح نه دي . (فتاوی دارالعلوم ص۲۶۰،ج۱ دردالمختارج۱ ص۲۲۵په حواله)

مسئله: که دقرآن کريم مسحه کولودپاره تيمم ووهي نوپه دي سره د جنازی لمونځ کول نه دی صحيح اوکه ديوه لمانځه دپاره تيمم ووهي ددوهم وخت لمونځ هم په دي کول صحيح دی اودقرآن کريم مسحه کول هم په دي تيمم صحيح دي .

مسئله: که څوک ولمبيدلوته اړوي (يعني دغسل اړتياورته پيداشوي وي)او اودس هم نه لري نويوتيمم دي ووهي ددواړودپاره جلاجلاتيمم ته اړتيانشته .

مسئله: چالمونځ په تيمم اداء کړييائي اوبه وموندلي اودلمانځه وخت هم پاتي دي نوودوهم ځل لمونځ کولوته اړتيانشته هم هغه لمونځ په تيمم صحيح کيږي . (بهشتي زيورص ۷۰ج۱منيه ص۲۹)

مسئله: که تيمم داوداسه پرځای وي نوداودس په موافق اوبه موندلو تيمم ماتيږي،اوکه تيمم دغسل وي نوکله چې دغسل په موافق اوبه پيداشي نوتيمم ماتيږي که اوبه کمي پيداشي نوتيمم نه ماتيږي .

مسسله : که چادناروغئ له امله تیمم وهلی دی نوکله چې ناروغي ختمه شي چې اودس اوغسل ورته تاوان نه کوي نوتیمم ماتیږي ،اوس اودس کول اوغسل کول واجب دي . (بهشتي زيورج۱ص۷۰)

مسئله: په څومره شيانوچې اودس ماتيږي په هغوئ تیمم هم ماتيږي اوداوبوپه پيداکيدلوسره هم ماتیږي . (بهشتي زيورص۷۰ج۱شامی ج۱ص۲۴۲په حواله)

مسئله: کوم شی چې دعذرپه وجه رواشي،دهغه عذرترزائليدو وروسته هغه باطليږي .(کشف الاسرار ص۲۸ج۲)

مسئله: که پردېره يومخ دوره نه وي بياهم تيمم ورباندي صحيح دی،پرلاس دګرځ لګيدل هيڅ ضروري نه دی،همدارازپرپخه خبنته هم تیمم صحيح دي دوره که پروي اوکه نه وي .

مسئله: پرځمکه که دبولواونورومرداريئ ولګي اوپه لمروچه شي اوبد بوي ئې ختم شي نوځمکه پاکه شوه لمونځ ورباندي صحيح دي خوپر دغه ځمکه تیمم وهل صحيح نه دي،کله چې معلوم وي چې داځمکه داسي ده اوکه معلوم نه وي نووهم مه کوئ .

مسئله: که وچاته دورښودلوپه نيت تيمم ووهي اوپه زړه کي دځپل تيمم وهلونيت نه وُبلکه يوازي په هغه زده کول مقصدوُنودهغه تيمم نه صحيح کيږي يعني دتيمم ورښودونکي ،ځکه چې په تیمم صحيح کيدوکي دتيمم اراده کول ضروري ده،نوکله چې دتيمم وهلواراده نه وي بلکه بل ته ورښودل اوورښکاره کول مقصدوي نوتیمم نه صحيح کيږي . (بهشتي زيورص۶۹ج۱دمنيه ص۲۹په حواله،شرح البدايه ص۵۴ج۱)

مسئله: په تیمم کي پرلاسونوڅه خاوري اودوري لګيدلي وي نويولاس دي پربل لاس ووهي هغه ذي وڅنډي،ځکه چې په تیمم کي

دخاورو اودوړومښلو شرط نه دي بلکه (پرخاوره اونورولاس تیرول فرض دي (خولېډیره دوړه هم که چیري ولګیږي نوپروانه لري.
(طهورالمسلمین ص۲۳)

مسئله: په مرتدکیدوتیمم نه ماتیږي مثلاً یوه مسلمان دمجبوریت په خاطرتیمم وواهوبیاتردي وروسته ده اسلام پریښودي خدای ناکرده یعني مرتدشواوبیاالله جل جلاله توفیق ورکړچې مسلمان شونوکه په دي منځ کي اودس نه شومات نوپه هغه مخته تیمم چې داسلام په حالت کي ئي وهلی وُلمونځ کولای شي. (کشف الاسرارص۲۸ج۲)

مسئله: وجنب ته له یخ څخه دناروغئ ویره ده اوتودي اوبه نشته یاله دي څخه هم دضرر رسیدوغالب ګمان دی نوتیمم جائزدی.
(احسن الفتاوی ص۵۶ج۲ دردالمحتارج۱ص۲۱۴ ج۱په حواله)

مسئله: په ځنګل کي وحیوانانوته خطروي که دئ اودس کولوته لاړشي نو حیوانان به دچاکښت ته ورشي. یادورکیدوویره وي نوپه دي صورت کي تیمم وهل جائزدي. (فتاوی دارالعلوم ج۱ ص۲۶۵)

مسئله: څوک چې داسي ځای بندي وي چیري چې اوبه نه وي. اودلمانځه وخت تیریدونکی وي نوهغه وخت دي په تیمم لمونځ وکړي اووروسته دي راوګرزوي. (امدادالفتاوی ص۷۴ج۱)

مسئله: یوڅوک په مسجدکي ویده ؤ،که دده احتلام وشونوله مسجد څخه دوتلو دپاره دتیمم ضرورت نشته،خوکه دکوم عارض په وجه هغه وخت وتل مشکل وي نوتیمم ضروري دي (یعني که په شپه کي داحتلام په حالت کي له مسجده وتل مشکل دي نوتیمم دي ووهي.
(فتاوی محمودیه ص۵۱۲ج۱)

مسئله: دلمانځه تروخت مخته تیمم وهل جائزدی اوله یوه ځخه تر زیات فرضودپاره هم صحیح دی اودفرضولمونځودپاره هم تیمم جائز دی لکه چې دنفل لمانځه دپاره ،ځکه چې زمونږپه نزدتیمم داودس اوغسل مطلقاًبدل دی،ځکه نوپه یوه تیمم چې څومره فرضونه نفلونه وغواړي کولای شي،لکه څنگه چې په یوه اودس ئي کولای شي.
(کشف الاسرارص۱۵ج۲)

مسئله: په تیمم کي درکن اوشرط په پاتیدوتیمم نه صحیح کیږي اودمسنون اعمالوبیله ارتیاپه قصداً پریښودلوډیرسپک اوکله زیات کراهت راځي خوتیمم بیله شبهي صحیح اوکافي کیږي،نوکه چا دلاسونوچپه خواپرخاوره ووهله پرټول مخ اولاسونوئي مسح وکړه بیاهم تیمم صحیح شو،خودسنت په خلاف اومکروه شو.

مسئله: که گوتی خلاصي نه پریښولي شي خودبل لاس په گوتوئي ددوئ په مینځ کي خلال اومسح وکړه بیاهم صحیح شو.

مسئله: که لاسونه ونه څنډي ښه پرمخ اولاسونوخاوره ومښي بیاهم تیمم صحیح شوخودافعل مکروه دی.

مسئله: که دلاسونوپرځای کوم دستمال اونورپرځمکه ووا هي هغه ئي پرمخ اولاسونوتیرکړي نوتیمم صحیح شوخوبیله عذره داسي کول ډیرمکروه دی.

مسئله: که کوم بل چاځپل لاسونه پرځمکه ووهل دکوم بل چاتیمم ئي ورو واهو نوصحیح دی په دي شرط چې دهغه ترلاسووهلومخته ده :تیمم قصداونیت کړی وي.

مسئله: که پرمخ تیمم ووهي پرېېږدي اودومره وخت وروسته پرلاسو مسح وکړه چې فرضاً که مخ په اوبوپرېمنځلای وای نوتراوسه به وچ شوی وای، بیاهم تیمم صحیح دی.

مسئله: که مخته پرلاسومسحٔ وکړه بیائي پرمخ وکړه نوهم تیمم صحیح شو، خودسنت په خِلاف اوپه څه اندازه مکروه شو. (طهورالمسلمین ص۲۲)

مسئله: کومي اوبه چې په میدانو(پرلارودسړکونوپرغاړو)دوقف په توګه ایښنول شوي وي نوترڅوچې هغه اوبه په زیاته اندازه نه وي تیمم منع کونکي نه دي، دکم والي په صورت به دااوبه دڅښلولپاره کیږي اوکه په زیاته اندازه وي نود اوداسه دپاره هم بلل کیږي.
(کشف الاسرارص۲۵ج۲)

(اوپه اوس وخت کي خوپرعامولارود استعمال دپاره نلونه اوپائپونه وي ددي داستعمال عامه اجازه وي. محمدرفعت قاسمی)

مسئله: دجمعي دلمانځه دتېرېدوپه وېره تیمم نشي کولای، ځکه که جمعه تېره شي نودماپښین لمونځ دي ادا کړي.
(هدایة ص۲۹ج۱، شرح نقایه ص۲۵ج۱کتاب الفقه ص۲۳۹ج۱)

مسئله: دچاچې دواړه لاسونه پرورېږي شوي وي نوکله چې دی په چاتیمم وهي نوپرېږي شوي ځای دي مسح په وکړي. (کبیری ص۶۴)

مسئله: هغه سړی کوم چې تیمم خووهي خوتراوسه ئي لمونځ نه وُکړی چې اوبه ئي وموندلې نودده تیمم باطلیږي. (مظاهرحق ص۲۷۷ج۱)

مسئله: ترڅوچې تیمم ماتونکی کوم شی وړپېښ نه شي ترهغوپه یوه تیمم ټول وختي اوقضائي فرضونه، نفلونه دنوروو ختونولمنځونه ټول کولای شي. (نمازمسنون ص۱۲۵)

مسئله: په تيمم کي هم تنګه ګوته او بنګرى ښوروول کفايت کوي، ځکه چې ددې په ښوروولو ترډي لاندي ځاى تيمم کيږي، او فرض صرف مسح کول دى، ددوړو هلته وررسول ضروري نه دى.

مسئله: په اودس کي چې د کوموويښتانو پريمنځل واجب دى په تيمم کي دهغوئ مسحه کول واجب دى او هغه ويښتان چې په اوډس کي پريمنځل واجب دى هغوئ هغه دي کوم چې په مخ کي وي ځکه داوږدي راځړيدلي ږيري مسحه کول واجب نه دى. (کتاب الفقه ج۱ص۲۵۷)

مسئله: په تيمم کي مسحه که په لاس سره وشي نو دهغه دپاره شرط دادى چې په ټول لاس يادلاس په زياتره برخي وشي ځکه چې مسحه کول په تيمم کي فرض دى که په لاس وي يادلاس قائم مقام په کوم بل شي وي. (کتاب الفقه ج۱ص۲۵۶)

مسئله: تيمم وهونکى واودس کونکيوته لمونځ ورکولاى شي (نمازمسنون صفحه۱۵۰)

مسئله: احناف وائي چې فاقدالطهورين يعني دچاسره چې پاکونکي دواړه شيان اوبه اوپاکه خاوره اونورنه وي هغه ته پکاردى چې دلمانځه ظاهري صورت عملي کړي په داسي دول چې قبلي ته مخامخ شي سرپه سجده کړى، نه دى قرأت وائي، نه دي تسبيح لولي، نه دى التحيات اونوروائي اونه دي دلمانځه نيت کوي، که دجنابت په حالت کي وي او که صرف اودس نه وي.

يادونه دي وي چې دلمانځه په دغه ظاهري صورت ئي له فرضوغاړي نه خلاصيږي بلکه ددي ادا ينه دانسان پرذمه باقي وي او فرض پرده پاته وي ترڈي چې داودس دپاره اوبه ياتيمم دپاره خاوره پيداکړي. که

په حالت دجنابت کې وي بیاهم دلمانځه داظاهري صورت جائزدی .
(کتاب الفقه ج۱ ص۲۶۵)

دمتیازوحکم اوله هغه څخه دځان نه ساتلوو عید

مسئله: دتي رودونکي ماشوم بولی هم مرداري دي اوفقهاء کرامو داپه مغلظ نجاست کې شمیرلی دی . څکه نوکه ماشوم پرجامو متیازي وکړي دهغه پریمنځل ضروري دی،که پربدن لګیدلي وي نو دبدن پاکول هم ضروري دی که بیله جامواوبدن پاکولولمونځ وکړل شي نولمونځ نه صحیح کیږي راګرزول ئې ضروري دی .

مسئله: دکوچني هلک اوانجلۍ بولي چې خوراک ئې پیل کړی وي یائې نه وي پیل کړی نجاست غلیظه دی .
(فتاوی رحیمیه ص۱۳۰ج۷ ،فتاوی عالمګیري ص۲۸ج۱باب في النجاسات)

مسئله: دتي رودونکي ماشوم بولي هم ناپاکي دي څکه دجامي پرکوم چې ولګي پاکول ضروري دی اودپاکیدودپاره دومره کفایت کوي چې دبولوپرځاي دومره اوبه وبهول شي چې په دومره اوبه هغه جامه درې ځله لندیدلای شي . (آپ کی مسائل ج۲ص۸۵)

مسئله: له متیازوڅخه دځان ساتلودیراهتمام کول پکاردي په احادیثو کي ددي ډیرتاکیدراغلی دی اوفرمایل شوي دي چې دقبر عام عذاب له متیازوځان نه بچ کولوپه وجه وي،په یوه حدیث شریف کي دي چې نبي اکرم ﷺ وفرمایل ،له بولوځان ساتي په قبرکي تر ټولومخته له بنده څخه دمتیازوپه اړه حساب کیږي .

له حضرت معاذبن جبل رضی الله تعالی عنه څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ له بولوځان ساتی اوخپلوصحابوته هم ددي

امرکاوو.حضرت ميمونه بنت سعد رضى الله تعالى عنهماعرض وکړچې اى دالله جل جلاله رسوله مونږته داوښيه چې دقبرعذاب په کوم شي کيږي؟ رسول الله ﷺوفرمايل دمتيازوله اثره (يعني دڅاڅکوله اثره) (مجمع الزوائدص۸۵ج۱)

رسول ﷺددووقبرونوسره تيرشونوده مبارک ﷺوفرمائل ددغو دواړوقبرونوخلکوته دقبرعذاب ورکول کيږي . اودوئ ته دکوم غټ شي په اړه عذاب نه ورکول کيږي په دوئ کي يوه له بولوڅان نه ساتى اودوهم چغل خوري کوله .

(دادواړه شيان داسي نه ووچې ورڅخه ځان ساتل ګران دي په آساني سره ځان ساتلاى شو) (ترمذى ص۱۱ج۱باب التشديدفى البول ومشکوة شريف ص۴۲ج۱)

دبولوله څاڅکوځان نه ساتلوباندي دقبرعذاب

دمتيازواوچغلګري په وجه دقبرعذاب ورکول کيږي،په دي کي څه مناسبت دى؟

ددي په اړه په التعليق الصبيح شرح مشکوة المصابيح ص۱۹۳ج۱،کي ليکلى دى چې عالم برزخ دعالم آخرت مقدمه ده .

(دآخرت لومړى منزل دى)اودقيامت په ورځ په حقوق الله کي ترټولو مخته دلمانځه اوپه حقوق العبادکي دويني (ناحقه دچادويني بهولو) حساب او پريکړه کيږي اودلمانځه کيلي له ناپاکي څخه (نجاست که حقيقي وي اوکه حکمي)پاکي حاصلول دى (بيله پاکي لمونځ نه صحيح کيږي نوپاکي دلمانځه مقدمه ده) اودناحقه ويني بهولوعام سبب غيبت اودخلکوپه منځ کي چغلګري کول دي (نوغيبت او چغلګري دناحقه ويني بهولومقدمه ده)

په همدې مناسبت قبريعني عالم برزخ کي له دغودواړوشيانوڅخه په ځان نه ساتلو دقبرعذاب ورکول کيږي.

نبی اکرم ﷺارشادفرمائي چې په دوزخ کي به څلوردوله خلک وي نوردوزخيان به له دوئ څخه په تکليف وي اويوبل ته به وائي چې مونږپه خپله په تکليف يو،خودوئ په خپلو نعروچغوزمونږپه تکليف کي نورزياتوب کړی دی،له دوئ څخه به يوشخص دسکروتوپه تابوت کي بندوي، اويوسړي به خپلي کلمي راکشوي روان به وي، اود يوه سړي له خولې به وينه اونوونه بهيږي اويوسړی به پخپله خپلې غوښې خوري.

کوم شخص چې به دسکروتوپه تابوت کی بندی وی دهغه دعذاب وجه داده :چې پرده دخلکومالونه وو(اوپه همدې حالت کې دی وفات شو)اوکوم سړی چې به پخپله خپلې کُلمې راکشوی دهغه وجه به داوی چې پرده به متيازي لګيدلی ده به دهغوپروانه کوله اونه ئي منځلې.

اودچاله خولې څخه چې به وينه اونوونه بهيږي دهغه وجه داده چې هغه دخلکوغوښه (په غيبت کولو) خوړله .مجمع الزوائدص۸۴ج۱.

دغه ټول احاديث دی په نظرکې ونيول شی اودپاکی پوره اهتمام دی وشی ،دمتيازولګيدل معمولوی اوسپک ګڼل اودهغوي دپريمنځلو اهتمام نه کول ډيره سخته ګناه ده ،استنجاء دی هم همدارنګه ووهله شي چې داوبوڅاڅکي ونه غورزي اوڅاڅوکی پرجامواوبدن باندی ونه لګيږي ،دڅاڅکودبندولوچې کومې طريقې دی اوپه تجربه کتوری معلومې شی هغه دی غوره کړي ،ترڅوزړه ئی بنه داډمن شي

،لنډه داچې په دې اړه ډیراهتمام اوفکروکړی ،دادی هیڅکله سپک نه ګڼي (فتاوی رحیمیه ص۱۲۹اترص۱۳۴پوری ج۷)

(دتفصیل لپاره وګورئ دنجاست غلیظه اوخفیفه حکم اوتعریف.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۳۳ج۱،دردالمحتارص۲۹۳ج۱په حواله ،کتاب الفقه ص۱۴۹ج۱،آپ کی مسائل ص۸۲،ج۳،هدایه ص۵۸ج۱،اوداحقرکتاب دلمانځه مسئلې)

حضرت ابن عباس ﷺبیان کوی چې یوه ورځ رسول الله ﷺله دووقبرونوسره تیریدی نو(ناڅاپه ودریدی) اوئې فرمایل: ددغو دواړوقبرووالوته دقبرعذاب ورکول کیږي ،اودقبرعذاب پرکومه غټه خبره نه ورکول کیږي (چې په دی دنیاکی ورڅخه ځان ساتل ګران وی) اصلاً له دغودواړوڅخه یوشخص خوهغه دی چې له متیازوڅخه ئی خپل ځان نه ساتی له بولوئی ځان نه ژغوری ،یعنی داسی احتیاط به نه کاووچې دمتیازوڅاڅوکی دی پرده ونه لګیږي ،دروایتونولنډیزدادی :چې دبولوپه اړه ډیراحتیاط ته اړتیاشته ،دمتیازوکولوپروخت دی څاڅوکی پریدن اوجامونه لګیږي ،دککړیدودی هیڅ صورت رامنځ ته نشي ،اواستنجاء دی په داسی ډول ووهله شي چې صفائي اوپاکي په پوره توګه راشي ځکه علماء لیکی چې له متیازوځان نه ساتل اونه پاکول کبیره ګناه ده ،دچاچې مزاج قوی ژی اودهغه یقین وی چې څاڅوکی نه راغورزي ،بې شکه دداسی سړی لپاره یواځې په اوبو استنجاء کول کافی ذی ،خودکوم چاچی تردیره وخته څاڅکې راځي نو داسی سړی که لوټه ونه کاروی یواځې په اوبواستنجاء ووهی نویقیناً دده پرتوګ جامه اونورڅه به مردار شي اودی به دمتیازوپه اړه په احتیاط نه کولوګناهګارشی.

(مظاهرحق جدیدص۲۴۴ج۱)

استنجاء څه ده ؟

داودس ماتونکیو شیانو په اړه مخکې ښودل شوي دي چې دغتو بولو ، کوچنیوبولو ،ومذی او ودی په وتواودس ماتیږي په دې کې دټولو امامانو اتفاق دی.

ترمرداری وتلوو روسته دغتوا وکوچنیوبولوځایونه ککړپریښودل او صرف اودس کول دپاکی دحصول لپاره کفایت نه کوی ،بلکه دالازم دی چې له کوم ځای څخه مرداری راوتلی ده هغه ځای وچ اوپاک کړل شي ،ځکه دامناسب دی چې ددې ځای اړوندمسئلې داودس ماتونکی مسئلوسره سمدستې بیان کړل شي چې داهم دهغې برخه ده.

داستنجاء ارکان څلوردي

مستنجئ (استنجاءوهونکی سړی) مستنجی منه(هغه مرداری) چې ورڅخه دکوچنیویاغټوبلوځای ککړوی - مستنجی فیه هغه ځای دی دکوم چې پاکول دی یعنی دکوچنیوا وغټوبولوځای دی اومستنجی به یعنی اوبه اولوټې داڅلورشیان دی له دوی پرته استنجاء نشی کیدای.

ښکاره ده چې ددې ترون له دووشیانوسره دی استنجاء اوداړتیاترسره کول ،په استنجاء کې دوې خبرې دیادونی وړدی: لومړی داستنجاء تعریف ،دوهم دهغې په اړه مسئلې داړتیاترسره کول یعنی دمتیازو او غولوتړون ددریوشیانوسره دی ،یوخوددوې حکم دی دوهم هغه ځایونه چیري چې اړتیاترسره کول منع وی ،دریم هغه خبرې چې دهغوی په موجودیت کی دحاجت رفع کول منع دی ،اوس ددې ټولوشیانوبیان په ترتیب سره کیږي.

داستنجاء تعریف

له استنجاء څخه مرادهغه مرداری ده کومه چې دمخ یادشاله لاری یعنی کوچنیواوغټوبولوله ځایه راوتلی وی له دغوځایونولري کول دی له کومه چې راوتلی ده ،داپه اوبویالوټه اونوروهم ليري کیدای شي ،اوددې نوم استنجاء ځکه دی چې داستنجاء لفظ دعربې ژبې له یوې جملې څخه راایستل شوی دی ،ونه چې په بیخ کې پریکړله شي نووائي«نجوت الشجرة »یعنی ونه له بیخه پرې کړیده ،داستنجاء مفهوم هم دغه چې پلیتی له بېخه پرې کړله شي .

داستنجاء یعنی طهارت اصل طریقه خودادہ:چې اوبه وکارول شی ،ځکه له اوسنی امت څخه په مخکینیوامتونوکې شرعاً یواځې په اوبو دپاکی حکم وُخوداسلام مذهب دمهربانی ،اودعوامودهوساینی په خاطر په لوټه اونوروشیانوچې پکی کوم ضررنه وی دپاکې حاصلولواجازه وکړه –(نورتفصيل داستنجاء په بيان کې پرمخ راځي) (کتاب الفقه ص۴۶ج۱)

دخلاء معنی :خالی کیدل ،تشیدل ده اواصطلاحاً ددې (الخلاء) لفظ مطلب کیږي هغه ځای چیرې چې کوچنيياغټوبولوارتیاترسره کیږی چې موږورته بیت الخلاء ،فلش،تشناب اونوروایو.

اداب:

آداب اصلاً دادب جمع ده معنی ئې دعقلمندی ،هوښیاری ،قاعدې ، طریقې اواندازی ده اوپه اصطلاح کې ددې مطلب دی کوم شئ داسی په طریقه کول چې غوره اوښه وي اوهغه شئ که دوېناوی اوکه دکولو

، اووهرهغه کارته هم وائي کوم چې په احتیاط اوږده فکر،په ښه طریقه اوغوره اندازوکړل شي. (مظاهر حق ص۳۴۵ج۱)

مسئله:له ګیډي څخه چې له دواړولاروکوم څه وزي هغه ته «نجو» وائي داستنجاء معنی داشوه دمرداري ځای پاکول ،که کوم شئ پرتیرکړی اوکه ئي پریمنځی دواړه دوله کیدای شي (په اوبو،لوټه وغیره)استنجاء دنجاست دنجاست له لاري (یعنی دغتو اوکوچنیو بولوله ځایه) لیري کول دی. (کشف الاسرارص۹۳ج۳)

بیت الخلاوی دشیطانانومرکزونه دي

رسول الله ﷺ فرمایلي دی : ګورئ ودغوبیت الخلاوته پیریان اوشیطا نان ځي راځي له تاسوڅخه چې څوک کله بیت الخلاء ته ورشي نوهغه ته پکار دی چې دادعاولولي «اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَعُوذُبِکَ مِنَ الخُبثِ وَالخَبَائث»

پیریان اوشیطانان ځي راځي یعنی پیریان اوشیطانان بیت الخلاء (ټټي،تشناب) خپلې اډې جوړوی ،چیری چې دوی ځي راځي اوددې خبرې په انتظاروی چې کله به څوک راشي اودوی هغه په تکلیف کړی اوپه فسادکي ئي واچوی ځکه چې بیت الخلاءيوداسی ځای دی چیری چې نه صرف داچې له مرداري پرته نورڅه نه وی ،بلکه انسان خپل سترخلاص کړی کښیني اودالله ذکر نشي کولای ځکه له پیریانو او شیطانانوخوندی کیدولپاره بیت الخلاء ته دورننولوپروخت دغه دعا لوستل پکاردی.

بيت الخلاء ته ورننوتلواوراوتلوپروخت دعا

حضرت عائشه ﷞ بيان کوی : چي رسول الله ﷺ به کله له بيت الخلاء څخه راووتی نوفرمايل به ئي : اَللّٰهُمَّ غُفرَانَکَ – يعنی ای الله ! زه ستاڅخه بخښنه غواړم. (ترمذی)

تشريح : دغه مهال دبخښنی اومعافی غوښتلودوي وجې علماؤليکلي دي:يوه خوداچې درسول الله ﷺ پرمبارکه ژبه به هروخت دالله يادونه وه ،داړتياترسره کولوپه ځيرحالت څخه پرته په کوم بل حالت کي ده مبارک ﷺدالله ذکرنه دراوی ،نوپه بيت الخلاء کي دالله دذکرقضاء کيدوته هم رسول الله ﷺدومره اهميت ورکاوی چې له هغه ځايه په راوتلوسره به ئي سمدستی له الله جل جلاله څخه مغفرت اومعافی غوښته.

اودوهمه وجه داده :چي دانسان له دغي مرداری خلاصيدل دالله تعالی ډيرلوی انعام دی ،انسان چي هرڅه وخوری اوڅښلي ګيډي ته ئي شيوه کړی ،هغه هضم شي اوبيادويني اونورپه صورت کي دهغه جوهر دجسمانی قوت اوتوان باعث شي اوفضله په آسانی سره بهرته ووزي ،که څوک فکر اوغوروکړي نوداالله دومره سترنعمت دی چي ددي شکرنشی اداکيدلای. نورسول الله ﷺ به له بيت الخلاء څخه دوتلوسره سمدستی مغفرت اومعافی غوښته چي پروردګاره !تاسوچي په کوم کرم اونعمت ونازولم دهغه شکرنشی اداکيدای ،هغه راته معاف کړي. (مظاهرحق ص۲۶۲ج۱)

مسئله: دغټواوکوچنيوبولوکولوپرمهال دباندی په صحراء کي له جامو پورته کولومخکي اوپه بيت الخلاء کي ترددننه کيدومخکي دادعا ولولئ : اللهم انی اعوذبک من الخبث والخبائث.

(بخاری ص۱۳۶ج۱کشف الاسرارص۹۹ج۳،مظاهر حق ص۳۴۸ج۱)

اوبیاکیڼه پښه په بیت الخلاء کې کښیږدئ اوبهرته دراوتلوپروخت لومړی
ښئ پښه بهرته راوباسئ ،اوبهرته دراوتلوپرمهال دادعاووایاست.
(۱) اللهم غفرانک (۲) الحمدلله الذی اذهب عنی الاذی وعافانی
(نمازمسنون ص۹۳،ترمذی ص ۲۷ج۱،ابن ماجه ص ۲۶ج۱،مظاهرحق ص۲۶۲ج۱ ،البحرالرائق ص۲۴۳ج۱)

مسئله: غټوبولوته دتلولپاره چې کومه دعاده دوړوبولولپاره ځان ته
کومه دعانشته بلکه دکوچنیواوغټوبولودواړولپاره یوه دعاده.
(امدادالفتاوی ص۱۴۳ج۱)

مسئله: بیت الخلاء ته دتلوپرمهال (اعوذبالله مِن الخبث والخبائث)
ویل ځکه مستحب دی چې په دې ځای کې شیطانان راغونډیږي ،ځکه
دوئ ته مرداري خوندورکوي ،اودراوتلوپروخت غفرانک وایاست
ځکه چې په بیت الخلاء کي دالله یادونه پرېښودل کیږي ،اودشیطا
نانو سره دیوځای کیدووخت دی ،ځکه له دې څخه مغفرت غوښتل
مناسب دی (المصالح العقلیه ص۳۷)

داستنجاء حکم عام دی

مسئله: داحنافوپه نزدپاکی حاصلول یاپه اوبوپاکی حاصلولوپرځای
په لوټه پاکول مؤکد سنت دی ،دنرولپاره هم اودمیرمنولپاره هم
،(ځکه نوکه کوم مکلف انسان ئې ونکړي نودراجح قول سره سم
داسی کول مکروه دی) په دې شرط چې مرداري دوتلوله ځایه مخته
نه وی لګیدلی ،داحنافوپه نزدله مخرج څخه مرادهغه ځای دی له
کومه چې مرداری راوزي اوهغه ځای چې په دې کی شامل وی لکه
دغټوبولودځای هغه شاوخواکومه چې دولاړیدوپرمهال سره بسته
شي اوله هغه څخه هیڅ په نظرنه راځي ،داغه رنګه دنرودځانګړي

غړي (ذکر) هغه حلقه (کړۍ) کومه چې دسورې پرشاوخواوی اوله کوم ځایه چې متیازې خارجیږي.
(کتاب الفقه ص۱۴۷ج۱،فتاوی محمودیه ص۵۴ج۲)

مسئله: له بدن څخه راوتونکی مرداره ماده هغه که دمعمول سره سم راوتونکي شئ وی (لکه متیازې اونور) یادمعمول په خلاف مثلاً وینه نوونه اونوردغه نجاست دوتوله ځایه پرمخ خورشي اودهغه مقدارتریوه درهم زیات وی نودهغه پاکول فرض دی اوددې لپاره اوبه کارول ضروری دی ،ځکه چې اوس داکاردنجاست لیرې کول دی ،استنجاء نه ده ،اودنجاست لیرې کولولپاره داوبواستعمال فرض دی اوهمدغه حکم په هغه صورت کې دی کله چې متیازې دخاص اندام ترسورې تجاوز وکړي دیوه درهم ترمقدارڅخه پرزیاته برخه خوري شي نوپه اوبوددې پریمنځل فرض دی ،اوپه لوټه اونوروپاکول په دې صورت کې کفایت نه کوی.

داغه رنگه ناسته به هم دقلفې څرمن دبولوله ککړیدوڅخه پاکوي خو که ددرهم ترمقدارزیات ځای ککړشي نودهغه منځل فرض دی ،لوټه اونور پرمښول کفایت نه کوی ،ښکاره خبره ده چې په داسی صورت کې هغه ټول نجاست کوم چې پرمخرج وی په اوبوپریمنځل لازمیږي ،ځکه چې ترمخرج تجاوزکونکی نجاست دمنځلوپرمهال ټول خوریږي ،اود احتیاط تقاضاهم همدغه ده چې ټول ځای په اوبوپریمنځل شي ،اوپه داسی سیمه کې چیرې چې اوبه ډیرې وی هلته خوپه رشتیادزیات احتیاط طریقه همدغه ده چې په اوبو منځلوپاکی حاصله کړل شي ،ځکه چې په دې سره مرداری هم لیرې

کيږي.اوبدبوی هم ختميږي خوپه هغوسيمو کې چيري چي اوبه لږوي ،دهغه ځای لپاره دصاحبينو(امام ابويوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله)رأيه په ښکاره توګه زياته په کار راتلونکي ده.اوهمدغه حکم په هغه صورت کې دی کله چې دانسان لپاره داوبو کارول ستونزمن وی.

لنډه داچي که نجاست خاص دمخرج پرسروی نودهغه زائلول مؤکد سنت دی.دانجاست له معمول سره سم وتونکی وی لکه کوچنی اوغټی بولی یادمعمول په خلاف لکه مذی اوودی اووينه اونوردغه په اوبوليری کړل شي ياپه کومه بله طريقه ،دی ته استنجاء او استجمار وائي ،خوکه مرداری له مخرجه تيري وکړي نودهغه ليري کول فرضيږي ،اودي ته استنجاء نه وائي بلکه دنجاست زائلول ورته وائي.
(کتاب الفقه ص۱۴۸ج۱)

له استنجاء څخه دعاجزحکم

پوښتنه :يوناروغ دی چي يوه پښه ئي ماته شوی ده ،داودس کولو پرمهال اوبه په کوم بل چاراتويوي ،خوداودس غړی پخپلولاسونو پريمنځلای شی ،خوداستنجاء کولوپرمهال ډيرتکليف ګالی ،سم بل څوک يي له خپل ځايه راپورته کوي ياپه تکليف سره مريض پخپله استنجاء وهی ياترچارپايي لاندی څوک لوښی ورته کښيږدی دی استنجاء وهی نوآياوداسی ناروغ ته استنجاء معافيږي کنه؟

ځواب: په دی صورت کي استنجاء معاف نه ده ،خوکه دواړه لاسونه شل وی يايولاس شل وی مگر څوک اوبه وراچوونکی هم نه وی اوروانی اوبه هم نه وی چي پکی کښيني په روغ لاس استنجاء ووهی

،اودميرمنى خاوندیادنارينه کوروالا هم نه وی ،چې استنجاء ورووهي نو استنجاء معاف ده. (احسن الفتاوی ص۹۰۱ج۲)

مسئله: که په کیڼ لاس کې عذروی ،لکه زخم اونوریاکارنه کوی (فلج وی) نوپه مجبوری کې ښي لاس استعمالولای شی ،خوپه ډیر احتیاط سره اوکه په کیڼ لاس معذوروی اوروانی اوبه هم دی نشي موندلای اونه داسی څوک وي چې ده ته اوبه ورواچوي نود دغی مجبوری په وجه دی استنجاء وهل پریږدی اوکه دده سره روانی اوبه یاتاکي لګیدلی وی یاداسی کوم سړی وی چی اوبه ورواچوي چي ورڅخه شرعاً پرده نه وی نوپه دغوصورتونوکي دی په ښي لاس استنجاء ووهی.

مسئله: که دڅادواړه لاسونه فلج وی نوله ده څخه استنجاء وهل يومخ معافیږي کله چې څوک ورووهونکی نه وی ،خوکه دی پرځمکه یادیوال په مښلو کولای شی نوپاک دی کړی. (کشف الاسرار ص۹۷ج۱)

مسئله: په ښي لاس بیله کوم عذراستنجاء وهل مکروه دی.
(هدایه ص۴۸ج۱،شرح نقایه ج۱ص۴۸)

مسئله: که عذروی په ښي لاس دی استنجاء ووهی.
(فتاوی دارالعلوم ص۳۷۹ج۱)

تراوادس کولووروسته استنجاء وهل

مسئله: تراستنجاء وهلومخکی که اودس وکړل شی ،وروسته په یاد ورتلوپرمهال استنجاء ووهی (یعنی مخکی په لوټه استنجاء ووهله اودس ئې وکړاوتراودس کولووروسته ورپه یادیدوپروخت یې بیاپه

اوبواستنجاء ووهله نوکه له مخرجه نجاست تجاوزنه وُکړی) نومخکې اودس صحيح دی ،دوهم ځل اودس کولوته اړتيانشته.
(احسن الفتاوی ج۲ص۱۰۸)

مسئله: که نجاست له مخرج څخه تجاوزنه وی کړی نواستنجاء په اوبوسنت ده اوکه تيرې کړی وی نوکه ددرهم تراندازه نه وی زيات شوی ،نوپريمنځل واجب دی اوکه زيات شوی وی نوپريمنځل فرض دی اوکه په لمانځه کې وريپادشونوپه اخيرنی صورت کې لمونځ باطليږي . اوپه دوهم صورت کې مکروه تحريمی گرزي اوپه لومړی صورت کې تنزيهی مکروه دی. (امدادالفتاوی ص۱۳۹ج۱)

(نوپه اخيرنی صورت کې دی لمونځ مات کړی اوپه دوهم کې دې پوره کړي لمونځ دی راوگرزوي اوپه اولنی کې راگرزول هم ضروري نه دی.
(رفعت)

چيرې چې غتې اووړې بولې کول صحيح نه دی

مسئله: په مسجدیامسجدپربام غول اومتيازې کول حرام دی ،داسی ځای غتې اوکوچنی بولی کول چيری چې وقبلی ته مخ یاشاوی مکروه دی که ځنګل وی اوکه ابادی.

مسئله: کوچنی ماشومان دکوچنی اوغټوبولولپاره داسی ځای کښينول چيرې چې قبلی ته مخ یاشاوی ناجائزدی اوددې گناه پر کښينوونکی ده .

مسئله:دلمراوسپوږمی پرلوردغټویاکوچنيوبولوپروخت مخ یاشا کول مکروه دی.

مسئله: په ولاړواوبوکي غول اومتيازي کول حرام دی په زياتوولاړو اوبو کي تحريمي مکروه دی اوپه روانو کي تنزيهي مکروه دی.

مسئله: په لوښي کي غتې ياکوچنی بولی کول په اوبوکي اچول ياداسی ځای غتې اوکوچنی بولی کول چی له هغه ځايه وبهيږي اوبوته ورشی مکروه دی (له مرداری نالی پرته)

مسئله: دويالی ،تالاب اونوروپرغاړه غتې اوکوچنی بولی کول مکروه دی کله چي نجاست په کي ولويږي ،اوداغه رنګه ترداسی ونه لاندی چي په سيوری کي خلګ کښيني اوداغه رنګه دګلونواوميوو ترونه لاندی ،دغه رنګه په ژمی کي چي پرکوم ځای خلګ کښيني ولمرته اود حيوانانوپه منځ کی ،ومسجداوعيدګاه ته دومره نژدی چي له بد بويي څخه لمونځ کوونکي په تکليف شی ،په هديره کي ياپرداسی ځای چيري چي خلګ اودس ياغسل کوي ،په لاره کي ،وهواته مخامخ ،په سوري کي ،ولاري ته نژدی اووکاروان ياکومي غونډي ته نژدي تحريمی مکروه دی.

لنډه داچي داسی ځای چيری چي خلګ ناسته پاسته کوي اودوي ته تکليف وی اوداسی ځای چي ورڅخه راوبهيږي وخپل طرفته راشي مکروه دی. (علم الفقه ص۴۵ج۱،شرح نقايه ص۴۹ج۱،هدايه ص۴۸ج۱،درمختار ص۵۶ج۱)

دغتواوکوچنيوبولوپرمهال چي له کوموشيانوڅخه ځان ساتل پکاردی

مسئله: دمتيازواوغولوکولوپرمهال خبري کول ،بيله اړتياتوخل ،دکوم ايت ياحديث ياکوم بل متبرک شي لوستل ياداسی شئ چي ورباندی دالله ﷻ يانبی ،ياملکي يادکوم عزتمندنوم وی ياکوم ايت ياحديث يادعاء ليکل شوي وي دځان سره ساتل ،بيله اړتياپه پروته

یاولاړه غټې اوکوچنی بولی کول تولی جامی ایستل لوَټ برېنډ غټې اوکوچنی بولی کول ،په ښي لاس استنجاء وهل.

(علم الفقه ص۴۵ج۱،بهشتی زیور ص۱۱ج۱۱،دمنیه ص۱۱۷وکبیري ص۵۸په حواله)

په کوموشیانوچي استنجاء صحیح نه ده

مسئله: هډ،دخوراک شیان ،گوبرخوشایي ،اوپه هر مردارشئ اوهغه لوته یاډبره چي یوځل استنجاء په وهل شوی وی ،پخه خښته ،ټوکر ښیښه اوسپینه ،سره زر،سپین زر،گیلټ ،کوله ،چونه ،اوپه داسی شیانو استنجاء وهل چي مرداری نه شی پاکولای لکه سرکه اونور...کوم شیان چي څاروی اونورخوری لکه پروړ،واښه اونوراو داسی شیان چي بیعه لري ،که لږ بیه ولري اوکه ډیره لکه کپړه اونور،(کومی کپړي او کاغذونه چي داستنجاء وچولولپاره جوړشو دی په هغوباندی جائزده.)

مسئله: دانسان اجزاء لکه ویښتان ،هډونه ،غوښه اونوردحیوان هغه جزءچي ورسره متصل وی ،دمسجدچټائي اونور،دونوپه پاڼړو،کاغذ که څه هم ورباندی لیکلی وي اوکه ساده وی ،دزمزم اوبه ،داوس پاتی شوی اوبه ،دبل په مال بیله اجازي اوخوښي ،هغه که اوبه وی که رخت یاکوم بل شئ ،پنبه ،اوداسی ټول شیان چي ورڅخه انسان یادهغه حیوانان گټه اخلی ،په دغوټولوشیانواستنجاءوهل مکروه دی.

(علم الفقه ص۴۶ج۱،شرح وقایه ص۱۲۷ج۱،درمختارص۵۷ج۱شرح نقایه ص۲۷ج۱،هدایه ص۴۸ج۱)

په کوموشیانوچي بېله کراهته استنجاء صحیح ده

اوبه ،دخاورولوټه ،هرهغه شئ چي پاک وی اونجاست لیري کړي په دی شرط چي مال اومحترم نه وی. (علم الفقه ص۴۶ج۱)

مسئله: له ساده کاغذ یا وربانډی څه لیکل شوی کاغذ څخه دلوټې کار اخیستل مکروه دی. (احسن الفتاوی ص۱۰۸ج۲)

مسئله: نن سبا چې کوم کاغذ دلوټې په توګه کاریږي چې ورته کلینک پیپر ویل کیږي[toale tissue]هغه دلیک ورنه وی په هغه کې دجذب لوصلاحیت وی ،په هغه استنجاء کول او روڅخه دلوټې کار اخیستل بیله کراهته جائز او صحیح دی.

(احسن الفتاوی ص۱۰۸ج۲،شامی ص۳۴۰ج۱،فتاوی دارالعلوم ص۳۸۰ج۱)

مسئله:که دغه کاغذ دخاورو دلوټو په څیر جذب کوونکی وی نوددې هم هغه حکم دی کوم چې دخاورو دلوټو دی ،که له مخرج (سوری) څخه شاوخوا متیازې نه دی خورې شوی ،یاخورې شوی دی خو د درهم په مقدار کې دننه خورې شوی دی نودډې تر استعمال وروسته یواځې په اودس کولو هم لمونځ کولای شی کنه په اوبو به هم پاکی حاصلول ضروري وی.(نظام الفتاوی ص۲۳ج۱،امدادالفتاوی ص۱۳۹ج۱)

مسئله: غوره دادی چې لومړی په لوټه نجاست لیرې کړل شی او تر هغه وروسته اوبه وکارول شی ،خونن سبا په ښارونو کی دګټر طریقې (فلش اونور) په وجه دلوټې استعمال ډیر تکلیفجن وی ،په لوټو غورځولو داوبولاره بندیږي چې دبدبویې اوایذاء باعث ګرزي ،بیاددې په پاکولو کی هم ډیرې ستونزې رامخته کیږي ځکه په داسی ځای کې دلوټو استعمال هیڅکله نه دی پکار،دلوټې اوډیری استعمال مستحب دی او خپل ځان اونورخلګ په مصیبت کې اچول حرام دی ،دکوم مستحب کارپه خاطر حرام کار کول جائزنه دی

،خوداپاکې په غرض چې کوم جذب کونکی کاغذونه په بازارکې ترلاسه کیږي دهغوئ استعمال جائزدی .

(احسن الفتاوی ص۱۰۵ج۲،فتاوی رحیمیه ص۲۷۸ج۴)

دبولودا رتیاپه ترسره کولوکې بندیزونه

دا رتیادپوره کولویعنی دغټواوکوچنیوبولواونوروکولوپه اړه شارع ﷺځوطریقی مقرري کړی دی چې له ټولګی څخه هغه احکام دی دکوموترڅوچې په ځانګړتیاسره دنجاست زائلولوسره دی (دناپاکی لیري کولوسره دی) که نجاست په ابوسره لیری کړل شی هغه ته استنجاء وائي که له اوبوپرته په کوم بل شئ مثلاً په لوټه اونوروليري شي نوهغه ته استجمار وائي .

دا رتیاترسره کولوپرطریقو(آدابو) ځینی خلګ دانیوکه کوي چې دحاجت ترسره کول له فطري اعمالوڅخه دی چې دهغه پرځای کول انسان دخپلوځانګړوحالاتواوماحول سره سم کوي ،پدې شرعي بندیزونه لګول بیله ددې چې ارتیاپیښه شي ،انسان په مشکلاتوکې اچول دی اوپرتکلیف ګاللومجبورول دی.

دانیوکه هم دهغوخلګواونورونیوکوته ورته ده کوم چې له شرعی ذمه واریانوآزادی غواړي کنې دحیض اوکوروالی اونوروپه اړه چې کوم بندیزونه شارعﷺ لګولی دی اودهغوبندیزونوچې یادونه پرمخ راځي ،اخیرتوپیرڅه دی ؟

دغوره والی خبره خوداده چې په اسلامی شریعت کې چې په دې اړه کوم څه راغلی دی هغه ټول اموراسی دی چې عقل یې تسلموي اوکوم چې دصحت دخوندی کولوله تقاضوسره سم دی ،اودپاکې

کومه طريقه چي لازمه شوي ده دمعاشرتي نظام له ارتياووڅخه دی حقيقت دادی : چي اسلامی شريعت چي د کوموشيانوامرکړی دی که څه هم دهغه حکم دعلت اومصلحت په پوهيدوپوري نه نشي کيدای ،ځکه چي داټول شرعی تکليفونه کوم چي دانسان لپاره خانگړی دی هغه ټول دالله ﷻ په بندگي (عبادت) کي داخل دی ،او انسان ته داحق نشته چي ترڅوددي پرځای کولوڅخه عاجزنشی .نه دی څخه مخ اړونه وکړي ،له دې سره داټول شيان دعقل سره سم دی .اودانسان لپاره چي کوم عبادتونه په شريعت کي مقررشوی دی ،هغوي دروغتيااومعاشرتی تقاضوموافق دی.

اخيرڅوک شته چي داوائي چي له مردلري پاکيدل ضرورنه دی اوهغه څوک شته چي داويلای شی چي ددي لپاره کومې طريقی شريعت ښودلی دی هغه دانسان لپاره گټوري نه دی.

په حقيقت کي داسلامی شريعت احکام ټول دمعاشرې دښيگړي اود انسان دخواخوږي لپاره داټول بنديزونه گټوردی اوچاته پردې دنيوکي کولوتوان نشته ،اوس دارتياترسره کولوپه اړه احکام واجب ،حرام ،مستحب ،اومکروه په ترتيب سره بيانيږي۔(کتاب الفقه ص۱۵۲ج۱)

داستنجاء واجب شيان

(۱) لومړی هغه شيان چي داستنجاء لپاره واجب دی مثلاً استبراء يعنی دغټواوکوچنيوبولوورروسته چي کوم څه پاتی شي دهغه خارجول ،تردي چي داغالب گمان شي چي اوس هلته هيڅ نشوپاته ،دځينوگروپه عادت کي داخل دی چي په تک راتگ ،ولاړيدو ،ياپه داسی حرکت کولوچي دوي يې عاديان وی دمتيازودريدلی ځاځکی

راوزي ،پر داسې خلګو دعادت سره سم پخپله استبراء واجب ده ،ځکه نو که دبولو دقطروپه بندیدوکي شک وی نواودس کول نه رواکیږي ،که بیله ډادمن کیدوپه همدې حالت کي اودس وکړاودبولوقطره راغله نواودس به بې کاره شي ۔لنډه داچي واجب دی چي ددریدلی نجاست که شبه وی نوټول دی وتلوته پریږدي ،تردي چي ورته داغالب ګمان شي چي اوس هیڅ نه دی پاتی ددي خبري پروجوب دټولو اتفاق دی ،په دي کي دچا اختلاف نشته.

(۲) دوهمه دپاملرنی وړخبره هغه ځای دی چیری چي دارتیاترسره کول حرام دی پرقبرسربیره (یاورته نژدی) دحاجت پوره کول حرام دی ،ددې سبب ښکاره دی هدیره دنصیحت اوعبرت حاصلولوځای دی ،ځکه دابه ډیره بداخلاقی وی چی هلته انسان خپل فرض ښکاره کړی اوهغه په راوتونکی مرداري ککړ کړي ،ځکه چي درسول الله ﷺ په صحیح حدیث کي راغلی دی چي نبی ﷺ دقبرونوزیارتونوته هڅونه کړی ده ترڅواخیرت په یادشي ،نوداخوناپوهی اوبې عقلی ده چي څوک داسی ځای چیري چي خلګ عبرت حاصلولواوداخرت ورپه یادولولپاره راځي دغتوبواو وړوبولوځای وګرزوي داسی کول دنصیحت حاصلولو اود الهی ویري دهغه مقصدضددی کوم چي دقبرو نودزیارت په اړوند دی ،زیاته پردی په داسی حرکت دهدیروسپکاوی دی (ددي په اړه تفصیلی مسئلي انشاءالله په مسائل میت کي راځي)

(۳)دریم داچي په هغوځایونوکي چي دارتیاترسره کول جائزنه دی ولاړی اوبه دی ،چي پکي دارتیاترسره کول ممنوع دی (یعنی غتی

اوکوچنی بولی کول منع دی)اوولاړی اوبه هغه دی چي بهیږي نه ،حضرت جابرﷺ له رسول الله ﷺ څخه ددي حدیث روایت کړی دی چي رسول الله ﷺ په ولاړواوبوکي له متیازوکولوڅخه منع کړي ده (دمسلم ،ابن ماجه اونوروپه روایت) دکوچنیوبولوپه ممانعت کي غټی بولی کول هم شاملی دی ځکه چي داترهغه هم زیاته ناوړتیاده ،ځکه ددي منع په زیاته سختي سره دی.

یادونه دی وی چي دفقهی دغه حکم له هغوغوروحکمونوڅخه دی کوم چي دعلم له مخه منل شوی ادسلیم عقل په نزدخوښ کړل شوی دی ،ځکه چي هغه اوبه کومې چي دګټي رسولولپاره وي دهغومرداروال په بدوخصلتونوکي ترټولوناوړه خوی دی برسیره پردی په داسی کولوتیری کونکی ناروغي اونورهم پیدا کیږي.

لنډه داچي داسلام دمذهب له ښیګړوڅخه دی چي دهغه څومره عبا دتو نه دی هغوی دانسانانودخواخوږی له تقاضوسره سم دی.

(۴) څلورم داچي داړتیاترسره کول په داسی ځای کي حرام دی له کومه ځایه چي اوبه رابهیږي اوچیري چي دخلګوتګ راتګ وي اوچیري چي دارام لپاره سایه اوسیوری وی ،حضرت معاذبن جبلﷺ روایت کوي چي رسول الله ﷺ وفرمایل : دلعنت له دریو شیانوځان ساتئ : داوبوپرګودرغټي بولی کول ،یادلاري پرسر داړتیاترسره کول ،یادهغه سیوري پرځای کوم چي دارام لپاره وی.

(۵) پنځم قبلي ته مخ یاشاکولوپرمهال اړتیاپوره کول حرام دی که په کورکي وی که په ډګرکي اوکه په ځنګل کي که په غلطي سره څوک دبولولپاره قبلي ته مخامخ کښیناستی اوبیاورپه یادشونواوس که

مخ ګرزول ممکن وو نوسمدستي دي وګرزي ،کنه نوپکاردي چي ترڅو ممکن وي دارتياترسره کولوپرمهال دي قبلې ته مخ نکړي ،اوداستنجاء وهلواودلوټوکارولوپه اړوندهم هغه حکم دی کوم چي دکوچنيو او غټوبولوډي يعنی دغه دواړه کاره هم (قبلې ته مخامخ کيدوپه حالت کي)تحريمي مکروه دي.

(نن سبادکورنوپه ودانولوکي دهوساينی دشيانوخيال ساتل کيږي آيادغه حديث شريف عملی کول کوم ګران کاردی؟ رفعت قاسمی غفرله

(۶) شپږم داچي دحاجت ترسره کولوپرمهال هواته مخامخ کښينستل مکروه دي نودمتيازوکولولپاره دهواپرلورکښينستل نه دي پکار، داسي نه چي دبولوڅاڅکی دهواپه څپوکي راوغورزي اوپليت موکړي ،ښکاره خبره ده چي په دې حکم کی پخپله دارتياترسره کوونکی ګټه ده ،داشئ دانسان په فطرت کي داخل دی چي دی دخپل بدن اوجامو پليتيدو څخه ځان ګوري ،شارع ﷺ دهمدې مصلحت په نظرکي نيولو اوددې لپاره چي خلګوته دپاکی حاصلولوهڅونه وي ،دغه کارېي مکروه بللی.

(اونن سباپه ولاړه متيازي کول فيشن دی چي پکي خدای خبرپرجامو اوبدن څومره څاڅکی مبتلی کله چي په حديث شريف کي څرګند راغلی دی چي يوه سړی ته يواځي دمتيازوله څاڅکوځان نه ساتلوپه وجه دقبرعذاب ورکول شوی وُ ،رسول الله ﷺ .ددي خبرورکړی وُ ،ځکه له دغوشيانوځان ساتل پکاردی. محمدرفعت قاسمی غفرله

(۷) اووم داچي دحاجت پوره کولوپروخت خبری کول مکروه دی ،ځکه چي داسی کول پخپله دخبروسپکاوی دی ،اودسړی هيڅ فکرنه

وی ،ډیرممکن دی چې دخبروپه دوران دالله تعالی نوم یادالله درسول نوم یادې ته ورته کوم پاک لفظ پرژبه راشي ،پردي برسیره بیله ارتیاخبري کول داغسی هم مکروه دی ،پرته له دې چې داوبولوښی وغواړی یادستمال ،رخت ،داستنجاء دلوتې اونوروغوښتنی لپاره وی کوم چې دنجاست دځای پاکولویاوچولولپاره کارول کیږي یادضرورت په خاطروخبروته اړشی نومکروه نه دی.

(۸) اتم (په ډگر،ځنګل ،اونوروکي) ولمریاسپوږمی ته مخامخ کښینستل اوحاجت پوره کول مکروه دی ،ځکه چې دادالله دقدرت دنښواودهغه له نعمتونوڅخه دی چې ورڅخه دالله ﷻ ومخلوق ته ګټه رسیږي ،اوداسلامی شریعت له اصولوڅخه دی چې دالله ﷻ د نعمتونو احترام اودهغوئ درناوی وشي.

(۹) نهم داچي استنجاء په کیڼ لاس ووهله شي ،ځکه چې ښي لاس عموماً دډوډی اونورخوراک لپاره دی.

داهم مستحب دی چې داستنجاء پروخت دکیڼ لاس گوتی ترنجاست لګیدومخکی لندې کړل شی ،ترڅوزیاتی په نجاست ککړي نشی ،داغه رنګه ترفارغیدووروسته کیڼ لاس په کوم پاکوونکی شئ پریمنځل هم مستحب دی.

اودستنجاء پروخت غړی سست پریښودل مستحب دی ترڅوپه آسانی سره نجاستُ زائل کړل شی. (کتاب الفقه ص۱۵۴تر۱۵۸پورې اتوک)

مسئله: داحنافوپه نزدکه روژه نه وی نوداستنجاء پروخت دجسم سست پریښودل مستحب دی ترڅودروژې پرمهال دبدن په سستوالی

روژه ماته نشي ،ځکه په اوبو دننه رسولو کي که له زياتي مبالغي ځخه کار واخيستل شي نو روژه ماتيږي.
(کتاب الفقه ص۱۵۸الومړی ټوک مظاهرحق ص۳۵۳ج۱)

په اوبو داستنجاء وهلو دوه شرطونه دی

په اوبو داستنجاء وهلو دوه شرطونه دی يو خو داچي اوبه طهوريعني پاکوونکي وی ،دوهم شرط دادي : چي هغه اوبه دمرداری پريمنځلو لپاره کفايت کوونکي وي ،ځکه نو که اوبه لږوي چي نجاست له ځپل ځايه نشي ليري کولای چي ترنجاست لګيدومخکی چي کوم حالت ؤ ،هغه ځای بياهم همغسی شی نوپه داسی صورت کي دی دغه اوبه ونه کارول شي.(بلکه ددومره کمو اوبوپه موجوديت کي دی په لوټه استنجاء وهله شي (ځکه چي دلوټواونوروا ستعمال داوبو دموجوديت سره هم دهغه قائم مقام کيدای شي خوبياهم داوبو کارول غوره دی اوترټولو غوره خو داده : چي لوټه او اوبه دواړه وکارول شي.-په کومو صورتونو کي چي دلوټي استعمال بيله اوبو صحيح دی.
(کتاب الفقه ص۱۶۰ج۱)

مسئله: بيله لوټويواځي په اوبوا ستنجاء وهلوبشپړه پاکی حاصليږي په دی شرط چي دڅاڅکوناروغی نه وی ،اوکه داناروغي وه نولومړی دخاوری په لوټوا ستنجاء وهل پکاردی ياکوم بل تدبيرکول پکاردی چي دڅاڅکوراتلو احتمال پاته نشي .(امدادالاحکام ص۴۰۰ج۱)

لومړی دی دمخ خواومينځله شی که دشا؟

يوه پوښتنه داده : چي لومړی دمخ خواپريمنځل پکاردی که دشاخوا؟ په دی اړه مسلکونه تفصيل غوښتونکی دی زموږ دامام ابوحنيفه

رحمه‌الله په نزدلومړی دی دغتوبولوځای ومینځل شي ،ځکه چي هغه ځای زیات مرداردی اوځکه هم چي دغتوبولوداځای اودهغه سره خواکي ځای په مبتلودمتیازوڅاڅوکي راوزي ،ځکه نودمخ خواپه لومړي پریمنځلو هیڅ فائده نشته.

مسئله: داستنجاء وهلوپروخت دڅاڅکوخیال اووهم نه دی کول پکار، په خیال اووهم کوم شئ نه مرداریږي ،داسی توهمات رفع کوی اوپه زړه زړه کي اعوذبالله وایاست ،هیڅکله وهم مه کوئ (فتاوی دارالعلوم ص۳۷۳ج۱دالاشباه په حواله).(که اوبه زیاتی وی نودوه ځله پریمنځل هم څه پروانه لري. «رفعت»

په استنجاء کي دلوټي پرځای نورڅه استعمالولای شي

مسئله:داحنافوپه نزد دلوټي په توګه دپاک شي استعمال سنت دی مثلاً خاوره زوړټوکراونوردوچي خاوري توټي-

اوپه مکروه شیانواستنجاء وهل تحریمی مکروه دی . مثلاً هډوکی ،ګوبر(خوشائي) ځکه چي رسول الله ﷺ په دغوشیانوله استنجاء وهلوڅخه منع کړیده داغه رنګه دانسان اوحیوان دخوراک څښاک په شیانواوهغه شیان کوم چي شرعاً داحترام وړوي په هغوي سره استنجاء وهل تحریمی مکروه دی اودمال ضائع کول هم منع دی اوهغه شیان کوم چي شرعاً داحترام وړوي په هغوکي دغه شیان دی :

دانسان دبدن کومه برخه که دکوم کافروی اوکه دمردار،لیکل شوی کاغذکه څه هم پرهغه نیم توری لیکل شوی وی ،ځکه چي هغه داحترام وړدی (خواکه په هره ژبه لیکل شوی وی) اوداسی کاغذچي هیڅ نه وی وړباندی لیکل شوی خوپرهغه لیکل کیدای شی ،خوداسی

کاغذچې ورباندې نښې لیکل کیدای په هغه استنجاء کول بیله کومه کراهته جائزدی لکه: (toilet tessue) داغه رنګه دداسې شئ دلوتې په توګه کارول مکروه دي چې قیمتي وي اوپه استعمالولو هغه تلف شي یائې بیه کمه شي ،هوکه هغه شئ داسې وي چې تراستعمالولووروسته په پریمنځلویاوچیدلوبیاهغه دمخکې په ډول کیدای شي نوددې شئ په استعمال کې کراهت نشته۔

دېخوخښتو،توکرو،ښیښې ،کوئلې اوښوائې ډبرې استعمالول مکروه دي اوکه دهغه کارول تاواني وي نوتحریمي مکروه کیږي ، ځکه چې دزیانمنوشیانوکارول جائزدي ،داکراهت به تنزیهي وي۔که ددې استعمال زیانمن نه وي۔

ددې شیانودمکروهوالي سبب دادې: چې ددوې په استعمال هغه ځای نه پاکیږې اوسنت دادی : چې دغه ځای پاک کړل شي۔

مسئله: دکوم بل چاله دیواله لوټه راخستل استنجاء په وهل تحریمي مکروه دي ځکه چې دبل مال ته لاس اوږدول جائزنه دي ،هوکه خپل دیوال (اونور) وي نوپه دې کې هیڅ کراهت نشته. (کتاب الفقه ص۱۶۰ج۱)

(دځینوښاغلیوعادت وي : چې په روانه روانه دیوچاله دیواله لوټه راوباسي ،اواودس وچول پیل کړي حال دادی :چې داسې کول جائزنه دي چې دچامال بیله اجازې وکارول شي ،اوځینې خلک پرلاره په روانه روانه خبرې کوي اودس وچوي داغلطه طریقه ده اودبې حیایي خبره ده اوداسلام دبدنامې سبب دی.   محمدرفعت غفرله

استبراء دنرولپاره

مسئله: دطهارت (پاکی) مسئلې دنارینه اوښځینه دواړولپاره یو ډول دی ،خواستبراءپرمیرمن واجب نه دہ اوله استبراء څخه مراددادی :چې دمتیازوڅاڅکي یاغټې بولی چې تراوسه پرمخرج لګیدلی وی هغه دی په پوره توګه وایستل شي ،تردې چې داغالب ګمان شی چې پردې ځای هیڅ نه دی پاته پرمیرمن داعمل واجب نه دی ،خوداپرواجب دی چې له غټواوکوچنیوبولوفارغیدو وروسته لږ وځنډ یږي (یعنی ییره دی نه کوي چې څاڅوکي وڅڅیږي) تردی وروسته دی استنجاء (په اوبو) یالوټه یادی دواړه استعمال کړي.
(کتاب الفقه ص۱۴۹ج۱،احسن الفتاوی ص۱۰۴ج۲)

استبراء نوم له بهرڅخه راوتوونکوشیانوڅخه دبرأت غوښتل ،په دغو طریقوکي چي هره طریقه وی چي ورڅخه یقین حاصل شي چي دنجاست هیڅ اثرباقی نه دی پاتی شوی ،اودنجاست دزائلیدو اطمینان دخلګو دطبیعتونودبیلوالی په وجه بیل بیل وی ،چاته ژرپاکی حاصلیږي اوچاته په ځنډ،اودچااودس په تګ کولووچیږي اودچاپه غاړی تازه کولو.(کشف الاسرارص۱۰۱ج۳)

مسئله:په لوټه داستنجاء وهلوپه اړه دمیرمنوحکم دنروپه ډول دی یعنی دمیرمنولپاره هم همداسی مستحب دی لکه دنرولپاره.
(فتاوی دارالعلوم ص۳۷۴،دردالمحتارص۳۱۹ج۱په حواله)

دمتیازودناروغ داپریشن حکم

پوښتنه :دزیدمتیازی بندی شوی ،داکټرترنوپورته په آپریشن دمسالی پائپ ورولګاوو ،په دغه پائپ کي متیازي راځي اودغه

پائپ همیشه پرګیده وی اوله متیازوډک وی ،دپائپ خوله په تارترلې وی نوپه داسی حالت کې داشخص لمونځ کولای شي اوکنه ؟
ځواب : په داسی حالت کې هم لمونځ معاف نه دی ،کول ئې ضروري دی (که) شبه ورته وی نو وروسته دی راوګرزول شی ،په ناسته که نشی کولای نوپه پروته دی په اشاره وکړی خوپرېږدی دی نه.
(فتاوی رحیمیه ص۳۶۵ج۴)
دمتیازوله لاری دسپینواوبووتلوحکم
مسئله: دمتیازوله لاری چې کومې سپینی اوبه راوزي هغه مرداري دی اونجاست غلیظه دی او اودس ماتوونکی دی ،اوپریډن یاجامه کہ ولګیږي نوبدن اوجامه مرداریږي خودیوه درهم په اندازه (یعنی دلاس دورغوی دڅورتیاپه برابر) معاف دی ،که دمنځلووخت نه وی اودائي اغوستي وي نولمونځ صحیح کیږي ،وروسته دی پریمنځل شي،
(فتاوی رحیمیه ص۳۶۷ج۴ ددرمختار مع الشامي ج۱ص۲۹۳په حواله وهدایه ص۵۸ج۱باب الانجاس ،ملابدمنه ص۱۹)
په استنجاء کې یوه لوټه دوه خله کارول
مسئله:په کومه لوټه چې یوځل استنجاء ووهله شي هغه مرداره شوه دوهم ځل دهغې کارول منع دی خوکه ددې بل اړخ نه وی کارول شوی نوددې (هغه بل اړخ) کارول صحیح دی داغه رنګه که ئې وسولوی. اومرداره برخه ئې وسولوي بیاهم دهغې کارول صحیح دی.
(فتاوی محمودیه ص۴۸ج۲دشامی ص۲۲۷ج۱په حواله)
مسئله: داستنجاء کارول شوی لوټه په وچیدونه پاکیږي ،ځمکه په وچیدوپاکیږي،لوټې تراستعمال وروسته نه پاکیږي ،ځکه دوهم ځل په دې استنجاء مکروه ده. (احسن الفتاوی ص۹۳ج۲دردالمحتارج۱ص۲۸۷په حواله)

مسئله: د. که مه لوټه چي يو ځل استنجاء وهل شوي وي په هغه دوهم حال استنجاء وهل مکروه دی خوکه اړتياوي دسفراونوروپه وجه نه وي پيدا وروسته که هغه وسولول شي دوهم ځل دريم ځل يازيات استنجاء په ووهله شي نوپروانلري.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۷۶ج۱دردالمحتارص۳۱۴ج۱باب الاستنجاپه حواله)

يواځي په لوټه استنجاء وهل

پوښتنه: که دغټويا کوچنيو بولو وروسته په لوټه ځان پاک کړي په او بوئي ونه مينځي، بې له پريمنځلوئي اودس وکړلمونځ ئي اداکړي نولمونځ صحيح شواوکنه ؟اوداغه رنګه ځينی وګړي صرف لاسونه منځي دوډی ته کښيني، حال دادی چي اوبه هم موجودی وی، شرعاً څه حکم دی ؟

ځواب: که متيازو له مخرجه تجاوزوکړ اودزيات مقدارتريوه درهم (قطر=۱ء۱۱- انچ ۷۵ء ۲ سينتي ميتراوټول پيمائش =۹۵ء انچ= ۵ء۹۴سينتي ميتر) زيات نه شونوبيله پريمنځلويواځي په لوټه کارولولمونځ صحيح کيږي اودغټوبولوحکم دادي :چي په لوټه تراستنجاء وهلو وروسته که له مخرجه تجاوزکوونکی نجاست وزن يوه مثقال (۵ماشي= ۴ء۸۶ګرامه) ياتردې کم وي نولمونځ صحيح کيږي که څه هم په خوړيدوکي تريوه درهم زيات وی - يواځي په لاس منځلودوډی خوړل جائزدی، خوکه له مخرجه تجاوزکوونکی نجاست دډرهم ترمقدارزيات وی نوبيله عذره هغه نه پريمنځل تحريمی مکروه دی اوکه دددرهم په مقداريا ترهغه لږوی نوتنزيهی مکروه دی.

(احسن الفتاوی ص۱۰۸ج۲دردالمحتارص۳۱۴ج۱،ص۳۹۳ج۱په حواله)

مسئله:داستنجاء په اره غوره طريقه داده : چي لوړی په لوټه استنجاء ووهی بیاپه اوبو،اوکه یوائې په لوټه استنجاء ووهی یایوائې په اوبو استنجاء ووهی نوداهم کفایت کوي اوسنت استنجاء اداکیږي.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۷۹ج۱درد المحتار ص۳۱۲ج۱په حواله)

مسئله:شریعت دعامې ابتلاء په مواقعولږ نجاست معاف کړی دی ،لکه په بیت الخلاء (ټټی) کي دمچانواونورپرمرداری کښینستو وروسته پریدن اوجامو کښینستل اودلاري څاڅکي اونورو.

(احسن الفتاوی ص۱۰۵ج۲)

مسئله:دمچ ماشي اونوروغول منع کوونکي نه دی .(کشف الاسرار ص۲۲ج۱)

په ولاړه متیازي کول

پوښتنه :ځیني دنوي رڼاخلک وائي چي په ولاړه بولي کول پکاردی ځکه چي نبی ﷺ داسی کړي دي؟

ځواب : داخبره یومخ غلطه ده چي رسول الله ﷺ داسي کول ،دده مبارک ﷺ همیشه په ناستی بولې کول عادت وو اوداغه رنګه موږته پکاردی ځکه چي په ولاړه بولی کولوځخه ده مبارک منع کړیده ،اوپه ولاړه دمرداري اندیښنه ده ،حال دادی :چي له دی ځخه دبچ کیدو ځانګړی تاکید اوتمهید په حدیث شریف کي راغلی دی ،اوفرمایلي دي :چي دقبرعذاب زیاتره دبولوځخه پروانه کولواوله هغه ځخه دځان نه ساتلوپه وجه وي ،له دي پرته په ولاړه متیازي کول دنبی ﷺ دطریقی اوعادت په خلاف دی له دی ځخه ځان ژغورل پکار دی .

رسو ل الله ﷺ يوځل دعذر له کبله په ولاړه بولي کړي دي ،ده مبارک
په تشريف يوړ يوځوړ ځای وو چي ورباندی خلګو دکورونوامبارونه
اونور اچول هلته په کښېنستو دښويدواندېښنه هم وه داغه رنګه هغه
ځای ناپاک اولوند هم وو ،دجامود ککړيدو ويره هم وه اودده مبارک
په ملاکي درد وُچي دهغه لپاره په ولاړه بولي کول په عربو کي ژرتأثير
کوونکی درملنه بلل کيده ،په دغووجودی مبارک دريدلی وو کنه
عادت اوطريقه ئي دانه وه اوس هم که دچاپه رشتياعذروئ نوپه ولاړه
بولی کول ورته رواکيږي بياهم دميتازوله ځاڅوکو احتياط ضروري
دی . بي بي عائشه ﷺ فرمائي :چي څوک په تاسوکي داووائي چي
رسول الله ﷺ په ولاړه متيازي کولي دهغه تصديق مه کوئ (يعنی
هيڅکله باورمه په کوئ) رسول الله ﷺ هميشه په ناسته بولي کولي.
(الجواب المتين ص۸ واحسن الفتاوی ص۵۱۵ج۱،فتاوی دارالعلوم ص ۳۷۷ج۱ ،مشکوة شريف ص۴۳ج۱ ،بخاري ص ۳۶ج۱ ،عمدة القاري ص۱۳۸ج۳)
مسئلہ:بې لهٔعذره په ولاړه متيازي کول مکروه اوبداخلاقي ده .
(شرح النقايه ص۵۷ج۱،ردالمحتار ص۵۷ج۱ ،مظاهرحق ص۳۲۵)
مسئلہ: په غسل خانه کي بولي کول ،په بنې لاس بيله مجبوريته
استنجاء وهل ،دغتوا وکوچنيو بولوکولوپرمهال خوراک څښاک
مکروه دی .
مسئله:بيله اړتياپه پرتونه یاولاړه متيازي ،غول کول ،يادکولوپرمهال
تولي ح سي ايستل ډيره ناوړه خبره ده . (امدادالسائلين ص۱۶)

تراستنجاء کولو وروسته دلوندوالی راوتل اودهغه درملنه

پوښتنه :دزيدتربولو وروسته ترنيم ساعت پوري څاڅکی راځي
،دلوتي اوابوکارولووروسته بيا ولوتي ته اړ وي؟

ځواب: په داسې صورت کې په لوټه او اوبو استنجاء وهلو وروسته دخاص اندام (ذکر) په سوری کې پنبه او نورکښیږدی ،ترڅودلوندوالی راوتلوشبه پاتې نشي ،نوترپینبه ایښودلو وروسته دې اودس وکړي لمونځ دې اداکړي. (فتاوی دارالعلوم ص۳۷۸ج۱ درد المحتار ج۱ص۱۳۹ باب نواقض الوضوء،په حواله)

مسئله: دکوم چاچې داناروغی وی چې دبولوکولو وروسته څاڅوکي راځي پرده په اوبواستنجاء وهلو مخکې دلوټې یاټشوپیپر استعمال لازم دی ،کله چې داډمن شي بیادې په اوبواستنجاء ووهي.
(آپ کی مسائل ص۸۴ج۳) یادی پورتنی طریقه خپله کړې.

مسئله: داستنجاء پرلوټه لګیدلی لاس که پرپرتاګه (یانورو) ولګیږي نو پرتوګ نه مرداریږي .(فتاوی دارالعلوم ص۳۷۶ج۱ دعالمګیری ص۴۸ج۱باب الاستنجاء،په حواله)

مسئله: په استنجاء کې دلوټې ترکارولو وروسته که دنجاست اثرباقې پاتې شواودمرداري دځای خوله پرجامه ولګیده نوجامه نه مرداریږي (که څه هم دهغه مقدارتریوه درهم زیات وي ،ددې په خلاف که داستنجاء لوټه په لږواوبوکې ولویږي نوهغه اوبه مرداریږي . (فتاوی دارالعلوم ص۴۹ج۱)

مسئله: دخاوروپه لوټه اودس وچولو وروسته که پرلاس بالکل نجاست نه وی لګیدلی نوکه لاس په اوبوکې ولویږي نوهغه اوبه نه مرداریږي .(فتاوی دارالعلوم ج۱ص۳۵۶)

مسئله: دبولوداسې نري څاڅکي چې معلومیږي نه ،معاف دی ،په دغوجامې اوبدن نه مرداریږي په داسې جاموکې لمونځ صحیح دی.(خوله دې څخه هم احتیاط کول پکاردی.

مسئله: که پرپرتاګه متیازي راووزي اوپرتوګ لوندشی بیاددې پرتاګه لوندوالی پربدن ولګیږي نوکه ددرهم ترمقدارپرزیات ځای

لګيدلی وی نودبدن پريمنځل ضروري دی ،که پيله بدن پريمنځلو په نوروجاموکي لمونځ وکړي نوددې لمانځه راګرزول ضروري دي .
(فتاوی دارالعلوم ص۳۰۷ج۱ ،درالمختار ص۲۸۴ج۱باب الانجاس په حواله ،هدايه ص۷۱ج۱)
مسئله: کله چي دناپاکي مقدارتردرهم زيات شي نوترجامومينځلو او پاکولووروسته لمونځ کوئ.(فتاوی دارالعلوم ص۳۱۱ج۱دهدايې ص۷۱ج۱باب الانجاس په حواله)

په پاکي کي دوسوسې ختمولو طريقه

پوښتنه :که څوک په يقيني توګه کوم مردارشئ مينځي خويوشک لاختم شوی نه وی چي بل پيل شي ،په دې وجه هروخت ذهن پريشانه وی ،دقرآن اوحديث په رڼاکي واضح کړئ ؟
ځواب :ددې شک علاج دادي : چي جامه ياشئ درې ځله مينځی او(جامه اونوردي هم هرځل ونښتيځل شي) نوپاک شو.
تردي وروسته که شک راپيداشي نودهغه هيڅ پروامه کوئ بلکه شيطان په داسی ويلووترټئ چي ای مردوده ! کله چي الله ﷻ اودهغه رسول ﷺ دې ته پاک وائي نوزه ستادشک اچولوپروا ولي وساتم؟
که تاسوزماداتدبيرعملی کړ نوانشاء الله تاسوبه دشک له ناروغي خلاصون پيداکړئ.(آپ کی مسائل ص۹۰ج۲)
مسئله: دچااودس نه وُ هغه اودس وکړ،يابولوکولووروسته جنب غسل وکړاوتراودس ياغسل وروسته ده پرخپله شرمګاه لوندوالی وليد خوده ته معلومه نه ده چي دااوبه دی که متيازي ؟ نودده لپاره دوهم ځل اوس کول پکاردی اوکه په لمانځه کي داصورت ورپيښ شوخوپخپله دده دنجاست يقين نه دی نوده ته پکاردی چي لمونځ پسَی پوره کړي ،دې لوندوالي ته دی فکر قطعاً نه کوي ،هو! که

دبولويقين وي نوبيله خبره ده اوداسى شخص ته دوسوسي علاج ورښودل شوى دى چي دى دى تراستنجاء وروسته اوبه پرشرمگاه (خاص اندام) وشيندي ترڅوكه لونوالى په نظرورشي نودي داډمن وى چي داهم هغه اوبه دى كومې چي ده پخپله ورشيندلى وي .(كشف الاسرار ص۱۵ج۱،مظاهرحق ص۳۶۴ج۱)

وحضرت تهانوى رحمه الله ته حضرت خواجه رحمه الله عرض وكړ چي ماته په استنجاء كي ډيري وسوسى راځي په ډيروخت كي مي په مشكل اودس وچيږي داستنجاء دځاى (ذكر) په مبتلوڅه ناڅه بياهم راوزي ؟

حضرت تهانوى رحمه الله ورته وويل :داسى هيڅكله مه كوه په معمولي توگه له وچولووروسته پريمنځل پكاردى په عوارف المعارف كي ليكلى دى :چي ددي حال دتيوپه څيردى چي ترڅوئي مبني څه ناڅه ځينى راوزي (يعنى لكه شيدي چي ترڅولوشل كيږي نوشيدي دحيوان په تيوكي راځي اوكه لوشل ودروي نوشيدي هم دريږي) كه همدغسى ئي پريږدي نوهيڅ نه راوزي ،حضرت خواجه صاحب عرض وكړ:چي وروسته څاڅوكي راوزي ،ورته وئي فرمايل :هيڅ فكر مه كوه كه څه هم وروسته لمونځونه راوگرزوي ،خوترڅوچي په زوردوسوسى په خلاف ونكړى داناروغى نه ليري كيږي ،په دى وجه خوتاسوپه دغه تكليف كي ياست.

خواجه صاحب وويل: دلوندوالى په وجه ديوه وخت په اوداسه كي ددوهم وخت په اوداسه كي شک رالويږي ،ددې په وجه دپرتاگه دستمال هم پريمنځل غواړي.

مولاناتهانوي رحمه الله ورته وفرمايل:مه اودس کوه اومه دسمال مينځه ،څوروځي په زورداسي کولووسوسي ختميږي.
(احسن الفتاوی ص۱۰۷ج۲،دملفوظات کمالات اشرفيه ص۱۹۸اص۸۰۷په حواله)
له دې څخه ثابت شول چي په استبراء کي له زياتی غلوی اوسختی څخه کاراخيستل له شرعی ناوړتياپرته دصحت لپاره هم زيانمن دی ، اودذهنی انتشاراودماغی پريشانيو باعث هم دی .
(احسن الفتاوی ص۱۰۷ج۲،فتاوی عزيزي ص۱۴۰ج۲)

داړتياترسره کولوپرمهال که لمريه وريځ کي وي

پوښتنه :لمرکه په وريځ کي پټ وي اومعلوميږي نه نودهغه پرلوربې له بيت الخلاء په ځنګل اونوروکي) په مخ کولومتيازي وکړوکنه ؟
ځواب : له ردالمحتارص۳۵۴لومړی ټوک باب الاستنجاء څخه معلو ميږي چي هغې خواته دمخ کولوپرمهال متيازي کول صحيح دی .
(امدادالفتاوی ص۱۳۹ج۱)
(دغتهوياکوچنيوبولوپروخت ولمرياسپوږمی ته مخ ياشاګرزول تنزيهي مکروه دی خوورځيني مراد دلمراوسپوږمی وذات (ټکی) ته مخ ياشاکول دی دهغوی وجهت يادهغوی وړاتنه مخ ياشاکول مکروه نه دی ،دغه رنګه که هغوی نه معلوميږي نوهم کراهت نشته اوپه پوښتنه کي خوسپوږمی په وريځ کي پټه ده ځکه کراهت نشته (حاشيه ازاستاذی حضرت مولانامفتی سعيداحمدصاحب پالن پوري مدظله العالی (محمدرفعت قاسمی غفرله)

په کوټه کي دننه په لوښي کي متيازي کول

په روايت کي دی چي رسول الله ﷺ په کورکي دلرګي يوه پياله درلوده چي دده مبارک ترچارپائي لاندی به پرته وه په دې کې به دشپې رسول

الله ﷺ بولي كولي«بولي به ئي كولي» يعنى ديغ په موسم كي ياپه كومه بله وجه خوپه شپه كي وتل دپريشانۍ باعث ؤ،ځكه دشپي ده مبارك دلرگي په پياله كي بولي كولي كومه چي دهمدې كارلپاره دده ترپلنگ لاندى به پرته وه ،نودده مبارك دغه عمل اصلاً وامت ته ددې ښودلولپاره وچي كه داسى وكړل شي نودارتياپرمهال به ديغ په موسم يادكومي بلې پريشانۍ په صورت كي اسانى اوراحت وموندل شى .
په حقيقت كي رسول الله ﷺ پرخپل امت بې پايه شفيق اومهربان ؤ،ځكه په دينى احكامواومسئلوكي چي څومره اسانى اوراحت كيداى شواى هغه ده مبارك هرومروفرمايل. (مظاهر حق ص۳۶۵ج۱)

په استنجاء كي طاق لوټي پكاردى

پوښتنه:دغټوبولوپه اړه په حديث شريف كي چي دطاقولو ټوكارولو په اړه كوم راغلى دى هغه طاق شمير(درې) دمتيازولپاره همدى كه دمتيازولپاره جلالوټي پكاردى ،يعنى دغټواوكوچنيو بولو دواړو لپاره درې لوټي پكاردى كه څلور؟
ځواب :هغه طاق (درې) لوټي دغټوبولولپاره دى ،دمتيازولپاره جلاڅلورمه لوټه پكارده .(فتاوى دارالعلوم ص۳۸۰ج۱،مظاهر حق ص۲۵۲ج۱وص۳۵۸ج۱)
داستنجاء لپاره درې لوټي ځكه مقرري كړى دى چي دپاكى لپاره يوحدتاكل ضرورى ؤ كنه انسان به تهوله ورځ په استنجاء وهلوتيروله ،سره له دومره سخت تاكيده مونږ ځينى وهميان وينوچي دوي ديوې استنجاء لپاره دلوټوكوري جوړوي اواوبه هم په ډيرمقدار مصرفوى، اوله دريوڅخه په كمولوټوښه صفائي اوپاكي نه حاصليږي اوپه دريو پاكي حاصليږي اوتردريوزياتوكي دوخت ضائع كول اووهم زياتول

دی ،اوپه ګوبرواوهډوکو استنجاء وهل ځکه منع کړي دي چې په دي کي زياتره زيانمن حيوان مار،لړم اونورځيني چيچونکی چنجان ناست وی.(المصالح العقليه ص۳۸)

مسئله:دغټوبولوترکولووروسته دګرمی په موسم کي دنرولپاره لومړی لوټه له مخ څخه دشاپرلورورل پکارده ،دوهمه له شاڅخه دمخ طرفته اودريمه لوټه بياله مخ څخه دشاطرفته .

اوکه ميرمن داودس وچولولپاره لوټه وکاروي نوهميشه يعنی په هرموسم کي دی لومړی لوټه له مخ څخه شاته وړي ،دوهمه لوټه له شاڅخه مختته اودريمه هم له مخ څخه شاته .بيا(که په اوبوپريمنځل غواړي)په اوبودي استنجاء ووهی ،تردې چي دنجاست اثر زائل شی . (امدادمسائل الصلوة ص۱۵)

مسئله:که کوم ناروغ دومره ناتوان شی چي پخپل لاس پخپله استنجاء نشی وهلای نوبنځه استنجاء وروهلای شی ،له کوروالاپرته که بل څوک ورکوي نوهغه ته لاس وروړل (بيله کپړواونورو) اوورته کتل صحيح نه دی. (فتاوی محموديه ص۴۶ج۲)

مسئله:دمتيازودڅاڅوکودراوتلوله يقين سره که په استنجاء کي لوټه نه ورواخلی نوپه داسی صورت کی دلمانځه کولواجازه نشته په لوټه اونورودی استنجاء ووهي ترڅوچې ډاډمن کيدووروسته دی اودس وکړي لمونځ دی اداکړی. (فتاوی رحيميه ص۳۵۶ج۴)

مسئله:دعذرپه حالت په ښي لاس استنجاء وهل بيله کراهته جائزدئ . (فتاوی رحيميه ص۲۵۸ج۴،دفتاوی خيريه ص۵په حواله)

دغتواوکوچنیبولودتقاضی پروخت د لمانځه دنه کولووجه

(۱) په نفس کي داوداسه اثرهغه وخت پیداکیدای شی کله چي نفس له نوروکارونوخلاص وی اوخلاصون هم هغه وخت کیدای شي کله چي په ګیډه کی دهواونوروتردد اواضطراب هم نه وی ،ځکه رسول الله ﷺ فرمایلی دی : چاته چي دغتویاکوچنیبولوسخته ارتیاوی هغه دی لمانځه ته نه حاضریږي په دې کی رسول الله ﷺخبرداری ورکړی دی چی نفس پرکوم بل لورمشغولیدوکي هم دبې اودسیامعنی موندله کیږي ځکه چي په داسی حالت کی دلمانځه وطرفته دانسان توجه نشی کیدای بلکه هغه دمتیازواوغولوپه دفع کولوبخت وی

(۲) په کوموکوچنیو اوغټوبولوکي چي دزړه تنګی اونه حضوریقینی وی اوکله چي حضورنه وی اوتنګي یقیني وی نولمونځ به نیمګړی شي ځکه دداسی سبب لیري کولوحکم وشوکوم چي په لمانځه کي دفکرونو شیندلواودتوجه دنیستوالی باعث وی.

داغه رنګه تردیره متیازی په مثانه کي ټینګول هم زیانمنی دی له دې ځخه خطري ناروغی پیداکیږي. (المصالح العقلیةص۳۹)

داستنجاء په اړه مسئلې

په لوټوداودس وچولوپرمهال چاته سلام اچول یاوسلام ته ځواب ویل صحیح دی . (فتاوی دارالعلوم ص۳۷۵ج۱،درد المحتارج۱ص۳۱۹په حواله)

(ځکه چي دادبولووخت نه بلکه دی له هغه فارغ شوی دی ،صرف دزړه اطمینان لپاره لوټه کاروي ،ګواکي افضل همدغه دي چي دغه وخت سلام وانه چول شی اونه ځواب ورکول شي ،ځکه چي په یوه وجه داوخت دغتواوکوچنیبولوپه حالت کي داخل دی)

(محمد رفعت قاسمي غفرله ولوالديه ولوالدينا امين)

مسئله: جائزخودی مگرداسی ځای اودس وچول چي تیریدوونکی حلگ په مخ ورځي دانسانیت په خلاف دی (امدادالفتاوی ص۱۴۱ج۱)

مسئله: دقطب ستوري (پيروني) وطرفته په غټواوکوچنيوبولوکي مخ کول صحيح دی ،ځکه چي داحکم دکعبې شريفی لپاره دی چي دهغه پرلوردارتياپروخت مخ اوشامه کوئ.

(فتاوی دارالعلوم ص۳۷۷ج۱،دمشکوة ص۲۹۶ج ابه حواله)

مسئله: دقبلې له لورپرته دشمال اوجنوب پرلورپه غټواوکوچنيو بولوکی مخ کول منع نه دی.(فتاوی دارالعلوم ص۳۸۰ج۱،دردالمحتار ص۳۱۶ج۱باب الاستنجاپه حواله)

مسئله: په غټويا کوچنيوبولوکي وقبلې ته مخ ياشاکول منع دی ،خود استنجاء وهلوپه اړه کوم دليل نشته ځکه جائزدی.

(امدادالفتاوی ص۱۳۷ج۱)

مسئله: دمړی استنجاء دی په اوبواولوټه دواړو ورووهله شی ،داوبو اولوټي جمع کول سنت اوافضل دی.

(مفهوم فتاوی دارالعلوم ص۳۸۱ج۱،دردالمحتار ص۳۱۳ج۱ فصل في الاستنجاء په حواله)

مسئله: په اوبواستنجاء وهل سنت دی ،ځکه چي رسول الله ﷺ به داسی کول خوپه لوټه اونوروا استنجاء وهل صحيح دي.

(نمازمسنون ص۸۸،ترمذی ص۲۹،هدايه ص۴۸)

مسئله: په لوټه داستنجاء وهلوکي کومه خاصه طريقه نشته،بس دومره خيال ساتئ چي نجاست شاوخوا خپورنشی ،بدن بنه پاک شی ،داغه رنګه په لوټه استنجاء وهلو وروسته په اوبواستنجاء وهل سنت دي.،خوکه نجاست خورشی نوداسی وخت په اوبوپريمنځل واجب دی ،بيله پريمنځلو لمونځ نه صحيح کيږي.(بهشتی زيور ص۸ج۲،امدادالفتاوی ص۱۳۹ج۱)

مسئله: په لوټه اونوروا ستنجاء وهل صحیح دی اوطاق شمیرسنت دی اوددریوشمیرمستحب دی. (درمختار ص۵۶ج۱)

مسئله: دغټواوکوچنیوبولویااستنجاء وهلوپه دوران په ژبه کلمه یاکوم بل ایت یاحدیث لوستل مکروه دی. (نمازمسنون ص۹۶)

مسئله: تراستنجاء وهلو وروسته لاسونه په صابون اونوروپاکول پکار دی، کنه په خاورودی ومښي پاک دی کړي. (نمازمسنون ص۹۷، ابوداؤد ص۷ج۱)

مسئله: په بادپریکیدویواځي اودس ماتیږي استنجاء وهل صحیح نه دی یعني په اوبومینځلوته اړتیانشته، ځوکه دهواتلوسره نجاست وتلی وی نواستنجاء دی ووهله شی.
(آپ کی مسائل ص۸۳ج۳، ص۸۴ج۳، فتاوی دارالعلوم ص۱۴۶ج۱، د ردالمحتار ص۷۹ج۱په حواله)

مسئله: داسی لاکټ (امیل) چي ورباندی دالله لفظ لیکلی وی وبیت الخلاء ته ترتلومخکي دی وباسی.

مسئله: که دکوم ځاییت الخلاء ته ورتلومخکی دعاء ویل هیرشی اودننه ورپیادشي نوپه خوله دی نه وائي بلکه په زړه زړه کي دی ولولي

مسئله: په بیت الخلاء کي ترپښي ایښودلومخکی اوپه ځنګل کي دی ترپرتاګه خلاصولومخکي دعاء وویله شي. (آپ کی مسائل ص۸۱ج۳)

مسئله: داستنجاء په پاتي شویواوبواودس کول صحیح دی اوداودس په پاتی شویواوبواستنجاء وهل هم صحیح دی خونه وهل غوره دی.
(بهشتی زیور ص۹ج۲، فتاوی رشیدیه ص۲۸۳)

مسئله: تراودس کولووروسته ورپه یادشوچي په اوبواستنجاء وهل دی (په لوټه خواستنجاء مخکی وهلی وه) په اوبوترپاکولووروسته غوره دادی چي بیااودس وکړي ترڅوله اختلافه ووزي.
(فتاوی دارالعلوم ص۱۴۲ج۱، دردالمحتار ص۱۳۶ج۱په حواله)

مسئله: که له اوبوپرته یواځې په لوټه استنجاء ووهی اولمونځ وکړي نولمونځ صحیح شو (کله چې شاوخوانجاست خورشوی نه وي.
(فتاوی دارالعلوم ص۳۸۲ج۱،دردالمحتارص۳۲۴ج۱کتاب الصلوۃ په حواله)

مسئله: دمتیازواوغولوکولوپرمهال خبری کول مکروه دی ،داغه رنګه په دغو وختونوکې دی دالله ﷻ ذکرهم نه کوي ،اوکه پرچ ورشی نوپه دغه وخت کې دی الحمدلله هم په ژبه نه وائي اونه دی یرحمک الله په خوله وائي ،نه دی دسلام ځواب ورکوی.

مسئله: بیله ارتیادی وشرمګاه یاغټواوکوچنیوبولوته نه ګوري اوهلته دی بې له ارتیانه توکې نه دی پوزه پاکوي اونه دی غاړی تازه کوی اونه دی راسته اوچپه طرفته ګوري اونه دی په خپل بدن لوبې کوی،اونه دی اسمان ته سرپورته کوي اونه دی پرغټواوکوچنیو بولوبې ضرورته ترډیره وخته کښینی ځکه له دې څخه بواسیر اودځګردردپیداکیږي ،په داسی ځای کی دی جامی پوره خوندي کوي ،چې ککړې نشي ،نه په نجاست اونه په کارول شویواوبو.

مسئله: په لوڅ سراستنجاء مه وهئ ځکه دادب خلاف ده.

مسئله: داستنجاء لپاره چې وناستې ته نژدې شئ بیاسترخلاص کړئ ،په ولاړه ولاړه ځان مه لوڅوئ ،اودواړې پښې پراخې کړئ بیاکښینئ ،اوپرکینه پښه زوروکړئ اوکاږه شئ ،له غټواووړوبولوچې فارغ شئ دعاولولئ .(کشف الاسرارص۹۹ج۳)

مسئله: کوم غړی چې پریمنځل کیږي دهغه دپریمنځلوسره ،سره لاس هم پاکیږي تردې وروسته بیاولاس پریمنځلوته ارتیانشته (که پریمنځل شی نوڅه پروانه لري) کوم غړی چې منځئ هغه که داستنجاء

ځای وی یاکوم بل ځای وی ،اوپه طهارت (پاکی) کي له لاسه بدبوی لري کول اوله مخرجه دنجاست ليري کول شرط دی ،پرته له هغه صورته چي سړی دهغه له ليري کولو عاجزوی. (کشف الاسرار ص۱۰۹ج۳)

اللهم اجعله خالصاً لوجهک الکريم وتقبل منا انک انت السميع العليم

محمد رفعت قاسمی

خادم التدريس دارالعلوم ديوبند يوپي (انډيا)

درجب لومړی ۱۴۲۸هـج مطابق ۲نومبر ۱۹۹۷ع

دعاء غوښتونکی محمدابراهيم «خليل»

دژباړي پای ته رسيدونيټه ۳ربيع الثانی ۱۴۲۹هـج مطابق ۱۱اپريل ۲۰۰۸ع

دجمعې مبارکې ورځ

اللهم اختم لنابالخير والسعادة والبشارة والايمان

ابوخالدمحمدعبدالاحد«مجروح»